# انساني قاچاق



انساني قاچاق او په اړه يې راپور ورکونه

**ليکوال: دانش کروخېل**

کابل ۱۳۹۸ لمريز کال

انساني قاچاق ليکوال: دانش کروخېل

HUMAN TRAFFICKING Author: Danish Karokhel

## د دانش کروخېل لنډه پېژندنه



دانش کروخېل د ۱۳۵۵ لمريز کال د غويي مياشتې په ۲٦مه نېټه د کابل ولايت د خاکجبار ولسوالۍ په چنار کلي کې زېږېدلی دی.

نوموړي د ښوونځي له لوستو وروسته لوړې زده کړې په ۱۳۸۱ لمريز کال کې په کابل پوهنتون کې بشپړې کړې دي.

**دنــــدې:**

- له۱۹۹۷ څخه تر ۲۰۰۱ زکال پورې د اېن بي سي ټلوېزيون، هيرالډ، ډان او وحدت ورځپاڼو خبريال.
- له ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۰٤ زکال پورې د سولې او جګړې د راپور ورکولو انسټيټيوټ (IWPR) ايډېټر او ټرېنر.
- له ۲۰۰٤ زکال څخه تر اوسه پورې د پژواک خبري اژانس رييس.
- له ۲۰۱٦ څخه تر ۲۰۱۸ زکال پورې اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسيون غړی.

**ترلاسه کړې نړيوالې جايزې:**

- په ۲۰۰۸ زکال کې د ژورنالېستانو د دفاع کمېټې (CPJ) له خوا د رسنيو د ازادۍ نړيواله جايزه.
- په ۲۰۱۲ زکال کې د کاناډا سفارت او سفما له خوا د لسيزې تکړه خبريال اېوارډ.
- په ۲۰۱٤ زکال کې د ژورنالېستانو نړيوالې ټولنې (RSF) له خوا په نړۍ کې د اطلاعاتو رسونې د سلو اتلانو په لړليک کې راتلل.

**د ليکوال چاپ شوي اثار:**

- مسلکي خبريالي
- اطلاعاتو ته د لاسرسي لارې چارې
- رهنمای ژورنالیستان
- انساني قاچاق (همدغه اثر)

Book Name: Human Trafficking
Author: Danish Karokhel
ISBN: 978-9936-1-0335-1

ISBN 978-9936-1-0335-1

KONRAD ADENAUER STIFTUNG

All Rights Reserved with The Author

# انساني قاچاق



انساني قاچاق او په اړه يې راپور ورکونه

لیکوال: دانش کړوخېل

کابل ۱۳۹۷ لمریز کال

# انساني قاچاق

## انساني قاچاق او په اړه یې راپور ورکونه
## لیکوال: دانش کړوخېل
## کابل- ۱۳۹۸ لمریز کال


د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: انساني قاچاق او په اړه یې راپور ورکونه

لیکوال: دانش کړوخېل

ایډېټ: عبدالجبار اندړ او اباسین زهیر

خپرندوی: پژواک خبري اژانس

چاپ شمېر: ۲۰۰۰ ټوکه

چاپ وار: لومړی

چاپ نېټه: ۱۳۹۸ لمریز کال

چاپ ځای: کابل، افغانستان



د دغه اثر هر ډول حقوق له لیکوال سره خوندي دي، له بیا ځلي چاپ او هر ډول خپراوي سره یې د لیکوال اجازه شرط ده.

بسم الله الرحمن الرحيم

ډالۍ:

د انساني قاچاق زيانمنو ته چې د لاسنيوي او عدالت ته د لاسرسي په تمه دي.

لیکلړ
«انساني قاچاق» د موضوع له اړخه یو بکر اثر
انسان له فطرته خپلواک دی
د لیکوال یادښت

لومړی څپرکی
انساني قاچاق

د انساني قاچاق پېژندنه
د انساني قاچاق او کډوالو قاچاق توپیر
د انساني قاچاق د زیانمن شوو تشخیص او پېژندل
د انساني قاچاق د اصطلاح ګانو پېژندنه

دویم څپرکی
په قوانینو کې انساني قاچاق
له انساني قاچاق سره د مبارزې لپاره نړیوال حقوقي اسناد
د افغانستان په قوانینو کې انساني قاچاق
د انسان له قاچاق او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون پېژندنه
د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې عالي کمېسیون پېژندنه
د انساني قاچاق او کډوالو د قاچاق د جرمونو سزاوې
د مجني علیه او د قاچاق شوي کډوال حقوق

درېیم څپرکی
په نړۍ کې انساني قاچاق
د انساني قاچاق نړیواله درجه بندي
د درېیمي درجې هېوادونو لپاره د مالي بسپنې محدودیتونه
د انساني قاچاق د مخنیوي لپاره لړ تر لړه معیارونه
په نړۍ کې د انساني قاچاق وضعیت
په جګړې ځپلو سیمو کې انساني قاچاق
په جګړې ځپلو سیمو کې د ماشومانو ګومارنه
په سوېلي اسیا کې انساني قاچاق

څلورم څپرکی
په افغانستان کې انساني قاچاق
په افغانستان کې د انساني قاچاق وضعیت
په افغانستان کې د انساني قاچاق لاملونه

د انساني قاچاق په مخنیوي کې د افغانستان درجه بندي

پنځم څپرکی
د انساني قاچاق پر وړاندې مبارزه کې د مدني ټولنې ونډه
د مدني ټولنې رول
شپږم څپرکی
له انساني قاچاق سره په مبارزه کې د رسنیو ونډه
د انساني قاچاق په اړه د رسنیو راپور ورکول
د انساني قاچاق په مخنیوي کې د رسنیو اهمیت
له جنایتکار باندونو څخه د خوندیتوب لارښود

اووم څپرکی
له انساني قاچاق څخه د زیانمن شوو په اړه راپور ورکول
د زیانمن شوو په اړه راپور ورکول
د جنسي تېري زیانمن شوو په اړه راپور ورکول
د جندر یا جنسیت له مخې تاوتریخوالي په اړه راپور ورکول
د زیانمن ماشوم په اړه راپور ورکول
په افغانستان کې د ژورنالېزم ملي اخلاقي موازین
اتم څپرکی
د انساني قاچاق د زیانمن شوو انځور اخیستنه
د زیانمنو کسانو انځور اخیستنه
د ماشومانو انځورونه اخیستل او ویډیو جوړول
له ګواښ سره د مخ ماشومانو خوندیتوب
د انځور اخیستنې هوکړه لیک


نهم څپرکی
د خبري راپور لیکلو بنسټیز اصول
د خبري راپور لیکنه
د خبري راپور متن
لسم څپرکی
د انساني قاچاق اطلاعاتي سرچینې
د انساني قاچاق د اطلاعاتي سرچینو پېژندنه
د اطلاعاتي سرچینو موندل
یوولسم څپرکی
په افغانستان کې د انساني قاچاق ډولونه

۱- جنسي تېری

۲- فحشا ته اړ ایستل
۳- د زور نکاح
۴- په بدو کې د نجونو ورکول
۵- د نجونو په بدل کې ورکول
۶- د واده په پلمه پېرل او پلورل
۷- د واده له حق څخه بې برخې کول
۸- قانوني عمر ته له رسېدو مخکې واده
۹- ځورونه (اذیت)
۱۰-انزوا (یوازې پرېښودل)
۱۱- د قرابت نفي کول
۱۲- ځانوژنې ته د ښځې اړ کېدل
۱۳- د نشه يي توکو اعتیاد ته د ښځې اړ کېدل
۱۴- د زده کړو، کار او روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي له حقونو د ښځو ګرځول
۱۵- د میراث له حق څخه محرومول
۱۶- پورنوګرافي (د غیر اخلاقي انځورونو او ویډیوګانو جوړول)
۱۷- د سوال کولو سازمان شوی ډول
۱۸- د بدن د غړو ایستنه
۱۹- اجباري کار
۲۰- بېګار (له مزد پرته کار ته اړ ایستل)
۲۱- د پور په بدل کې کار ته اړ ایستل
۲۲- د یو شخص له مجبوریته ناوړه ګټه اخیستنه
۲۳- تېر ایستنه یا فریب ورکول
۲۴- مریيتوب
۲۵- پر ماشومانو درانه کارونه
۲۶- ماشوم تر واک لاندې راوستل
۲۷- د ماشومانو تښتول
۲۸- د جنسي سوداګرۍ لپاره د ماشومانو استثمار
۲۹- بچه بازي
۳۰- د جګړو په لیکو کې د ماشومانو استخدامول
۳۱- د مغزو مینځل
۳۲- د ماشومانو وژل او ټپي کول
۳۳- پر ښوونځیو او روغتیایي مرکزونو بریدونه
۳۴- له بشري خدمتونو د خلکو منعه کول
۳۵- د عبادت یا دیني مقاصدو لپاره غلامي

اخځلیکونه


انساني قاچاق په ټولنه کې د
اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي
پرمختګونو مخه نیسي او بالمقابل
یوه مزدوره او وروسته پاتې ټولنه
رامنځته کوي.


د اسلام له نظره، له انسان څخه هر ډول
ناوړه ګټه اخیستنه؛ یعني د هرې موخې لپاره
انساني قاچاق، اجباري کار، اقتصادي
تبعیض، په زور او له وخت څخه د مخکې
ودونو په ګډون جنسي استفاده ناروا ده.

# «انساني قاچاق» د موضوع له اړخه یو بکر اثر

«انساني قاچاق» د پژواک خبري اژانس د مشر دانش کروخېل څېړنيز ژورنالېستکي اثر دی چې په ۱۱ څپرکو کې يې تر بېلابېلو سرليکونو لاندې پر اړوند موضوع په تفصيل بحث شوی دی. د انساني قاچاق له نامه سره ښايي د لوستونکي په ذهن کې هغه معمول مفهوم تداعي شي چې له جګړې ځپلو هېوادونو څخه اروپا او امريکا ته د انسانانو د قاچاق مسئله په کې يادېږي؛ خو په دغه اثر کې اصلاً دغه مسئله په يوه پراخ مفهوم څېړل شوې ده. يوازې د لېږد او سوداګرۍ مسئله نه ده، بلکې په ټوله کې له انسان څخه د بل انسان له خوا د هر ډول غير قانوني او غير انساني ګټې اخيستنې ټول اړخونه په کې څېړل شوي دي؛ د ساري په توګه له جبري ودونو او په بدو کې د نجونو له ورکولو تر جنسي تېريو، جبري کار او نورو مواردو پورې ډېر اړخونه په کې شامل دي.

د اړوندې موضوع سپړنه په دغه کتاب کې په مناسب ترتيب راغلې ده؛ د انساني قاچاق له تعريف او ډولونو څخه خبره پيلېږي، پر لاملونو او د مخنيوي پر لارو چارو يې بحث دوام کوي، په زړه پورې مثالونه راوړي او ډېره ستوغه او ضمير لړزوونکې موضوع داسې ګام پر ګام را سپړل کېږي چې لوستونکي ورسره مجبوروي تر پايه ورسره ولاړ شي چې بالاخره د ننني ژوند د دغه ترخه اړخ د مخنيوي لارې چارې بايد ومومو.

په نړۍ کې انساني قاچاق، په افغانستان کې انساني قاچاق او د سوېلي اسيا په هېوادونو کې د دې پديدې پر هر اړخيزې ارزونې او څېړنې سربېره ليکوال خپل مسلکي رسالت په ياد ساتلی دی. دغه راز د انساني قاچاق د پېښو په اړه د راپور ورکونې اصول هم وړاندې کوي څو په خپله رسنۍ په دغه «جرم» کې ښکېلې نه شي او د قربانيانو ټولنيز حيثيت ته زيان وا نه وړي.

يو بريالی ليکوال د کوم اثر له ليکلو مخکې دغې پوښتنې ته ځواب مومي چې زما اثر (ليکنه او يا کتاب) ولې څوک ولولي؟

د دې پوښتنې سم ځواب دا دی چې: يا بايد نوې خبره وکړي او يا زړه خبره په نوي قالب او نوې بڼه وکړي چې لوستونکی پرې د تکراري او کليشه يي حکم ونه کړای شي. ما چې د دغه اثر کوم څپرکي ولوستل په زغرده ويلای شم چې دانش کروخېل نوې خبره کړې ده، ده په خپل لنډکي يادښت کې هم ورته اشاره کړې چې له بده بخته د جګړې دوام زموږ په ټولنه کې د ليکلو لپاره دومره سوژې او سرليکونه راټوکولي چې هر ليکوال ته يوه نه په لسګونو سوژې په لاس ورکوي، خو پر نوې سوژه هر اړخيزه ليکنه او څېړنه که نوښت او کمال دی، خواري هم غواړي.

د دغه اثر په ليکلو او د راپورونو او معلوماتو په راټولولو کې دومره زيار ايستل شوی چې د پژواک خبري ټيم له همکارۍ او مرستې پرته به يې ښاغلي کروخېل ته هم بشپړول ګران کار و. په لسګونو مرکې، راپورونه، له نړيوالو رسنيو نيولې تر ملي هغو پورې پر اړوند مسئله د نظرونو راټولول او له مسلکي معيارونو سره يې تنظيم ډېر صبر او زغم غواړي، لوستونکي چې يو ځل دغه اثر ولولي له ما سره به په دې کې همنظره شي چې پر دې ځانګړې موضوع دغه اثر نه يوازې نوښت دی، بلکې ډېر ښه يې حق ادا شوی دی.

ښاغلی ليکوال په افغانستان کې د انساني قاچاق ۳۵ ډوله را معرفي کوي، په دې کې په لسګونو مثالونه راوړي چې د مرکو او راپورونو له مخې چمتو شوي دي.

د دغه څېړنيز اثر له ځانګړتياوو څخه دا هم ده چې د قران او احاديثو په رڼا کې د انساني قاچاق بېلابېل ډولونه ارزول شوي او د بېلابېلو نړيوالو او هېوادنيو قوانينو په حواله دغه ناوړه پديده څېړل شوې، د مخنيوي پر لارو چارو يې او د مدني ټولنې، رسنيو، حکومت او نورو اغېزناکو اړخونو پر رول په زړه پورې بحثونه شوي دي چې زياتره يې د رسنيو مسوولينو او کارکوونکو ته د يوې مهمې لارښودې سرچينې په توګه ګټور دي.

د ښاغلي دانش کروخېل پر دغه اثر ډېرې خبرې کېدای شي، زه يې موتې له خرواره پر همدې بسنه کوم. له متن څخه د مثالونو او حوالو له راوړو نه هم تېرېږم. ټول کتاب په بيا بيا لوستو ارزي. زه په زغرده وايم چې دغه کتاب لوستل هر ژورنالېست او سياستوال او په ټوله کې د بشري حقونو فعالانو ته ډېر اړين دی.

زه يې ليکوال ته د لا زياتو قلمي خدمتونو دعا کوم، لوستونکي يې لوستلو ته را بولم.

په مينه او درنښت

محمد زبير شفيقي

۱۳۹۷ د چنګاښ ۲۵مه، پروان مېنه، کابل

# انسان له فطرته خپلواک دی

انساني زوکړه له فطرته خپلواکه ده؛ انسانان له فطري اړخه د مستقل مزاج صاحبان وي؛ قید، بند، محدودیت او شرط د ژوند ستونزې بولي او غواړي هغه څه وکړي چې زړه يې غواړي. خو اوس انساني ژوند داسې نه دی؛ اوس ځيني انسانان د ځينو نورو په لومو کې لوېدلي دي؛ دغه ډول انسانان بې زړه، بې مروته او ظالم خلک دي چې په بېلابېلو شکلونو کې راڅرګندېږي. دا ډله خلک د انسان تېښتونکي، رېړوونکي او سوداګر یادېږي؛ ځکه خو اوس حتی د معاصرې نړۍ ډېره برخه د انسانيت پر وړاندې د تعدي شاهده ده.

په نولس سوه شپېتمو کلونو کې د نړیوالتوب څپه په چټکۍ روانه وه، سوړ جنګ تازه په تازه پيل شوی و، ډېر هېوادونه یا بشپړ او یا نیمه خپلواک شوي وو، دویم نړیوال خونړی جنګ پای ته رسېدلی و، نړۍ او نړیوالتوب نوې بڼه خپله کړې وه او په دې برخه کې د نړۍ وګړو هم نوی فکر خپل کړی و. د نولس سوه شپېتمو او اوياېمو کلونو تر منځ درې نوې پروسې يعنې نړیوال سفرونه، نړیواله سوداګري او ټکنالوجۍ ته لاسرسی، پيل شوې. درې واړه پروسې د انساني فکر د وسعت او پخېدو لامل شوې.

دغه راز دغو درې واړو پروسو ښه او بد نظرونه وزېږول؛ که له یوې خوا انسانان سره نږدې شول، فکرونه سره يو شول او د سوکالۍ نړۍ لپاره هيلې زياتې شوې، نو له بل اړخه ورسره منظم جرمونه، ډاکې، د ملتونو لاندې کول، طبيعي سرچينې يرغمل کول او د يو شمېر محدودو خو غښتلو اقليتونو په لاس ببوزله اکثريت تر چغ لاندې شو.

ويل کېږي چې د نړۍ ۵۰ سلنه ثروت د نړۍ له ۵۰ شتمنو کسانو سره دی؛ دغه ۵۰ کسان له اره ثروتمند نه وو، بلکې نړیوال فکر او د نړۍ د بېلابېلو ملتونو د شتمنيو په غلا کولو شتمن شوي دي. دغو کسانو نه یوازې دا چې په خپلو هېوادونو کې سیاست قبضه کړ، د بيان ازادي، ډيموکراسي او د انسان فطري خپلواکه انګېزه يې زندۍ کړه، بلکې د نړۍ ګرېوان ته يې هم لاس واچاوه؛ د بېلګې په توګه د امريکا مشهور شتمن رات چايلډ لسګونه کلونه پخوا د بانکدارۍ کاروبار پيل کړ، خپل پنځه زامن يې د نړۍ د سوداګرۍ په پنځو مرکزونو او يا په بله اصطلاح د نړۍ په پنځو هغو ځايونو کې مقرر کړل، چېرې چې پيسې ډېرې او حکومتونه احمقان وو. رات چايلډ او زامنو يې له يوې خوا جنګونه جوړول، عام خلک يې احمق کول، د بيان ازادي يې محدوده ساتله او په دې وسيله يې د خلکو شتمنۍ لوټلې چې په پايله کې رات چايلډ ۵۰۰ میلیارده ډالر شخصي جايداد او سل تريليونه ډالر مالي امکانات پيدا کړل.

که څه هم دغه حساب او مقدار د سړي ويښته ودروي خو ويل کېږي چې رات چايلډ په خپل وخت کې نړیوال حکمران و او څه چې به يې زړه غوښتل، کول به يې؛ ځکه يې د سرمايې اندازه داسې اټکل شوې ده.

په هر صورت، ۶ لسيزې کېږي چې موږ نړیوالتوب او په عين زمان کې نړیوال بحران ته ننوتلي يو، اوس د نړۍ پر مخ د انسانيت پر وړاندې بې حده نياو او وحشت روان دی؛ انسان وژنه کېږي، انسان ځورونه روانه ده او هره ورځ د انساني عاطفې جنازه پورته کېږي.

نو په داسې حالاتو کې د ښاغلي دانش کړوخېل دا نسخه زرينه او اړينه ده. نوموړي په دغه کتاب کې د انساني قاچاق مسئله هلاجې کړې ده، کتاب له اوله سره د انساني قاچاق پر مسئله را څرخي او بيا هغه لارې چارې په ګوته کوي چې رسنيزه کورنۍ څرنګه د انسانيت پر وړاندې دا ډول تعدا تر عامو خلکو رسولی شي.

اوسنۍ نړۍ د بې زړه خلکو په منګولو کې ايساره ده، له يو اړخه انساني حقونه ځپل کېږي او له بله اړخه د دې پېښو په اړه حقايق مسخه کېږي. د اوسنۍ بدرنګې نړۍ صاحبان کوښښ کوي چې رسنۍ تر خپل تاثير لاندې راولي او مسايل هغه شان خپاره کړي چې د دوی ګټې په کې خوندي کېږي. دا چې له يوه اړخه کرار کرار انساني کرامت تر پښو لاندې کېږي او له بله اړخه د حالاتو اصلي انځور تر خلکو نه رسېږي، د وېرې او تشويش خبره ده. د انساني حقونو يو رښتينی مبارز نوام چونسکي وايي چې د سياټل په ايالت کې مې د رسنيزو فعاليتونو په اړه لکچر درلود، څو ورځې وروسته راته يو چا ليک را ولېږه، ويلي يې وو چې د نيويارک ټايمز د لسو کلونو معلومات (ډېټا) يې څېړلي دي. د سولې په اړه په کې ۹۰۰ راپورونه دي او داسې هېڅ راپور نشته چې په هغه کې د امريکا بد ويل شوي وي او يا دې د امريکا حکومت د دغو راپورونو پر وړاندې غبرګون څرګند کړی وي. نوام چونسکي دا خبره د نولس سوه نوي کال د مارچ په مياشت کې وکړه او دا هغه کلونه وو چې امريکا په مرکزي امريکا او منځني ختيځ کې سخته ښتې وه چې هم يې سياست کاوه او هم يې جنګ. که نور مثالونه پرېږدو او يوازې د عراق، ايران، کويټ او سعودي لانجه بحث کړو چې امريکا په کې سخته دخيله وه، نو سل سلنه معلومېږي چې امريکا تر ډېره


بریده د جنګ پلوي وه، نه د سولې خو د هغه وخت نیویارک ټایمز د امریکا د لویو سیاستوالو په منګولو کې بنده رسنۍ وه، نو ځکه یې حقایق تر عامو خلکو نه رسېدل یا یې نه خپرول.
ښاغلی دانش په دغه کتاب کې نه یواځې په نړۍ کې د روانې ستونزې خبره کوي، بلکې پر حل لارو یې غږېږي او دا د غوره څېړندوی ځانګړتیا وي. د دغه کتاب منځپانګه د زمان او اهمیت له اړخه خورا اړینه ده او حتا ویلی شو چې نن ورځ موږ له هغه ټولنیز- سیاسي رنځه کړېږو چې دغه کتاب کې را اخیستل شوی دی.
د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ۲۰۱۵ کال راپور کې راغلي چې بیلاروس، ایران، روسیه او ترکمنستان د انسانیت پر وړاندې د نورو ظلمونو تر څنګ د انساني قاچاق د مخنیوي په مسئله کې تر نورو هېوادونو هم وروسته پاتې شوي. راپور کاږي چې یواځې په ۲۰۱۵ زېږدیز کال کې د نړۍ په کچه ۲۰ میلیونه انسانان قاچاق شوي او له دې لارې لږ تر لږه ۱۵۰ میلیارده ډالر په غیر قانوني ډول د قاچاق کوونکو جېبونو ته تللي دي. دغه راز د کار نړیواله اداره (ای ایل او) وایي چې اجباري کار د انساني قاچاق یوه برخه ده، له دې لارې یواځې په ۲۰۱۴ زېږدیز کال کې قاچاق کوونکو ۱۵۰ میلیارده ډالر ترلاسه کړي دي؛ د بېلګې په توګه تقریباً ۲۱ میلیونه انسانان د اجباري کار ښکار شوي دي. دغه اثر یواځې د کتاب په بڼه نه، بلکې د انساني ارزښتونو خوندیتوب د یوې مهمې نسخې په څېر باید وګڼل شي. دا چې څېړنه د علمي اصولو پر بنسټ ترسره شوې، نو د انساني قاچاق برخې لیکوالان، سیاسي فعالین، حکومت او رسنۍ ترې ګټه پورته کولی شي څو په ګډه د دغه ناورین مخنیوی وکړي. د دغه کتاب لوستلو په وخت کې دوه خبرې بار بار په ښه انداز تکرارېږي؛ له یوې خوا د انساني ازادیو او ټولنیزې نیکمرغۍ د قتل ننداره او له بله اړخه په اوسنۍ نړۍ کې د رسنیز رسالت تت تصویر. د دې لپاره چې موږ د خوښې نړۍ پر وړاندې له ترسیم شوي ناورین نه وژغورل شو نو اړینه ده چې خلک وپوهوو او د ولس د اګاه کېدو لپاره یواځېنۍ لار رسنۍ دي.
دا چې رسنۍ اوسمهال د نړۍ له حاله د خبرېدو یواځېنۍ لار ده، نو تور سپینولی او سپین تورولی شي. که څه هم په مطلق ډول ټوله رسنیزه کورنۍ او رسنیز رسالت د حقیقتونو پر پټولو تورنول به له دغه مقدس مسلک سره جفا وي، ولې ویلای شو چې داسې ډېرې لویې رسنۍ شته چې همدا اوس یې زموږ ذهنونه انحصار کړي او څه چې وغواړي پر عامو خلکو یې مني.
که رسنۍ کولای شي چې د شیکاګو پوهنتون معلم بارک اوباما د سپینې ماڼۍ واکدار کړي، که رسنۍ کولی شي چې صدام حسین وحشي ترین انسان ثابت کړي، که رسنۍ کولای شي چې د ډیموکراسۍ او انسان پالنې شعار د نړۍ په ځینو برخو کې د بېلابېلو موخو لپاره وکاروي او که رسنۍ کولی شي چې عادي انسان په لویو رهبرانو او د نړۍ په لویو مفکرینو کې حساب کړي نو رسنۍ دا هم کولی شي چې د انساني قاچاق ناولې پدیده وننګوي، خلکو ته حقیقتونه ښکاره کړي او په ګډه د راتلونکې خوندي نړۍ لپاره سره اوږه په اوږه لاس په کار شي.
دا چې د کتاب د محتوا نسبت انسانیت او سوکالې ټولنې ته شوی، په بار بار لوستلو ارزي او هیله ده چې رسنیز ملګري د موضوع او حالاتو حساسیت درک کړي، کتاب په دقت ولولي او په ګډه د سوله ییز افغانستان، سیمې او نړۍ لپاره لاس په کار شي.


د ښاغلي دانش د لا پرمختګونو په هیله
د سوکاله افغانستان په هیله.
درنښت
سید انتظار خادم
کابل
۲۰۱۸ کال، سپټمبر

# د لیکوال یادښت

په افغانې ټولنه کې د ژورنالېزم د اصولو په چوکاټ کې کار کول ستونزمن او له کړاوونو ډک دي، خو د دغو ستونزو پر وړاندې مبارزه د یوه مسلکي ژورنالېست کلک هوډ ځرګندوي او دا یې پر ستونزو د بریالیتوب یو مهم راز دی.
که څه هم د ژورنالېزم د اصولو په چوکاټ کې کار کول زغم غواړي، خو که ژورنالېستان د کار پر مهال د خپل مسلک ټاکل شوو اصولو ته ژمن پاتې شي او دغه چاره په دقت، بې پلوی، توازن او رښتینې توګه مخې ته بوځي، نو کولی شي چې خپله دنده بې له کومې ستونزې سرته ورسوي او په ټولنه کې له نا سپړل شوو حقیقتونو څخه پرده پورته کړي، اغېزناک راپور ورکړي او ستونزو ته د اړوندو چارواکو پام واړوي.
له ځرنګه چې پوهېږئ ښلابښلو ناورینونو په افغانې ټولنه کې دومره ځېږنیزې او نورې سوژې زېږولې دي چې یواځې په څو راپورونو نه خلاصه کېږي، بلکې ډېر کار او زیار ته اړتیا لري، خو دغه کار او زیار (ژورنالېستیک فعالیتونه) هغه وخت اغېزناک تمامېدای شي چې د یوې رښې، معیاري او مسلکي راپور ورکونې له مخې سرته ورسېږي؛ په همدې موخه پژواک د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په مرسته د انساني قاچاق په اړه د ځېړنیزو راپورونو د لا اغېزناکتوب لپاره دغه لارښود جوړ کړ چې د پژواک او نورو رسنیو ژورنالېستان ترې ګټه واخلي. دغه کتاب به له ژورنالېستانو سره مرسته وکړي چې خبرونه په رښتینې او بې پلوه توګه او په ښه معیار چې د ټولنې له حقایقو سره سمون ولري، چمتو او خپاره کړي.
د انساني قاچاق په اړه راپورونه په ډېر کړاو لیکل کېږي؛ کله چې ژورنالېست د یوه زیانمن شوي درد احساس کړي، نو بیا کولای شي په راپور کې پېښنه په داسې ښه انځور کړي چې لوستونکي د زیانمن شوو له حال څخه خبر کړي، د هغوی درد درک کړي او د لاسنیوي لپاره یې اقدام وکړي؛ د همدې لپاره باید د انساني قاچاق په اړه راپورونه د پېښې داسې ځانګړتیاوې ولري چې له مخې یې د خلکو ذهنونو ته د پېښې اصلي انځور ولېږدي او زړونه یې پرې ودردېږي.
ما دغه کتاب ځکه چمتو کړ چې له لارې یې ژورنالېستان د همداسې راپورونو جوړولو او خپرولو ته وهڅول شي، خو دا هم باید ووایم چې دغه کتاب یواځې د ژورنالېستانو لپاره نه، بلکې د ټولو هغو ښکېلو اړخونو د پوهاوي کچې لوړولو په موخه چمتو شوی چې د انساني قاچاق د مخنیوي لپاره هڅې کوي. هڅه شوې څو دغه کتاب د یوې اغېزناکې وسیلې په توګه د انساني قاچاق د هغو پېچلو موضوعاتو په اړه چې له ټولنیزو او دودیزو چارو سره تړاو لري او د زیانمن شوو ماشومانو، ښځو او نارینه وو په اړه د خلکو د پوهې د درک کچه لوړه کړي.
دغه راز کېدای شي دغه کتاب د انساني قاچاق د زیانمنونکو از زیانمن شوو د خوندیتوب د اوسنیو میکانیزمونو په پیاوړتیا کې هم ګټور ثابت شي. په کتاب کې د افغانستان په قوانینو کې د انساني قاچاق د ښلابښلو جرمونو راغلې جزاګانې د دې لپاره راوړل شوې چې ژورنالېستان نه یواځې د هغو په اړه معلومات پیدا کړي، بلکې پر اهمیت یې پوه شي او بیا وروسته خلک وپوهوي.
دغه راز په دغه کتاب کې له انساني قاچاق څخه د زیانمن شوو په اړه راپور ورکولو کې د انساني قاچاق د زیانمن شوو انځور اخیستلو اخلاقي موازین، اصول او ځانګړتیاوې هم په ګوته شوې څو زیانمن شوي کسان له ګواښونو سره مخ نه شي. د دغه کتاب په وروستۍ برخه کې په افغانستان کې د انساني قاچاق د ښلابښلو ډولونو په اړه د پژواک خبري اژانس ۳۱ راپورونو ته هم ځای ورکړل شوی، څو لوستونکي په دغه هېواد کې د دې شومې پدیدې د شتون د ځرنګوالي او ډېروالي په اړه په وضاحت سره وپوهېږي.
له درنو لوستونکو هیله من یم چې د دغه کتاب د لا ښاینې لپاره رغنده مشورې راکړي څو په بیا ځلي چاپ کې یې اړین بدلونونه راوستل شي.
په پای کې له اباسین زهیر څخه مننه کوم چې د دغه کتاب په کتنه او له عبدالجبار اندړ څخه ځانګړې مننه کوم چې د کتاب په ایډېټ کې یې خورا همکاري کړې ده.

په درنښت
دانش کروخېل
د پژواک خبري اژانس عمومي رییس
۱۳۹۷ لمریز کال د لیندۍ میاشتې ۱۴مه
کابل- افغانستان


انساني قاچاق د زيانمنو خلکو له
بشري حقونو سرغړونه ده.


هره هغه کړنه چې په زور، ګواښ او
درغلۍ ترسره شي، له یو چا د زیان
په حالت کې ناوړه ګټه واخیستل
شي او د ناوړې ګټې اخیستو په
موخه یو څوک تر استثمار لاندې
راشي انساني قاچاق دی.

# لومړی څپرکی

# انساني قاچاق

## د انساني قاچاق پېژندنه

انساني قاچاق انساني سوداګرۍ یا په عامه اصطلاح د یو شخص له لوري پر بل شخص ظلم کولو او یا د هغه له وجود څخه ګټې اخیستو ته ویل کېږي. په بل عبارت، هره هغه کړنه چې د زور، ګواښ او درغلۍ لـه لارې ترسـره کېږي، لکه له زیانمنېدونکو ناوړه ګټه اخیستنه او یا هر هغه عمل چې د استثمار په موخه له یـوه شـخص څخـه د ګټې اخیستو لپاره وي، انساني قاچاق دی.

انساني قاچاق د انسانانو د استثمار په موخه د ګواښ، زور یا بل ډول اجبار، تښتونې، درغلۍ، تېر ایستنې، له قدرت یا د یوه شخص له نا چارۍ څخه د ناوړه ګټې اخیستو یا د هغه شخص چې د بل شخص واک لري، د هوکړې ترلاسه کولو لپاره د پیسو یا نورو ګټو د راکړې ورکړې له لارې د شخص استخدام، لېږد، انتقال، پناه ورکولو یا تسلیمېدلو ته ویل کېږي.

د قاچاق پدیده د دولتونو د قوانینو له مخې یوه منعه شوې پدیده ده او د اقتصاد د علم له نظره هم په ناقانونه ډول د یوه هېواد له پولو د توکو لېږد را لېږد قاچاق ګڼل کېږي.

شخص یا اشخاص چې قاچاق ترسره کوي، قاچاقبر یا غیر قانوني سوداګر ورته ویل کېږي. اقتصاد پوهانو د قاچاق ښکارنده (پدیده) پټ اقتصاد هم بللی او انساني قاچاق د نشه یي توکو او وسلو له قاچاق وروسته په نړۍ کې درېیمه غیر قانوني سوداګري ګڼل کېږي.

په ډېری مـواردو کې انسـاني قاچـاق تـه د انسـان اجبـاري قاچـاق هـم ویـل کېـږي چې پـر انسـان د زور او ظلـم ښکارندویي کوي. دغه راز د بې کسۍ، مجبوریت او د انساني قاچاق تر منځ نازکه اړیکه وجود لري، کوم حقـوق چې زیانمن شوي ترلاسه کوي، هغه د پرتلې وړ نه وي؛ یعنې د خپـل کـار لـه مـزد څخـه ډېـر کـار کـوي. دغـه راز انساني قاچاق په ټولنه کې د تاوتریخوالي او بېوزلۍ ستر لامل دی او په ټولنه کې د اقتصـادي، ټولنیز او فرهنګـي پرمختګونو مخه نیسي او د یوې وروسته پاتې ټولنې د رامنځته کېدو لامل کېږي. همدارنګه جګړه، نا امني او فقـر د انساني قاچاق نور لاملونه دي.

انساني قاچاق د هغو خلکو له بشري حقونو سرغړونه ده چې زیان ورته اوښتی وي او دغه کار بیا د بشري حقونو صریح نقض دی. د انسان قاچاق اغېزمن د بېلابېل عمر لرونکي نارینه او ښځې دي، خو د ناوړه جنسي استفادې لپاره بیا تر ډېره ښځې قاچاق کېږي.

د انساني قاچاق په عامو ډولونو کې جنسي تېری، بېګاري، په زور کار، د پور په بدل کې کار کول، ناوړه ګټه پورته کول، د بدن د غړو ایستل، پر ماشومانو د شاقه کـارونو کـول، اجبـاري ودونـه، بچـه بـازي، پـه بـدو کې د نجونـو ورکول، په سازمان شوي توګه پر ماشـومانو د خیـرات ټولـول، د ترهګریـزو کړنـو ترسـره کولـو پـه موخـه د مغـزو مینځل، فحشا ته د ښځو اړ کول، ګرو نیول او د جګړو په لیکو کې د ماشومانو استخدام شاملېږي.

**انساني قاچاق په لاندې ډول تعریف شوی:**

**عمل:**

- ګومارنه
- لېږد را لېږد (حمل و نقل)
- لېږد (انتقال)
- د شخص تسلیمول او یا پناه ورکول

**له لاندې لارو:**

- ګواښ یا د زور استعمال
- زور
- برمته کول
- درغلي (تقلب)
- دوکه ورکول (فریب)
- له واک او یا هم د زیان منني له حالته ناوړه ګټه اخیستنه
- د پیسو او یا ګټې ورکول او اخیستل

**د لاندې موخو لپاره:**

- د جنسي استفادې په ګډون ناوړه ګټه اخیستنه
- غلام جوړول او یا په دې پورې اړوند کړنو
- په زور کار یا خدمت
- د زور سوالګري (خیرات ټولول)
- د بدن د غړو ایستل
- وسله والې نښتې
- اجباري جنایتونه
- او د ناوړه ګټې اخیستنې نورې بڼې

د ۱۳۹۵ لمریز کال د انسان له قاچاق او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون له مخې، له ګواښ، قوې یا د اجبار له نورو ډولونو څخه ګټه اخیستل، اختطاف، حیله او تېر ایستل، له نفوذ څخه ګټه اخیستل، د زیان منني یا مجبوریت له حالت څخه ناوړه ګټه اخیستل، د انسان د قاچاق د جرم د مجني علیه یا هغه شخص چې پر هغه واک لري، د رضایت ترلاسه کولو لپاره د پیسو ورکړه د منفعت ترلاسه کولو او د ناوړې ګټې اخیستنې په موخه د ماشوم تر واک لاندې راوستل که څه هم چې له یادو تګلارو ګټه اخیستل شوې نه وي، د ناوړې ګټې اخیستنې په منظور د شخص استخدامول؛ یعنې تر واک لاندې راوستل، لېږد، حمل و نقل، ساتل یا موندل د انسان قاچاق ګڼل کیږي.

د ۱۳۹۶ لمریز کال د جزا کوډ په ۵۱۰مه ماده کې د انسان قاچاق داسې تعریف شوی: له لاندې لارو څخه د ناوړه ګټې اخیستنې (بهره کشی) په موخه د شخص استخدام یا تر واک لاندې راوستل، انتقال، لېږد او رالېږد، ساتنه یا ترلاسه کول دی:

۱- له ګواښ، قوې یا د اجبار له نورو ډولونو ګټه اخیستنه

۲- اختطاف

۳- حیله او فریب

۴- له نفوذ څخه ناوړه ګټه اخیستنه
۵- د زیان منني یا مجبوریت له حالت څخه ناوړه ګټه اخیستتنه
۶- د انسان د قاچاق د جرم د مجني علیه یا د هغه د سرپرست د رضایت ترلاسه کولو لپاره د پیسو یا منفعت ورکړه یا ترلاسه کول.
۷- د ناوړه ګټې اخیستنې (بهره کشی) په موخه ماشوم تر تسلط لاندې راوستل، که څه هم له پورته شپږو لارو څخه استفاده نه وي شوې.

د پالمیرا پروتوکول دریيمه ماده انساني قاچاق داسې تعریفوي:
انساني قاچاق د انسانانو د استثمار په مقصد د ګواښ، د زور یا بل ډول اجبار، تښتونې، درغلۍ، تېر ایستنې، له قدرت یا د یوه شخص له نا چارۍ څخه د ناوړه ګټې اخیستو یا د هغه شخص چې د بل شخص واک لري، د هوکړې ترلاسه کولو لپاره د پیسو یا نورو ګټو د راکړې ورکړې له لارې د شخص استخدام، لېږد، انتقال، پناه ورکولو یا تسلیمېدو ته ویل کېږي.
په ناوړه ګټه اخیستنه یا استثمار کې لږ تر لږه لاندې موارد شامل دي:
جنسي استثمار یا فحشا ته اړ ایستل، په زور کار یا خدمت، غلام جوړول یا مریيتوب ته ورته کارونه، اجباري خدمت او یا هم د بدن د غړو ایستل.
د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له انساني قاچاق سره د مبارزې دفتر له نظره، د انساني قاچاق ځانګړتیاوې عبارت دي له:
د کار له خاوند سره ژوند تېرول
د ژوند خراب شرایط
په محدود (کوچني) ځای کې د ګڼو کسانو ژوند
له نورو سره په یواځې ځان د خبرو کولو نه توان
مصنوعي ځوابونه ورکول
د کار د څښتن له خوا د پېژندپاڼو (اسنادو) قیدول
د فزیکي ناوړه ګټې اخیستنې نښې
تسلیمي او یا وېره
کمه مزدوري او یا هېڅ مزدوري نه ورکول

انساني قاچاق په ټولیز ډول د ناوړه ګټې اخیستنې او کنټرول لپاره وي او ښایي چې حرکت ته اړتیا هم ونه لري، څرنګه چې د انساني قاچاق یو کارپوه ګرنټ شاندیر (Grant Snyder) وایي: "تاسې کولای شئ یو شخص داسې قاچاق کړئ چې حتی یو اینچ تحرک به هم نه لري."

## د انساني قاچاق او کډوالو قاچاق توپیر

**انساني قاچاق:**

- منظم، نا منظم او یا له پولې تېرېدو پرته د ولایتونو او زونونو تر منځ او یا له کلیو څخه ښارونو ته وي
- قانوني او نا قانوني اسناد
- له زیانمن شوي څخه د اسنادو اخیستل (قید کول)
- پر له پسې ګواښ او ناوړه ګټه اخیستل
- د حرکت پر وړاندې محدودیتونه رامنځته کول
- پر وسایلو او امکاناتو څارنه
- د فرد پر وړاندې د فرد جنایت
- له بشري حقونو څخه د یو کس سرغړونه چې د قاچاق موخه یې یو کس وي

**د کډوالو قاچاق**

- له پولو غیر منظم تېرېدل
- نا قانونه اسناد (تقلبي یا غلا شوي)
- په خپله خوښه (داوطلبانه)
- د اجناسو په څېر لېږد او کارول
- د دولت خلاف جرم، د کډوالو له قانون څخه سرغړونه

## د قاچاق او انساني قاچاق توپیر

د قاچاق (Smuggling) او انساني قاچاق (Human Trafficking) تر منځ خورا ډېر توپیر دی خو د بېلګې په توګه یې څو ښکاره توپیرونه دلته راوړو:

۱- په ډېرو ځایونو کې قاچاق ته غیر قانوني کډوالي هم ویل کېږي؛ ځکه چې قاچاق (Smuggling) له هېواده بهر ترسره کېږي، خو په ډېرو مواردو کې انساني قاچاق په هېواد کې دننه ترسره کېږي، د افغانستان د انسان له قاچاق او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې په قانون کې (Human Smuggling) ته د کډوالو قاچاق وایي.

۲- په قاچاق کې انسانان له ډېرو ستونزو سره مخ کېږي، خو دغه کار یې په خپله خوښه وي؛ نو ځکه شکایت ترې نه کوي، خو په انساني قاچاق کې د انسانانو له خوښې پرته هر څه په زور او له خوښې پرته ترسره کېږي؛ لکه یو چا ته د قاچاقبر له خوا ویل کېږي، اروپا ته یې بیایي خو په لاره کې یې ښایي پولیس ونیسي، بندي یې کړي، ښایي په اوبو کې ډوب شي یا یې په ځنګلونو کې ځناور وخوري خو هغه دا هر څه ورسره مني چې دې ته د کډوالو قاچاق ویل کېږي.

۳- د انساني قاچاق لپاره ځای او وخت مشخص نه وي، خو د قاچاق ځای او وخت مشخص وي؛ لکه قاچاقبر یو شخص ته وایي چې د دغه کال، د دې میاشتې په دې ورځ به له کابل څخه حرکت کوي او د دغه کال د دې میاشتې په دې ورځ به لندن ته رسېږي چې دې ته د کډوالو قاچاق وایي.

۴- انساني قاچاق په ډېرو مواردو کې د یو کس له لوري پر یو کس ترسره کېږي خو قاچاق (Smuggling) په ډېرو مواردو کې د څو کسانو له خوا پر څو کسانو ترسره کېږي.

٥- قاچاق (Smuggling) په ډېرې اسانۍ سره پر انساني قاچاق بدلېدای شي، خو انساني قاچاق له ډېرو ستونزو وروسته پر قاچاق بدلېدای شي؛ لکه احمد غواړي له یو قاچاقبر سره اروپا ته ولاړ شي، خو قاچاقبر چې یې کله ایران ته رسوي، ورته وایي که پنځه کاله زما لپاره کار ونه کړې، د اروپا مخ هم نه شې لیدلی، نو احمد په ډېرې اسانۍ سره له قاچاق څخه انساني قاچاق ته اوړي.


٦- انساني قاچاق ډېری وخت له تاوتریخوالي سره مخ وي، خو په قاچاق کې بیا د تاوتریخوالي کچه ډېره کمه او یا هم هېڅ نه وي.

د پورتنۍ موضوع د ښه وضاحت لپاره د انساني قاچاق او قاچاق توپیرونه په لاندې ډول دي:

| قاچاق | انساني قاچاق |
|---|---|
| هغه شخص چې قاچاق کېږي، عموماً همکاري کوي. | زور، درغلي یا اجبار (مستقیم یا غیر مستقیم) په کې شامل وي، خو دا چې له ۱۸ کلونو د لږ عمر لرونکی په جنسي سوداګرۍ کې ښکېل شي. |
| هېڅ ډول مستقیم یا غیر مستقیم اجبار په منځ کې نه وي. | په زور کار او یا استثمار وجود ولري. |
| قاچاق کېدونکي اشخاص د قاچاق کوونکو په جرم کې شریک دي. هغوی لزوماً د قاچاق د جرم قربانیان نه دي (د هغوی د قاچاق کېدو د شرایطو په نظر کې نیولو سره کېدای شي هغوی د قاچاق پر قربانیانو باندې بدل شي.) | قاچاق شوي کسان قربانیان دي. |
| هغوی ازادي لري چې خپلې دندې خوشې یا بدلې کړي او داسې نور. | د غلامانو په شان ساتل کېږي، تګ راتګ باندې یې بندیز لګول شوی وي یا تجرید شوي وي او یا یې هم اسناد ور څخه اخیستل شوي وي. |
| له یوه هېواد څخه بل هېواد ته د شخص یا اشخاصو غیر قانوني دننه کېدل اسانه کوي. | په کار نه ده چې قرباني حتماً له یوه ځای څخه بل ځای ته بوتلل شي. |
| په قاچاق کې له یوې نړیوالې پولې تېرېدل شرط دی. | له کومې نړیوالې پولې تېرېدل په کې شرط نه دی. |
| شخص باید یواځې په هېواد کې وي یا د دې په هڅه کې وي چې په غیر قانوني توګه دننه شي او کار پرې نه کوي. | شخص باید په کار، خدمتونو یا جنسي سوداګرۍ کې ښکېل وي؛ یعنې باید کار وکړي. |

د قاچاق او انساني قاچاق تر منځ توپير او ورته والی په لاندې شکل کې نور هم روښانه کېږي:


**د قاچاق او انساني قاچاق توپير او ورته والی**




## د انساني قاچاق او د کار لپاره د کډوال کېدو توپیر

د بېلابېلو موخو لپاره د نړۍ له يوې برخې څخه بلې برخې ته انساني قاچاق اوږد تاريخ لري او يوه خورا حساسه ستونزه ده چې له کډوالۍ، بېوزلۍ، جندر، کار، جنسي اړيکو، پيسو او له تاوتريخوالي سره اړيکه لري. د انساني قاچاق کېدلو، قاچاق کېدلو او د کار لپاره د کډوالۍ تر منځ يو پېچلی تړاو شتون لري. د دغو موارد‌و تر منځ اړيکه او يو له بل سره تړاو يې په لاندې چوکاټ کې واضح کېږي:

د قاچاق، انساني قاچاق او کډوالو قاچاق تر منځ اړيکې



**کډوالي** هغه بهیر دی چې خلک په خپله خوښه پرېکړه کوي چې یو ځای پرېږدي او بل ځای ته ولاړ شي.

- د کډوالۍ فیس
- حقوقي اسناد
- تر یو بریده د کارموندلو په اړه ډاډ
- د خطر کچه- منځنۍ (لکه قاچاق، انساني قاچاق)
- یو څه ناوړه ګټه اخیستنه (استثمار)

دغه بهیر تر ډېره د نارینه وو له خوا اداره کېږي.

**قاچاق** هم له یوه ځای څخه بل ځای ته د شخص په خوښه د هغه بیولو ته ویل کېږي خو د کمېشن کارانو په واسطه چې د شخص د غیر قانوني داخلېدو لپاره لاره هواروي.

- د کمېشن کار فیس
- غیر قانوني اسناد
- د کار موندلو په تړاو د ډاډ نشتوالی (په ربښتینې بڼه)
- د خطر کچه — لوړه (د انساني قاچاق کېدو وېره)
- د استثمار لوړه کچه

**انساني قاچاق** د کډوالۍ اجباري ډول دی چې په کې قرباني په زور، ګواښ، تاوتریخوالي یا چل او ول سره له یوه ځای څخه بل ځای ته د کار لپاره بیول کېږي او کله نا کله په کې لېږد نه رامنځته کېږي.

- د ایجنټ یا دلال فیس
- قانوني او یا هم غیر قانوني اسناد
- د هوکړې نشتوالی
- د استثمار کچه لوړه او پېچلې ده (جنسي، فزیکي)

په دغه بهیر کې تر ډېره ښځې ښکېلې دي چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د جرم په توګه ګڼل کېږي.

په لاندې درېیو موضوعګانو کې د انساني قاچاق او کډوالو قاچاق تر منځ توپیرونه نور هم روښانه شوي:

| موضوعګانې | انساني قاچاق | د کډوالو قاچاق |
|---|---|---|
| ۱- د پیسو ترلاسه کولو ډول | په مقصد ځای هېواد کې له قرباني څخه ناوړه ګټه پورته کول. | له خلکو سره په غیرقانوني توګه له سرحد څخه په تېرېدو کې مرسته کول. |
| ۲- هوکړه (توافق) | بالقوه قرباني د درواغجنو معلوماتو پر بنسټ د سفر کولو په اړه هوکړه کوي. | مشتري په داسې حال کې له سفر سره هوکړه کوي چې د سفر د څرنګوالي، مقصد ځای او لګښت په اړه بشپړ معلومات لري. |
| ۳- اړیکه | د مقصد ځای هېواد کې د انساني قاچاق کوونکي او قرباني اړیکه دوام مومي. | د مقصد ځای هېواد له سرحد څخه په تېرېدو سره د قاچاق کوونکي او مشتري تر منځ اړیکه پای ته رسېږي. |

## د انساني قاچاق دود څومره عمومیت لري؟

تر اوسه په دې اړه چې انساني قاچاق په کومه اندازه په نړۍ کې شتون لري، کره اطلاعات نشته. د ملګرو ملتونو سازمان او نورې ادارې په دې اړه د اطلاعاتو راټولولو پر لارو چارو کار کوي، څو د دې ستونزې د ستر والي اندازه ولګوي.

### کوم هېوادونه د انسان له قاچاق څخه اغېزمن کېږي؟

- انساني قاچاق د نړۍ ټول هېوادونه د مبدا هېواد، د ترانزیټ هېواد یا د مقصد ځای هېواد په توګه اغېزمنوي او ځیني هېوادونه بیا له دغو ټولو ډولونو اغېزمن کېږي.
- انساني قاچاق معمولاً له شا ته پاتې هېوادونو چې خلک یې د بېوزلۍ، جنسیتي تبعیض، د ښځو پر وړاندې د کورني تاوتریخوالي، د ماشومانو د واده، ټولنیزې او قومي انزوا، جګړو او نورو حالاتو له امله زیانمنېږي، د پرمختللو هېوادونو پر لور صورت مومي.
- د انساني قاچاق ډېرې پېښې د یو هېواد دننه، ګاونډیو او د سیمې هېوادونو ته ترسره کېږي، خو د لرې (د لویو وچو تر منځ) واټن قاچاق کېدو بېلګې هم ډېرې دي.
- اروپا د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د انساني قاچاق مقصد ځای دی، په داسې حال کې چې اسیا هغه وچه ده چې ور څخه تر ټولو ډېر خلک نورو وچو ته قاچاق کېږي او لوی لامل یې هم بېوزلي ده.
- شمالي او سوېلي امریکا دواړه د انساني قاچاق له نظره هم مبدا او هم مقصد دي.

### د انسان د قاچاق عام ډولونه:

د انسان د قاچاق په اړه د کار نړیوال سازمان د اټکل له مخې، جنسي ناوړه ګټه اخیستنه د انساني قاچاق تر ټولو عام ډول دی چې ۷۹ سلنه جوړوي او ور پسې ۱۸ سلنه په زور کار ته اړ ایستل راځي.

له ښځو څخه ناوړه ګټه اخیستنه ډېری په ښارونو او د لویو لارو په اوږدو کې، چېرې چې اقتصادي فعالیتونه ډېر وي، لیدل کېږي. دغه ډول قاچاق تر ټولو ډېر راپور او تر ټولو ډېر ثبت شوی دی. د دې په پرتله د ناوړه ګټې اخیستنې له نورو ډولونو څخه لږ راپور ورکړل شوی؛ لکه په زور کار، د پور په بدل کې کار، په کورونو کې کار کول او د زور واده، د بدن د غړو ایستل، له ماشومانو ناوړه ګټه اخیستل، جنسي سوداګري او جګړه.

### په انساني قاچاق کې ښکېل صنعتونه

د قاچاق شوي کاري ځواک ډېره برخه هغه خلک جوړوي چې د کار مارکېټ په غیر رسمي سکټور او د رسمي اقتصاد په څنډو کې د نا قانونه کېدوالو په توګه کار کوي. هغه سکټورونه چې د انساني قاچاق کچه په کې لوړه ده، په لاندې ډول دي:

- کرنه او بڼوالي
- ساختمان
- د جامو او ټوکر د تولید هغه کارخونې او دوکانونه چې کارګر په کې په کم معاش استخدامېږي او په سختو شرایطو کې کار کوي
- د خوراکي توکو خدمتونه او رستورانتونه
- په کورونو کې کار
- تفریح ځایونه
- د جنسي اړیکو صنعت

انساني قاچاق پر نورو سکټورونو باندې هم اغېزه لري؛ لکه لاندې سکټورونه:

- د خوړو پروسس
- روغتیا

- د روغتیا سکټور اړوند د صفاکارۍ قراردادونه
- امنیت
- مېلمه پالنه/ هوټلونه

## د انساني قاچاق عناصر

انساني قاچاق درې عناصر لري چې عبارت دي له کړنه (څه ترسره شوي؟)، اسباب (څرنګه ترسره شوي؟) او موخه (ولې ترسره شوي؟). د انساني قاچاق د کړنې په عنصر کې باید دې ته ځواب وموندل شي چې څه ترسره شوي دي؟ یعنې یو شخص ګومارل شوی، لیږدول شوی، چا ته سپارل شوی، چا ته تسلیم شوی او یا شخص د چا لاسته ورغلی دی. د انساني قاچاق په اسبابو کې باید دې پوښتنې ته ځواب وموندل شي چې څه راز ترسره شوي دي، وسیله یې څه وه او له کومې لارې ترسره شوي دي؟

انساني قاچاق ښايي د ګواښ، له ځواکه د استفادې، انسان تښتونې، درغلۍ، چل (فریب)، زیان منونې له حالت څخه ناوړه ګټې اخیستنې، د پیسو او یا د نورې ګټې ترلاسه کولو لپاره ترسره شي. د انساني قاچاق د موخې معلوملو لپاره دې پوښتنې ته چې انساني قاچاق ولې ترسره شوی، علت او موخه یې څه وه؟ باید ځواب وموندل شي. موخه یې ښايي جنسي ګټه اخیستنه یا بچه بازي، د بدن غړو غوڅول، اجباري جرم او جنایت، اجباري سوالګري، اجباري کار او خدمت، وسله والې نښتې، مریيتوب او دې ته ورته کړنې او یا د ګټې اخیستنې نور ډولونه وي.

## د انساني قاچاق پایلې

انساني قاچاق د ټولنې لپاره ډېرې بدې پایلې لري چې حتی د ټولې ټولنې اقتصادي، ټولنیز، روغتیايي او امنیتي وضعیت ګواښي او خپله د انساني قاچاق زیانمن شوي لپاره یې پایلې په لاندې ډول دي:

**اقتصادي او ټولنیز وضعیت**

- د ټولنې ننګ
- د خلکو ګوښه والی
- د اقتصادي فرصتونو کمښت
- له بل ځل قرباني کېدو وېره
- نا معلوم راتلونکی او برخلیک

**رواني روغتیا**

- خپګان او پرېشاني
- وېره (اضطراب)
- ځانوژنې ته لېوالتیا
- پر ځان نه باور او وړتیا

**بدني روغتیا**

- مزمنې ناروغۍ
- د بدن غړو ته زیان
- جنسي ناروغۍ
- په اجباري ډول له نشه یی توکو استفاده

**بدني او حقوقي خوندیتوب**

- له نیول کېدو او له پولې بېرته اړولو وېره
- د خوندي او پایداره اوسېدو ځای نشتوالی
- د قاچاق وړونکو له غچ اخیستو څخه وېره

## د انساني قاچاق د زیانمن شوو تشخیص او پېژندل

د انساني قاچاق زیانمن شوی د لاندې کسانو له خوا مشخص او پېژندل کېږي او د دغو کسانو له خوا د زیانمن شوي لاسنیوی او ورسره مرسته اړین دي:

- روغتیایي کارکوونکي
- ټولنیز کارکوونکي
- پولیس
- د ټولنې مخور
- د جوماتونو امامان
- د مدني ټولنو غړي
- د قانون پلي کوونکي
- دولتي، نا دولتي او د ملګرو ملتونو ادارې
- هغه عام خلک چې پر دغو مسایلو خبر وي

د انساني قاچاق د زیانمن شوي عمومي ځانګړنې په لاندې ډول دي:

- وېره
- بې باوري
- د اسنادو نه درلودل
- د اطاعت کولو عادت
- فزیکي زیان یا ټپونه (غوځوالی، پاړسوب یا سوځېدنه)
- خپګان، پرېشاني
- شخص خپله دنده نه شي پرېښودلی
- لږ او یا هېڅ پیسې نه ترلاسه کول
- له توان څخه ډېر کار کول
- له کورنۍ سره د اړیکې نه درلودل

که د انساني قاچاق زیانمن شوی ماشوم وي، د هغو ځانګړنې عبارت دي له:

- شرمېدل
- سترګې په سترګو نه کېدل
- ګوښه توب
- وېرېدل
- په ازاد ډول خبرې نه کول
- له مشرانو سره یو ځای پر لار تلل
- د سفر پر مقصد او موخه نه پوهېدل
- تعلیم او لوبو ته نه لاسرسی

د انساني قاچاق د زيانمن شوو تشخيص محدوديتونه لري چې له امله يې د دې برخې قرباني په اسانۍ سره نه شي پېژندل کېدلی، له همدې امله هغه کسان چې غواړي د انساني قاچاق زيانمن شوی وپېژني، لاندې موارد بايد په پام کې ونيسي:

١- د مرکه کوونکي د پوهې او مهارت ټيټه کچه
٢- له خپلو حقونو د زيانمنو نه خبرتيا
٣- له قاچاقبرو وېره
۴- قاچاقبرو ته وفاداري
۵- پر چارواکو نه باور
۶- د حافظې له لاسه ورکول
٧- ژبنۍ ستونزې
٨- فرهنګي بنديزونه

**د انساني قاچاق د تشخيص او پېژندنې پړاوونه**

د انساني قاچاق د زيانمن شوي د پېژندلو لپاره پنځه پړاوونه شتون لري چې د زيانمن شوي له پېژندنې پيل، له هغه سره پر مرستې او عدالت ورکولو پای ته رسېږي.




د انساني قاچاق زيانمن شوو ته رسېدنه د حکومت او ملي بنسټونو دنده ده، حکومت بايد ورسره د هغوی د لاندې اړتياوو په پوره کولو کې مرسته وکړي:

- خونديتوب او امنيت
- د اوسېدو ځای
- ډوډۍ، اوبه او کالي
- بېړني روغتيايي خدمتونه

## د انساني قاچاق د اصطلاحګانو پېژندنه

لاندې اصطلاحګانې د انساني قاچاق له زاويې په لنډه توګه تشريح شوې دي:
**انساني قاچاق:** انساني قاچاق د انسانانو د استثمار په موخه د ګواښ، د زور يا بل ډول اجبار، تښتونې، درغلۍ، تېر ايستنې، له قدرت يا د يو چا له مجبوريته ناوړې ګټې اخيستو يا د هغه شخص چې د بل شخص واک لري، د هوکړې ترلاسه کولو لپاره د پيسو يا نورو ګټو د راکړې ورکړې له لارې د شخص استخدام، لېږد، انتقال، پناه ورکولو يا تسليمېدو ته ويل کېږي.
**اختطاف (انسان تښتونه):** د زور يا تېر ايستلو له لارې د يوه شخص تښتولو ته وايي. د ۱۳۹۶ لمريز کال د جزا کوډ له مخې، له ګواښ، زور، د وېرونې له نورو ډولونو، په چل او فريب او له جسمي يا رواني کمزورۍ له ګټې اخيستنې، له نوي زېږېدلي ماشوم سره د بل نوي زېږېدلي ماشوم بدلولو، له مور او پلار يا قانوني سرپرسته د ماشوم لرې کولو او يا هم په نا استوګن ځای کې د ماشوم له پرېښودلو څخه عبارت دی، که څه هم چې دغه ډول کړنې د ګټې اخيستو يا زيان رسولو په موخه وي.
دغه راز په زور سره د يوه شخص يا يوې ډلې تښتول، په بند کې اچول چې معمولاً د انسان تښتونې له قرباني يا له يوې دريېمګړې ډلې د اقتصادي يا سياسي امتياز ترلاسه کولو لپاره ترسره کېږي. د انسان تښتولو جرم ته معمولاً د هېوادونو د کورنيو قوانينو په رڼا کې رسېدنه کېږي، خو د انسان تښتونې داسې ډولونه هم شته چې د نړيوال قانون په دايره کې راځي، لکه هغه کسان چې په نړيوالو اوبو کې انسانان برمته کوي.
**بهره کشي (ناوړه ګټه اخيستنه):** په پېرلو، پلورلو، جنسي ناوړه ګټې اخيستو، ګډولو (رقصول)، د غير اخلاقي (پورنوګرافي) تصويرونو يا فلمونو چمتو کولو، غلامۍ، په اجباري کار، سوال کولو، وسله والې جګړې، د بدن غړي يا نسجونو په اخيستو، طبي اجباري ازمايښتونو يا نورو غير قانوني فعاليتونو ته په اړ ايستلو کې له مجني عليه ګټې اخيستو ته، ناوړه ګټه اخيسته وايي.
**سازمان شوې جنايتکاره ډله:** له درېيو يا تر دې له ډېرو کسانو جوړې ډلې ته وايي چې د انسان له قاچاق او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې په قانون کې له درجو جرمونو د يوه يا زياتو د ارتکاب د موخې په لرلو سره متفقاً اقدام کوي.
**مجنی عليه (زيانمن شخص):** هغه حقيقي شخص دی چې د انسان قاچاق د جرم د ارتکاب له امله يې په مستقيم ډول جسمي، رواني يا اقتصادي زيان ليدلی او يا ورسره مخ وي. په بل عبارت، مجني عليه هغه شخص ته ويل کېږي چې د جرم د ارتکاب له امله هغه ته اخلاقي، جسمي، مادي يا معنوي زيان رسېدلی وي.
**د کډوالو قاچاق:** د پيسو يا د بلې ګټې ترلاسه کولو په موخه د بهرني دولت تبعې يا بې تابعيته شخص ته، هېواد ته د نا قانونه دننه کېدو زمينه برابرول، د هېواد تبعې يا له تابعيت پرته شخص او يا هم د بهرني دولت تبعې ته له افغانستانه بل هېواد ته د مسافرت له سندونو يا د مسافرت په تزوير شوو سندونو سره د وتلو زمينه برابرولو ته د کډوالو قاچاق وايي.
**قاچاق شوی کډوال:** هغه چا ته وايي چې د بهرني دولت تبعه يا بې تابعيته شخص هېواد ته د نا قانونه ننوتلو يا هم د هېواد تبعه يا له تابعيت پرته شخص يا د بهرني دولت تبعه له افغانستانه بل هېواد ته په تلو کې د پيسو يا بل منفعت ترلاسه کولو لپاره د قاچاقبر ښکار شوی وي.
**د انسان قاچاقبر:** هغه شخص يا سازمان شوې جنايتکارې ډلې ته وايي چې له ګواښ، ځواک (زور)، اختطاف، تېر ايستلو، نفوذ او د اجبار له نورو ډولونو په ګټې اخيستو د ناوړه اعمالو مرتکب شوي وي.
**د کډوالو قاچاقبر:** هغه شخص يا سازمان شوې جنايتکارې ډلې ته وايي چې د پيسو يا منفعت ترلاسه کولو په موخه د بهرني دولت تبعه يا بې تابعيته شخص ته، هېواد ته د ناقانونه ننوتلو يا هم د هېواد تبعه يا له تابعيت پرته

شخص یا د بهرني دولت تبعې ته له افغانستانه بل هېواد ته د مسافرت یا له تزویر شوو سندونو سره د وتلو د اعمالو مرتکب شوي وي.
**د پېژندنې یا مسافرت تزویر شوی سند:** د پېژندنې یا مسافرت تزویر شوی سند له هر هغه سنده عبارت دی چې په تزویري بڼه جوړ او یا په هغه کې بدلون راوستل شوی وي. دغه راز د نا سمو څرګندونو، فساد یا اکراه ته په توسل سره یا له هرې بلې نا قانونه لارې لاسته راغلی وي یا له سنده د هغه له قانوني خاوند پرته ګټه اخیستل شوې وي.
**د پور په بدل کې کار:** هغه کار ته ویل کېږي چې کارګر یې د یو داسې تړون له امله ترسره کوي چې له اقتصادي ملاحظاتو راپورته شوی وي، په داسې صورت کې چې پور یا پیشکي پیسې یې اخیستې وي. پور د دغه کار اصلي لامل دی، پایلې یې دا دي چې کارګر یا د هغه تړاو لرونکي او وارثان مکلف وي تر یوې ټاکلې یا نا ټاکلې مودې پورې څو چې پور بېرته ورکوي، د پور ورکوونکي لپاره کار وکړي.
**د ثبوتولو مسوولیت:** د یو لوري دنده ده چې باید یو متنازع فیه بیان یا تور ثابت کړي. د کډوالۍ په موضوع کې یو پردی شخص چې غواړي په یوه بهرني هېواد کې پناه واخلي، د خپلې قضیې ثبوتولو مسوولیت پر غاړه لري؛ په دې معنا چې دغه پردی شخص باید ثابته کړي چې اړوند هېواد ته د دننه کېدو پر شرایطو برابر دی او د دغه هېواد د قوانینو له مخې ممنوع الدخول نه دی.
**د ماشوم استثمار (له ماشوم ناوړه ګټه اخیستنه):** د ۱۹۸۹ زېږدیز کال د ماشوم د حقونو کنوانسیون او د ۱۹۹۹ زېږدیز کال د ماشوم د کار د تر ټولو ناوړه ډولونو د منعه او د له منځه وړو لپاره یې د سمدستي اقدام ترسره کولو کنوانسیون له مخې، له ماشوم څخه ناوړه ګټه اخیستل یا استثمار په لاندې ډولونو دي:
اقتصادي استثمار: هر هغه کار چې بنایي د ماشوم زده کړې ته زیان ورسوي، د هغه خنډ واقع شي یا هم د ماشوم روغتیا، فزیکي، دماغي، رواني، اخلاقي او ټولنیزې ودې ته زیان ورسوي.
جنسي استثمار: جنسي ناوړه ګټه اخیستل، فحشا، په غیر اخلاقي فلمونو کې د ماشومانو کارول، د ماشومانو تښتول، پلور او اجباري قاچاق.
**د ماشوم کار:** هر هغه کار ته ویل کېږي چې ماشوم یې ترسره کوي خو د هغه روغتیا، زده کړې یا هم فزیکي، رواني، عقلي، اخلاقي او ټولنیزې ودې ته یې زیان رسوي.
**مدني او سیاسي حقوق:** دغه اصطلاح په عامه توګه د هغو بېلابېلو حقونو څرګندولو په موخه کارول کېږي چې په ۱۹۶۶ زېږدیز کال کې منعقد شوي او د مدني او سیاسي حقونو په نړیوال کنوانسیون کې راغلي دي؛ لکه د ځان د برخلیک معلومولو حق، په ازاده توګه د طبیعي شتمنیو او سرچینو د ازاد وېش حق، له تبعیض سره د نه مخ کېدو حق، د ښځو او نارینه وو حقونو د انډول والي حق، د ژوند کولو حق، له شکنجې، ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوي کوونکي چلند یا مجازاتو د خلاصون حق، له مریيتوب او مزدورۍ د خلاصون حق، پر خپل سر له نیول کېدو یا بندي کېدو د ازادۍ حق، د یوه هېواد دننه په ازاده توګه د تګ راتګ حق، د شخص د ازادۍ او امنیت حق، د محکمو له خوا د مساوات حق، د جزایي تورونو په صورت کې د بې پرې محکمې له خوا د منصفانه او علني محاکمې حق، تېر وخت ته د جزایي مسوولیت د نه رجعت حق، د کورنۍ، د کورنۍ د غړو او د مکاتباتو د خصوصي حریم حق، د فکر، عقیدې او دین د ازادۍ حق، د بیان د ازادۍ حق، اطلاعاتو ته د لاسرسي حق، د سوله ییزو غونډو جوړولو حق، د ټولنو جوړولو د ازادۍ او په عامه چارو کې د ګډون حقونه.
**قونسلي مرستې:** هغه قونسلي چارې دي چې موخه یې په بهر کې له خپلو اتباعو سره مرسته او د کوربه هېواد په محکمو کې د هغوی د حقونو او ګټو ساتنه ده؛ لکه له هغو کډوالو سره مرستې ته ویل کېږي چې په کوربه هېواد کې نیول شوي یا بندیان شوي او خپلې محاکمې ته ستړګې په لاره دي. دغه ډول کډوال باید سمدستي خبر کړای شي چې حق لري د خپل هېواد د قونسلي خدمتونو له څانګې سره اړیکه ټینګه کړي.

**د پور په بدل کې ګرو کېدل:** د ۱۹۵۶ زیږدیز کال د مرییتوب د له منځه وړو لپاره د ملګرو ملتونو سازمان الحاقي کنوانسیون له مخې، د پور په بدل کې ګرو کېدل هغه حالت یا شرط دی چې پور اخیستونکی یا هغه کس چې د پور اخیستونکي په واک کې دی، د پور په بدل کې د تضمین په توګه له پور ورکوونکي سره د کار کولو ژمنه کوي، البته که چېرې د هغه د کار ارزښت په معقوله توګه د پور خلاصولو لپاره محاسبه نه شي یا د کار موده محدوده شوې او ماهیت یې تعریف شوی نه وي.

**چل او ول:** د کډوالۍ په موضوع کې د چل او ول اصطلاح نه یوازې پر نا سمو یا غلطو اطلاعاتو دلالت کوي، بلکې د کډوال له نا خبرۍ ناوړه ګټې اخیستو ته هم ویل کېږي.

**متعلقین:** متعلقین په عامه معنا هغه څوک دي چې پر بل کس باندې متکي وي. د کډوالۍ په موضوع کې د ژوند شریک او صغیرو ماشومانو ته متعلقین ویل کېږي، ان که د ژوند شریک مالي احتیاج هم ونه لري.

**بند:** د حکومتي چارواکو له خوا د شخص ازادۍ سلبولو ته ویل کېږي چې معمولاً په یوه ځای کې د شخص د بندي کولو له لارې ترسره کېږي. دوه ډوله بند شتون لري: یو یې جزایي بند دی چې د ارتکاب شوي جرم د سزا ورکولو په موخه کارول کېږي او بل یې اداري بند دی؛ د دې لپاره تطبیقېږي چې د بل اداري اقدام ترسره کېدل یقیني کړي؛ لکه ډیپورټ کول یا له هېواده شړل.

په ډېرو هېوادونو کې نا قانونه کډوال له اداري بند سره مخ کېږي؛ ځکه چې هغوی د کډوالۍ قوانین او مقررات تر پښو لاندې کړي وي چې البته جرم نه بلل کېږي. په یو شمېر دولتونو کې کډوال، هغه مهال چې د خپل برخلیک د روښانه کېدو لپاره د دولت پرېکړې ته په تمه وي چې ایا د کډوال په توګه منل کېږي که بېرته ایستل کېږي، هم په بند کې ساتل کېږي.

**تبعیض:** هغه حالت ته ویل کېږي چې له ټولو خلکو سره یو ډول چلند نه کېږي، پرته له دې چې له ځینو هغو سره د امتیازي چلند لپاره کوم موجه دلیل موجود وي. د ملګرو ملتونو سازمان د ۱۹۴۵ زیږدیز کال منشور د لومړۍ مادې د درېیمې فقرې له مخې، د نژاد، جنس، ژبې او دین پر بنسټ تبعیض کول منعه دي او دغه راز د ۱۹۴۸ زیږدیز کال د بشري حقونو نړیوالې اعلامیې د دویمې مادې له مخې، د نژاد، د پوستکي رنګ، جنس، ژبې، دین، سیاسي یا نورو باورونو، ملیت، ټولنیز وضعیت، شتمني، نسب یا هر بل موقعیت پر بنسټ تبعیض منعه دی.

**بېځایه کېدل:** د زور له لارې له خپل کور یا هېواده ایستل چې ډېری دغه پېښې د وسله والو جګړو یا طبیعي پېښو له امله وي.

**بېځایه شوی شخص:** هغه شخص ته ویل کېږي چې د ویرې یا خطر له امله، پرته له هغو خطرونو چې له هغه کډوال جوړوي، له خپل هېواد یا ټولنې بېل شوی وي. دغه راز بېځایه شوی شخص ډېری وخت د کورنیو جګړو یا طبیعي پېښو له امله تېښتې ته مجبور شوی وي.

**ټاټوبی:** هغه ځای ته ویل کېږي چې شخص په کې عملاً موجود وي او خپل کور یې بولي یا هم اصلي، ځایي، ربښتینی او دایمي استوګنځی چې شخص ورته د بېرته ور تللو او په کې د استوګنې نیت لري، سره له دې چې اوس مهال بل ځای اوسېږي.

**کډوالي:** له یوه هېواده په دغه نیت وتل چې په بل هېواد کې ژوند وکړي. د بشر ي حقونو نړیوالو نورمونو د حکم له مخې، ټول خلک باید د دې ازادي ولري چې د خپل هېواد په ګډون له هر هېواده ووځي، دولتونه یوازې په ډېرو محدودو حالاتو کې کولای شي د اشخاصو پر وتلو باندې محدودیت وضع کړي.

**ډله ییزه کډوالي:** په ډله ییزه توګه له خپل متبوع هېواد څخه د خلکو وتلو ته ویل کېږي چې دوامداره نه وي. کتلوي کډوالي په یوه وخت کې د لویو ډلو یا د ټولنې د یوې برخې وتلو ته وایي.

**بهر ته بېځايه شوي کسان:** هغه کسان دي چې د زور، عمومي تاوتريخوالي، وسله والو جګړو او نورو بشري ناورينونو له کبله له خپل هېواد څخه تښتېدلي وي. دغه کسان اکثراً په ډله ييز ډول تښتي او کله کله ورته د بالفعل کډوالو اصطلاح هم کارول کېږي.
**استرداد:** د يوه دولت له خوا بل دولت ته په رسمي توګه، عموماً د يوه تړون يا بل دوه اړخيز پروتوکول له مخې، د محاکمې او سزا ورکولو په موخه د هغو کسانو بېرته سپارلو ته ويل کېږي چې د هېواد له خاورې څخه بهر او د مقابل هېواد د خاورې دننه د يوه جرم پر ارتکاب تورن يا محکوم شوي وي.
**تسهيل (اسانه) شوې کډوالي:** په سفر کې د اسانتياوو راوستلو له لارې کډوالۍ ته د قانوني کډوالو هڅولو ته ويل کېږي. دغه اسان چاره کولای شي بېلابېلې بڼې ولري، لکه د ويزې اخيستلو د بهير اسانه کول، يا د مسافرو د تفتيش بهير ګړندي کول.
**اجبار**: د فزيکي ځواک کارولو يا پر فزيکي ځواک ځګواښلو له لارې پر چا باندې اجبار کولو ته وايي.
**اجباري کار:** د اجباري کار په باب د کار د نړيوال سازمان د ۲۹ مې ګڼې کنوانسيون د دويمې مادې لومړۍ فقرې له مخې، ټولو هغو کارونو يا خدمتونو ته ويل کېږي چې د مجازاتو د ګواښ له لارې له شخص څخه چې ياد شخص په خپله خوښه ورته حاضر شوی نه وي، ترلاسه کېږي.
**اجباري کډوالي:** يوه عمومي اصطلاح ده او پر داسې کډوالۍ دلالت کوي چې ژوند يا مال ته د ګواښ د شتون په ګډون د اجبار عنصر په کې ښکېل وي، يعنې له طبيعي يا انساني پېښو را ولاړ شوی اجبار؛ د بېلګې په توګه د کډوالو يا کورنيو بېځايه شوو کسانو خوځښت او هغه خلک چې د طبيعي يا چاپېريالي پېښو، کيمياوي يا هستوي پېښو، وچکالۍ يا پراختيايي پروژو له امله بېځايه کېږي.
**اجباري ځای پر ځای کول:** د دولت د پاليسۍ د يوې برخې په توګه د دولت د قلمرو دننه، له اصلي مېنو د اشخاصو يا ډلو اجباري بېځايه کولو ته وايي.
**درغلي:** د ګټو ترلاسه کولو په موخه د حقيقت تحريفولو يا پټولو ته وايي.
**اهمال:** اهمال چې بې په پروايۍ او غلفت کې هم شاملېږي، عبارت دی له نه پاملرنې يا په هغه عمل کې نه مواظبت دی چې بايد ترسره شي.
**تقلبي سند:** هر هغه د سفر يا هويت سند چې په تقلبي توګه د غير واکمن شخص يا ادارې له خوا د يوه هېواد په استازيتوب د سفر يا هويت د سند صادرولو په موخه جوړ يا لاس په کې وهل شوی وي او يا هم د هويت د جعل، بډو، فشار يا له نورو غير قانوني لارو په درغلۍ سره ترلاسه شوی وي او يا هم د هغه له څښتن پرته د بل شخص په لاس کې وي او کارول کېږي.
**د خوځښت ازادي:** دغه حق له دريو بنسټيزو عناصرو جوړ دی؛ د ۱۹۴۸ زېږديز کال د بشري حقونو نړيوالې اعلاميې د ديارلسمې مادې لومړۍ فقرې له مخې، د يوه هېواد د خاورې دننه د خوځښت ازادي؛ يعنې هر څوک حق لري چې د هر هېواد دننه په ازاده توګه تګ راتګ وکړي او خپل د اوسېدو ځای غوره کړي. د ۱۹۴۸ زېږديز کال د بشري حقونو نړيوالې اعلاميې د ديارلسمې مادې دويمې فقرې له مخې، د هر هېواد پرېښودو حق او هغه ته د بېرته ور ستنېدو حق؛ يعنې هر څوک حق لري چې د خپل هېواد په ګډون له هر هېواده ولاړ شي او بېرته ور وګرځي.
**نسل وژنه:** د ۱۹۴۸ زېږديز کال د نسل وژنې د مخنيوي او سزا ورکولو کنوانسيون د دويمې مادې له مخې، هره يوه له لاندې کړنو څخه چې په ټوليزه يا قسمي توګه د يوه ملت، قوم، نژاد يا دين او مذهب د پيروانو د ډله ييزې وژنې لپاره ترسره شي، نسل وژنه ورته ويل کېږي: د ډلې د غړو وژل، د ډلې غړو ته فزيکي يا رواني زيان رسول، په عمدي توګه د نظر وړ ډلې باندې داسې شرايط راوستل چې په ټوليزه يا قسمي توګه د هغو د فزيکي انقراض

لامل وګرځي، د نظر وړ ډلې پر وړاندې داسې تدابير نيول چې د توالد او تناسل مخه ونيسي، په زور سره بلې ډلې ته د نظر وړ ډلې د ماشومانو وړل.
**زرغون سرحد:** د يوه هېواد ځمکنۍ پولې ته ويل کېږي او په همدې توګه د اوبو پولې ته شين سرحد ويل کېږي.
**ولي:** هغه شخص دی چې د بل شخص د نه اهليت، معلوليت يا صغارت له امله له حقوقي پلوه د بل شخص يا د هغه د مال د ساتنې او پالنې واک يا دنده لري.
**همېشنی استوګنځی:** د يوه هېواد دننه يو ځای، چېرې چې يو شخص ژوند کوي يا ورځنۍ ستوماني په کې وباسي (ارام کول).
**بشري حقوق:** هغه ازادۍ او امتيازونه دي چې د اوسني عصر د منل شوو ارزښتونو له مخې، ټول انسانان يې په هغې ټولنه کې چې ژوند کوي د "حق" په توګه وغوښتلای شي. دغه حقونه د بشري حقونو نړيوالې اعلاميې، د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقونو او د مدني او سياسي حقونو کنوانسيونونو کې چې په ګډه نړيوال اساسي حقوق جوړوي، راغلي او له دې ټولګې په نورو معاهدو کې هم اقتباس شوي، لکه د ۱۹۷۹ زېږديز کال د ښځو پر وړاندې د هر راز تبعيض د له منځه وړو او د ۱۹۶۵ زېږديز کال د نژادي تبعيض د ټولو ډولونو د له منځه وړو کنوانسيونونه.
**بشري قانون:** د نړيوال قانون اصول چې په ځانګړې توګه د جګړې او وسله والو نښتو پر مهال د انسانانو د خونديتوب لپاره وضع شوي دي.
**بشرپال اصول:** هغه اخلاقي معيارونه دي چې د نړيوالو بشري حقونو او بشري قانون پر بنسټ ولاړ دي او پر ټولو هغو لورو چې په بشري چارو کې بوخت دي، تطبيقېږي او د بشرپالو اقداماتو د بې پرې توب ساتنه کوي. د بشرپال اصولو لومړنۍ څرګنده بيانيه د سره صليب او سرې مياشتې په بنسټيزه اصولپاڼه کې ليدل کېږي چې په ۱۹۶۵ زېږديز کال کې تصويب شوې ده.
**غير انساني چلند:** شديد فزيکي يا رواني ظلم او ناروا چې د چا ژوند يا روغتيا په خطر کې واچوي.
**قرار:** د محکمې امر چې د يوه اقدام د تنفيذ او يا هم مخنيوي سپارښتنه کوي. د دې لپاره چې محکمه قرار صادر کړي، شکايت کوونکی بايد ثابته کړي چې په قانون کې د مطرح شوې مسئلې په باب کوم روښانه او بشپړ حکم نشته او که چېرې معافيت ورنه کړل شي نو نه جبرانېدونکی زيان به رامنځته شي.
**د هېواد دننه کډوالي:** د نوې مېنې جوړولو په موخه د هېواد دننه له يوه ځای څخه بل ځای ته د خلکو تلل؛ دا ډول کډوالي کېدای شي چې موقتي او يا هم دايمي وي. د هېواد دننه کډوال د خپل هېواد دننه کډوال کېږي او د خپل هېواد دننه پاتې کېږي؛ د بېلګې په توګه له کليو ښارونو ته کډه کېدل.
**کورني بېځايه شوي خلک:** هغه اشخاص يا ډلې دي چې د خپل کور او مېنې خوشې کولو ته اړ ايستل شوي، په تېره بيا د جګړې په پايله کې او يا هم د جګړې، ټوليز تاوتريخوالي، د بشري حقونو تر پښو لاندې کېدو، د طبيعي يا د بشر د لاس د پېښو له زيانونو په امان کې کېدو لپاره له خپل ځای څخه بېځايه شوي خو له کوم نړيوال سرحده اوښتي نه وي.
**نړيواله مرسته:** د نړيوالې ټولنې له خوا مرسته لکه د روزل شوي پرسونل له خوا مالي او غير مالي مرستې او خدمتونه.
**نا منظم کډوال:** هغه څوک دي چې يوه هېواد ته په نا قانونه توګه د ور دننه کېدو او يا هم د ويزې د وخت پای ته رسېدو له امله په هغه هېواد يا د ترانزيټ په ځای کې د حقوقي استوګنې اجازه نه لري. دغه اصطلاح پر هغو کډوالو اطلاقېږي چې يوه هېواد ته د ور داخلېدو قواعد نقض کوي او هر هغه شخص چې په کوربه هېواد کې د پاتې کېدو اجازه نه لري، د پټو، غير قانوني، بې اسنادو يا په نا منظم وضعيت کې د ښکېلو کډوالو په نوم هم يادېږي.
**نامنظمه کډوالي:** هغو خوځښتونو ته ويل کېږي چې د لېږونکو، ترانزيټ او اخيستونکو هېوادونو د تنظيماتي نورمونو له چوکاټه بهر صورت مومي. د نا منظمې کډوالۍ لپاره داسې يو تعريف چې ټولې نړۍ ته د منلو وړ وي، نشته. د هغو هېوادونو له نظره چې کډوال ور دننه کېږي، نا منظمه کډوالي يوه هېواد ته په غير قانوني توګه دننه کېدل، اوسېدل او کار دی؛ په دې معنا چې دغه کډوال د اړوند هېواد د کډوالۍ د قواعدو له مخې هغه د اړتيا وړ اسناد يا اجازه ليک چې ده ته دغه هېواد ته د ورتګ، اوسېدو يا کار اجازه ورکړي، نه لري. د لېږونکو هېوادونو له ليدلوري، دغه ډول نا منظم والی،

د بېلګې په توګه په داسې حالاتو کې لیدل کېږي چې یو شخص د معتبر پاسپورټ یا د سفر د سندونو له لرلو پرته له یوه نړیوال سرحده اوړي او یا هم د هېواد د پرېښودو لپاره اړوند اداري بهیر نه بشپړوي، خو په هر حال داسې لېوالتیا شته چې د دې اصطلاح معنا د کډوالو د قاچاق او ترافیک حالاتو ته محدوده کړای شي.

**ګرځنده کارګر:** د ۲۰۰۰ زېږدیز کال د ټولو کارګرو کډوالو او د هغو د کورنیو د غړو حقونو ساتنې د نړیوال کنوانسیون د دویمې مادې د دویمې فقرې له مخې، هغه کډوال کارګر ته ویل کېږي چې کور او ژوند یې په یوه هېواد کې وي خو د خپل کار د ماهیت له امله دې ته اړ وي چې د لنډ وخت لپاره بل هېواد یا هېوادونو ته سفر وکړي.

**د کار لپاره کډوالي:** د کار په موخه له خپل هېواده بل هېواد ته تګ ته وایي. ډېری هېوادونه خپلو د کډوالۍ قوانینو کې د کار لپاره د کډوالۍ لپاره ځانګړي حکمونه لري. سربېره پر دې ځیني هېوادونه د خپلو وګړو د کار لپاره د کډوالۍ چارو په تنظیمولو کې فعاله ونډه اخلي او له هېواده بهر د خپلو اتباعو لپاره فرصتونه لټوي.

**ډله ییزه کډوالي**: په ناڅاپي ډول د ډېر شمېر خلکو کډوال کېدو ته ډله ییزه کډوالي ویل کېږي.

**منځګړیتوب:** د شخړو د حل یو ډول غیر الزامي رول ته منځګړیتوب ویل کېږي. په دغه رول کې یو دریمګړی اړخ هڅه کوي څو له متخاصمو ډلو سره د لانجې په هوارولو کې مرسته وکړي او داسې لاره وموومي چې دواړه لورو پرې سلا وي.

**اقلیت (لږکي):** سره له دې چې په نړیوال قانون کې د لږکیو لپاره په نړیواله کچه کوم منل شوی تعریف نشته، خو بیا هم ویل کېږي چې لږکي د شمېر له پلوه د هېواد د نفوس له پاتې برخې څخه لږ وي او څرګند دریځ ونه لري، غړي یې داسې قومي، دیني یا ژبنۍ ځانګړتیاوې لري چې د هېواد له پاتې نفوس څخه توپیر لري او په ضمني توګه د خپل فرهنګ، دود او دستور، دین یا ژبې د ساتنې لپاره د پیوستون یو احساس لري.

**د اقلیت (لږکي) غړی:** هغه شخص ته ویل کېږي چې اصلیت یا توکمیزه منشا یې په بل هېواد کې وي، خو د زېږون او یا هم د تابعیت اخیستو له لارې د کوربه هېواد تبعه شوی وي.

**کډوالي**: له یوه ځای څخه بل ځای ته د تګ پروسې ته کډوالي ویل کېږي؛ لکه له یوه نړیوال سرحد څخه تېر شي یا د هېواد دننه له یوه ځای څخه بل ځای ته وکوچېږي او هلته مېشت شي.

**د کډوالۍ مدیریت:** دا یوه اصطلاح ده او د دولت هغه کړنې او ملي سیستم رانغاړي چې په منظم ډول او انساني اصولو له مخې له پولې ها خوا د کډوالو د تګ چارې تنظیموي، په تېره بیا د هېواد د سرحدونو دننه د بهرنیو د راتګ او حضور مدیریت او د کډوالو او نورو اړو کسانو ساتنه کوي.

**د کډوالو جریان**: د هغو کډوالو شمېر ته ویل کېږي چې له یوه هېواده بل هېواد ته د تګ په حال کې وي او د تګ اجازه ترلاسه کوي، څو د یوې ټاکلې مودې په اوږدو کې کار ترلاسه کړي او استوګن شي.

**د کډوالو شمېر:** د هغو کډوالو شمېر ته ویل کېږي چې په یو وخت کې په یو هېواد کې ژوند کوي.

**کډوال کارګر:** د ۱۹۹۰ زېږدیز کال د کډوالو کارګر او د هغو د کورنیو د غړو د حقونو ساتنې د نړیوال کنوانسیون د دویمې مادې د لومړۍ فقرې له مخې، هغه شخص چې پخوا، اوس یا په راتلونکي کې به بل هېواد کې چې دی یې تبعه نه دی، د مزد په بدل کې کار کوي، کډوال کارګر بلل کېږي.

**صغیر:** هغه کس دی چې د اړوند هېواد د قانون له مخې د کبارت له سن څخه ټیټ وي؛ معنا دا چې لا تر اوسه له خپلو مدني او سیاسي حقونو څخه برخمن نه وي.

**تبعه:** هغه شخص دی چې د زېږون یا تابعیت ترلاسه کولو له لارې د یوې سیاسي ټولنې غړی وي، له یادې ټولنې سره بیعت ولري او د هغې له ټولو مدني او سیاسي حقونو او ساتنې څخه برخمن وي. همدارنګه تبعه د یوه هېواد غړي ته وایي چې د هماغه هېواد له ټولو امتیازاتو برخمن وي؛ یعنې هغه شخص دی چې د یوه هېواد تابعیت لري.

**قلمرو**: هغه جغرافیایي سیمه ده چې د یوه هېواد اړوند او یا د همدغه هېواد د دولت تر ولکې لاندې وي.

**ملت:** د شخص او دولت تر منځ د حقوقي تړون شتون ته ویل کېږي. د عدالت نړیوالې محکمې ملت په ۱۹۵۵ زېږدیز کال کې د نوتیبوم په قضیه کې داسې تعریف کړ: "... یو حقوقي تړون چې بنیاد یې ټولنیز تړاو، اړوندتوب، ګټې او

عواطف جوړوي او له مقابل لوري د وګړي لپاره حقوق او وجايب هم موجود وي... چې يا په مستقيمه توګه د قانون په چوکاټ کې راغلي وي يا د چارواکو د اقداماتو له امله رامنځته شوي وي، په داسې حال کې چې شخص د هماغه هېواد له وګړو سره چې د ملت مربوط يې دی، د نورو ملتونو په پرتله نږدې تړاو ولري."
د مليت د قوانينو اړوند د ځانګړو پوښتنو په باب د ۱۹۳۰ زېږديز کال د لاهه کنوانسيون لومړۍ ماده داسې صراحت لري: "دا د هر دولت کار دی چې د خپلو قوانينو په رڼا کې معلومه کړي چې څوک يې اتباع دي. دغه قانون به تر هغه ځايه چې له نړيوالو کنوانسيونونو، نړيوال دود او دستور او د ملت اړوند له عمومي قانوني اصولو سره اړخ لګوي، د نورو هېوادونو له خوا پر رسميت وپېژندل شي."
**خپلوان:** هغه کسان دي چې له شخص سره د وينې اړيکه ولري.
**کوچي:** هغه شخص چې ډېر وخت د يوې ډلې غړی وي او د اوبو، خوړو او څرځايونو په لټه کې له يوه ځايه بل ځای ته سفر کوي.
**سازمان شوی جرم:** هغو پراخو جرمي کړنو ته ويل کېږي چې د يوې مرکزي سنديکا له لارې همغږي او کنټرولېږي.
**د پالميرا پروتوکولونه:** له سرحد څخه ها خوا د سازمان شوو جرمونو پر وړاندې د ۲۰۰۰ زېږديز کال کنوانسيون الحاقي پروتوکولونه چې عبارت دي له د ځمکې، اوبو او هوا له لارې د کډوالو قاچاق کولو پر وړاندې د مبارزې په اړه د ملګرو ملتونو سازمان، د انساني قاچاق په تېره بيا د ښځو او ماشومانو د انساني قاچاق د مخنيوي او مجازات او د نا قانونه وسلو، مهماتو او اړوندو توکو د توليد او قاچاق پروتوکولونه.
**ځورونه:** د کډوالۍ په موضوع کې د نژاد، دين، ملت، سياسي باورونو يا د يوې ځانګړې ټولنيزې ډلې د غړيتوب له امله د چا ازادۍ يا ژوند ته ګواښ رامنځته کول، ځورونه بلل کېږي.
**بېوزلۍ ځپلی کډوال:** هغه شخص چې د اقتصادي اړتيا له امله کډوالۍ ته مجبورېږي.
**له يوه هېواده د تېښتې او بل هېواد ته د جذبېدو فکټورونه:** کډوالي تر ډېره د همدغه موډل له مخې څېړل کېږي، هغه لاملونه چې خلک له يوه هېواد څخه وتلو ته هڅوي او هغه لاملونه چې خلک د نوي هېواد پر لور جذبوي، څېړي.
**نژادي تبعيض:** د بل نژاد له غړو سره ناوړه چلند ته ويل کېږي. د ۱۹۶۵ زېږديز کال د نژادي تبعيض د ټولو ډولونو د له منځه وړو د نړيوال کنوانسيون د لومړۍ مادې لومړۍ فقرې له مخې، نژادي تبعيض هر هغه تفکيک، بې برخې کولو، محدودولو يا امتيازونو ته ويل کېږي چې د نژاد، رنګ، نسب، ملي يا قومي جرړو پر بنسټ صورت مومي او موخه يا پايلې يې د نظر وړ ډلې پر رسميت نه پېژندل او په سياسي، اقتصادي، ټولنيزو، فرهنګي يا د ژوندانه په نورو برخو کې له بشري حقونو څخه د هغوی بې برخې کېدل وي.
**نژادپالنه:** يوه مفکوره ده چې يو ځانګړی نژاد يا توکم د فزيکي يا فرهنګي ځانګړتياوو او دغه راز پر نورو باندې د اقتصادي واکمنۍ يا کنټرول له امله د قدرت په موقف کې دروي. نژادپالنه د نژادي تفوق غوښتنې د ايډيالوژي يا عقيدې په توګه تعريف کېدای شي. په دې کې دا عقيده هم نغښتې ده چې نژاد د ذکاوت، فرهنګي ځانګړتياوو او اخلاقي چلند ټاکونکی دی. په نژاد پالنه کې نژادي تعصب او نژادي تبعيض دواړه شامل دي.
**قيمومت (کډوال):** هغه شخص دی چې د UNHCR د منشور پر شرايطو برابر وي او د ملګرو ملتونو د ساتندويو مرستو چې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ له خوا وړاندې کېږي، مستحق وي. د دې له په نظر کې نيولو پرته چې ايا د هغه متبوع هېواد د کډوالو د وضعيت په اړه د ۱۹۵۱ زېږديز کال د کنوانسيون يا د ۱۹۶۷ زېږديز کال د کډوالو د وضعيت کنوانسيون غړيتوب لري او که نه. د دې له په نظر کې نيولو پرته چې ايا هغه د کوربه هېواد له خوا د دغو اسنادو له مخې د کډوال په توګه پېژندل شوی او که نه.
**پر رسميت پېژندل شوی کډوال:** هغه شخص دی چې د يوه ځانګړي نژاد، دين، ملت، يا د يوې ځانګړې ټولنيزې ډلې د غړيتوب يا د يوې سياسي عقيدې درلودو له امله له خپل متبوع هېواد څخه د باندې وي يا د دې وېرې له امله نه غواړي چې ځان د هغه هېواد له ساتندويو مرستو برخمن کړي. د يادونې وړ ده چې د ۱۹۵۱ زېږديز کال د کډوالو د وضعيت کنوانسيون د لومړۍ مادې دويمه فقره د ۱۹۶۷ زېږديز کال پروتوکول په واسطه تعديل شوې ده.

**سیمه ییز مشورتي بنسټ:** يو غير الزامي مشورتي جوړښت دی چې د دولتونو، مدني ټولنې (غير حکومتي موسسـو او نړیوالو سازمانونو) استازي د سیمې په کچه سره راټولوي، څو د همکارۍ پر روحیه د کډوالۍ پر ننګونو بحث وکړي؛ د بېلګې په توګه د بوداپست بهیر، د پابلا بهیر، د مانیلا بهیر، د سوېلي افریقا لپاره د کډوالۍ ډیالوګ (MIDSA).

**مجدد ادغام:** په یوې ډلې یا بهیر کې د یوه شخص بېرته شاملېدل یا مدغمېدل؛ لکه یو کډوال چې بېرته په خپل هېواد یا خپله ټولنه کې مدغمېږي.

**فرهنګي مجدد ادغام:** هغه حالت ته ویل کېږي، کله چې کډوال خپل مورني هېواد ته بېرته ستون شي، نو د هغه هېـواد ارزښتونه، د ژوند سبک، ژبه، اخلاقي اصول، ایډیالوژي، دود او دستور بېرته خپل کړي.

**اقتصادي مجدد ادغام**: د یوه راستنېدونکي شخص د مورني هېواد په اقتصادي سیستم کې د هغه بیا تنظیمولو ته ویـل کېږي. له کډوال سره به مرسته کېږي چې بېرته د معیشت خاوند شي. د پراختیایي اصـطلاحاتو د تعریـف لـه مخې، لـه اقتصادي مجدد ادغام څخه موخه دا هم ده، هغه تخنیکي پوهه او مهارتونه چې کډوال په کوربه هېواد کې زده کـړي، لـه په ګټې اخیستو سره یې کډوال په متبوع هېواد کې د کار خاوند شي او له بل پلوه له دغو مهارتونو د متبوع هېـواد د ودې او پراختیا لپاره هم ګټه واخیستل شي.

**ټولنیز مجدد ادغام:** د یوه کډوال د متبوع هېواد په ټولنیز جوړښت کې د هغه بېرته مسـتقر کېـدو تـه وایـي. دا لـه یـوې خوا د یوې شخصي شبکې جوړولو، لکه د ملګرو، خپلوانو، ګاونډیو او له بلې خوا د ټولنیزو جوړښـتونو رامنځتـه کولـو؛ یعنې د ټولنو، د پر ځان بسیا ډلو او نورو سازمانونو په معنا دی.

**ریمیټانس:** هغو پیسو ته ویل کېږي چې کډوال یې په کوربه هېواد کې ګټي او خپل متبوع هېواد ته یې لېږي.

**مجدد اسکان:** یوې بلې جغرافیا او چاپېریال ته د خلکو (کډوال، کورني بېځایه شوي او نور) لېږلـو او مېشـت کولـو تـه وایي چې په ټوله کې یو دربیمګړی هېواد وي. د کډوالۍ له هېواد پرته په بل هېواد کې په دوامـداره توګـه د کـډوالو ځـای پر ځای کېدل. دغه اصطلاح په ټوله کې د کډوالۍ بهیر پر هغې برخې دلالت کوي چې د استوګن کولو لپاره د کډوالو پـر ټاکلو پیل او د کوربه هېواد په یوه سیمه کې د کډوالو د له ځای پر ځای کولو سره ختمېږي. دایمي کډوال، پـه یـوه ځـای کې د اوږدې مودې لپاره پاتې کېدلو ته وایي؛ هغه ځای چې شخص په کې اوسېږي خو نه د تل لپاره.

لنډمهال استوګنځی هغه ځای دی چې شخص په کې فزیکي حضور لري خو دا نیت نه لري چې له هغه ځای څخه خپل دایمي استوګنځی جوړ کړي؛ ځکه نو یو شخص کولای شي څـو لنـډمهال اسـتوګنځي ولـري خـو دایمـي اسـتوګنځی یـې یواځې یو وي.

**بېرته راستنېدونکي کډوال:** هغه کډوال ته ویل کېږي چې په بل هېواد کې لږ تر لـږه لـه یـو کـال تېرولـو وروسـته بېرتـه خپل متبوع هېواد ته راستون شي. دغه بېرته راستنېدل کېدای شي داوطلبانه وي یا نه وي خـو داوطلبانـه بېرتـه راسـتنېدل هم په کې شامل دي.

**مریيتوب:** د شخص هغه حالت ته ویل کېږي چې کوم څوک ور باندې د مالکیـت ټـول حقونـه کـاروي. مریيتـوب هغـه حالت ته وایي چې یو شخص د بل شخص د ژوند کنټرول په لاس کې ولـري، وربانـدې جبـر کـوي او وربانـدې د تـګ راتګ محدودیت وضع کوي؛ ځکه نو هغه نه شي کولای چې بل چېرې ولاړ شي او خپله دنده خوشې کړي؛ د بېلګـې پـه توګه دودیز مریيتوب، د پور په بدل کې کار، اجباري کار او د عبادت یا دیني مقاصدو لپاره مریيتوب.

**قاچاق وړونکی:** هغه شخص ته ویل کېږي چې د یوه ټرون له مخې، خلک په غیر قـانوني توګـه لـه یـوه نړیـوال سـرحد څخه اړوي.

**د انسان قاچاق وړونکی:** هغه شخص دی چې د درغلۍ، اجبار یا د استثمار د نورو لارو په کارولو سره د اقتصادي یـا نورو ګټو ترلاسه کولو لپاره خلک له یوه ځـای څخـه بـل ځـای تـه بیـایي. دلتـه د قاچـاق وړونکـي موخـه دا وي چـې لـه شخص څخه ګټه ترلاسه کړي.

**د انساني قاچاق قرباني:** هغه شخص چې د انسان د قاچاق د جرم قرباني شوی وي.

**قاچاق:** هغه معامله ده چې په نا قانونه توګه یوه هېواد ته د یوه شخص چې د هغه هېواد تبعه یا دایمي اوسېدونکی نه دی، د بیولو په بدل کې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول مالي یا بله مادي ګټه ترلاسه کېږي. په قاچاق کې د انساني قاچاق خلاف د استثمار، جبر یا د بشري حقونو د نقض شرط نشته.

**تروریزم (ترهګري):** د ۱۹۹۹ زېږدیز کال د ترهګرۍ د تمویل د مخنیوي لپاره نړیوال کنوانسیون له مخې، هر هغه عمل دی چې ملکي وګړو یا هر هغه شخص ته چې په وسله واله جګړه کې ښکېل نه وي، مرګ ژوبله واړوي، کله چې د دغه عمل موخه د ماهیت او شرایطو له نظره، د خلکو په منځ کې وېره پیدا کول یا د یوه دولت یا نړیوال سازمان اړ ایستل وي چې یو ځانګړی کار ترسره کړي یا د یوه کار له ترسره کولو ډډه وکړي.

**دربیم هېواد:** د یوه شخص، له هغه هېواده چې په کې د ګڼهوالۍ شپې ورځې تېروي، له اصلي هېواده پرته یو بل هېواد ته استولو ته وایي.

**د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی**: د ۱۹۹۳ زېږدیز کال د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منعې اعلامیې لومړۍ مادې له مخې، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي هر هغه عمل ته ویل کېږي چې له امله یې ښځو ته فزیکي، جنسي یا رواني زیان رسېږي چې په دې کې د ګواښ، اجبار او له ازادۍ بې موجبه بې برخې کېدو کړنې هم راځي، دا که په عامه او خصوصي ژوند کې وي.

**زیانمنونکې ډلې:** هغه ډلې چې له تبعیض، تاوتریخوالي، طبیعي یا د چاپېریال له اړوندو پېښو او اقتصادي ستونزو سره د هېواد دننه د نورو ډلو په پرتله د مخ کېدو له ستر ګواښ سره مخ وي یا هم هغه ډلې یا د ټولنې یوه ځانګړې برخه لکه ښځې، ماشومان یا سپین ږیري چې د جګړې یا ناورین پر مهال له ډېر خطر سره مخ وي.


**شاهد:** هغه شخص دی چې د مستقیمې تجربې له لارې د یوې پېښې یا حقایقو په اړه معلومات ولري. په حقوقي ډګر کې شاهد هغه شخص ته ویل کېږي چې دغه ډول معلومات ولري او له حقوقي پلوه د دې اهلیت ولري چې خپل معلومات محکمې ته وړاندې کړي. د یوې پېښې یا عمل پر سترګو لیدل، په حقوقي ډګر کې د یوه لیکلي سند، لکه د هوکړه لیک یا تړون د پلې کېدو لیدل.

**د ماشوم د کار تر ټولو ناوړه ډولونه:** مرییتوب یا مرییتوب ته ورته هر ډول کړنې لکه د ماشومانو پلور او انساني قاچاق، د پور په مقابل کې کار او غلامي، په زور یا جبر کار، د وسله والې جګړې لپاره په زور یا جبر د ماشومانو د استخدام، د فحشا، د غیر اخلاقي فلمونو ډکولو یا په دغو فلمونو کې د کار کولو په موخه د ماشومانو کارول، پېرل یا وړاندې کول، د غیر قانوني فعالیتونو لپاره د ماشومانو وړاندې کول او پېرل، په تېره بیا د نشه یي توکو د تولید او قاچاق لپاره څرنګه چې په اړوندو نړیوالو تړونونو کې ذکر شوي یا هر بل داسې کار چې د خپل ماهیت له مخې د هغو شرایطو له امله چې په کې سر ته رسېږي، د ماشومانو روغتیا، خوندیتوب یا اخلاقو ته زیان ورسوي.

**له ښځو سره تاوتریخوالی:** جنسي تېري، فحشا ته مجبورول، د زیانمن شوې د هویت ضبطول او ثبتول او د هغه خپرول، په داسې توګه چې د هغې شخصیت ته زیان ورسوي. دغه راز د زهري او نورو زیان رسوونکو توکو استعمال، د ځان سوځولو، د ځان وژنې، د زهري یا نورو زیان رسوونکو توکو استعمال ته مجبورول، ټپي کول یا معلولول، وهل ټکول، د واده په پلمه پېرل او پلورل، په بدو کې ورکول، اجباري نکاح، د واده او یا د ژوند د شریک غوره کولو له حقونو څخه منعه کول، د قانوني سن له بشپړېدو مخکې نکاح، ښکنځل، تحقیر او تخویف، ځورول (ازار او اذیت)، اجباري یوازې پرېښودل (انزوا)، د نشه یي توکو اعتیاد ته د ښځې مجبورول، په ارث کې له تصرف څخه منعه کول، په شخصي مالونو کې له تصرف څخه منعه کول، ښوونې، تحصیل، کار او روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي له حق څخه منعه کول، اجباري کار، د مدني قانون په ۸۶مه ماده کې د درج شوي حکم له په پام کې نیولو پرته، تر یوې له زیاتو ښځو سره واده کول او د قرابت د نفي کولو اعمالو ارتکاب ته له ښځو سره تاوتریخوالي ته وایي.



اسلام د عدالت او رحمت د اصولو
پر بنسټ د بشر د سوکالۍ او
هوساینې حکم کوي. دغه راز د
غلامۍ بنسټونو د له منځه وړو او د
ظلم او سختۍ نه کولو امر یې هم
کړی، هر ډول ناوړه ګټه اخیستنه یې
حرامه بللې، خلک یې له یو بل سره
ښه او غوره چلند ته بللي او له ناوړه
کارونو یې منعه کړي دي.



له ځواکونو او یا وسله والو ډلو سره یوځای شوی ماشوم عبارت له هر هغه ماشوم څخه دی چې عمر یې له ۱۸ کلونو کم وي او د هر هلک او نجلۍ په ګډون چې د سرتیري، اشپز، جوالي، پیغام رسوونکي، جاسوس او یا د جنسي مقصد په موخه د وسله والو ډلو او امنیتي ځواکونو له لوري ګومارل شوی وي. دا په هغو ماشومانو پورې منحصر او تړلی نه دی چې په مستقیم ډول جګړې ته بیول شوي او یا په جګړه کې ګډون کوي.

# دویم څپرکی
# په قوانینو کې انساني قاچاق

## له انساني قاچاق سره د مبارزې لپاره نړیوال حقوقي اسناد

د انساني قاچاق، په تېره بیا د ښځو او ماشومانو د قاچاق د مخنیوي، مبارزې او سزا ورکولو پروتوکول په ۲۰۰۰ زېږدیز کال کې د ملګرو ملتونو سازمان د عمومي غونډې له خوا تصویب او د ۲۰۰۳ زېږدیز کال د ډسمبر په ۲۵مه نېټه نافذ شو.

د انساني قاچاق پروتوکول چې د سازمان شوو جرایمو پر وړاندې د مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو سازمان د کنوانسیون بشپړوونکی دی، یواځېنی نړیوال حقوقي سند دی چې د انساني قاچاق پېښو ته د جرم په سترګه ګوري او د نشه یي توکو او جرم لپاره د ملګرو ملتونو سازمان په دفتر پورې اړه لري.

د انساني قاچاق د پروتوکول موخې په لاندې ډول دي:

الف: د انساني قاچاق مخنیوی او کنټرول

ب: د انساني قاچاق د قربانیانو ساتنه او پالنه

ج: د دغو موخو د تحقق لپاره د غړو دولتونو تر منځ د همکاریو پراختیا

له انساني قاچاق سره د مبارزې پروتوکول د لومړي ځل لپاره د انسان قاچاق تعریف کړی چې له دې امله د نړیوالو قوانینو د ښه تطبیق لامل ګرځېدلی او غړي هېوادونه مکلفوي چې دغه عمل د جرم په توګه وپېژني.

# د افغانستان په قوانینو کې انساني قاچاق

د افغانستان اساسي قانون پر بنسټ ټول افغانان، نارینه دي که ښځینه، د قانون پر وړاندې یو شان دي. دغه راز اساسي قانون د اتباعو ازادۍ او انساني کرامت پر رسمیت پېژني. اساسي قانون همدارنګه په ډاګه کوي چې افغانستان به د ملګرو ملتونو سازمان منشور، نړیوال کنوانسیونونه او د بشري حقونو نړیواله اعلامیه رعایتوي.
د افغانستان اساسي قانون چې د ۱۳۸۲ لمریز کال د مرغومي په څوارلسمه نېټه تصویب شو، د بشري حقونو د یوه دایمي کمېسیون پر جوړېدو حکم کوي چې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون دی. دغه کمېسیون د جزاء نافذ قانون کتلی او د انساني قاچاق د اړوندو مادو په باب یې خپل وړاندیزونه عدلي او قضایي کمېسیون ته وړاندې کړي دي. د اساسي قانون د ۵۴مې مادې له مخې، هر هغه شخص چې بنسټیز بشري حقونه یې تر پښو لاندې شوي وي، کولای شي د افغانستان بشري حقونو خپلواک کمېسیون ته خپل شکایت وړاندې کړي. په دغو مواردو کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون دوسیه د حقوقي چارواکو په واک کې ورکوي څو د شاکي له حقه دفاع وکړي.
د ۱۳۸۷ لمریز کال د اختطاف او د انسان د قاچاق پر وړاندې د مبارزې (۹۵۲) ګڼه قانون تعدیل او د ملي شورا د دواړو جرګو له خوا تصویب او د ولسمشر له خوا له توشېح وروسته په ۱۳۹۵ کال د سلواغې په ۱۱مه په (۱۲۴۴) ګڼه رسمي جریده کې "د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون" په نوم خپور شوی دی. د افغانستان د جزایي واحد کوډ چې د ۳۳ قوانینو ټولګه ده او له مخې یې ځینې د جزا قانون او نورو قوانینو مادې اصلاح یا تعدیل شوې دي، د ۱۳۹۶ لمریز کال د غویي په ۲۵مه په (۱۲۶۰) ګڼه رسمي جریده کې خپور او د همدغه کال د سلواغې په ۲۵مه نافذ شو. د درېیم او څلورم څپرکو له ۵۱۰ تر ۵۲۸ مادو پورې د انساني قاچاق او کډوالو د قاچاق جزاګانې په تفصیل سره راغلې دي. په دغه جزایي کوډ کې د بچه بازۍ په ګډون ځینې جرمونه چې مخکې په قوانینو کې د جرم په توګه نه وو پېژندل شوي، جرم بلل شوي او سزا ورته ټاکل شوې ده.

**د افغانستان په نورو قوانینو کې د انساني قاچاق اړوند مطالبو یادونه:**

له ۱۳۸۷ لمریز کال مخکې افغانستان د انساني قاچاق په اړه ځانګړی قانون نه درلود او د جزا قانون، انساني قاچاق په صراحت سره د جرم په توګه پر رسمیت نه پېژاند، خو نور قوانین وو چې د انساني قاچاق او اړوند جرمونو ته د رسېدنې لپاره ترې ګټه اخیستل کېده؛ د بېلګې په ډول د ۱۳۵۵ لمریز کال د جزاء قانون مندرجو احکامو له مخې د انسان تښتونه جرم دی. که چېرې قرباني ماشوم نجلۍ یا یوه واده کړې ښځه وي او یا هم که د دغه جرم د ارتکاب په پایله کې مرګ ژوبله رامنځته شي، د مجرم جزا په هماغه اندازه زیاتېږي؛ د بېلګې په ډول د جزا قانون د ۴۲۰مې مادې له مخې، که یو شخص، یو ماشوم چې د اتلس کلنۍ عمر یې نه وي پوره کړي، اختطاف کړي پر اوږده بند چې له ۷ کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي خو که اختطاف شوی ماشوم نجلۍ وي، پر اوږده بند چې له لسو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.
دغه راز په ۴۲۴ ماده کې راغلي که یو شخص یوه ښځه اختطاف کړي پر اوږده بند، محکومېږي خو که اختطاف شوې ښځه مېړوښه وي، د جرم مرتکب د ټاکل شوې سزا په اکثره اندازه، محکومېږي.
دغه راز په هغه صورت کې هم جزا زیاتېږي چې د جرم مرتکب پر قرباني باندې نفوذ یا کنټرول ولري او یا که جرم د لږ تر لږه دوه کسیزې ډلې په واسطه ارتکاب ومومي. همدارنګه دغه د جزاء قانون د برمته کولو د جرم په باب احکام لري او مرتکب یې پر اوږده بند د مجازات کېدو وړ بولي چې البته که چېرې برمته شوی د دغه عمل په پایله کې مړ یا ټپي شي، د جزا شدت ډېرېږي. د یادونې ده، دغه قانون له خطر سره د ماشوم مخ کولو ته هم جرم وایي.

د زنا جزا اووه کاله حبس دی؛ که چېرې قرباني ۱۸ کلنه یا تر هغې ځوانه وي یا که مرتکب د قرباني ولي وي یا پر هغې کوم بل ډول کنټرول ولري، د مجازاتو اندازه ډېرېږي. دغه راز څوک چې زنا یا لواطت وکړي، پر اوږده حبس محکومېږي. اجباري او پر ماشوم د زورکار منعه دی، څوک چې د چل یا درغلۍ له لارې کارګر استثمار کوي، پلوري یا پېري، پر اوږده بند محکومېږي. د جزاء قانون ۵۱۶مه ماده د انساني قاچاق ځینې ډولونه منعه کوي خو نه ټول ډولونه. قانون د جنسي اغراضو لپاره انساني قاچاق یوازې هغه وخت انساني قاچاق بولي چې په کې له زور څخه کار اخیستل شوی وي.

د قانون له مخې، څوک چې د کار لپاره د انساني قاچاق پر جرم محکوم شي، له اتو څخه تر ۱۵ کلونو پورې محبوس کېږي او د هغو کسانو لپاره چې د جنسي اغراضو لپاره د انسان په قاچاق کولو کې ښکېل وي، د دوام تر حبس پورې مجازات په نظر کې ورته نیول شوي دي. د ۱۳۸۸ لمریز کال د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون او د جزاء قانون نورې برخې د انساني قاچاق د ډېرو ډولونو په باب احکام لري. دغه سزاګانې په کافي اندازه شدیدې دي او له هغو سزاګانو سره چې د جنسي تېري په شان د مشدده جرمونو لپاره ټاکل شوې دي، متناسبې دي.

د یادونې ده، که څه هم لکه څرنګه چې پورته یاد شول، د افغانستان په ځینو قوانینو کې د انساني قاچاق په اړه ځینې مادې په متفرق ډول راغلې دي، خو داسې یو قانون چې هغه د انسان د قاچاق تر څنګ د کډوالو قاچاق ته ځانګړی وي، نه و، همدې اړتیا ته په کتو د انسان او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې وروستی قانون د ۱۳۹۵ لمریز کال د لیندۍ میاشتې په لومړۍ نېټه د ملي شورا د دواړو جرګو د ګډ پلاوي د ۲۳۸ مې ګڼې پرېکړې پر بنسټ په شپږو څپرکو او ۲۹ مادو کې تصویب او د ۱۳۹۵ لمریز کال د لیندۍ په ۲۲مه د ولسمشر محمد اشرف غني له لوري لاسلیک او توشیح شو او اوس یې د عمل بڼه غوره کړې ده.

## د انسان له قاچاق او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون پېژندنه

په لومړي ځل افغانستان د ۱۳۵۵ لمریز کال په (۳۴۷مه) ګڼه رسمي جریده کې د خپور شوي جزا قانون په ۳۵۶مه ماده کې ماشومانو ته د زیان رسولو په اړه او له ۴۱۸ تر ۴۲۴مو پورې مادو کې د اختطاف په اړه جزاګانې راغلې وې چې بیا وروسته د ماشومانو د اختطاف او قاچاق د جرمونو پر وړاندې د مبارزې سختولو په اړه د انتقالي اسلامي دولت مشر حامد کرزي د ۱۳۸۳ لمریز کال د چنګاښ په ۱۳مه په اتو مادو کې (۴۷مه) ګڼه تقنیني فرمان صادر کړ.

یادې مادې، تقنیني فرمان او نور مغایر حکمونه د انسان د اختطاف او قاچاق پر وړاندې د مبارزې لومړي قانون له امله چې ۴ څپرکي او ۲۳ مادې یې درلودې او د ۱۳۸۷ لمریز کال په (۹۵۲مه) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی، لغوه وګڼل شول. په دغه قانون کې د انسان د اختطاف برخې پر لرې کولو، د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې برخې پر زیاتولو او یو لړ نورو تعدیلونو او زیاتونو (ایزاد) باندې د دواړو جرګو له پنځو، پنځو غړو جوړ شوې ګډ پلاوي د ۱۳۹۵ لمریز کال د لیندۍ د لومړۍ نېټې په غونډه کې هوکړه وکړه.

د انسان او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې وروستی قانون د ۱۳۹۵ لمریز کال د لیندۍ میاشتې په لومړۍ نېټه د ملي شورا د دواړو جرګو د ګډ پلاوي د ۲۳۸مې ګڼې پرېکړې پر بنسټ په شپږو څپرکو او ۲۹ مادو کې تصویب او د ۱۳۹۵ لمریز کال د لیندۍ په ۲۲مه د ولسمشر محمد اشرف غني له لوري لاسلیک او توشېح شو. دغه قانون د همدغه کال د سلواغې میاشتې په لسمه د ۱۲۴۴مې ګڼې رسمي جریده کې خپور شو چې له امله یې د ۱۳۸۷ لمریز کال د ۹۵۲مې ګڼې په رسمي جریده کې خپور شوی قانون لغوه شو.

د یادونې ده، یاد قانون د افغانستان د اساسي قانون د ۱۰۰مې مادې په دویمه فقره کې د درج شوي حکم او د ۶۴مې مادې د ۱۶مې فقرې د حکم له مخې وضع شوی دی.

**موخې:**

د انسان د قاچاق او کډوالو د قاچاق له جرمونو سره مبارزه کول، د انسان قاچاق د جرم پېښې له قرباني شوي کس یا له هغه چا چې جنایت ورسره شوی وي (مجني علیه) په ځانګړي ډول له ښځو او ماشومانو او له قاچاق شوو کډوالو ملاتړ کول، د انسان قاچاق او کډوالو قاچاق د جرمونو مرتکبینو د مجازات ټاکل او له هغوی سره په مبارزه کې د نړیوالې همغږۍ او همکارۍ رامنځته کول د افغانستان د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون مهمې موخې دي.

## د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې عالي کمېسیون پېژندنه

د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون د دویم څپرکي ۴مه ماده حکم کوي چې د انسان د قاچاق او د کډوالو د قاچاق له جرمونو سره د مبارزې او په دې برخه کې د اړوندو مراجعو تر منځ د همغږۍ تامینولو په منظور، د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې عالي کمېسیون د عدلیې د وزیر تر مشرۍ لاندې په مرکز کې جوړېږي چې ټول ۱۷ غړي ولري. د یاد کمېسیون مرستیالي د کورنیو چارو وزارت د ارشد امنیتي مرستیال، منشي یې د لویې څارنوالۍ د تحقیقاتو مرستیال او سکرتریت یې د عدلیې وزارت پر غاړه وي. دغه راز عالي کمېسیون د خپلو کړنو د اسانولو په منظور له خپلو غړو څخه تخنیکي کمېټه جوړوي.
له نورو دولتي ادارو لس کسان، د سترې محکمې واکمن استازی، د بهرنیو چارو وزارت مرستیال، د کار او ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت مرستیال، د ارشاد، حج او اوقافو وزارت مرستیال، د پوهنې وزارت مرستیال، د ښځو چارو وزارت مرستیاله، د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت مرستیال، د عامې روغتیا وزارت مرستیال، د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستیال او د ملي امنیت د لوی ریاست مرستیال د یاد کمېسیون غړي دي.
څلور نور غړي یې د افغانستان بشري حقونو خپلواک کمېسیون غړی، د حقوقپوهانو ټولنې مشر، د افغانستان د مدافع وکیلانو د خپلواک انجمن مشر او د عالي کمېسیون له خوا د مدني ټولنو د بنسټونو له یوه غوره شوي مشر څخه عبارت دي.

**عالي کمېسیون لاندې لس مهمې دندې او واکونه لري:**

۱- د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې په موخه د برنامو طرحه او له مجني علیه، په ځانګړې توګه له ښځو او ماشومانو او له قاچاق شوو کډوالو څخه ملاتړ او له هغو څارنه؛

۲- د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې په کار کې د اړوند ادارو او مراجعو تر منځ د همغږۍ رامنځته کول؛

۳- د هېواد په کچه د انسان د قاچاق او د کډوالو د قاچاق د اړوندو قضایاوو په اړه د معلوماتو او اطلاعاتو راټولول او د هغو خپرول؛

۴- د هېواد په کچه د انسان د قاچاق او د کډوالو د قاچاق د لاملونو ارزول او د هغو د موندنو او پایلو خپرول؛

۵- د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق څخه د مخنیوي لپاره د خلکو د پوهاوي کچې لوړولو په موخه د برنامو طرحه او تطبیقول؛

۶- د دغه قانون د حکمونو د تعدیل په اړه د وړاندیز وړاندې کول او د مقررې له پړاوونو تېرول؛

۷- د دغه قانون د حکمونو د تطبیق په موخه د کړنلارو وضعه کول.

۸- د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې عـالي کمېسـیون او د ولایتـي کمېسـیونونو د فعـالیتونو ارزونه او په دې برخه کې د لازمو تصمیمونو نیول؛

۹- د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې عالي کمېسـیون او د ولایتـي کمېسـیونونو د فعالیـت د کلني راپور ترتیب او حکومت ته یې وړاندې کول.

۱۰- د نورو هغو دندو ترسره کول چې د حکومت له خوا کمېسیون ته محول کېږي؛

د عالي کمېسیون عادي غونډې په هرو درېیو میاشتو کې یو ځل جوړېږي، دغه راز فوق العاده غونډې یې د غـړو د یوه ثلث پر وړاندیز او د عالي کمېسیون د مشر د تصمیم له مخې جوړېدای شي. د عالي کمېسیون غړي مکلـف دي، د اړوندې ادارې د فعالیتونو ربعوار راپور د عالي کمېسیون سکرتریت ته وړاندې کړي.

## ولایتي کمېسیونونه:

د یادونې ده، د هېواد په کچه د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره اغېزناکې مبارزې په موخه د انسـان لـه قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې ولایتي کمېسیون، د والي تر مشرۍ لاندې په هر ولایت کې جـوړېږي چې دغه کمېسیون هم ۱۷ غړي لري او په اړوند ولایت کې د بهرنیو چارو وزارت استازي د شتون په صورت کې یې شمېر ۱۸ کسانو ته رسېږي.
د ولایتي کمېسیون مرستیالي به د امنیه قوماندان، منشي توب یـې د عـدلیې د ریـیس او سـکرتریت یـې د عـدلیې ریاست پر غاړه وي. له نورو ولایتي ریاستونو لس کسان، د استیناف محکمې رییس، د کورني او بهرني امنیت پـر خلاف له جرمونو سره د مبارزې څارنوالۍ رییس، د کار او ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینـو ریـیس، د ارشـاد، حج او اوقافو رییس، د پوهنې رییس، د ښځو چارو رییسه، د کډوالو او راستنېدونکو چارو رییس، د اطلاعـاتو او کلتور رییس، د عامې روغتیا رییس او د ملي امنیت رییس د یاد کمېسیون غړي دي. د ولایتي کمېسیون څلور نور غړي د افغانستان بشري حقونو خپلواک کمېسیون له سیمه ییز یا ولایتي رییس، د حقوقپوهانو ټولنې له اسـتازي، د افغانستان د مدافع وکیلانو د خپلواک انجمن له استازي او د ولایتي کمېسیون له خوا د مدني ټولنو بنسـټونو لـه یو غوره شوي استازي څخه عبارت دي. ولایتي کمېسیون هم په هرو درېیـو میاشـتو کـې یـو ځـل عـادي غونـډې جوړوي او کولای شي فوق العاده غونډې د غړو د یوه ثلث په وړاندیز او د والي د تصمیم له مخې جوړې کړي. د ولایتي کمېسیون غړي مکلف دي د اړوندې ادارې د کړنو ربعوار راپور د ولایتي کمېسیون سـکرتریت تـه وړانـدې کړي چې سکرتریت بیا د خپلو کړنو کاري راپور عالي کمېسیون ته وړاندې کوي.

## د کمېسیون فعالیتونه:

د انسان قاچاق او د کډوالو قاچاق پر وړاندې د مبارزې عالي کمېسیون په ۱۳۹۰ لمریز کال کې رامنځته شو چې بیا له هغه وروسته د کمېسیون په فعالیتونو کې د اسانتیا راوستلو په موخه یې تخنیکي کمېټه او ولایتي کمېسیونونه هم رامنځته شول.
د دغه کمېسیون د چارواکو د اطلاعاتو پر بنسټ، د انسان قاچاق له پروتوکول سره یو ځای کېدل او هغه ته په کتو کار کول، په وچه، سیند او فضا کې د کډوالو د قاچاق له پروتوکول سره تړل، د ۱۳۹٤-۱۳۹٦ کلونو د عمل ملي پلان جـوړول، د لومړیتوبونـو د عملي کولـو پـلان او د عامـه پوهـاوي لیـاره د کمپـاین پـلان د دغـه کمېسـیون لـه

فعالیتونو بلل کېږي. سربېره پر دې د هغو بنسټونو تر منځ د همغږۍ رامنځته کول چې د انسان قاچاق د مخنیوي په برخو کې فعالیت لري، له هغو موسسو سره د هوکړه لیکونو لاسلیک چې د انسان قاچاق د مخنیوي په برخه کې فعالیت کوي، په ټولو ولایتونو کې د ولایتي کمېسیونونو رامنځته کول او د چارو ادارې ته د کلني راپور لېږل د دغه کمېسیون له نورو فعالیتونو بلل کېږي.

د انسان قاچاق او کډوالو قاچاق پر وړاندې د مبارزې عالي کمېسیون د سکرتریت د معلوماتو له مخې، له ۱۳۹٤ لمریز کال راهیسې د انسان قاچاق د قضیو په تړاو ۱۲٦۸ کسان نیول شوي او عدلي ارګانونو ته ور پېژندل شوي دي. د کورنیو چارو وزارت او د ملي امنیت عمومي ریاست له لوري په ۱۳۹۵ لمریز کال کې د انسان د قاچاق ۵٦۸، د تښتونې ۲۷۸ او د برمته کولو ۱۹٦٦ قضیې څېړل شوې او د انسانانو د قاچاق ۳۷٦ شبکې پېژندل شوې دي. د انسان د تښتونې او قاچاق ٤۰۸ قضیې لویې څارنوالۍ ته سپارل شوې او د انسان د قاچاق په تړاو د ښځو او نارینه وو په ګډون ۲٤۵ کسان محاکمه شوي دي.

د عدلیې وزارت د معلوماتو له مخې، په ۱۳۹۶ لمریز کال کې ۷۷ کسان په افغانستان کې د انساني قاچاق په تور نیول شوي او محاکمه شوي دي چې له دې ډلې ۱۸ کسان پر منځنې بند، اووه کسان پر اوږده بند، یو کس پر لنډ بند او څلور کسان پر عمري بند او دوه کسان پر اعدام محکوم شوي دي. له دې ډلې ۱۱ کسان خوشي شوي او د ۳۴ نورو قضیې تر ارزونې لاندې دي. د ۱۳۹۶ لمریز کال په جریان کې د هېواد امنیتي بنسټونو د هغو ۲۱۰ هلکانو او ځوانانو د قاچاق مخه نیولې ده چې د قاچاقبرانو له لوري له هېواده بهر ته وړل کېدل او د انساني قاچاق له ۱۴زرو څخه ډېرو قربانیانو ته یې روغتیایي خدمتونه وړاندې کړي دي. د انسان او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون تعدیل، په دغه قانون کې انساني قاچاق د یو جرم په ډول پېژندل او له انساني قاچاق سره د مبارزې په برخه کې د درې کلن پروګرام (۱۱۳۹۷ ـ ۱۳۹۹) تصویب، له انساني قاچاق سره د مبارزې عالي کمېسیون له لوري هغه نورګامونه دي چې له انساني قاچاق سره د مبارزې ښه والي لپاره پورته شوي دي.

## د انساني قاچاق او کډوالو د قاچاق د جرمونو سزاوې

### د انساني قاچاق سزاوې:

د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون په لسمه ماده کې راغلي چې د انسان د قاچاق د جرم مرتکب له احوالو سره سم پر اوږده بند چې له اتو کلونو زيات نه وي، محکومېږي؛ خو که چېرې مجني عليه ماشوم يا ښځه وي يا په رقص او ګډولو کې تري ګټه اخيستل شوې وي، مرتکب پر پوره اته کاله بند محکومېږي. د جزا کوډ ۵۱۱مه ماده بيا دغه سزا لوړه کړې او وايي، هغه شخص چې د انسان د قاچاق د جرم مرتکب شي، تر لسو کلونو پورې پر اوږده بند محکومېږي؛ خو که چېرې مجني عليه ښځه يا ماشوم وي يا د ګډولو (رقصول) په عمل کې تر ګټې اخيستنې لاندې نيول شوي وي، مرتکب تر لس کاله پر اوږد بند محکومېږي.

د دغه قانون د ۱۱مې مادې له مخې، د انسان د قاچاق جرم سختو حالاتو ته هم داخلېږي؛ لکه د انسان د قاچاق د جرم مرتکب، په هغه صورت کې چې د انسان د قاچاق د جرم مرتکب د مجني عليه مېړه، ښځه، مور او پلار يا قانوني سرپرست يا د عامه خدمتونو موظف وي، پر اوږده بند چې تر لسو کلونو لږ نه وي، محکومېږي.

دغه سزا په هغه صورت کې نوره هم سختېږي چې د انسان قاچاقبر له مجني عليه سره د زنا يا لواطت د فعل مرتکب شوی وي، د حد د جزا د تطبيق د شرايطو د نه شتون په صورت کې تر دوولس کلونو پر ډېر بند محکومېږي.

د جزا کوډ ۵۱۲مه ماده ياد مرتکب د جزا کوډ د دويمې مادې په دويمه فقره کې د درج شوي حکم په رعايت سره تعزيراً د جزا په کوډ کې د درج جرمونو د تعدد د اړوندو حکمونو په پام کې نيولو سره د اوږده يا ۲ درجه دوام حبس پر اکثر حد محکومېږي.

د جزا کوډ د دويمې مادې په دويمه فقره کې په درج حکم کې راغلي چې د حدودو، قصاص او ديت د جرمونو مرتکب د اسلام د شريعت د حنفي فقهې له حکمونو سره سم مجازات کېږي؛ په هغه صورت کې چې مجني عليه تر جنسي ناوړې ګټې اخيستنې لاندې نيول شوی يا د غير اخلاقي تصويرونو او فلمونو (پورنوګرافي) په برابرولو کې له هغه ګټه اخيستل شوې وي، د اوږده بند پر اکثر حد محکومېږي.

د ۱۳۹۶ لمريز کال د جزا کوډ د ۱۴۷مې مادې له مخې، اوږد بند (طويل حبس) له پنځو ډېر تر شپاړس کلونو، منځنی (متوسط) بند له يو کال زيات تر پنځو کلونو، لنډ بند (قصير حبس) له درېيو مياشتو تر يوه کال پورې وي.

دغه راز ۲ درجه دوام حبس له شپاړس تر شلو کلونو او ۱ درجه دوام حبس له شلو څخه ډېر تر دېرشو کلونو پورې وي.

په هغه صورت کې چې مجني عليه پر وسله والې جګړې ګومارل شوی يا د هغه د بدن غړي يا نسجونه پرې او اخيستل شوي وي يا تر طبي ازموينې لاندې نيول شوی وي، پر دوام بند او د مجني عليه د مړينې په صورت کې پر اعدام محکومېږي.

د جزا په کوډ کې دغې جزا بدلون موندلی او په کې راغلي، په هغه صورت کې چې مجني عليه وسله والې جګړې ته ګومارل شوی وي يا يې د بدن غړي يا نسجونه پرې او اخيستل شوي وي چې د مجني عليه پر فزيکي يا رواني دايمي معلوليت تمام شي يا تر اجباري طبي ازماينښت لاندې راغلی وي، پر ۲ درجه دوام بند او د مجني عليه د مړينې په صورت کې پر ۱ درجه دوام بند محکومېږي.

د ياد قانون د ۱۲مې مادې د بدن غړي او انساجو د پرې کولو او اخيستلو يا د طبي ازموينو د فاعل د مجازاتو برخه کې راغلي، هغه شخص چې د مجني عليه د بدن غړی يا انساج يې پرې کړي يا اخيستي وي او ياد کار د

هغه پر مړینه تمام شوی نه وي، د اوږده بند چې له دوولس کلونو کم نه وي، پر مجازاتو محکومېږي، خو که چېرې دا یادې کړنې د مجني علیه پر مړینه تمامې شي، مرتکب پر اعدام محکومېږي. دغې سزا هم د جزا کوډ د ۵۱۳مې مادې له مخې بدلون موندلی او په کې راغلي، هغه شخص چې د مجني علیه د بدن غړي یا نسجونه پرې کړي یا واخلي یا هغه تر اجباري طبي ازمايښت لاندې ونیسي او یاد عمل د مجني علیه پر دایمي یا رواني معلولیت یا د هغه پر مړینه تمام شوی نه وي، مرتکب له لسو کلونو پر زیات اوږده بند محکومېږي، خو که چېرې د مجني علیه پر دایمي فزیکي یا رواني معلولیت تمام شوی وي، مرتکب پر ۲ درجه دوام بند محکومېږي.
د جزا کوډ د قاچاق په جرم کې د عامه خدمتونو موظفینو د اهمال یا غفلت لپاره هم جزا ټاکلې؛ د جزا کوډ ۵۱۶مه ماده کې راغلي چې که چېرې د عامه خدمتونو د موظف اهمال یا اغفال د انسان د قاچاق د جرمونو د ارتکاب د اسانولو موجب شوی وي، د عامه خدمتونو موظف تر دریو کلونو پورې پر منځني حبس محکومېږي.
د جزا کوډ دغه راز حکمي اشخاصو ته هم جزا په پام کې نیولې ده؛ د دغه کوډ په ۵۱۵مه کې راغلي چې که چېرې د انسان د قاچاق جرم د حکمي شخص په واسطه ترسره شي، د هغه د مرتکب پر مجازاتو سربېره، حکمي شخص له دریو تر پنځو میلیونو افغانیو پورې پر نغدي سزا محکومېږي. د یادونې ده، قانون د نغدي جزا د پولي ارزښت نوساناتو د ساتلو لپاره حکم کړی چې که چېرې د افغانیو په ارزښت کې لوی توپیر راځي، نو عالي کمېسیون حکومت ته د نغدي جزا کمولو یا زیاتولو وړاندیز کولای شي او حکومت هغه تعدیل او تصویبولای شي. حکمي شخص د یاد جرم د تکرار په صورت کې پر پېشبیني شوو مجازاتو سربېره د فعالیت د جواز پر سلب هم محکومېږي.
د جزا کوډ د جرم مرتکب، مرستیال او شریک ته عین جزا په پام کې نیولې ده. د جزا کوډ د ۵۱۷مې مادې له مخې د انسان د قاچاق د جرم مرستیال او شریک، له احوالو سره سم، د جرم د فاعل په عین مجازاتو، محکومېږي. دغه راز د جزا کوډ په ۵۲۰مه ماده کې راغلي چې د انسان د قاچاق پر جرم پیلوونکی د انسان د قاچاق د جرم پر عین مجازاتو محکومېږي.

### د اختطاف سزاوې:

د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون د ۱۳مې مادې له مخې، که چېرې مجني علیه د اختطاف له لارې تر ولکې لاندې راغلی وي، مرتکب د انسان د قاچاق د جرم پر سزا سربېره، له احوالو سره سم د جزا په کوډ کې درج د اختطاف د جرم پر مجازاتو هم محکوم او محکوم بها مجازات یو له بل وروسته پر هغه باندې تطبیقېږي، خو د جزا کوډ په ۵۱۴مه ماده کې راغلي، که چېرې د انسان د قاچاق د مجني علیه د اختطاف له لارې تر ولکې لاندې راغلی وي، مرتکب د اختطاف یا د انسان د قاچاق د جرم پر سزا، هغه چې ډېره سخته (شدیده) وي محکومېږي.
د جزا کوډ د اتم څپرکي له ۵۹۱ تر ۵۹۸ مې پورې مادو کې د اختطاف جزاګانې راغلې چې په لاندې ډول دي:
**د ګټې اخیستنې په موخه اختطاف:** هغه کس چې بل کس پر ګواښ یا د قوې د استعمال یا د ډارولو په نورو ډولونو، د مسموونکو موادو، له جاریحه یا ناریه وسلو په استفادې یا په حیله یا فریب اختطاف کړي او د هغه د خوښې کولو په بدل کې مال یا منفعت وغواړي یا واخلي، پر اوږده بند چې له دوولسو کلونو لږ نه وي، محکومېږي.
**په نا استوګن ځای کې د ماشوم پرېښودل:** که چېرې شخص هغه ماشوم چې عمر یې تر ۷ کلونو کم وي، په نا استوګن ځای کې پرېږدي، په هغه صورت کې چې ماشوم ته صدمه نه وي رسېدلې، پر منځني بند محکومېږي؛ خو د دغه جرم په پایله کې که ماشوم ته صدمه رسېدلې وي، مرتکب پر منځني بند سربېره د ارتکابي جرم پر سزا هم محکومېږي.
**د نوي زېږېدلي ماشوم بدلول یا پټول:** هغه شخص چې نوی زېږېدلی ماشوم د هغه له قانوني سرپرست څخه لرې کړي یا هغه پټ کړي یا یې له بل ماشوم سره بدل کړي یا هغه کذباً د هغه له مور پرته بل چا ته د هغه نسبت ورکړي، د منځني بند پر اکثر حد چې پنځه کاله دی، محکومېږي.

د اختطاف د جرم سزا په لاندې حالاتو کې پر مشدده حالاتو بدلیږي او مرتکب د اوږده بند پر اکثر حد چې ۱۶ کاله دی، محکومیږي:
الف: په هغه صورت کې چې مجني علیه ماشوم یا ښځه وي یا جرم د مجني علیه د مستخدم یا د هغه شخص په واسطه چې مجني علیه د هغه تر سرپرستۍ، ساتنې یا روزنې لاندې وي یا د مجني علیه له جسمي یا رواني ناتوانۍ څخه په استفادې ترسره شي.
ب: په هغه صورت کې چې له مجني علیه په وسله واله جګړه، په زورکار، طبي معایناتو ته د ور پېژندلو له لارې د غړو پرېکولو یا نورو نا قانونه کړنو کې ګټه اخیستل شوې وي.
ج: په هغه صورت کې چې له مجني علیه د جنسي فعالیتونو او غیر اخلاقي (پورنوګرافي) تصویرونو او فلمونو چمتو کولو کې ناوړه ګټه اخیستل شوې وي.
**د اختطاف د جرم پر قرباني جنسي تېری:** که چېرې د اختطاف د جرم په پایله کې پر مجني علیه جنسي تېری شوی وي، مرتکب د جزا په کوډ کې د درج جرایمو د تعدد د حکومونو په پام کې نیولو سره پر سزا محکومیږي.
**اختطاف شوي شخص ته ګواښ:** که چېرې د اختطاف په جرم کې پر قتل یا د غړي په پرېکولو ګواښ شوی وي، اختطاف کوونکی شخص د جزا کوډ په اتم څپرکي کې د درج مجازاتو پر اکثر حد محکومیږي.
**د نظامي ځواکونو د منسوب په واسطه د جرم ارتکاب:** که چېرې د اختطاف جرم له دولتي واسطې، وسلې، له دندې یا موقف څخه په استفادې یا له نفوذه په ګټه اخیستنې د نظامي ځواکونو د منسوب یا د عامه خدمتونو موظف په واسطه ترسره شي، مرتکب په ۲ درجه دوام حبس چې له شپاړسو تر شلو کلونو پورې دی، محکومیږي.
**د اختطاف په پایله کې د مجني علیه د غړي پرېکول یا مړینه:** هغه کس چې بل کس اختطاف کړي او د هغه په پایله کې د مجني علیه د بدن له غړو یو غړی تلف یا معیوب شي، د اوږده بند د سزا پر اکثر حد چې ۱۶ کاله دی او که پر مړینه تمام شي، د عمد قتل پر مجازاتو محکومیږي. د جزا کوډ د ۵۴۷مې مادې له مخې، د عمد قتل د مرتکب سزا اعدام او یا (۱) درجه دوام حبس دی.
## د کډوالو د قاچاق د جرم سزاوې:
د پیسو یا ګټې ترلاسه کولو په موخه د مسافرت له سندونو پرته یا د مسافرت په تزویر شوو سندونو سره هېواد ته د بهرني دولت د تبعه یا له تابعیت پرته د شخص لپاره د ناقانونه واردېدو د زمینې برابرول یا له افغانستانه بل هېواد ته د هېواد د تبعه یا له تابعیت پرته شخص یا د بهرني دولت تبعه ته د وتلو لپاره د زمینې برابرول د کډوالو د قاچاق جرم پېژندل شوی دی.
د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون د ۱۴مې مادې او د جزا کوډ د ۵۲۲مې مادې له مخې، هغه شخص چې د کډوالو د قاچاق د جرم مرتکب شي، له احوالو سره سم له درېیو کلونو پر زیات منځني بند محکومیږي؛ خو هغه شخص چې د کډوالو د قاچاق جرم پلان کړي یا نور د هغه پلانولو ته وهڅوي، د منځني بند پر اکثر حد محکومیږي. دغه راز که چېرې د کډوالو د قاچاق جرم د جنایتکارې سازمان شوې ډلې په واسطه ترسره شي، د جنایتکارې سازمان شوې ډلې مشر د منځني بند د مجازاتو پر اکثر حد محکومیږي.
د کډوالو قاچاق مشدده حالتونه هم لري؛ د انسان له قاچاق او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون د ۱۵مې مادې او د جزا کوډ د ۵۲۳مې مادې له مخې، که چېرې د کډوالو د قاچاق د جرم ارتکاب د قاچاق شوي کډوال پر دایمي، فزیکي یا رواني معلولیت تمام شي، مرتکب له احوالو سره سم پر اوږده بند چې له لسو کلونو زیات نه وي، محکومیږي؛ خو که چېرې د قاچاق د جرم ارتکاب د کډوالو د قاچاقبر د عمل یا اهمال په پایله کې د قاچاق شوي کډوال پر مړینه تمام شي، مرتکب پر ۲ درجه دوام حبس محکومیږي.
د جزا کوډ د ۵۲۳مې مادې د درېیمې او څلورمې فقرو له مخې، که چېرې د کډوالو د قاچاق د جرم له امله د قاچاق شوي کډوال ژوند له خطر سره مخ شي او یا د کډوالو د قاچاق جرم د قاچاق شوي کډوال د نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند موجب شي، مرتکب د منځني بند پر اکثر حد محکومیږي.

یاد قانون د کډوالو د قاچاق په جرم کې د عامه خدمتونو موظفینو د اهمال لپاره هم سزا ټاکلې ده؛ د دغه قانون په ۱۶مه ماده کې راغلي چې که چېرې د عامه خدمتونو د موظف اهمال د کډوالو د قاچاق د جرمونو د ارتکاب اسانولو لامل شوی وي، د عامه خدمتونو موظف پر منځني بند چې له یو کال څخه لږ او له دریو کلونو زیات نه وي، محکومېږي؛ خو د جزا کوډ ۵۲۶مې مادې د عامه خدمتونو یاد موظف تر دوو کلونو پورې پر منځني بند محکوم کړی دی.

قانون د استوګنې په ځایونو (اماکنو) کې د مقرراتو نه رعایت کوونکو ته هم سزا ټاکلې ده؛ د دغه قانون د ۱۷مې مادې له مخې، هغه شخص چې د وظیفوي مکلفیت پر بنسټ په هوټل، مېلمستون، مسافرخونې یا هغو خونو کې چې د اشخاصو د اوسېدو په موخه چمتو شوې وي، په اړوند ځایونو کې د استوګنو پېرودونکو د هویت په ثبت کې وضع شوي مقررات په پام کې ونه نیسي او له دې امله د انسان د قاچاق او د کډوالو د قاچاق د جرم د ارتکاب د اسانولو لامل شي، له احوالو سره سم تر دریو کلونو پورې پر منځني بند محکومېږي.

قانون دغه راز حکمي اشخاصو ته هم سزا په پام کې نیولې ده؛ د دغه قانون په ۱۸مه کې راغلي چې که چېرې د کډوالو د قاچاق جرم د حکمي شخص په واسطه ترسره شي، د هغه د مرتکبېدو پر مجازاتو سربېره، حکمي شخص تر درې میلیونه افغانیو پورې پر نغدي سزا محکومېږي؛ خو د جزا کوډ ۵۲۵مې مادې یاده نغدي جریمه له درې تر پنځه میلیونه افغانیو پورې ټاکلې ده او حکمي شخص د یاد جرم د تکرار په صورت کې پر پېشبیني شوو مجازاتو سربېره د فعالیت د جواز پر سلب هم محکومېږي.

قانون د جرم مرتکب، مرستیال او شریک ته عین سزا په پام کې نیولې ده؛ د یاد قانون د ۱۹مې مادې او د جزا کوډ ۵۲۸مې مادې له مخې، د کډوالو د قاچاق د جرم مرستیال او شریک له احوالو سره سم، د جرم د فاعل پر عین مجازاتو محکومېږي.

قانون د مجني علیه ملاتړ کړی او هغه ته یې له عدلي تعقیب څخه معافیت په پام کې نیولی دی؛ د دغه قانون په ۲۰مه او د جزا کوډ ۵۱۹مه مادو کې راغلي چې مجني علیه هېواد ته په ناقانونه دننه کېدو یا د وتلو، په هېواد کې د غیر قانوني مېشتېدو، د مسافرت د تزویر شوو سندونو یا د تابعیت تذکرې د لرلو یا ګټې اخیستلو په حالتونو کې تر عدلي تعقیب لاندې نه نیول کېږي. د یادونې ده، مجني علیه په هغه صورت کې چې د جرمي عمل ارتکاب پر هغه تحمیل شوی وي، ناوړه جنسي ګټه (زنا او لواطت) ترې اخیستل شوې وي یا د غیر اخلاقي تصویرونو او فلمونو (پورنوګرافی) په چمتو کولو کې ترې استفاده شوې وي، هم تر عدلي تعقیب لاندې نه نیول کېږي.

دغه راز قانون د قاچاق شوي کډوال معافیت هم په پام کې نیولی او هغه یې له عدلي تعقیب څخه ژغورلی دی؛ د قانون د ۲۱مې مادې له مخې، هېواد ته له قانوني مجوز پرته د واردېدو یا مېشتېدو په علت قاچاق شوی کډوال تر عدلي تعقیب لاندې نه نیول کېږي.

قانون د خبر ورکوونکي ساتنه هم په پام کې نیولې؛ د یاد قانون په ۲۲مه ماده کې راغلي، هغه شخص چې مدارک، سندونه یا هغه اطلاعات چې د انسان د قاچاقبر یا د کډوالو د قاچاقبر پر نیولو یا محکومیت تمام شي، د مسوولو مراجعو په واک کې ورکړي، د قانون د حکمونو مطابق تر ملاتړ لاندې نیول کېږي.

دغه راز هغه شخص چې په یو نه یو ډول د انسان له قاچاقبر یا د کډوالو له قاچاقبر سره اړیکه او همکاري ولري، خو د هغه له ارتکاب څخه مخکې له مسوولې ادارې سره د مرتکبینو په افشا کولو یا نیولو کې مرسته وکړي، له جزایي مسوولیت څخه معاف کېږي؛ خو که دغه مرسته د جرمونو له ارتکاب وروسته شوې وي او په داسې توګه یې زمینه مساعده کړې وي چې د سازمان شوې ډلې د نورو غړو په نیولو تمامه شي، محکمه د تخفیف له مخې د هغه په اړه د پېشبیني شوو مجازاتو پر نیمایي حکم کوي، خو د جزا کوډ ۵۱۹مې مادې د مجازاتو د نیمایي پر ځای د مجازاتو د تخفیف یادونه کړې ده.

## د مجني عليه او د قاچاق شوي کډوال حقوق

د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون نه يوازې مجني عليه ته له عدلي تعقيب څخه معافيت ورکړی، بلکې د هغه لپاره يې نور حقوق هم په پام کې نيولي او د هغه ملاتړ يې کړی دی؛ د ياد قانون په ۲۳مه کې يې مجني عليه ته لاندې حقوق ورکړي دي:

۱- د جزايي اجرااتو د قانون په ۶مه او ۱۸۹مه مادو کې درج حقوق، د جزايي اجرااتو د قانون د ۶مې مادې له مخې، مجني عليه د عدلي تعقيب په پړاوونو کې لاندې حقوق لري:

الف: منصفانه چلند، انساني کرامت ته درناوی او د شخصي حرمت ساتنه؛

ب: د خونديتوب ډاډ؛

ج: د عدلي تعقيب په بهير کې حضور او د قتل او ټپي کولو پر جرمونو تورن ته د ځانګړو پوښتنو توجيه؛

د: د قانون له حکمونو سره سم د اصل مال يا يې د بيې غوښتنه، لاسته راوړل او د زيان جبران؛

هـ: د عدلي تعقيب په بېلابېلو پړاوونو کې د قضيې د اجرااتو او د تعقيب د پايلو په اړه اطلاعاتو او معلوماتو ته لاسرسی؛

و: د قانون له حکمونو سره سم د قضايي ضبط د مامور، د نظر خاوندان، څارنوال او قاضي پر اجرااتو اعتراض؛

ز: حقوقي، مادي، طبي، رواني او اړينو ټولنيزو مرستو ته لاسرسی؛

پوليس، څارنوالي او محکمه هر يو په خپله ساحه کې له پورته حقونو د ګټې اخيستنې لپاره د مجني عليه د لاسرسي په موخه لازم تدبيرونه نيسي او عملي کوي يې.

د جزايي اجرااتو قانون په ۱۸۹مه ماده کې مجني عليه ته څلور لاندې حقوق په پام کې نيول شوي:

الف: هغه شخص چې له جرم څخه زيانمن شوی، کولای شي حق العبدي او د زيان د جبران دعوا له جزايي دعوا سره يو ځای د هغې لومړنۍ محکمې پر وړاندې چې د جزايي قضيې څېړنه کوي، اقامه کړي.

ب: د قتل او جرحې په جرمونو کې چې موجب يې قصاص يا ديت وي، د حق العبد مدعي ته د لومړيتوب حق ورکول کېږي. محکمه د څارنوال د دعوا له څېړنې مخکې د حق العبد مدعي ته وخت (فرصت) ورکوي، څو خپله حق العبدي دعوا اقامه کړي يا د مصالحې او يا له يادې دعوا د انصراف پر بنسټ حق العبدي دعوا پای ته ورسوي.

ج: د حق العبدي جزايي دعوا په اړوندو جزايي محکمو او د زيان جبران دعوا د څارنوال له دعوا سره يو ځای په عين جزايي محکمه کې دايرېږي.

د: د حق العبد مدعي نه شي کولی د لومړنۍ محکمې له خوا د جزايي حکم له صادرېدو وروسته د زيان د جبران دعوا په استينافي پړاوونو کې اقامه کړي، په دغه صورت کې د حق العبد مدعي کولای شي په دې برخه کې د قطعي حکم له صادرېدو وروسته د زيان د جبران دعوا په مدني محکمه کې د اړوندو قواعدو مطابق اقامه کړي.

۲- د مجنی عليه هويت محرم ساتل کېږي، خو دا چې پر افشاء کولو يې راضي وي.

۳- مجني عليه د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون د حکمونو مطابق له عدلي تعقيب څخه معافيت لري. د جرم د کشف واکمنې مراجع، څارنوالۍ او محکمه له عدلي تعقيب څخه د معافيت په اړه د مجني عليه حقوق په پام کې نيسي.

۴- که چېرې د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون د مندرجو جرايمو د ارتکاب په صورت کې مجني عليه ته زيان ورسېږي، پر مجازاتو سربېره د خسارې پر جبران هم محکومېږي.

که چېرې مجني عليه په بهرني هېواد کې د افغانستان تبعه وي، د هېواد سياسي يا قونسلي نمايندګۍ د جرم د مرتکب د عدلي تعقيب په پړاوونو کې د حضور لپاره حقوقي مرستې ته د لاسرسي او د زيان د جبران د غوښتنې


په غرض له مجني علیه ملاتړ کوي او د مجني علیه د غوښتنې په صورت کې هېواد ته د راستنېدو لپاره د مسافرت سندونه ترتیبوي او ورته لازمې اسانتیاوي برابروي.
که چېرې مجني علیه د بهرني دولت تبعه یا په هېواد کې دننه له تابعیت پرته شخص وي، واکمنې مراجع متبوع هېواد یا هغه هېواد ته خبر ورکوي چې مجني علیه عادتاً په هغه کې استوګنه لري، خو د هغه رضایت اړین دی.
دغه راز مجني علیه ته د قانون له حکمونو سره سم په دویم هېواد کې د مېشتېدو اجازه ورکول کېږي او ورته مناسبه استوګنه، د طبي او حقوقي او نورو لازمو مرسته زمینه برابرېږي.
د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون د ۲۴ مې مادې له مخې، قاچاق شوی کډوال د قانون له حکمونو سره سم په هېواد کې د مېشتېدو اجازه لري. دغه راز له نیونې، توقیف، غیر انساني ظالمانه مجازاتو او له سپکاوي ډک چلند څخه خوندیتوب لري. قاچاق شوی کډوال په ځانګړې ډول ښځې او ماشومان د دولت مالي امکاناتو ته په پام سره معیشتي، د استوګنې، روغتیایي او ښوونیزې اسانتیاوو او د خپل متبوع هېواد سیاسي نمایندګۍ ته لاسرسی لري.
د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون د ۲۵ مې مادې له مخې، که چېرې مجني علیه ماشوم وي، د هغه په رضایت د هغه مور او پلار او قانوني سرپرست (ولي) ته سپارل کېږي، د والدینو یا قانوني سرپرست د نه شتون په صورت کې د ټولنیزو خدمتونو په ځانګړې موسسه کې ساتل کېږي. که چېرې مجني علیه ښځه وي، د هغې په رضایت سره د هغې شرعي محرم ته ور تسلمیږي. د شرعي محرم د نه شتون یا له تسلیمېدو څخه د ډډې کولو په صورت کې د ټولنیزو خدمتونو په ځانګړې موسسه کې ساتل کېږي. د ښځې شرعي محرم مېړه، د هغې اصول او فروع (اجزا، فرعي) تر دویمې درجې پورې، پلار، مور او د هغوی اصول تر دویمې درجې پورې، ورور، خور، کاکا، ماما، خاله او عمه دي.
قانون د کورنیو چارو، بهرنیو چارو، کار او ټولنیزو چارو، عامې روغتیا او د ښځو چارو وزارتونه او نورې اړوندې اداري مکلفې کړې چې د مجني علیه ملاتړ وکړي او د ساتنې، د روغتیایي اسانتیاوو برابرولو او خپلې کورنۍ یا خوندي ځای ته د هغه د بېرته ور ګرځولو په اړه لازم تدبیرونه ونیسي.
د انسان له قاچاق او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې عالي کمېسیون د سکرتریت د معلوماتو له مخې، په هېواد کې د انساني قاچاق د قربانیانو د ساتلو لپاره چې ښځې او ماشومان په کې شامل دي، ۲۹ د امن خونې لري، دغه خونې په کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت او نورو نا دولتي ارګانونو پورې اړوند دي. هغه قربانیان چې له انساني قاچاقبرو څخه را خوشي او د ساتنې لپاره دغو خونو ته استول کېږي.کوم کسان چې رواني ستونزې ولري، په دغو خونو کې یې درملنه هم کېږي او له درملنې وروسته خپلې کورنۍ او خپلوانو ته سپارل کېږي، خو د انساني قاچاق د نارینه قربانیانو لپاره د امن خونې شتون نه لري، له همدې امله اوسمهال نارینه قربانیان په نظارتخونو کې د مېلمنو په ډول ساتل کېږي.
بلخوا د کار او ټولنیزو چارو وزارت د تامیناتو د تنظیم ریاست د معلوماتو له مخې، اوسمهال یې د مالي سرچینو د نه شتون له امله داسې کومه پرېکړه نه ده کړې چې د نارینه وو لپاره د خوندیتوب کوم مرکز جوړ کړي. د رواجونو او عنعناتو له مخې، داسې نظرونه شتون لري چې نارینه په یو نه یو ډول د ټولنې ملاتړ ترلاسه کوي، خو ماشومان او ښځې ډېر ژر زیانمن کېږي او باید د دوی لپاره د ساتنې او خوندیتوب ځایونه شتون ولري.
د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون ۲۸ مې مادې د مالیې وزارت مکلف کړی چې د انسان د قاچاق او د کډوالو د قاچاق له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو راټولولو په منظور ځانګړی بانکي حساب پرانیزي او ترلاسه شوي عواید د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې د پروژې په توګه په ملي بودجه کې شامل کړي.

د انسان قاچاق او کډوالو قاچاق پر وړاندې د مبارزې عالي کمېسیون سکرتریت ومنله چې تر اوسه پورې د یو کال په تېرېدو هم یاد کمېسیون ته د بانکي حساب پر رامنځته کولو نه دي بریالي شوي او له قاچاق کوونکو او باندونو څخه چې د انسان د قاچاق په برخه کې فعالیت کوي، تر اوسه پورې عواید نه دي ترلاسه کړي.

**د انساني قاچاق ترسره کوونکي جنایتکاره ډله:**

د انساني قاچاق ترسره کوونکې جنایتکاره ډله (سازمان شوې جنایتکاره ډله) له درېیو یا تر هغو له ډېرو کسانو جوړه ډله وي چې د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې په قانون کې له درج شوو جرمونو د یوه یا زیاتو د ارتکاب د موخې په لرلو سره متفقاً اقدام کوي.

د انسان له قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون ۲۶مې مادې د کورنیو چارو وزارت، د ملي امنیت لوی ریاست او نورې اړوندې مراجع مکلف کړي چې د جنایتکارو سازمان شوو ډلو په واسطه د مجنې علیه یا قاچاق شوي کډوال له پټولو او لېږدولو مخنیوی وکړي. په دې برخه کې یاد قانون د ۲۷مې مادې له مخې، له نورو دولتونو، سیمه ییزو او نړیوالو سازمانونو سره د ښکېلو سازمان شوو ډلو په کشف، څېړنې او محاکمه کې د قانون د حکومونو مطابق د همکارۍ جواز ورکړی دی.


انساني قاچاق یوه خطرناکه پدیده ده،
نه یوازې دا چې له نړیوالو پولو اوړي،
بلکې په داخلي او سیمه ییزه کچه هم
رامنځته کېدای شي او اړتیا ده چې باید
خلک پرې پوه شي.

په نړۍ کې په هرو ۳۰ ثانیو کې یو شخص د انساني قاچاق قرباني کېږي.

# دریېم څپرکی

# په نړۍ کې انساني قاچاق

## د انساني قاچاق نړیواله درجه بندي

د امریکا متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د نړۍ هېوادونو د انساني قاچاق د مخنیوي د هڅو په اړه د هغوی د کورني قوانینو او دولتي کړنو د ارزونې لپاره د درجه بندۍ میکانیزم لري او د هېوادونو د اجرااتو کلني راپورونه په لاندې ویب پاڼه کې خپروي:

http://www.state.gov/j/tip/rls/tiprpt/2016/index.htm

دغه ارزونه څلور درجې لري؛ په لومړۍ درجه کې هغه هېوادونه راځي چې د انساني قاچاق د مخنیوي لپاره ښه قوانین لري او دولتونو یې د انساني قاچاق په مخنیوي کې د پام وړ کړنې ترسره کړې او وروستۍ درجه یې چې دریېمه درجه ده، هغه هېوادونه په کې راځي چې ښه قوانین نه لري او دولت یې هم د انساني قاچاق د مخنیوي لپاره اجراات نه کوي.

دغه څلور درجې یا ردیفونه چې په انګلیسي کې ورته (Tier) وایي، لومړۍ درجه، دویمه درجه، تر څارنې لاندې دویمه درجه او دریېمه درجه دي او هر زېږدیز کال د جون په میاشت کې د امریکا متحده ایالتونو له خوا د انساني قاچاق په نړیوال کلني راپور کې خپرېږي.

د درجه بندۍ معیارونه د انساني قاچاق د زیانمن شوو د ساتنې په قانون (TVPA) کې ذکر شوي دي. یاد قانون دغه راز یو شمېر نور فکټورونه هم په ګوته کوي چې له مخې یې یو هېواد په لومړۍ درجه، دویمه درجه، تر څارنې لاندې دویمه درجه او یا په دریېمه درجه کې څرنګه راځي؛ لومړی فکټور دا دی چې ایا یو هېواد د انساني قاچاق منشاء ده، د تېرېدو هېواد دی او یا وروستنی منزل دی؟ دویم دا چې حکومت د انساني قاچاق د زیانمن شوو د ساتنې قانون (TVPA) لږ تر لږه معیارونه پوره کوي، په ځانګړې توګه دا چې په کومه کچه حکومتي چارواکي او کار کوونکي د انساني قاچاق په اړه بې پروايي کوي؟ دریېم دا چې حکومت د انسانانو د قاچاق د مخنیوي لپاره مناسبې هڅې ترسره کړې دي څو د لږ تر لږه معیارونو سره ځان برابر کړي؟

د انساني قاچاق د زیانمن شوو د ساتنې قانون (TVPA) چې په ۲۰۰۸ زېږدیز کال کې اصلاح او تعدیل شوی دی، داسې راځي چې که یو هېواد د دوو کلونو لپاره تر څارنې لاندې دویمه درجه کې راشي نو په دریېم کال به دریېمې درجې ته نزول وکړي؛ دغه اصلاحات د لومړي ځل لپاره په ۲۰۱۳ زېږدیز کال کې پلې شول.

د امریکا متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت واک لري چې دغه ډول تنزل په اړه د باوري شواهدو له مخې تصمیم ونیسي او که چېرې حکومت ژمن وي او پلان ولري چې د انساني قاچاق د زیانمن شوو د ساتنې د قانون (TVPA) لږ تر لږه معیارونه به پوره کوي او کافي سرچینې به ورته ځانګړې کوي څو پلان پلی کړي، نو په دغه صورت کې په دویمه درجه کې پاتې کېږي. د بهرنیو چارو وزارت د دغه ډول تصمیم واک یوازې د دوو کلونو لپاره لري، د درېیم کال لپاره باید دغه درجه یا لوړه شي او یا ټیټه.

د هېوادونو د انساني قاچاق درجې په لاندې ډول دي:

**لومړۍ درجه (Tier 1):**

د انساني قاچاق د مخنیوي لپاره حکومتونه په بشپړ ډول د انساني قاچاق د زیانمن شوو د ساتنې قانون (TVPA's) ټول معیارونه پوره کوي.

د امریکا متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د راپور له مخې، په ۲۰۱۸ زېږدیز کال کې دغه معیارونه د امریکا متحده ایالتونو، کاناډا، استرالیا، ناروې، جرمني، بحرین، ایټالیا او ۳۲ نورو هېوادونو پوره کړي دي.

**دویمه درجه (Tier 2):**

د انساني قاچاق د مخنیوي لپاره حکومتونه په بشپړه توګه د انساني قاچاق د زیانمن شوو د ساتنې قانون (TVPA's) لږ تر لږه معیارونه نه پوره کوي، خو ډېرې هڅې کوي څو د دغو معیارونو پوره کولو لپاره هڅې وکړي.

د امریکا متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د راپور له مخې، په ۲۰۱۸ زېږدیز کال کې په دې درجه کې د افغانستان، پاکستان او قزاقستان په ګډون د نړۍ دوه اتیا هېوادونه راغلي دي. دغه راز افغانستان له دې مخکې هم له ۲۰۰۴ څخه تر ۲۰۰۹ زېږدیز کال پورې او په ۲۰۱۵ او ۲۰۱۷ زېږدیز کلونو کې په همدې دویمه درجه کې پاتې شو.

**تر څارنې لاندې دویمه درجه (Tier 2 Watch List):**

د هغو هېوادونو حکومتونه چې په بشپړه توګه د انساني قاچاق د زیانمن شوو د ساتنې قانون (TVPA's) لږ تر لږه معیارونه نه پوره کوي او د دغو معیارونو پوره کولو لپاره خپلې هڅې کوي خو د اجراأتو پایلې بنیي:

الف: د انساني قاچاق د شدیدو شکلونو زیانمن شوو شمېر ډېر لوړ دی یا په چټکۍ سره د لوړېدو په حال کې دی.

ب: تر ارزونې لاندې هېواد له تېر کال څخه د انساني قاچاق د شدیدو شکلونو پر وړاندې د مبارزې لپاره د هڅو ډېرېدو په تړاو د اسنادو او مدارکو په وړاندې کولو کې چې په کې د انساني قاچاق د قضیو څېړنه، عدلي تعقیب، سزا ورکول، له قربانیانو سره د مرستو زیاتوالی او د انساني قاچاق په شدیدو شکلونو کې له قاچاق کوونکو سره د لاس لرونکو حکومتي چارواکو کمېدل هم په کې شامل دي، پاتې راشي.

ج: د دغه ډاډ نه شتون چې تر ارزونې لاندې هېواد د لږ تر لږه معیارونو پوره کولو لپاره په راتلونکي کال کې د پام وړ هڅې کوي او د داسې ژمنې نشتوالی چې یاد هېواد به په راتلونکي کال کې مهم ګامونه پورته کړي.

د امریکا متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د راپور له مخې، په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې په دې درجه کې د نړۍ ۴۳ هېوادونه راغلي چې بنګله دېش، بوتان، کویټ، عراق، تاجکستان، قرغیزستان، ازبکستان، سعودي عربستان یې د یادولو وړ دي. دغه راز افغانستان له ۲۰۱۰ څخه تر ۲۰۱۳ زیږدیز کال پورې او په ۲۰۱۶ زیږدیز کال کې په همدغه د څارنې لاندې دویمه درجه کې پاتې شو خو په ۲۰۱۷ زیږدیز کال کې یې دویمې درجې ته ارتقا وکړه.

افغانستان په ۲۱۰۷ کال کې ځکه دویمې درجې ته ارتقا وکړه چې د انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې لپاره یې خپلې هڅې ګړندۍ کړې وې؛ د بېلګې په توګه د انساني قاچاق او کډوالو قاچاق قانون پلي کولو لپاره حکومت هلې ځلې او د انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې عالي کمېسیون په منظمه توګه ناستې پیل کړې، په دې برخه کې یې د عامه پوهاوي پروګرامونه هم جوړ کړل او د نورو مسایلو تر څنګ پژواک خبري اژانس او ځینو نورو رسنیو په دې برخه کې راپورونو خپاره کړل.

**درېیمه درجه (Tier 3):**

د انساني قاچاق د مخنیوي لپاره حکومتونه په بشپړه توګه د انساني قاچاق د زیانمن شوو د ساتنې قانون (TVPA's) لږ تر لږه معیارونه نه پوره کوي او دغه هېوادونه کومه هڅه هم نه کوي څو چې له معیارونو سره ځان برابر کړي.

د امریکا متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د راپور له مخې، په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې په دې درجه کې د نړۍ ۲۳ هېوادونه راغلي دي چې چین، ایران، روسیه، ترکمنستان او برما یې د یادولو وړ دي.

د یادونې ده، د امریکا متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د ۲۰۱۸ زیږدیز کال په راپور کې د لیبیا، مارتین، سومالیا او یمن هېوادونه د ځانګړو قضیو په لېست کې شامل کړي او له پورته یادو درجو څخه یې غورځولي دي.

## د درېيمي درجې هېوادونو لپاره د مالي بسپنې محدودیتونه

د انساني قاچاق د زيانمن شوو د ساتنې قانون (TVPA's) له مخې، هغه هېوادونه چې په درېيمه درجه کې دي، د مرستې ترلاسه کولو له ځانګړې محدودیتونو سره مخ کېږي او د امریکا متحده ایالتونو ولسمشر به دا په ګوته کوي چې د امریکا متحده ایالات به د غیر بشري او غیر سوداګریزو بهرنیو مرستو له ورکولو ډډه وکړي او کنه.

سربېره پر دې، د امریکا متحده ایالتونو ولسمشر کولای شي دا په ګوته کړي چې د درېیمې درجې ځانګړو هېوادونو حکومتي چارواکو او یا کارکوونکو ته د تحصیلي بورسونو او کلتوري پروګرامونو لپاره مالي مرستې ورکړي او کنه.

د یاد قانون مطابق، د امریکا متحده ایالتونو ولسمشر همدارنګه د دغه هېواد اجرائیوي رییس ته لاربښوونه کوي چې له بشري، سوداګریزو، ځانګړو پرمختیایي مرستو پرته د پرمختیایي بانک او د پیسو نړیوال صندوق (IMF) مرستې د درېیمې درجې پر هېوادونو باندې بندې کړي.

همدارنګه د امریکا متحده ایالتونو ولسمشر کولای شي دغه محدودیتونه په دې پورې وتړي چې ایا مرستې د انساني قاچاق د زيانمن شوو د ساتنې قانون (TVPA's) اړوند اړتیاوو په پوره کولو کې او د امریکا متحده ایالتونو د ملي ګټو لپاره اغېزناکې دي او که نه دي.

د انساني قاچاق د زيانمن شوو د ساتنې قانون (TVPA's) دغه راز ولسمشر ته دا واک ورکوي چې د اړتیا له مخې په مالي مرستو باندې محدودیتونه وضعه کړي، که چېرې دغه ډول مرستې پر زيانمنونکو وګړو، په ځانګړې توګه پر ښځو او ماشومانو منفي اغېز لري. د مالي بسپنې محدودیتونو د راتلونکي کال لپاره پلې کېږي چې د هر زېږدیز کال د اکتوبر له لومړۍ نېټې څخه پیلېږي. هېڅ یوه درجه بندي تل پاتې نه وي؛ هر هېواد، د امریکا متحده ایالتونو په ګډون کولای شي خپلې هڅې ډېرې کړي.

د قاچاق د قربانیانو خوندیتوب د نوي واک په قانون (TVPRA) کې چې په ۲۰۰۳ زېږدیز کال کې تصویب او له اصلي قانون سره ضمیمه شوی دی راغلي، ټول هېوادونو باید د امریکا متحده ایالتونو بهرنیو چارو وزارت ته داسې اطلاعات چې د انساني قاچاق په اړه ترسره شوې پلټنې، عدلي تعقیب، مجازات او زنداني کېدل په کې ښودل شوي وي، برابر کړي.

د لومړي ځل لپاره دغه ډول اطلاعات په ۲۰۰۷ زېږدیز کال کې د TIP راپور کې خپاره شول چې د انساني قاچاق، په زور کارونو، عدلي تعقیب او مجازاتو په اړه یې معلومات درلودل.

# د انساني قاچاق د مخنیوي لپاره لږ تر لږه معیارونه

د ۲۰۰۰ زیږدیز کال د انساني قاچاق د زیانمن شوو ساتنې قانون (TVPA's) اصلاح شوي بڼه کې د انساني قاچاق د مخنیوي لپاره لږ تر لږه معیارونه ( Minimum Standards for the Elimination of Trafficking in Persons) وضع شوي چې له مخې يې د نړۍ د ټولو هېوادونو د انساني قاچاق د مخنیوي کړنې ارزول کېږي.

دغه معیارونه دوه برخې لري؛ په لومړۍ برخه کې د انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې لپاره باید اړوند هېواد لږ تر لږه لاندې موارد عملي کړي:

۱- حکومت باید د انساني قاچاق جدي مخنیوی وکړي او عاملینو ته يې سزا ورکړي.

۲-که چېرې روښانه شي چې یو ماشوم د جنسي ګټې اخیستنې په موخه د چل او فریب او یا هم زور له لارې قرباني شوی او هغه ونه شي کولای پر ده د تېر شوي وضعیت په اړه اطلاعات ورکړي او یا هم د انساني قاچاق هغه پېښې چې تښتونه او جنسي تېري په کې شامل وي او د مړینې لامل شي، نو حکومت يې باید عاملینو ته مناسبه سزا وټاکي.

۳- کله چې د انساني قاچاق جدي پېښې را څرګندېږي، نو د بیا ځلي مخنیوي لپاره يې باید حکومت د سزا ورکولو څرنګوالی تشریح کړي او دغه راز د تعرض بوږنوونکي حالت ته دې هم پوره انعکاس ورکړي.

۴- حکومت دې جدي او دوامداره هڅې وکړي څو د انساني قاچاق هر راز وحشیانه ډولونه له منځه یوسي.

د یادو معیارونو په دویمه برخه کې د لومړۍ برخې د څلورمې مادې په رڼا کې پر حکومتونو ټينګار شوی چې لاندې موارد په پام کې ونیسي، څو انساني قاچاق ته د پای ټکی کېښودل شي:

۱- ایا د اړوند هېواد حکومت د انساني قاچاق په اړه اړینه څېړنه کوي؟ د انساني قاچاق د مخنیوي لپاره يې اقدام کړی؟ د هېواد په بېلابېلو برخو کې يې د انساني قاچاق په پېښو کې تورنو کسانو ته قانوني سزا ورکړې؟

۲- ایا اړوند هېواد د قاچاق له پېښو څخه د خلکو ساتنه او د دې ډول پېښو د څېړنې او قانوني تعقیب په تړاو په سمه توګه اجراات کوي؟ حکومت د انساني قاچاق د پېښې قرباني ته په بل ځای کې د استوګنې زمینه برابره کړې ده؟ حکومت د قرباني شوي د پېژندګلوي او درملنې لپاره اړوندو ادارو ته لارښوونه کړې او امکانات يې برابر کړي؟

۳- د اړوند هېواد حکومت د انساني قاچاق د مخنیوي لپاره اړین ګامونه پورته کړي؟ د عامه پوهاوي او نورو پېښو د مخنیوي لپاره پروګرامونه لري؟ حکومت د سیمې د اوسېدونکو د کره هویت معلوموللو لپاره لکه راجسترولو، د تذکرې ورکړې او نورو لپاره اقدام کړی؟ او له نړیوالو معیارونو سره سم داسې تدابیر تر لاس لاندې لري چې په زور پر ماشومانو د کار کولو مخنیوی وکړي؟

٤- د اړوند هېواد حکومت د انساني قاچاق پېښو د څېړنې او تعقیب په برخه کې د نورو هېوادونو له حکومتونو سره همکاري کړې ده؟

٥- د اړوند هېواد حکومت هغه کسان چې د انساني قاچاق پر ترسره کولو تورن دي او یا هغه کسان چې په همدې کچه يې جرم کړی وي، خپلو اصلي هېوادونو ته سپاري؟ او یا حکومت غواړي چې د دې ډول کړنو د ترسره کولو لپاره نوي معاهدات او قوانین رامنځته کړي؟

٦- ایا حکومت د کډوالۍ له بهیر او په دغه لړ کې د انساني قاچاق له ترسره کېدو څارنه کوي او یا د قانون پلي کوونکې ادارې د انساني قاچاق د پېښو مخنیوي ته لاسرسی لري؟

۷- ایا حکومت د هغو دولتي چارواکو په اړه څېړنې کوي او یا هغوی محاکمې ته معرفي کوي چې انساني قاچاق ترسره کوي او یا د انساني قاچاق د ترسره کېدو لپاره زمینه برابره وي؟

۸- ایا د حکومت لپاره په نورو هېوادونو کې د انساني قاچاق پېښو د قربانیانو د شمېر ډېرېدل مهم دي؟
۹- ایا حکومت د پورته له یو څخه تر اتم پورې د ذکر شوو معیارونو له عملي کېدو څارنه کوي او بیا یې د ارزونې پایلې له خلکو سره شریکوي؟
۱۰- ایا د تېرو کلونو په پرتله د انساني قاچاق د له منځه وړو په برخه کې حکومت د پام وړ لاسته راوړنې لري؟
۱۱- د اړوند هېواد حکومت په جدي او دوامداره توګه هڅې کړې دي چې د انساني قاچاق د مخنیوي لپاره په لاندې برخو کې د خلکو د غوښتنې کچه را ټیټه کړي؟
الف- جنسي سوداګریز قوانین
ب- د جنسي غریضې رفع کولو لپاره نورو هېوادونو ته سفر

## په نړۍ کې د انساني قاچاق وضعیت

انساني قاچاق په ټوله نړۍ کې کېږي او د انسان قاچاق عمدتاً له شا ته پاتې هېوادونو څخه پرمختللو هېوادونو ته کېږي. له انساني قاچاق څخه زیانمنېدونکي تر ډېره ښځې دي خو د دغه قاچاق د ناوړه کاروبار په مرتکبینو کې هم ښځې شاملې دي. د نړۍ په کچه ځینې استخداموونکي او دلالان د خلکو له هیلو څخه چې غواړي ښه ژوند ته ورسېږي، ناوړه ګټه اخلي او هغوی قاچاق کوي. دغه راز استثمار د انساني قاچاق یو مهم عنصر دی، دا که موخه یې کار وي یا جنسي ګټه اخیستنه. د یادونې ده، هغه کسان چې قاچاق کېږي یا په زور کار کولو ته اړ ایستل کېږي، زیانمن دي، نه مرتکبین، ان که د استثمار په ترڅ کې هغوی د قانون ماتولو ته هم اړ ایستل شوي وي؛ د بېلګې په توګه په جعلي اسنادو یوه هېواد ته دننه شوي وي. سره له دې هغه کسان چې له انساني قاچاق او په زور کار څخه مالي ګټه ترلاسه کوي، باید د پاملرنې په محراق کې وي او په عامه کچه افشا شي، خو دا هم ربښتیا ده چې د ارزان مال او خدمتونو لپاره غوښتنه د مشتریانو له خوا په تېره بیا په کورونو کې خدمت، هغه څه دي چې د هغوی د کار د دوام لامل ګرځي.
د انساني قاچاق او وسله والو جګړو تر منځ څو اړخیزه او نړیوالې اړیکې شتون لري، په دې تړاو د ملګرو ملتونو پروتوکول هم شته چې موخه یې د نړیوالو سازمان شوو جرایمو پر وړاندې مبارزه ده چې هر ډول ناوړه ګټه اخیستنه؛ یعنې په عصري بڼه پر مریيتوب نیول او په دې برخه کې ترسره کېدونکي جرایم، لکه په بېلابېلو کاري ډګرونو کې د ماشومانو ګومارنه، جنسي مریيتوب، د بدن غړو قاچاق، په زور کار او په پوځي برخه کې اجباري خدمت کول په کې شامل دي.
قاچاق شوي کسان له جګړې بهر او په جګړې ځپلو سیمو کې قاچاق شوي؛ د جګړو له امله په ډېر شمېر خلک بېځایه شوي او دغه ډول کسان په اسانۍ سره د انساني قاچاق او په نوې بڼه د مریيتوب ښکار ګرځي. د جګړو له امله بېځایه شوي کسان ډېری وخت له ناوړه چلند، لکه د ماشومانو په زور کار ته اړ کول، نا مشروع کارونو ته مجبورول، له ټاکلي وخت څخه مخکې او په اجباري ډول واده او سوال کولو ته اړ ایستل کېږي. ناقانونه کډوال د لېږد، بېځایه کېدو او له کوربه ټولنو سره د نا قانونه اوسېدو پر مهال، د را ټولېدو په ځایونو، نا قانونه کارځایونو او د کډوالو په پنډغالو کې له راز راز ګواښونو سره مخ کېږي.
د انساني قاچاق پېچلې بڼې ته په کتو سره، اړتیا ده چې ټولیز، هر اړخیز او نړیوال بېړنی ګام واخیستل شي؛ ځکه چې ځینې وسله والې ډلې په مستقیم ډول د انساني قاچاق بهیر پر مخ وړي. ځینو بیا په ساده ډول انساني قاچاق د خپل ژوند چاره ګرځولې ده. دغه راز وسله والو ډلو انساني قاچاق د خپلې پوځي ستراتیژۍ یوه برخه ګرځولې ده، د دې تر څنګ د خپل ځواک ساتلو لپاره د ملکي خلکو پر ترور او د هغوی پر کنټرول هم لاس پورې کوي.
انساني قاچاق که په انفرادي او یا ډله ییز ډول وي، د ملګرو ملتونو اړوند، نړیوالو سازمان شوو جرایمو پر وړاندې پروتوکول کې د کسانو ګومارنې، لېږد رالېږد، اختطاف او فریب موارد شامل دي. دا کړنه د ګواښ، ځواک او یا د هر راز فشار چې اسارت، لېږد، فریب، ځورونه، اختطاف، له واک څخه ناوړه ګټه اخیستنه او یا کمزوری موقف په کې شامل وي، په واسطه ترسره کېږي. دغه راز پر خلکو د کنټرول او له هغوی څخه د ناوړه ګټې اخیستنې لپاره د پیسو او یا نورو امتیازاتو راکړه ورکړه ده؛ له نورو څخه ناوړه ګټه اخیستنه او جنسي استفاده، په اجباري ډول کارونو او یا نورو خدمتونو ته اړ ایستل، مریيتوب او یا مریيتوب ته ورته په نورو چارو کې ترې ګټه اخیستل او د بدن د غړو لرې کول شامل دي.
ښکاره او څرګنده ده چې نړیوالې ټولنې انساني قاچاق یو نا مشروع عمل بللی، د نړۍ ۱۱۷ هېوادونو د نړیوالو سازمان شوو جرایمو پر وړاندې د ملګرو ملتونو سازمان کنوانسیون پروتوکول لاسلیک او تصویب کړی چې ځینې

وخت د پالرمو پروتوکول (Protocol Palermo) په نوم هم يادېږي او له انسانانو څخه ناوړه ګټه اخيستنه د يو نړيوال جرم په توګه پېژندل کېږي.
د ملګرو ملتونو سازمان ټولو غړو تلپاتې پراختيايي موخې تاييد کړې او بېلابېلې موخې په کې شاملې دي، خو اصلي موخې يې د انساني قاچاق او د نوي عصر مرييتوب کچې را کمول دي، په ځانګړې توګه په دې تړاو ۲، ۵، ۷، ۸ او ۲، ۱۶ موخې تاييد شوې دي.
د ملګرو ملتونو امنيت شورا تر دې دمه د دغه عمل غندنې په برخه کې ځانګړی او مهم رغوونکی رول لوبولی، په ځانګړې توګه ملګرو ملتونو دغه کار هغه مهال کړی، کله چې بوکو حرام او داعش ډلو په دې برخه کې خپلو کړنو ته زور ورکړ.

## په جګړې ځپلو سیمو کې انساني قاچاق

په جګړې ځپلو سیمو کې انساني قاچاق له شخړو سره تړاو لري؛ په دې ډول قاچاق کې له بده مرغه جګړه ځپلو او له جګړې څخه بهر سیمو کې د انسانانو د بدن غړي قاچاقیږي. هغه کورنۍ چې د جګړو له امله بېځایه شوې دي، په پراخ ډول زیانمنونکې دي او په اسانۍ سره د انساني قاچاق ښکار کېدای شي او لوی لامل یې هم بېوزلي ده.

هغه بېځایه شوې کورنۍ چې په ۲۰۱۵ زیږدیز کال کې د ملګرو ملتونو د کډوالو سازمان (UNHCR) له لوري ثبت شوې، دا مهال د هغو پر شمېر کې ۶۰ سلنه زیاتوالی راغلی چې څه باندې یو میلیون کډوال او پناه اخیستونکي د سمندر له لارې اروپا ته رسېدلي دي. د نړۍ ۸۴ سلنه کډوال او پناه غوښتونکي له هغو هېوادونو دي چې په دوامدار ډول په جګړو کې بوخت او بې ثباته دي.

د چارو ځینو شنونکو په ډاګه کړې ده چې ښایي وسله والې او ترهګرې ډلې له کډوالو او پناه اخیستونکو په استفادې په اروپا او نورو هېوادونو کې نفوذ وکړي. دا ډلې په حقیقت کې غواړي چې د کډوالو د قاچاقي لارو په اوږدو کې خپل کسان ځای پر ځای کړي، جعلي اسناد جوړ کړي او پاسپورټونه غلا کړي.

حقیقت دا دی چې کډوال او پناه غوښتونکي د خپل سفر په جریان کې له بېړنیو ګواښونو سره مخ وي؛ د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) راپور ورکوي چې نا قانونه کډوال د لېږد رالېږد پر مهال غیر رسمي او په یو ځایي ډول په کمپونو، ښارګوټو او د کډوالو په کوربه ټولنو کې ساتل کېږي او دغه راز په نا رسمي کارونو کې له ګواښونو سره مخ کېږي.

د ملګرو ملتونو امنیت شورا په وروستۍ ناسته کې څو غړو هېوادونو، له دې ډلې د امریکا متحده ایالتونو، سویس او روسیې په کډوالو، پناه غوښتونکو او بېځایه شوو کسانو کې د انساني قاچاق او جنسي ګټې اخیستنې په تړاو اندېښنې څرګندې کړې دي.

د جګړې پر مهال انساني قاچاق د ګټې ترلاسه کولو او کله هم د ځواک کارولو لپاره ترسره کېږي. وسله والې ډلې له انساني قاچاق څخه په بېلابېلو بڼو ګټه اخلي، د بېلګې په توګه وسله والې ډلې د قبرس ختیځ، عراق، کوسوو، لیبیا او نایجریا کې په انساني قاچاق کې ښکېل دي. دغه ډلې په مستقیم ډول د انسانانو او د هغوی د بدن د غړو پلور ترسره کوي، ماشومان، نجونې او ښځې په زور کارونو ته اړ باسي او په دې ډول ترې ګټه اخلي.

د امریکا د دفاع وزارت له لوري د ۲۰۱۶ زیږدیز کال په جون میاشت کې د انساني قاچاق په تړاو راپور کې داسې راغلي: "جګړې د سیمې د اوسېدونکو د اقتصادي وضعیت او د قانون د کمزورتیا لامل کېږي. دغه راز ټولنیزو خدمتونو ته د خلکو لاسرسی محدودېږي او په پای کې خلک اړ کېږي چې د خپل خوندیتوب لپاره امن سیمو ته ولاړ شي چې دا ټولې ستونزې انساني قاچاق ته لار هواروي."

له تېرو دوو لسیزو په جګړې ځپلو سیمو کې په بېلابېل ډول انساني قاچاق ترسره کېږي، په ځانګړې توګه یو ډول قاچاق چې د پراختیا په حال کې دی، ناوړه جنسي ګټه اخیستنه ده چې د نا مسوولو وسله والو ډلو، دولتي ځواکونو او له بده مرغه د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو له لوري ترسره کېږي.

نړیوالې جنایي محکمې په بالکان (Balkans)، سریلیون (Sierra Leone) او یوګندا (Uganda) کې د مرییتوب، د جنسي اړیکو لپاره مرییتوب او په زور ودونو پېښې په ډاګه کړې دي. داسې ګومان کېږي چې د ۱۹۸۷ او ۲۰۰۶ زیږدیزو کلونو تر منځ موده کې د لارد مقاومت ځواک (Lord's Resistance Army) په یوګندا کې د جنسي اړیکو او نورو چارو ترسره کولو لپاره څه باندې شل زره ماشومان اختطاف شوي او د غلامانو په توګه یې ترې کار اخیستی دی. داسې ادعاوې هم شته چې په نیپال کې کورنۍ جګړې او بې ثباتي د دغه هېواد دننه او بهر

انساني قاچاق ته لار هواره کړې ده. د یو اټکل له مخې، هر کال له دوولس زرو څخه تر شل زرو مېرمنې، ماشومان او یو شمېر هلکان برمته شوي چې ۳۰ سلنه یې په زور کارونو او ۷۰ سلنه نور یې جنسي استفادې ته اړ ایستل شوي دي. په وروستیو کلونو کې زرګونه مېرمنې او ماشومان چې د افریقا او یمن له نا امنو لارو اروپا تلل، نا درکه شوي دي.
په جګړې ځپلو سیمو کې د انساني قاچاق ډېرې پېښې پټې ساتل شوې دي؛ په وروستیو پنځو کلونو کې بوکو حرام او داعش وسله والو ډلو تازه زړه بوږنوونکي کړنې ترسره کړې دي، په ښکاره یې ښځې او ماشومان په مریبتوب نیولي او دغه کار یې د نړیوالو قوانینو او موازینو خلاف دی. د یادونې ده، اوس مهال تر پنځه زره ډېرې یزیدۍ مېرمنې، ماشومان او نارینه داعش ډلې له ځان سره د مریبانو په توګه ساتلي دي.
داعش ډله د مریبي نیولو لپاره د ثبت منظم پلان لري، دغه کار د مریبتوب د دور بیا ژوندي کولو لپاره د رسمي اداري پالیسۍ پر بنسټ ترسره کوي او دا لړۍ له دوی سره د اړیکې لرونکو رسنیو له لارې هم خپرېږي او تبلیغات ورته کوي.
د دې ډلې کسانو له خوا له برمته شوو ښځو سره د ګناهکارو مینځو په څېر ناوړه چلند کېږي، دغه ښځې د توکو په څېر معامله کېږي؛ سوداګري پرې کېږي، د ډالۍ په توګه ورکول کېږي او کله هم ډله ییز جنسي تېري پرې کوي.
ملګرو ملتونو د جګړو پر مهال د ښځو پر جنسي ځورونې اندېښنه ښودلې او ویلي یې دي چې داعش د مریبتوب او جنسي تاوتریخوالي پراخولو په حال کې دی. د ملګرو ملتونو سازمان د بشري حقونو پلټنې کمېسیون راپور خپور کړی چې د داعش ډلې له لوري د یزیدي لږکیو پر وړاندې د جنسي تېري، جنسي تاوتریخوالي، جنسي مریبتوب او نورې پېښې په ګوته کوي.
د مریبتوب او انساني قاچاق په تړاو د داعش او بوکو حرام ډلو نظر د نورو وسله والو ډلو په پرتله توپیر لري؛ یادې ډلې له انساني قاچاق څخه نه یوازې د کاري ځواک په توګه د خدماتو په برخه کې استفاده کوي، بلکې له قاچاق شوو کسانو په بېلابېلو بڼو ناوړه ګټه اخلي او د وسیلې په توګه یې کاروي، په یادو مواردو کې هر راز ځورونه هم شامله ده.
داعش، نارینه او ښځینه جنګیالي عراق او سوریې ته استوي او د سیمې ښځې او نجونې د هغوی ملکیت ګرځوي، د خلافت د واکمنۍ پراخولو لپاره مسلمانې ښځې خپلې مېرمنې ګرځوي او نا مسلمانې ښځې او نجونې بیا د خپلو جنګیالیو د جنسي مینځو په توګه ګوماري.
په سوریه کې د پلټنې کمېسیون پایلې ښیي چې د انساني قاچاق او په مریبتوب نیولو پېښو کې د الجزایر، استرالیا، بلجیم، مصر، عراق، قزاقستان، لیبیا، مراکش، سعودي عربستان، سوډان، سوریې، تونس، ترکیې او ازبکستان وګړي ښکېل دي. د داعش له لوري د مریبتوب دود پراخوالي هڅې کله په فریب او کله هم په بوروکراتیک ډول دي؛ د بېلګې په توګه د داعش مرکزي څانګې په سوریه کې نسل وژنه ترسره کړه، د یزیدي لږکیو د پلور او پېر لپاره یې کمېټه فعاله کړې وه. داسې اطلاعات خپاره شوي چې د داعش جنګیالي، د مریبانو ساتلو د اجباري داوطلبي په بهیر کې ګډون کوي او د دغه کار ترسره کولو لپاره په اوونۍ کې هر یوه کس ته ۵۰ ډالره ورکول کېږي.
داعش وسله وال د دې لپاره چې د ماشوم د زېږون مخه ونیسي، نو امیدوارو مېرمنو ته د ډاکترانو په واسطه درمل ورکوي. ډاکتران د نجونو د بکارت پردې معلومولو لپاره ځیني غیر مستقیم ازمایښتونه کاروي او یاد ډاکتران د نجونو له وخته مخکې بلوغ لپاره هم ځینې لارې چارې ښیي. دغه راز د جنسي عمل ترسره کولو لپاره له نشه یې توکو هم استفاده کوي. په ورته وخت کې داعش د مریبتوب لپاره د تاوتریخوالي اصل ته وفادار دي؛ د ۲۰۱۷ زېږدیز کال په لومړیو کې داعش په عام محضر کې هغه ۱۹ کردۍ ښځې وسوځولې چې د یادې ډلې له وسله والو سره یې له جنسي مریبتوب څخه ډډه وکړه. د افریقا په لوېدیځ کې هم ورته پېښې تر سترګو شوې دي؛ د

بوکو حرام ډلې مشر ابوبکر شیکاو (Abubakar Shekau) اعلان کړی چې ډلې یې پرېکړه کړې ده، هغه کسان به له نیول کېدو وروسته خپل مرییان ګرځوي چې پر دوی بریدونه کوي او نجونې او ښځې به یې وپلوري.
د انساني قاچاق په اړه د امریکا متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د ۲۰۱۶ زېږدیز کال د راپور د معلوماتو له مخې، تر دې مهاله زرګونه نجونې او ښځې تښتول شوې دي، له دې ډلې ځینې مېرمنې او نجونې د کورني تاوتریخوالي، په زور سره د کار او اجباري ودونو له امله د یادو وسله والو ډلو په لومه کې لوېدلې دي.
هغه مېرمنې چې د بوکو حرام ډلې له بنده ازادې شوې دي وايي، کومې مېرمنې چې له جنګیالیو سره له واده کولو سرغړونه کوي، د مینځو ښځو تر لاس لاندې کار کوي. په جګړې ځپلو سیمو کې د ښځو او نجونو تښتول ډېری مهال د پیسو ترلاسه کولو لپاره هم ترسره کېږي چې دغه کار د انساني قاچاق او اختطاف تر منځ شته حدود ګډوډ کړي دي؛ ډېری د ښځو او نجونو تښتولو پېښې چې په سوریه او عراق کې د جنسي ګټې اخیستنې لپاره رامنځته شوې، د پیسو ترلاسه کولو په شرط دا ښځې او نجونې بېرته خپلو کورنیو ته سپارل کېږي چې دغه کار له ترهګرو ډلو سره له مالي اړخه مرسته کوي. که له داعش سره برمته شوې ښځې او نجونې د داعش له وسله والو پرته پر نورو کسانو وپلورل شي، نو سرغړوونکي ته د مرګ سزا ورکول کېږي، خو د داعش ډېری وسله وال د برمته شوو ښځو او نجونو د پلور په یاده چاره کې ښکېل دي، ځیني خو ان د پلور معامله په قسطونو هم ترسره کوي.
داعش ډلې د ۲۰۱۶ زېږدیز کال په جنوری میاشت کې له یزیدي کورنیو اته سوه او پنځوس زره ډالره ترلاسه کړل او په بدل کې یې د دې کورنیو ۲۰۰ برمته شوي کسان ور وسپارل.
داسې اټکل کېږي چې داعش ډلې په ۲۰۱۴ زېږدیز کال کې له یزیدي لړکیو له ۳۵ تر ۴۵ میلیونه ډالره د جریمې په توګه ترلاسه کړي دي. په جګړې ځپلو سیمو کې جنسي تاوتریخوالی د دې لامل ګرځي څو خلک له خپلو سیمو بېځایه شي چې دغه کار انساني قاچاق ته لار هواروي.
وسله والې ډلې په لیبیا کې کډوال او پناه غوښتونکي اجباري کارونو ته مجبوروي او په پوځي برخه کې یې خدمت ته اړ باسي. دغه راز له هغوی جنسي ګټه هم اخلي. دغه راز ځینې وسله والې ډلې په سوریه کې بهرني نارینه، ښځې او ماشومان، په ځانګړې توګه د مرکزي اسیا له هېوادونو په چل او زور بیايي، له هغوی سره په ترکیه کې د کار پیدا کولو درواغجنې ژمنې کوي او له هېواده د ایستلو ګواښونه هم ورته کوي، ډېری دغه ډول کډوال اړ شوي چې د خپلې ارادې خلاف په سوریه کې پاتې شي، په دې تړاو ۳۸ راپورونه خپاره شوي چې په عراق کې نارینه او هلکان په زور کارونو ته اړ ایستل کېږي، له هغوی د پاک کارۍ، بیارغونې، کیندنې او کرنې برخو او په حیواني فارمونو کې کار اخیستل کېږي.
بلخوا د کانګو (Congo) په ډیموکراتیک جمهوریت کې کورني بېځایه شوي وګړي د جنسي تاوتریخوالي قربانیان دي؛ هغوی د وسله والو ډلو له خوا د سرو زرو او نورو کانونو د کیندنې لپاره په اجباري ډول ګومارل کېږي او له دغو کانونو استخراج شوي مواد بیا د همدغو وسله والو ډلو له لوري په نړیوالو بازارونو کې پلورل کېږي.
د ملګرو ملتونو سازمان فعالین اندېښمن دي چې له انساني قاچاق څخه نه یوازې وسله والې ډلې ګټه پورته کوي، بلکې افریقایي هېواد اریتریا (Eritrea) او شمالي کوریا خپل وګړي د دې لپاره چې ګواکې له ګاونډیو هېوادونو سره په جګړه کې بوخت دي، قاچاق او اجباري کارونو ته اړ باسي.

## په جګړې ځپلو سیمو کې د ماشومانو ګومارنه

په چل او اجبار ګومارنه، که د ناوړه استفادې لپاره وي، د مخکني تعریف له مخې انساني قاچاق ګڼل کېږي؛ نو په دغه بنسټ په جګړه کې د وسله والو ډلو له لوري د ماشومانو ګومارنه انساني قاچاق دی.

د وسله والو ډلو له لوري د ماشومانو ګومارل په جګړه کې انساني قاچاق ته لار هواروي؛ یادې ډلې له ماشومانو په جګړه، د توکو او وسلو په لېږدولو، پهره کولو، اشپزۍ او استخباراتي معلوماتو ترلاسه کولو کې ګټه اخلي او جنسي استفاده هم ترې کوي او دغه راز په پرله پسې ډول ځانمرګو بریدونو ته هم اړ ایستل کېږي. دغو وسله والو ډلو له بېلابېلو لارو د تاوتریخوالي او نورو برخو کې د ماشومانو روزنې ته زور ورکړی چې دا د جګړو په سیمو کې د انساني قاچاق څرګند ګواښ دی.

په نړۍ کې د ځینو جګړو له لومړیو کرښو ډاکترانو د انساني قاچاق د څرنګوالي په تړاو معلومات ورکړي چې له ماشومانو د جنسي استفادې، د هغوی پر غلامۍ نیول، په زور باندې کارونو ته اړ کول او اجباراً د پوځ په لیکو کې یې د ګومارنې موارد په کې راځي؛ د بېلګې په ډول اوسمهال داعش او بوکو حرام ډلې دواړه په ښکاره د نړیوالو قوانینو او اصولو خلاف مېرمنې او ماشومان خپل مریيان ګرځوي، ځینې نورې وسله والې ډلې هم ځایي اوسېدونکي، کډوال او بهرنیان په زور درنو او سختو کارونو ته اړ باسي. دغه راز په افغانستان کې هم د دولتي ځواکونو او وسله والو طالبانو په لیکو کې ماشومان لیدل شوي دي.

د یوې ډلې برېتانوي کارپوهانو راپور ښودلې ده چې داعش ډله له ماشومانو د جاسوسانو، واعظانو، سرتېرو، ځانمرګو او ماین خښوونکو په توګه کار اخلي، په داسې حال کې چې له نجونو بیا جنسي استفاده کوي او د کور کارونو ته یې ګوماري. په راپور کې دغه راز راغلي چې داعش د څلورو او پنځو کلونو په عمر ماشومانو ته په نیمه پوځي مدرسو کې روزنه ورکوي، د دغو ماشومان په واسطه بیا یزیدي او کردي ماشومان تښتوي او له هغوی هم په یادو برخو کې کار اخلي.


د پېشمرګو په نوم وسله والې ډلې په یوه راپور کې راغلي چې داعش ډله له ماشومانو د جګړې په لومړۍ کرښه کې استفاده کوي، هغوی ته د ځانمرګي واسکټونه ور اغوندي او بریدونو ته یې هڅوي. داسې ښکاري چې داعش ډلې له دغو ماشومانو ځیني یې په جګړو کې له زیانمن شوو کورنیو د مجبوریت له مخې پېرلي دي.

د امریکا متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت په ۲۰۱۶ زېږدیز کال کې یو راپور خپور کړ چې په کې راغلي: "داعش له فشار څخه په استفادې ماشومان د جګړې په ډګر کې د ملاتړو په توګه ګوماري، د هغوی دغه کار له

نړیوالو دوستانه قوانینو سره په تضاد کې دی او دغه راز پراخ جنګي جرایم یې ترسره کړي دي." بلخوا بیا یونیسېف په ۲۰۱۵ زېږدیز کال کې اعلان وکړ چې بوکو حرام وسله والې ډلې تر ۲۰۱۴ زېږدیز کال پورې د څلورو کلونو په موده کې ۴۴ ماشومان ځانمرګو بریدونو ته چمتو کړي وو چې بیا یې په نایجریا، کامرون او چاد کې بریدونه ترسره کړل، په دغو ماشومانو کې ۷۵ سلنه یې نجونې وې.
دغه راز بوکو حرام ډله ماشومان سوال کولو ته هم اړ باسي څو له دې لارې د خپلې ډلې یوه برخه مالي لګښت پوره کړي. له یادو ماشومانو نه یوازې په پوځي برخه کې د سرتېرو، بلکې د ځانمرګو بریدګرو په توګه هم کار اخلي کار اخیستل کېږي. د ماشومانو او وسله والو جګړو په تړاو د ملګرو ملتونو سازمان د عمومي منشي وروستی راپور ښيي چې د الشباب، بوکو حرام، داعش او لارد مقاومت ډلو (LRA)له لوري په ډېر شمېر ماشومان تښتول کېږي چې افغانستان او سویلي سوډان هم له داسې پېښو خوندي نه دي. د ماشومانو ګومارنې زیاتېدو کچه په ګوته کوي، ځیني پر دې ګومان دي چې یو مهال د لارد مقاومت ډلې ۹۰ سلنه وسله وال ماشومان وو.
د کانګو په جمهوریت کې شاوخوا دېرش زره ماشومان د سرتېرو په توګه دندې ترسره کوي چې له ۱۵ تر ۳۰ سلنه یې له ۱۸ کلونو د ټیټ عمر نوي ګومارل شوي ماشومان دي. په یمن کې له ۲۰۱۴ تر ۲۰۱۵ زېږدیز کال پورې د ماشومانو ګومارنې په اړه راپور خپور شوی چې ۵۰۰ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.
د یونسېف د راپور له مخې، د عراق په کردستان ولایت که له ۳۰ سلنه هغو ماشومانو سره مرکې شوې چې د وسله والو ډلو له لوري یې د ګومارنې هڅې شوې وې. د انساني قاچاق په تړاو د ملګرو ملتونو سازمان ځانګړی استازی په دې وروستیو کې دې پایلې ته رسېدلی، کوم ماشومان چې په بحراني شرایطو کې ژوند کوي، په پوځي برخه کې د هغوی د ښکېلتیا چانس زیات دی. د جګړې ځپلو سیمو ماشومان له خپلو کورنیو او سیمې جلا کېږي او په محدوده کچه روزنې ته لاسرسی لري.
ښايي په ځینو مواردو کې ماشومان د یو شمېر نورو شرایطو له امله وګومارل شي؛ لکه کورنۍ یې اړې شي هغوی وپلوري چې دغه کار هم د کارونو لپاره د ماشوم ګومارلو ته لار هواروي؛ د بېلګې په ډول په سومالیا کې د وسله والو ډلو له لوري پر کورنیو مالیه وضعه شوې ده، خو ځینې کورنۍ یې د ورکولو توان نه لري، نو مجبورې دي خپل ماشومان وپلوري. ماشومان نه یوازې د جګړې په سیمو کې پر کارونو ګومارل کېږي، بلکې د جګړې ځپلو سیمو پر ماشومانو جګړه هم کېږي. په سوریه کې د وسله والو ډلو څو بېلګې شته چې په ساحل کمپ کې د امریکا متحده ایالتونو د منځنۍ کچې کورنیو ماشومانو له لوري روزنه ورکول کېده.

## په سوېلي اسيا کې انساني قاچاق

د انساني قاچاق ستونزه يواځې افغانستان ته ځانګړې نه ده، بلکې دا يوه سيمه ييزه او نړيواله ستونزه ده. سوېلي اسيا د انساني قاچاق لپاره يوه حياتي سيمه ده؛ د اټکل له مخې په سوېلي اسيا کې شاوخوا ۲۰ ميليونه کسان قاچاق کېږي چې د دې پېښو ډېره برخه په هند کې ده.




د اسيا نقشه

ځيني لاندي حقايق په نظر کې ونيسئ:

۱- د نړيوال مرييتوب انډکس يا شاخص (Global Slavery Index) د هغو هېوادونو په کتار کې چې تر ټولو ډېر استثمار شوي وګړي لري، هندوستان په لومړي، پاکستان په دريېم او بنګله دېش په نهم مقامونو کې درولي دي.

۲- د امريکا متحده ايالتونو د بهرنيو چارو وزارت د ۲۰۱۸ زېږديز کال د انساني قاچاق راپور افغانستان، پاکستان، هندوستان، نيپال او سريلانکا د دويمې درجې، دغه راز بنګله دېش، بوتان او مالديف تر څارنې لاندې دويمه درجې هېوادونو په لېست کې شامل کړي دي.

۳- په سوېلي اسيا کې د ماشومانو کار ته هغه مهال ډېر پام واوښت چې په ۲۰۱۴ زېږديز کال کې د نوبل جايزې کمېټې خپله د سولې جايزه کيلاش ستيارتي، يو ۶۰ کلن هندوستاني چې خپل ژوند يې په دغه هېواد کې د ماشومانو د حقونو لپاره مبارزې ته وقف کړی او ملاله يوسفزۍ يوې ۱۷ کلنې سواتۍ نجلۍ ته چې طالبانو د نجونو د زده کړو د حق د ترويج په پلمه د ۲۰۱۲ زېږديز کال په اکتوبر مياشت کې وېشتلې او ټپي کړې وه، ورکړه. ستيارتي د ملالې په څېر مشهور نه دی خو په سيمه کې د بشري حقونو يو مهم مدافع دی.

پر ماشومانو کار کول په هندوستان کې یو عام دود ګرځېدلی؛ په دغه هېواد کې په تېره بیا د خښتو وهلو او غالۍ اوبدلو په صنعت کې شاوخوا ۵۰ میلیونه ماشومان بوخت دي. دغه راز پر ماشومانو د سختو کارونو کول په پاکستان، بنګله دېش او نیپال هېوادونو کې هم یوه لویه ستونزه ده.
۳- انساني قاچاق په سوېلي اسیا کې د ټولنیزې او اقتصادي ودې خنډ ګرځېدلی، په ټولنه کې یې تاوتریخوالي ته وده ورکړې ده چې له امله یې هم خلک او هم دولتونه زیانمن شوي دي.
۴- د نړیوال کېدو ښکارنده او ډیموګرافیکي بدلونونه ارزانه کار ته د تقاضا ډېرېدو او د هېواد دننه او بهر د خلکو د کډوالۍ لامل ګرځېدلي دي.
۵- اقتصادي نه خوندیتوب او بېوزلي په سیمه کې د کار او جنسي قاچاق تر ټولو مهم لاملونه دي.
۶- د سوېلي اسیا ډېر شمېر وګړي د کارګرانو یا په کورنیو کې د مزدورۍ په موخه بهر ته قاچاق کېږي. د سوېلي اسیا ډېری هېوادونه د انساني قاچاق د مخنیوي لپاره کلک هوډ نه لري؛ ځکه چې د عوایدو لپاره پر هغو پیسو چې دغه کارګر یې له بهره خپلو کورنیو ته لېږي، تکیه کوي؛ د اسیا، په ځانګړې توګه د سوېلي اسیا هېوادونه د مسافرو له خوا کور ته د پیسو لېږلو له درکه په کال کې ۲۰۶ میلیارده ډالر عاید لري؛ د بېلګې په توګه، هغه پیسې چې مسافر یې خپل کور ته لېږي، د نیپال د کورني نا خالص تولید ۲۲ سلنه او د بنګله دېش د کورني نا خالص تولید ۱۰ سلنه برخه جوړوي. د دغو حوالو پر اقتصاد باندې تکیې د استثمار یوه نه ختمېدونکې لړۍ رامنځته کړې ده، له همدې امله حکومت د انساني قاچاق په چارو کې مداخله نه کوي او خپلو هغو اتباعو ته چې د کار لپاره بهر ته ځي، د اړتیا وړ معلومات نه ورکوي.
په دې وروستیو کلونو کې د انساني قاچاق پر وړاندې په مبارزه کې د سوېلي اسیا هېوادونو یو لړ پرمختګونه کړي، خو مرتکبینو ته د جزا ورکولو کچه په نسبي ډول ټیټه پاتې ده. د سوېلي اسیا هېوادونو تر منځ د منطقوي همکاریو سازمان (**SAARC**) کنوانسیون چې په ۲۰۰۲ زېږدیز کال کې تصویب شو، له انساني قاچاق سره د مبارزې لپاره د سیمې هېوادونو د هڅو د همغږۍ په ډګر کې یو ستر ګام بلل کېږي.
انجیوګانې او شرکتونه په سوېلي اسیا کې د انساني قاچاق پر وړاندې هڅو کې مهم رول لوبوي؛ د بېلګې په توګه، ګوګل شرکت په ۲۰۱۱ زېږدیز کال کې ۱۰ انجیوګانو ته د انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې لپاره ټولټال ۱۱/۵ میلیونه ډالره بودجه ورکړه. د ګوګل دغه پانګونه د نړیوال عدلي سازمان (IJM)، پولاریس پروژې او سیلوري فوټپرینټ (Footprint Slavery) موسسو تر مشرۍ لاندې د انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې په لار کې ولګول شوه. ګوګل د دې لارې مخکښ دی او په ډاګه کړې یې ده چې نړیوال شرکتونه په دې تړاو مهم رول لوبولی شي؛ داسې چې د خپلې اړتیا وړ خامو توکو د تولید او لېږد لړۍ تر څارنې لاندې وساتي او په هغو سیمو کې چې دوی سوداګري کوي، د انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې په لار کې اغېزمن ګامونه پورته کړي.

**هندوستان:**

سره له دې چې هندوستان په تېره لسیزه کې نسبتاً ښه اقتصادي وده کړې ده، خو بیا هم بېوزلي په کې ډېره ده؛ نږدې ۳۰ سلنه وګړي یې هر یو د ورځې په دوو ډالرو ژوند کوي او د کلیوالي سیمو ښځې یې تر ډېره زده کړو او کار ته لاسرسی نه لري.

د قانون د تنفیذ فاسد چارواکي په هندوستان کې تر ډېره د انساني قاچاق قربانیانو لېږد رالېږد اسانه کوي او یا هم د انساني قاچاق کوونکو ملاتړ کوي چې په دې توګه دغه ستونزه نوره هم غځېږي. هندي انجیوګانې راپور ورکوي چې پولیس په ډېرو مواردو کې د فحشا د هغو مرکزونو پر وړاندې چې له صغیرو نجونو د استفادې ګومان پرې کېږي، اقدام نه کوي او د لکشمي په نوم یو مستند فلم د دغه کار یوه بېلګه بلل کېدای شي. هندوستان له ۲۰۰۶ زېږدیز کال څخه تر ۲۰۱۰ زېږدیز کال پورې تر څارنې لاندې دویمه درجه هېوادونو په لېست کې و؛ په ۲۰۱۱ زېږدیز کې یې له دې امله چې داسې قانون یې پاس کړ چې له مخې یې د پور په بدل کې کار د انساني قاچاق یو ډول وباله او د ځینو نورو اقداماتو له امله چې د دولت په کچه ترسره شول، دغه هېواد دویمې درجې ته ارتقا وکړه؛ د بېلګې په توګه په هندوستان کې د قربانیانو د شمېر له زیاتېدو سره سره د انساني قاچاق کوونکو د عدلي او قضایي تعقیب کچه ټیټه شوې ده. هند وکولی شول تر ۲۰۱۸ زېږدیز کال پورې د دویمې درجې هېوادونو په لېست کې ځان وساتي.

په هند کې د تېرو کلونو په اوږدو کې د ګوا ښار د ګرځندوی صنعت غړو د جنسي انساني قاچاق پر ضد د چلند اصولو یو سند تصویب کړ. دغه راز د ګوا ایالتي حکومت یو قانون تصویب کړ چې د سیل ځایونو څښتنان او مدیران په خپله سیمه کې د ماشومانو د امنیت مسوولیت لري، نو په دې سره د انساني قاچاق کچه په کې څه را ټیټه شوه.

**بنګله دېش:**

بنګله دېش د اجباري کار او جنسي استثمار یوه سرچینه ده؛ په ۲۰۰۹ زېږدیز کال کې دغه هېواد تر څارنې لاندې د دویمې درجې هېوادونو په لېست کې و، خو کله چې یې پارلمان په ۲۰۱۲ زېږدیز کال کې د انساني قاچاق د مخنیوي قانون تصویب کړ، دویم درجه هېوادونو لېست ته یې ارتقا وکړه. په ۲۰۱۲ زېږدیز کال کې له انساني قاچاق سره د مبارزې قانون تر تصویبولو وروسته په بنګله دېش کې د انساني قاچاق د تورنو د عدلي او قضایي تعقیب کچه لوړه شوې خو د تورنو د محکومېدو کچه لا تر اوسه هم ټیټه پاتې ده. خو د امریکا متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د ۲۰۱۷ زېږدیز کال د راپور له مخې، بنګله دېش یو ځل بیا تر څارنې لاندې دویمه درجه هېوادونو په لېست کې شامل شو؛ علت یې دا و چې د دغه هېواد حکومت د تېر راپور ورکولو دورې په پرتله د زیاتو هڅو ښودنه نه وه کړې او په ۲۰۱۸ زېږدیز کال کې هم په همدې درجه کې پاتې شو.

د انساني قاچاق په جرمونو کې د دولت پلټنې، تعقیب او محکومیت کم شوی و. په بنګله دېش کې د انساني قاچاق په جرمونو کې رسمي پېچلتیا یوه جدي ستونزه پاتې ده، خو تر اوسه حکومت د څېړنې هڅه نه ده کړې. دغه راز حکومت په داسې یو رسمي میکانیزم جوړولو کې پاتې راغی چې د انساني قاچاق قربانیانو ته محافظتي خدمتونه وړاندې کړي.

په دې وروستیو کې ټایلنډ ته د ۱۳۰ بنګله دېشیانو د قاچاق شوو د ژغورل کېدو خبر د انساني قاچاق د ستونزې چې تر ډېره د عامو خلکو له لید څخه پټه پاتې کېږي او لږ پام ورته کېږي، ژوروالی روښانه کړ. انساني قاچاق کوونکو بنګله دېشي نارینه وو ته د کار وعده ورکړې وه خو کله چې دغه نارینه یې لاس ته ورغلل، هغوی یې د ټایلنډ کمپونو، چېرې چې هغوی په منظم ډول وهل ټکول کېدل، استثمارېدل او له خوړو بې برخې کېدل، بوتلل.

پولیس او د بشري حقونو د ملاتړ ډلې وایي چې په دې وروستیو کې د بنګله دېش په سوېلي پوله کې انساني قاچاق زور اخیستی؛ ځکه چې د برما انساني قاچاق کوونکو خپل فعالیتونه پراخ کړي دي.
کله چې په بنګله دېش کې په ۲۰۱۲ زېږدیز کال کې د انسان له قاچاق سره د مبارزې قانون نافذ شو، له مخې یې د انساني قاچاق ځانګړې محکمه جوړه شوه، څو د انساني قاچاق قضیې په چټکۍ سره حل او فصل شي.

## نیپال:

د معلوماتو له مخې، په نیپال کې انساني قاچاق کوونکي د خپلو چارو اسانه کولو لپاره له بېو ورکولو، له سیاستوالو، پولیسو او د ګمرکونو له کارکوونکو سره له اړیکو کار اخلي. د انساني قاچاق د ۲۰۱۴ زېږدیز کال د راپور له مخې، د نیپال د کار دلالان هم درغلي کوي او د خپلو خدمتونو په بدل کې ډېر لوړ فیس اخلي. نیپالي چارواکو په دې وروستیو کې د انساني قاچاق د مجرمینو د قضیو د تعقیب په موخه یوه نوې اداره جوړه کړه؛ دغې ادارې یو شمېر دولتي چارواکي او د خصوصي سکتور مالکان د استخدام په چارو کې پر درغلۍ تورن کړل.
د نیپال هغه کلی چې له هندوستان سره پر پوله پروت دی، نږدې ۹۵ سلنه اوسېدونکي یې بډوډې نه لري، ټولو خپل بډوډې د هندوستان په روغتونونو کې پر نورو کسانو پلورلي دي.
د امریکا متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د ۲۰۱۷ زېږدیز کال د راپور له مخې، نیپال د دویمې درجې هېوادونو په لېست کې ځای لري او په ۲۰۱۸ زېږدیز کال کې هم په همدې درجه کې پاتې شو.

## پاکستان:

پاکستان تر ۲۰۱۷ کال پورې تر څارنې لاندې د دویمې درجې هېوادونو په لېست کې و خو د امریکا متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د ۲۰۱۸ زېږدیز کال د راپور تر خپرېدو وروسته یې د دویمې درجې هېوادونو لېست ته ارتقا وکړه. د پاکستان د انساني قاچاق تر ټولو لویه ستونزه د پور په بدل کې کار دی. دا هغه سکتور دی چې د کارځایونو مالکان له خپلو پورورو په ناوړه استفادې سره هغوی استثمار کوي چې ډېری وختونه دغه استثمار ان راتلونکو نسلونو ته هم په میراث پاتې کېږي.
په پاکستان کې شاوخوا دوه تر څلور میلیونه داسې کارکوونکي شته چې د پور په بدل کې کار کوي چې ډېری یې د کرنې او خښتو وهلو په برخو کې بوخت دي چې یو شمېر یې افغان کډوال دي. د پاکستان حکومت له انساني قاچاق سره د مبارزې لپاره له نړیوالو سازمانونو سره په ګډه کار کړی او ګڼ شمېر کسان یې د پور په بدل کې له کاره ژغورلي خو د انساني قاچاق کوونکو په مجازاتولو کې پاتې راغلی دی.

## سریلانکا:


سریلانکا هم تر اوسه تر ۲۰۱۶ زېږدیز کال پورې تر څارنې لاندې د دویمې درجې هېوادونو په لېست کې و خو د امریکا د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د ۲۰۱۷ زېږدیز کال له راپور خپرېدو وروسته یې د دویمې درجې هېوادونو لېست ته ارتقا وکړه او دغه درجه یې په ۲۰۱۸ زېږدیز کال کې هم وساتله.
سریلانکا هم په تېرو درېیو کلونو کې د انساني قاچاق کوونکو په مجازات کولو کې پاتې راغلی او د انساني قاچاق د قربانیانو د ساتنې لپاره خورا لږ خدمتونه وړاندې کوي.

**بوتان:**

د امریکا متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د ۲۰۱۷ زیږدیز کال د راپور له مخې، بوتان د دویمې درجې هېوادونو په لېست کې ځای درلود خو په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې دغه هېواد یوه درجه؛ یعنې له دویمې درجې څخه تر څارنې لاندې دویمې درجې ته تنزیل وکړ، بیا یې هم ونه شو کولی د انساني قاچاق د زیانمن شوو د ساتنې قانون (TVPA's) لږ تر لږه معیارونه پوره کړي.

**مالدیف:**

د امریکا متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د ۲۰۱۷ زیږدیز کال د راپور له مخې، مالدیف د دویمې درجې هېوادونو په لېست کې ځای درلود خو په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې یې ونه شو کولی خپله دغه درجه وساتي، نو یوه درجه یعنې له دویمې درجې، تر څارنې لاندې دویمې درجې ته یې تنزیل وکړ.



جنسي ګټې اخیستنه د ښار او کلیو په ګډون هر ځای، د عمر په ټولو پړاوونو او ټولنیزو برخو کې رامنځته کېږي. په انسان قاچاق کې تابعیت او د زېږېدو ځای مطرح نه وي؛ ځکه دغه ناوړه کار په ټولو هېوادونو کې رامنځته کېږي.

باید وویل شي چې لا هم ډېری نجونې په بدو کې ورکول کېږي، له بده مرغه دغه کار د انساني قاچاق کلتوري بڼه خپله کړې ده او نجونو ته یې له تاوتریخوالي او خپګان څخه ډک ژوند ور په برخه کړی دی.

# څلورم څپرکی
# په افغانستان کې انساني قاچاق

## په افغانستان کې د انساني قاچاق وضعیت

انساني قاچاق په افغانستان کې دننه او بهر د بېلابېلو موخو لپاره د اغېزمن شوو خلکو له انساني حقونو سرغړونه ده چې اوږده مخینه لري او ډېره حساسه موضوع ده. انساني قاچاق له کمزوالی، فقر، ټولنیز محرومیت، جنسیت، پیسو، زور او تاوتریخوالي سره تړاو لري. د هر عمر نارینه او ښځې د بېلابېلو موخو لپاره، لکه په افغانستان کې د بدن د غړو پلور، جنسي تېرې او د سختو کارونو ترسره کولو ته مجبورېږي او یا هم له پولو ها خوا د قاچاق لپاره بېلابېلو ځایونو ته وړل کېږي. افغانستان هم د کار او جنسي اغراضو لپاره د انساني قاچاق سرچینه، د لېږد ځای او هم یې مقصد ځای دی. د ماشومانو کار په تېره بیا د خښتو اچولو او غالی اوبدلو په صنعت کې خورا ډېر لیدل کېږي.
افغانستان په ۲۰۱٦ زېږدیز کال کې پر دې وتوانېد چې له انساني قاچاق سره د مبارزې په برخه کې خپلې هلې ځلې ګړندۍ کړي چې له امله یې افغانستان د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د کلني راپور په درجه بندۍ کې تر څارنې لاندې هېوادونو له ډلې دویمې درجې ته پورته شو.
د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په نړۍ کې د انساني قاچاق په اړه په خپل کلني راپور کې افغانستان یو له هغو هېوادونو بللی و چې په ۲۰۱۶ زېږدیز کال کې د انساني قاچاق د مخنیوي لپاره په کې یو لړ د پام وړ پرمختګونه شوي دي. د همدغه راپور له مخې، افغانستان له میانمار، قطر او مالیزیا سره د هغو هېوادونو په ډله کې یاد شوی چې په ۲۰۱۶ زېږدیز کال کې یې د انساني قاچاق د بېلابېلو بڼو د مخنیوي لپاره د پام وړ اقدامات کړي، خو لا یې هم د دې پدیدې د مخنیوي لپاره لږ تر لږه نړیوال معیارونه نه دي پوره کړي.
راپور وایي، د ۲۰۱۷ زېږدیز کال په جنورۍ میاشت کې افغان حکومت یو نوی قانون تصویب کړ چې هدف یې د انساني قاچاق د بېلابېلو بڼو مخنیوی دی او همدارنګه یې د بچه بازۍ ناوړه پدیده جرم وګڼله.
د امریکا متحده ایالتونو بهرنیو چارو وزارت په دغه کلني راپور کې د افغان حکومت هغه اقدام هم ستایل شوی چې د یوه نړیوال سازمان پر مالي بودجه یې د قاچاق د قربانیانو لپاره د لنډمهالې سرپناه مرکز پرانیست او دغه راز افغان حکومت د ماشومانو ساتنې ۱۵ مرکزونه رامنځته کړي چې شاوخوا ۳۰۰ ماشومان یې په امنیتي ځواکونو کې له ګومارلو څخه ژغورلي دي، خو پر دې سربېره د انساني قاچاق په اړه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت راپور کاږي چې افغانستان لا هم د انساني قاچاق د مخنیوي لپاره په مهمو برخو کې لږ تر لږه نړیوال معیارونه نه دي پوره کړي.
په راپور کې د افغان امنیتي ځواکونو له خوا د کم عمره ماشومانو استخدامولو ته اشاره شوې چې په وینا یې، لا هم دا ستونزه په بشپړه توګه له منځه نه ده تللې او همدارنګه د انساني قاچاق قربانیانو لپاره د خوندیتوب او ساتنې په هڅو کې شته نیمګړتیاوو ته ګوته نیول شوې ده. راپور وایي، افغان حکومت نه دی توانېدلی چې د قربانیانو د تشخیص او مرستې لپاره معیارونه واضح کړي چې له کبله یې ډېر کله د انساني قاچاق قربانیان د جنایتکارو په توګه نیول کېږي او محکمه کېږي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په یاد راپور کې د افغانستان په ختیځ کې د خښتو په بټیو کې له ماشومانو سره د یو ځای، ګرو شوو کورنیو ته اشاره کړې چې له نسلونو راهیسې د ډېرو کمو پیسو په بدل کې د دوی له مجبوریته په ناوړه استفادې په زور کار ته اړ ایستل شوې او دغه راز د غالیو اوبدلو په برخه کې له ښځو او ماشومانو کار اخیستل هم یاد شوي دي. په راپور کې افغان حکومت ته سپارښتنه شوې چې د امنیتي ځواکونو په لیکو کې دې د ماشومانو استخدام په بشپړه توګه پای ته ورسوي. دغه راز د نورو سپارښتنو تر څنګ د انساني قاچاق د مخنیوي لپاره د تصویب شوو قوانینو پر عملي کېدو او په دې برخه کې له سرغړوونکو سره پر قانوني چلند هم ټینګار شوی دی.
د افغانستان د حکومت د راپورونو له مخې، په تېرو دوو کلونو کې ۲۱۱ کسان د انساني قاچاق په تور نیول شوي چې له دغه شمېر څخه ۱۱۹ یې څارنوالۍ ته معرفي شوي چې لومړنۍ محکمې بیا له دې ډلې ۷۲ کسانو ته له درېیو میاشتو

څخه تر لسو کلونو پورې سزا اورولې ده. همدارنګه په ۲۰۱٦ زېږدیز کال کې د ملي اردو پنځه سرتېري پر یوه ماشوم د جنسي څورونې له امله ونیول شول چې بیا وروسته د ملي اردو پوځي محکمې له یادو کسانو یو کس پر دوه کاله او بل پر یو کال بند محکوم کړل او درې نور یې د شواهدو د نه شتون له امله خوشي کړل. دغه راز د ۲۰۱۷ زېږدیز کال په فبرورۍ میاشت کې د پولیسو د یوې حوزې مشر او شپږ نور امنیتي غړي د بچه بازۍ په یو پروګرام کې د ګډون له امله ونیول شول چې د حوزې مشر بیا له دندې ګوښه کړای شو. بل لور ته د اجباري کارونو د مخنیوي په برخه کې د حکومت د اقداماتو په اړه معلومات شتون نه لري او دغه راز د عامه پوهاوي د نه ترسره کېدو له امله تر اوسه د قانون پلي کوونکي او قضایي چارواکي د انساني قاچاق او کډوالو قاچاق لپاره یوه کلمه کاروي؛ چارواکو هڅه کړې چې د دغو اصطلاحاتو لپاره بېلابېلې کلمې او تعریفونه په نوي قانون کې ځای پر ځای کړي، خو نړیوالو څارونکو اندېښنه ښودلې چې افغان حکومت به په اغېزناک ډول ونه شي کولی ولایتي پولیس او څارنوالان د نوو اصطلاحاتو په برخه کې وروزي. خو بل پلو بیا د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د ۲۰۱٤ زېږدیز کال په راپور کې راغلي هغه کسان چې په بچه بازۍ اخته دي، د قانون پلي کوونکو، څارنوالانو او قاضیانو ته بډې ورکوي او یا هم ورسره اړیکې لري چې له امله یې تر هېڅ ډول عدلي تعقیب لاندې نه دي راغلي. همدارنګه افغانان د بهرنیو هېوادونو په پرتله په خپله افغانستان کې په لوړه کچه له انساني قاچاق سره مخ دي چې په زور کار او جنسي سوداګرۍ ته اړ ایستل کېږي.

په افغانستان کې د انساني قاچاق ډېرى قربانیان ښځې او ماشومان دي چې په غالۍ اوبدنې، د خښتو په بټيو، د خدمت لپاره په کورونو، جنسي سوداګرۍ، سوال کولو، د هېواد له پولو بهر د نشه یي توکو په قاچاق، په افغانستان او همدارنګه په منځنۍ ختیځ، اروپا او سوېلي اسیا کې په صفا کارۍ او په جنسي ناوړه ګټې اخیستنه کې ترې کار اخیستل کېږي.

د افغانستان په ډېرو سیمو، په ځانګړي ډول کلیوالو سیمو کې ښځو ته د میراث حق نه ورکول کېږي، د هغوی خپلوان چې په میراث کې یې حق هم نه وي، په غیر شرعي او غیر قانوني ډول ښځې له میراث څخه محروموي، هغه کورنۍ چې نارینه نه لري، هغه ځان ته او یا د کورنۍ غړو ته په نکاح کوي او یا یې پر نورو پلوري.

له افغانستانه بهر هم افغان ماشومان په ایران او پاکستان کې په ساختماني او کرنیزو سکټورونو کې له اجباري کار سره مخ کېږي. دغه راز په پاکستان کې د افغان قربانیانو لویه برخه ښځې او نجونې جوړوي چې د جنسي استمتاع (خوند اخیستل) او په زور د ودونو په موخه انساني قاچاق کېږي. همدارنګه په پاکستان او ایران کې دغه قربانیان فحشا او په کورونو کې خدمت کولو ته هم اړ ایستل کېږي.

**په انساني قاچاق کې د کورنیو ونډه**

ځینې کورنۍ خپل ماشومان د کار د دلالانو په لاس د کار لپاره لېږي، خو د دغو ماشومانو برخلیک بیا داسې کېږي چې له انساني قاچاق سره مخ کېږي. هغه کورنۍ چې کوکنار کري، کله چې د قاچاقبرو د پور په ورکولو کې پاتې راشي، خپل ماشومان ورباندې پلوري.

د افغان حکومت او ملګرو ملتونو سازمان له قوله، ترهګر له ماشومانو په زور ځانمرګي جوړوي. د بدخشان، تخار، بغلان، کندوز او بلخ ولایتونو ماشومان او همدارنګه هغه ماشومان چې یواځې سفر کوي، په ځانګړې توګه د انساني قاچاق کوونکو ښکار ګرځي. ځینې سړي، ښځې او ماشومان ډېر کله د انسان قاچاق کوونکو ته پیسې ورکوي، څو هغوی د کار موندلو لپاره بهرنیو هېوادونو، په تېره بیا ایران، پاکستان، هندوستان، اروپایي هېوادونو او شمالي امریکا ته ورسوي؛ ځیني دغه قاچاق کوونکي بیا افغانان د هدف ځای ته تر رسولو وروسته په زور کار ته اړ کوي او یا هم د فحشا په کاروبار کې ترې استفاده کوي. په ځینو هېوادونو، په تېره بیا ایران، پاکستان، یونان، ترکیې او خلیج کې افغان ماشومان او سړي د کرنې او ساختمان په سکټورونو کې له اجباري او د پور په بدل کې له کار سره مخ کېږي. ځینې افغان ماشومان په یونان کې په داسې حال کې موندل کېږي چې د جنسي اغراضو لپاره انساني قاچاق کېږي، حال دا چې هغوی قاچاق وړونکو ته پیسې ورکړې وي چې دغه هېواد ته یې ورسوي.

داسې راپورونه شته چې افغانستان ته له فلپین، پاکستان، ایران، تاجکستان، سریلانکا او چین څخه ښځې او نجونې د جنسي اغراضو لپاره انساني قاچاق شوې دي. د کار کوونکو د استخدام ځینې شرکتونه کاریګرو ته د لوړ معاش ژمنې په

ورکولو سره هغوی له سریلانکا، نیپال، هندوستان، ایران، پاکستان، تاجکستان او نورو هېوادونو څخه افغانستان ته راولي او وروسته بیا پر هغوی اجباري کارونه کوي.

**د انسان قاچاق کوونکي څوک دي؟**
انساني قاچاق کوونکي هغه اشخاص دي چې ځان د کار د دلالانو په جامه کې هغو کسانو ته چې د کار اړتیا لري، ور پېژني او بیا د دروغو ژمنو په کولو سره هغوی هڅوي چې ورسره ولاړ شي چې بیا وروسته یې د زور کار لپاره د کار د خاوندانو په لاس ورکوي. هغوی کار ورکوونکو ته د انسانانو د په لاس ورکولو له لارې د ګټې ترلاسه کولو لپاره د زور له وسایلو کار اخلي. د کار خاوندان پر کارکوونکو باندې د سختو شرایطو په منلو سره خپلې ګټې زیاتوي.

**دلالان څوک دي؟**
په افغانستان کې دلالان (منځګړی رول لوبوونکي) د فعالیت په څرنګوالي او د کار په سکتور پورې اړه لري. په هغو سکتورونو کې چې ډېر شمېر کارګرو ته اړتیا لري، لکه د خښتو بټی، دلالان زیانمنونکي کسان له استثماري کاري فرصتونو سره تړي. په دغو صنایعو کې د کار خاوندان د خپلې ګټې یوه برخه دغو دلالانو ته ورکوي. دلالان په هغو سکتورونو کې هم کارول کېږي چې وروستي ګټه اخیستونکي یې شتمن کسان وي. کم عمره ماشومان ډېری وخت د دلالانو له لارې د بچه بازۍ لپاره ګومارل کېږي چې ګټه اخیستونکي یې شتمن او ځواکمن نارینه دي، د دغه کار بېلګې د افغانستان په شمالي ولایتونو کې ډېرې لیدل شوې دي.
د انساني قاچاق په نورو مواردو کې شخص په مستقیمه توګه د کار د خاوند یا د وروستي ګټه اخیستونکي له خوا په استثماري وضعیت کې اچول کېږي. دغه حالت په هغو سکتورونو کې عام دی چې انساني قاچاق په کې لږ لیدل کېږي. د اجباري فحشا په ډېرو مواردو کې د نجلۍ د کنټرول ترلاسه کولو لپاره په زور واده د یوې وسیلې په توګه کارول شوی او وروسته بیا هغه د مېړه یا خسرخېلو له خوا فحشا ته سوق شوې ده. په دغو مواردو کې مېړه یا د هغه کورنۍ د کار د خاوند یا پېرونکي په توګه عمل کوي.
په غیر قانوني سکتورونو، لکه د نشه یي توکو قاچاق او جرمي فعالیتونو کې د وګړو په استخدامولو او مجبورولو کې د دلالانو رول هومره د پام وړ نه دی؛ په دغو حالتونو کې وروستي ګټه اخیستونکي معمولاً د زور او یا هم چل او ول له لارې کسان د استثمار لپاره تر خپلې ولکې لاندې راولي. په دغو مواردو کې د هغه شخص یا شبکې لپاره چې د کار د خاوند او یا هم د وروستي ګټه اخیستونکي په توګه عمل کوي، د دلالانو کارول غیر ضروري دي او یا هم خطرناکه تمامېږي.

## په افغانستان کې د انساني قاچاق لاملونه

نا امني، د ښکېلو غاړو په جګړو کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله، فقر، وزګارتیا، له ماشومانو ناوړه ګټه اخیستنه، پر ماشومانو درانه کارونه کول د انساني قاچاق مهم لاملونه دي او لا هم ګڼ شمېر افغانان له دغو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي. په هېواد کې لس میلیونه ماشومان زده کړو ته لاسرسی لري، خو لا هم ډېر ماشومان چې ډېره برخه یې نجونې دي، زده کړو ته لاسرسی نه لري. دغه راز د هېواد نیمايي وګړي بېوزله دي چې له بده مرغه له دې پدیدې وسله وال مخالفین او مافیايي کړۍ ناوړه ګټه اخلي. لا هم ډېری افغانان عدالت ته لاسرسی نه لري، د قانون حاکمیت ډېر کمزوری دی، د سیمه ییزو پولیسو په لیکو کې د ماشومانو او بچه بازۍ شتون یوه ستونزه ده، دغه راز په هېواد کې ګڼ شمېر ښځې له بېلابېل ډول تاوتریخوالي سره مخ دي.

په افغانستان کې انساني قاچاق د نشه یي توکو او وسلو له سوداګرۍ وروسته درېیمه ناروا سوداګري ده چې په غیر قانوني توګه د انسان پېر او پلور باندې اطلاق کېږي او د افغانستان د پولو یا تر هغې ور ها خوا او په نړیواله کچه رامنځته کېږي. افغان نارینه او ښځې په بېلابېلو عمرونو کې د افغانستان دننه او بهر تر ډېره په سرحدونو کې د جنسي تېري او سختو کارونو په موخه قاچاق کېږي. څېړنو ښودلې ده چې د انسان د قاچاق اصلي موخې ناوړه جنسي استفاده او اجباري کار دی. د انسان د قاچاق یو شمېر قربانیان وروسته له هغه چې د دې شبکو دام ته لوېږي، له څو ځلي لاس په لاس کېدو وروسته اړ کېږي چې تن پلورنې ته مخه کړي. د انسان قاچاق چې په اوسني عصر کې د غلامۍ نوې بڼه ګڼل کېږي، نن د یو شمېر اشخاصو، افرادو ځانګړو کړیو له لوري د افغانستان په دننه او بهر کې په یوه ناقانونه سوداګرۍ او د ډېرو عوایدو په یوه سرچینه بدل شوی دی.

ډېری افغانانو له غیر قانوني لارو خپل هېواد پرېښی او په نورو هېوادونو کې یې د پناه اخیستو غوښتنه کړې ده. د هېواد پرېښودو ته د ځوانانو ورځ تر بلې زیاتېدونکی تمایل د دې لامل شو چې په افغانستان کې د انساني قاچاق شبکې هم فعالې شي؛ دغه شبکې تر ډېره په سرحدي ولایتونو لکه هرات، نیمروز او کندوز کې فعالیت لري. د قربانیانو لویه برخه هغه ماشومان دي چې ډېری وخت د هېواد دننه انساني قاچاق کېږي او وروسته د سوالګرو په توګه او یا هم د خښتو اچولو یا غالیو اوبدلو په چارو کې ګومارل کېږي. نجونې تښتول کېږي او یا هم په زور ودونو یا فحشا ته اړ ایستل کېږي. هلکان هم انساني قاچاق کېږي او وروسته بیا په فحشا، اجباري کار، اجباري دیني زده کړو یا د وسله والو ځواکونو یا ملېشه وو او یا هم د وسله والو مخالفینو په لیکو کې د خدمت لپاره ګومارل کېږي.

ښځې انساني قاچاق کېږي او وروسته بیا فحشا، اجباري کار، اجباري واده او د کورنۍ خدمت ته سوق کېږي. ماشومان د بېوزله میندو او پلرونو له خوا چې د هغوی اعاشه او اباطه نه شي کولی، خرڅلاو ته وړاندې کېږي. نارینه انساني قاچاق کېږي او بیا په کرنه او ساختماني سکټور کې پر کار ګومارل کېږي.


په افغانستان کې د انساني قاچاق مهم لاملونه عبارت دي له:

- بېوزلي، کم عاید او لویه کورنۍ
- ټولنیز او فرهنګي اداب
- سیاسي اوضاع
- کمزورې حکومتولي

### ۱- بېوزلي، کم عاید او لویه کورنۍ

له ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۱۲ زیږدیز کال پورې د انساني قاچاق په اړه د سامینول هال (**Samuel Hall**) "په افغانستان کې معاصر مریيتوب" په نوم څېړنې له مخې، بېوزلي په افغانستان کې یوه عامه ستونزه ده، په داسې حال کې چې کورنی نا خالص تولید **۴۱۳/۴۳** ډالره و، د سروې شوو زیانمنو د کورنیو عاید د سړي پر سر په ورځ کې ۰/۵۰ ډالره وو چې په ورځ کې له ۰/۸۵ ډالرو څخه چې په هېواد کې د بېوزلۍ برید (حد) بلل کېږي، خورا ټیټ پاتې دي.

**د افغانستان د سړي سر کورنی عاید**




**د کورنۍ لویوالی** د دغو کورنیو له اقتصادي بېوزلۍ سره مرسته کوي او د دې فشار زیاتوي چې ماشومان د عاید ترلاسه کولو لپاره د انساني قاچاق د بېلابېلو ډولونو له لارې پر دندو وګومارل شي. د اقتصادي دلایلو له مخې، د شدیدې بېوزلۍ له امله په افغانستان کې ماشومان ان د خپلو والدینو له خوا پلورل کېږي چې دغه ډول پېښې بیا کمې دي.
د اړتیا پر بنسټ ماشوم کار کولو ته مجبورول له دغه اصل سره سمون خوري چې وایي: "کورنۍ یواځې هغه وخت خپل ماشومان کار ته لېږي چې د بېوزلۍ له امله د دغه کار ترسره کولو ته اړ وي." په بل عبارت، کله چې ماشوم کار نه کوي؛ یعنې کله چې ښوونځي ته ځي او تفریح کوي، د ماشوم لپاره یو عیش (هوساینه) دی.

**۲- د خوړو خوندیتوب**

الف: په حقیقت کې د انسان قاچاق کېدو په وخت کې د قرباني د خوړو خوندیتوب ښه کېږي، په تېره بیا د قرضدارۍ یا د زور کار په صورت کې؛ ځکه چې د کار ښبنتن یې د ځان په ګټه بولي چې کار کوونکو ته کافي خواړه ورکړي، څو سخت فزیکي کارونه ترسره کړای شي.
ب: کېدای شي له داسې قربانیانو سره مخ شو چې وایي: "له موږ سره ښه چلند کېده؛ اوبو، خوراک او درملنې ته مو لاسرسی درلود، خو پیسې نه راکول کېدې."
ج: ان په هغو واردو کې چې خوړو ته لاسرسی موجود وي، د خوارځواکۍ کچه لا هم لوړه وي؛ ځکه چې په خوړو کې تنوع نه وي او غذايي ارزښت یې ټیټ وي. دا ستونزه اوږدمهالې اغېزې لري، په تېره بیا د قرباني شوو ماشومانو لپاره؛ ځکه چې د هغوی په خوړو کې اړین مغذي مواد (ویټامین A، وسپنه او جست) نه وي چې د هغو د کمښت له امله په راتلونکي کې په راز راز ناروغیو اخته کېږي؛ لکه د سترګو ناروغي، د لید توان د له لاسه

ورکولو په ګډون د فزیکي او دماغي ودې شا ته پاتې والی، د وینې کمېدل او د بدن د معافیتي سیستم کمزوري کېدل.

**۳- پر نشه یي توکو روږدېدا**

الف: پر نشه یي توکو روږدي توب هغه لامل دی چې د کورنیو اقتصاد نور هم خرابېږي؛ په ځینو مواردو کې داسې پېښېږي چې پلار یا ورور د لږ عمر لرونکې نجلۍ د ولور ترلاسه کولو لپاره زاړه سړي ته په نکاح ورکوي او وروسته د هغې د ولور په نوم ترلاسه شوو پیسو باندې نشه کوي چې د دغو راپورونو بېلګې پژواک خبري اژانس خپرې کړې دي.

ب: نشه یي توکي او الکول په اجباري توګه د ځوانانو د انساني قاچاق کولو یا پر قربانیانو باندې د کنټرول لرلو لپاره د یوې وسیلې په توګه هم کارول کېږي. دغه طریقه د جنسي ناوړه استفادې په قضیو کې ډېره تر سترګو کېږي؛ ځکه چې په دغو قضیو کې هغه شخص چې قرباني شوی کس یې په واک کې دی، د قرباني د مقاومت کمولو او یا هم د دې لپاره چې قرباني تل هغه ته محتاج وي، هغوی پر نشه یي توکو روږدي کوي. د پژواک د پلټنو له مخې، له دې ډول پېښو سره افغانان ډېر په ایران هېواد کې مخ شوي دي.

**۴- پور**

الف: ډېری هغه کسان چې د انساني قاچاق قرباني کېږي، د قربانۍ مهم لامل یې پور دی.
ب: په ډېرو مواردو کې کورنۍ د کار د څښتن، هټۍ والو او خپلوانو پوروړې وي.
ج: ځینې کورنۍ د ګڼو خلکو پوروړې وي.
د: د کوچنیو پورونو له ادارو یا بانکونو د پور ترلاسه کول ستونزمن کار دی.
هـ: د پور اخیستو په هیله پر کار ورکوونکو تکیه کول د هغې ټولنیزې پانګې محدودوالی ښیي چې دغه زیانمنې شوې کورنۍ ورته لاسرسی لري، د هغو کورنیو په پرتله چې له پیاوړي ټولنیز ملاتړه برخمنې دي یا داسې کورنۍ یا قومي سیستمونه لري چې د اړتیا په وخت کې ور څخه مرسته غوښتلی شي.
و: ټولنیز ملاتړ ته نه لاسرسی او د مرستندویه کورنیو یا قومي سیستمونو نه درلودل قربانیان نور هم زیانمن کوي.

**۵- د پور په بدل کې استثمار**

الف: کله کله د کار څښتنان پر کارګرو باندې په یوه مشروع کار کې د استثمار شرایط تحمیلوي چې دا د انساني قاچاق په ډله کې راځي. په دې ډول اړیکو کې پور یو مهم رول لري، لکه د پور به بدل کې استثمار.
ب: په افغانستان کې د ځینو نورو هېوادونو په شان د کار څښتنان د پور په بدل کې سود یا فیس نه اخلي؛ ځکه چې سود په اسلام کې حرام دی.
ج: خو د هغه پر ځای له سود څخه د قرباني د کنټرولولو او پر هغه باندې د استثماري شرایطو تحمیلولو د یوې وسیلې په توګه کار اخیستل کېږي، په دې توګه معمولاً د پور داسې یوه لړۍ پیلېږي چې له یوه نسل څخه بل نسل ته په میراث پاتې کېږي.
د: د پور په بدل کې استثمار په افغانستان کې د خښتو وهلو د صنعت یوه معیاري ځانګړتیا ده. په دغه سکتور کې ان ټوله کورنۍ د پور له امله د خښتو په بټیو کې کار کوي. دغه حالت په ځانګړې توګه له پاکستانه د ننګرهار تر سره رود او د کابل تر ده سبز ولسوالیو پورې را رسېدلی او د کډوالۍ په مسیر کې ډېر لیدل کېږي چې پژواک یې په اړه ځینې راپورونه خپاره کړي دي.
هـ: د پور په بدل کې استثمار په ګڼ شمېر نورو برخو کې هم لیدل کېږي، لکه په هټیو، تولید ځایونو، ساختماني چارو، کرنه او د فزیکي کار په نورو ساحو، لکه د لښتیو (ویالو) په کیندلو کې.

و: د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون کارکوونکي چې په سرحدونو کې بېرته راستنېدونکي څاري، وايي، هغه کسان چې له ایران څخه د هرات له لارې بېرته را شړل کېږي، ډېر شمېر يې د پور په بدل کې استثمار کېږي او ماشومان، په ځانګړې توګه هلکان ډېرى په ډله ییزه توګه په ایران کې په ساختماني سکتور کې پر کار ګومارل کېږي.
ز: د کارګر کورنۍ باید د استخدام فیس ورکړي چې ویل کېږي دغه فیس د هغوی د لېږد او د کاري ترتیباتو نیولو لپاره مصرفېږي. تر هغه چې کارګر پور نه وي خلاص کړی، بېرته نه شي راتلای او هغه چې په یوه بهرني هېواد کې په نا قانونه ډول کار کوي، له استثمار څخه خوندي نه دي.

**۶- پور او جنسي استثمار**

الف: پور د انساني قاچاق په حالاتو کې په جنسي استثمار کې یو غیر مستقیم رول لوبوي؛ د یوې کورنۍ پرېکړې اغېزمنې کوي، خو لزوماً د اجبار یا ناوړه ګټې اخیستنې لپاره د یوې مستقیمې وسیلې په توګه نه کارول کېږي.
ب: که چېرې ښځه او مېږه یا د مېړه کورنۍ انساني قاچاق کوي (معمولاً یوه ځوانه ښځه یا نجلۍ)، د ولـور مـالي فشار یې یو لامل کېدلی شي. ډېری وخت زوم یا د هغه کورنۍ باید پور واخلي، څو د ښځې ولور ورکړي.
ج: د دغه پور له امله مېړه یا د مېړه کورنۍ نجلۍ ملامتوي او ورته وايي چې هغه د کورنۍ د مـالي سـتونزو لامـل ده. په دغه ډول حالت کې اجباري کار د دغې غوسې د ایستلو لپاره کـارول کېږي او کـورنۍ هغـه د ولـور د بېرتـه جبرانولو د وسیلې په توګه کاروي.
د: که چېرې د کورنۍ اقتصادي وضعیت نور هم خراب شي، هغه شخص چې تـر کـاري اسـتثمار لانـدې دی، لـه جنسي استثمار سره هم مخ کېدای شي.

**۷- د پور د بېرته ورکړې لپاره په زور واده**

الف: د پور د بېرته ورکړې لپاره جبري واده په افغانستان کې خورا عام دی.
ب: د ټولنې غړي د دغه دود شتون او دوام تاییدوي.
ج: دغه دود د کوکنارو کرنې په سکتور کې ډېر لیدل کېږي. د نشه یي توکو قاچاقچیـان بزګرانـو تـه پـور ورکـوي او کله چې د فصل خرابېدو له امله بزګران خپل پور بېرته نه شي ورکولی، قاچاقبر له هغوی غواړي چې لونې دوی ته په نکاح ورکړي.

**۸- د انساني قاچاق عرضه او تقاضا**

الف: اړتیا او حرص دوه بېل موارد دي؛ انساني قاچاق یو تجارت دی چې په کې د عرضـه او تقاضـا لـه مخـې د انسانانو قاچاق کېدل رامنځته کېږي.
ب: د ژوند کولو پای، د بقا پیل؛ خلک او کورنۍ د لنډمهالي بقا لپاره داسې پرېکړې کوي چې د کـورنۍ د غـړو، په تېره بیا د ماشومانو پر اوږدمهالي هوساینې باندې ناوړه اغېز ښندي.
ج: افغانان له یوې ستونزې سره مخ دي او هغه دا چې هغوی په قانوني توګه د کار لپاره نورو ملکونـو تـه تللـی نـه شي؛ ځکه نو ډېری کورنۍ نورو له خطره ډکو لارو ته مخه کوي.

**۹- کډوالي او د هېواد دننه بېځایه کېدل**

**د کډوالۍ تاریخي دلیلونه:**

**۱- د ورېښمو لویه لار:** افغانستان د مرکزي اسیا د څلورلارې حیثیـت لـري. د تـاریخ پـه اوږدو کـې د ټولنیزو او فرهنګي دلیلونو له مخې، د ورېښمو لار د سوداګرۍ او کډوالۍ یوه مهمه لاره ګرځېدلې ده. د ورېښـمو لار ځینـو سوداګریزو مسیرونو ته ویل کېده چې اسیا یې له اروپا او منځني ختیځ سره نښلوله.

خلکو هغه مهال پر دغې لارې چې نن ورځ ور باندې د هېوادونو پولې جوړې شوې دي، په ازاده توګه تګ راتګ کاوه. له ګاونډيو هېوادونو سره د خپل ديني او فرهنګي دودونو شريکول يو عادي کار و؛ د بېلګې په توګه کوچيانو د څو پېړيو په اوږدو کې په منظمه توګه د افغانستان بېلابېلو سيمو ته تګ راتګ کاوه او د پاکستان تر سرحدي سيمو پورې وړاندې تلل.

**۲- د هېواد دننه بېځايه کېدل:** په ۱۹۷۹ زېږديز کال کې د وخت د شوروي يرغل له پيلېدو سره چې کومه جګړه پيل شوې، دا دی ۳۹ کاله يې دوام ومونند، د کډوالۍ په وضعيت کې بدلون راغی. اټکل کېږي چې شاوخوا يو ميليون افغانان د افغانستان دننه کډوال دي. د نړيوالې کډوالۍ د څارنې ادارې په حواله، د ۲۰۱۵ زېږديز کال د جون مياشتې په پای کې له هېواده د ايساف ځواکونو تر وتلو شپږ مياشتې وروسته لېږ تر لږه ۹۴۸۰۰۰ کسان د جګړې او تاوتريخوالي له امله له خپلو کورونو بېځايه شول. دغه شمېره هغه شاوخوا ۱۰۳۰۰۰ کسان هم رانغاړي چې د ۲۰۱۵ زېږديز کال په لومړۍ نيمايي کې بېځايه شوي وو.

په کندوز ولايت کې د ۲۰۱۵ زېږديز کال له اپرېل مياشتې څخه او په بدخشان، بادغيس، بغلان، فارياب، غزنې، کاپيسا او ميدان وردګ ولايتونو کې د ۲۰۱۴ زېږديز کال له جون مياشتې راهيسې ګڼ شمېر وګړي بېځايه شوي دي. د هېواد په سوېلي او سوېل ختيځو سيمو کې د دوامداره بې ثباتۍ او د جګړې د هغه ناورين د شدت لامل ګرځېدلی چې لږ تر لږه له ۲۰۰۱ زېږديز کال څخه راهيسې روان دی.

**۳- بېرته ستنېدونکي:** له ۲۰۰۲ زېږديز کال څخه را په دېخوا شاوخوا ۵،۸ ميليونه کډوال له پاکستان او ايران څخه بېرته افغانستان ته ستانه شوي دي. دا چې په افغانستان کې لا هم جګړه روانه ده او له بل پلوه د هېواد ځينې برخې کله ناکله له طبيعي پېښو زيانمنېږي، دغه راستانه شوي کسان خپلو اصلي مېنو ته بېرته نه شي تللی.

**۴- د بېرته ځای پر ځای کېدو لپاره مرستې: له** هغو کډوالو او بېځايه شوو سره چې د بېرته راستنېدو نړيوال پروګرام په چوکاټ کې راستانه شول، مرستې وشوې. دغو مرستو د بېرته راستنېدو د سيمو او د اړوندې ادارې د بودجې له مخې توپير درلود. په ټوليزه توګه د کډوالو او بېځايه شوو لپاره په مرستو کې لاندې توکي شامل وو: غنم، پروټين لرونکي بيسکېټ، غوړي، صابون، درمل، کمپلې، خېمې، تخم، کيمياوي سره او نغدې پيسې.

سره له دې چې په خپلو اصلي سيمو کې د بېرته راستنېدونکو د ځای پر ځای کېدو د بهير اسانه کولو او د بېرته راستنېدو لړۍ د دوام موندلو په موخه له دغو ډلو سره نغدي او نورې مرستې شوې دي، خو بيا هم د ځينو دغو ډلو ټولو اړتياوو ته ځواب ويل شوی نه دی. بېوزلي، وزګارتيا او نا امني د دې لامل ګرځېدلي چې ځينې افغانان بېرته خپلو کوربه هېوادونو ته ولاړ شي او همدا تګ بيا له غير قانوني لارو کوي.

ملګرو ملتونو د ۲۰۱۷ زېږديز کال په سپتمبر مياشت کې راپور ورکړی و چې تر ۷۵ سلنې ډېر ځوان کډوال چې اروپا ته يې مخه کړې ده، د زور له کار، جنسي تاوتريخوالي، د ماشومتوب له واده او د استثمار له نورو ډولونو سره مخ کېږي.

له اتلس کلنۍ د کم عمره کډوالو په ګډون ځوان کډوال د هغو ساتونکو له خوا بدلمنۍ ته هڅول کېږي چې د هغوی د ساتنې لپاره ګومارل شوي دي. سرچينو الماني رسنيو ته ويلي چې دغه کسان کډوالو ته ډېرې پيسې ورکوي. د المان ZDF ټلوېزيون راپور ورکړی چې د برلين د کډوالو په استوګنځايونو کې امنيتي ساتونکي ځوان کډوال تن پلورنې ته هڅوي. دغه ساتونکي له ځوانو کډوالو سره ګوري او بيا هغوی تن پلورنې ته قانع کوي او په دې ترتيب سره هر ځل چې دغه کسان له يوه کس سره د جنسي اړيکو لرلو لپاره پيسې ترلاسه کوي، يوه برخه يې ساتونکي د کمېشن په توګه اخلي. ساتونکو ځوان نارينه کډوال د دغه کار لپاره خپل هدف ګرځولي چې د خپل تن پلورلو په بدل کې ډېرې پيسې ترلاسه کوي. دغه راز د برلين په ويليمرسدورف سيمه کې د کډوالو په يوه مرکز کې يوې ټولنيزې کارکوونکې ويلي چې دې د کډوالو او ساتونکو تر منځ معاملې په خپلو سترګو ليدلې دي. مرستدويو سازمانونو ويلي، د هغو کډوالو په شمېر کې زياتوالی راغلی چې په المان کې بدلمنۍ ته مخه کوي. د برلين

تیرګارتن سیمه پر داسې یوه ځای بدله شوې ده چې زاړه کسان ورته راځي، څو د جنسي اړیکو لپاره ځوان ماشومان ومومي.
**پیسو ته اړتیا:** په المان کې خیریه سازمانونه ادعا کوي چې ډېر کډوال د پیسو لپاره بدلمنۍ ته مخه کوي.
**ناهیلي کډوال تن پلورنې ته مخه کوي:** په المان کې هغه کډوال ماشومان چې ۱۸ کلنۍ ته لا نه وي رسېدلي، د المان د ځوانانو ادارې له خوا ورته خوندي ځای او پناه ورکول کېږي او کله چې هغوی ۱۸ کلن شي، نو هغوی مجبورېږي چې له دغو مرکزونو ووځي. مرستندوی سازمانونه د دغه کار اصلي دلیل د ځوانو کډوالو لېږ مالي ملاتړ ګڼي. کله چې یو کډوال ۱۸ کلنۍ ته رسېږي، نو د ځوانانو د ملاتړ له سیستمه لوېږي، دوی بیا مجبورېږي چې له نورو تازه راغلو پناه غوښتونکو سره یو ځای په نورو داسې مرکزونو کې ګډ ژوند وکړي چې د پاملرنې لپاره ټولنیز او امنیتي کار کوونکي شتون نه لري. په دغو مرکزونو کې د اوسېدو په ترڅ کې دغه ماشومان د ځینو نورو هلکانو له خوا ځورول کېږي، وهل کېږي او ګواښل کېږي.
دغه کډوال په دې وېره کې وي چې ګواکې له المان څخه به و ایستل شي؛ دا ځکه چې ډېری یې یواځې د یو کال لپاره دویمه درجه د اوسېدو اجازه لري، له همدې امله دغه ماشومان له یادو مرکزونو وځي او لا درکه کېږي چې وروسته تن پلورلو او نشو ته مخه کوي.
د کډوالو په منځ کې تن پلورنې ته میلان په دې پورې تړلی چې د یو کډوال د پناه غوښتنه په څه حالت کې ده او د سواد کچه یې څومره ده، پر نشه یي توکو روږدي کېدل او بې کوري هم په دې کې خپله ونډه لري.
**له سرپرست پرته کډوالي:** اروپا ته ډېری بې سرپرسته کډوال ورځي، له دوی سره د مور، پلار او کورنۍ ملاتړ نه وي او نه یې هم تر څارنې لاندې وي، له همدې امله په ډېرې اسانۍ د انساني قاچاق ښکار کېږي.
**د دروغو ژمنې:** ډېرې نجونې د دروغجنو ژمنو په جال کې بندې پاتې کېږي؛ دوی ته ویل کېږي چې په کورونو کې به د خدمې په توګه یا ورته نور کارونه کوي، خو کله چې اروپا ته ورسېږي بیا نو د دوی دروغ معلوم شي، له همدې امله ډېرې نجونې د مجرمو ډلو لاسونو ته لوېږي.
**انسان حریص دی:** خلک ډېر حریص دي او د ښې راتلونکې لپاره هر څه کولو ته تیار دي؛ دوی د پیسو او ښه ژوند ته د رسېدو لپاره د انساني قاچاق مرتکب، وسیله او کله هم ښکار کېږي.
**د کډوالۍ ګواښونه:** ډېر کډوال پوهېږي چې د صحرا له لارې اروپا ته رسېدل څومره خطرناک دي؛ په دې ترڅ کې ډېر شمېر خلک خپل ژوند له لاسه ورکوي.

### ۱۰- اوږدمهاله جګړه

په افغانستان کې اوږدو جګړو افغان ماشومان د وسله والو ډلو له ګواښ سره مخ کړي دي؛ دا ډلې له ماشومانو ناوړه ګټه پورته کوي. له ماشومانو په جګړو کې د فعال مشارکت په موخه په بېلابېلو لارو استفاده کېږي چې دغه کار افغان ماشومان له خطر سره مخ کړي دي. جګړه د ماشومانو ژوند له ګواښ سره مخ کوي، هغوی ته له جسمي او روحي پلوه ټکان ورکوي. په افغانستان کې ماشومان له جنګ او تاوتریخوالي پرته بل له هېڅ شي خبر نه دي.
جګړې ماشومان د وسله والو تر لومو ور ولي او دغه ډلې بیا د هغوی له مجبوریته ګټه پورته کېږي او هغوی استثمارېږي. یادې وسله والې ډلې ماشومان دې ته اړ باسي څو هغوی په روانو نښتو کې ونډه واخلي او یا هم دا چې د پیغام وړونکو او رسوونکو هلکانو په توګه وکارول شي او په دې توګه لا هم ماشومان د جنګ له خطره سره مخ کړي چې پژواک یې په اړه د ۲۰۱۸ کال د مارچ په میاشت کې یو بشپړ راپور خپور کړ.
د ځینو ماشومانو ماغزه مینځل کېږي او بیا له هغوی په ځانمرګو بریدونو کې ګټه اخیستل کېږي. په وروستۍ لسیزه کې داسې ډېر موارد وو چې له ماشومانو څخه په ځانمرګو بریدونو کې ګټه اخیستل شوې ده.

## د انساني قاچاق په مخنیوي کې د افغانستان درجه بندي


د ۲۰۰۳- ۲۰۱۸ کلونو لپاره د انساني قاچاق نړیوال راپور پر بنسټ، د انساني قاچاق پر وړاندې په مبارزه کې د افغانستان درجه د قوانینو او د حکومت د اجرااتو په اړه په لاندې ډول ده:

| کال | درجه | دلیلونه |
|---|---|---|
| ۲۰۰۳ | ځانګړې | د افغانستان په اړه پخوانۍ درجه بندي موجوده نه وه. ځانګړې پرېکړه وشوه؛ ځکه چې افغانستان د لومړي ځل لپاره ارزول کېده او نوی له جګړې را وتلی هېواد و. |
| ۲۰۰۴ | دویمه درجه | افغانستان ونه شو کړای د انساني قاچاق د زیانمن شوو د ساتنې قانون (TVPA's) معیارونه لږ تر لږه پوره کړي خو د دغو معیارونو پوره کولو لپاره یې د پام وړ هڅې وکړې. |
| ۲۰۰۵ | دویمه درجه | د پورته په څېر |
| ۲۰۰۶ | دویمه درجه | د پورته په څېر |
| ۲۰۰۷ | دویمه درجه | د پورته په څېر |
| ۲۰۰۸ | دویمه درجه | د پورته په څېر |
| ۲۰۰۹ | دویمه درجه | د پورته په څېر |
| ۲۰۱۰ | تر څارنې لاندې دویمه درجه | په ۲۰۱۰ زېږدیز کال کې افغانستان یوه درجه یعنې له دویمې درجې څخه تر څارنې لاندې دویمې درجې ته تنزیل وکړ او بیا یې هم ونه شو کولی د انساني قاچاق د زیانمن شوو د ساتنې قانون (TVPA's) لږ تر لږه معیارونه پوره کړي او د دغو معیارونو پوره کولو لپاره خپلې هڅې کوي خو د افغانستان د دولت د اجرااتو پایلې وښوده چې:<br>الف: په افغانستان کې د انساني قاچاق د مهمو ډولونو د زیانمن شوو شمېر ډېر لوړ دی او نور هم په چټکۍ سره د لوړېدو په حال کې دی.<br>ب: افغانستان له تېر کال څخه د انساني قاچاق د مهمو ډولونو پر وړاندې د مبارزې لپاره د هڅو ډېرېدو په تړاو د اسنادو او مدارکو په وړاندې کولو کې پاتې راغی چې په کې د انساني قاچاق د قضیو په څېړنو، عدلي تعقیب او د سزا په ورکولو کې زیاتوالی، له قربانیانو سره د مرستو زیاتوالی او د انساني قاچاق په مهمو ډولونو کې له قاچاق کوونکو سره د حکومتي چارواکو د یو لاس اوسېدو کمېدل هم شامل و.<br>ج: افغانستان ونه شو کولی دغه ډاډ ورکړي چې د لږ تر لږه معیارونو پوره کولو لپاره په راتلونکي کال کې د پام وړ هڅه کوي او داسې کومه ژمنه یې هم ونه ښوده چې په راتلونکي کال کې به مهم ګامونه پورته کړي. |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۰۱۱ | تر څارنې لاندې دویمه درجه | د پورته په څېر |
| ۲۰۱۲ | تر څارنې لاندې دویمه درجه | د پورته په څېر |
| ۲۰۱۳ | تر څارنې لاندې دویمه درجه | د پورته په څېر |
| ۲۰۱۴ | دویمه درجه | افغانستان ونه شو کولی د انساني قاچاق د زیانمن شوو د ساتنې قانون (TVPA's) لږ تر لږه معیارونه پوره کړي خو د دغو معیارونو پوره کولو لپاره د پام وړ هڅې کوي.<br>د افغانستان حکومت د انساني قاچاق د مخنیوي په برخه کې د تېر راپور مودې په پرتله ډېرې هڅې کړې وې چې له امله یې افغانستان له تر څارنې لاندې دویمې درجې څخه دویمې درجې ته ارتقا وکړه. |
| ۲۰۱۵ | دویمه درجه | د پورته په څېر |
| ۲۰۱۶ | تر څارنې لاندې دویمه درجه | په ۲۰۱۶ زېږدیز کال کې افغانستان یو ځل بیا یوه درجه له دویمې درجې څخه د تر څارنې لاندې دویمه درجې ته تنزیل وکړ او بیا یې هم ونه شو کولی د انساني قاچاق د زیانمن شوو د ساتنې قانون (TVPA's) لږ تر لږه معیارونه پوره کړي او د دغو معیارونو پوره کولو لپاره خپلې هڅې وکړي. |
| ۲۰۱۷ | دویمه درجه | د افغانستان حکومت د انساني قاچاق د له منځه وړو لپاره ټاکل شوي لږ تر لږه معیارونه نه دي پوره کړي، خو ډېرې هڅې کوي چې دغه معیارونه پوره کړي. د تېر راپور د مودې په پرتله دغه ځل د افغانستان حکومت ډېرې هڅې کړې دي چې له امله یې افغانستان دویمې درجې ته ارتقا وکړه.<br>د ۲۰۱۷ زېږدیز کال په جنورۍ میاشت کې د افغانستان حکومت د انساني قاچاق د مخنیوي لپاره نوی قانون نافذ کړ، څو د انساني قاچاق مخنیوي په برخه کې هڅې ګړندۍ کړي. دغه راز په یاد قانون کې د بچه بازۍ یا له هلکانو د ناوړه ګټې اخیستنې عمل جرم ګڼل شوی دی. د افغانستان حکومت له قاچاق کوونکي څخه پلټنې کړې، څارنوالۍ ته یې معرفي، مجازات او زنداني کړي او هغه چارواکي چې د بچه بازۍ د مخنیوي په برخه کې یې غفلت کړی، هم مجازات کړي دي.<br>د یوې بهرنۍ موسسې په بسپنه په کابل کې د انساني قاچاق قربانیانو ته لنډمهاله امن خونه جوړه شوې ده.<br>حکومت دغه راز د ماشومانو خوندیتوب ۱۵ د امن خونې پرانیستې چې دغه د امن |

| | | |
|---|---|---|
| | | خونې په ۲۰۱۶ زیږدیز کال کې په امنیتي ځواکونو کې د ۳۰۰ ماشومانو له ګومارنې څخه مخنیوی کړی خو د افغانستان حکومت په ګڼو برخو کې د لږ تر لږه معیارونه نه دي پوره کړي. د حکومتي چارواکو غفلت اوس هم جدي ستونزه ده، په ځانګړې توګه د افغانستان د امنیتي ځواکونو له لوري د جنسي ګټې اخیستنې او په امنیتي ځواکونو کې د ماشومانو د ګومارنې ستونزې د یادونې وړ دي. د قربانیانو د خوندیتوب هڅې بسنه نه کوي، د حکومت له لوري د قربانیانو د خوندیتوب لپاره یواځینی د امن خونه د راپور ورکولو پر مهال تړلې وه. حکومت د قربانیانو د پېژندګلوي او د بیارغونې خدمتونو ته د راجع کولو لپاره د کاري چارو معیارونه نه دي جوړ کړي چې له امله یې ډېر ځلې حکومت د قاچاق قربانیان زنداني کړي او د مجرم په توګه یې څارنوالۍ ته معرفي کړي دي. |
| ۲۰۱۸ | دویمه درجه | د امریکا متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د ۲۰۱۸ زیږدیز کال د راپور له مخې، افغانستان د دویمې درجې هېوادونو په لېست کې خپل هغه ځای چې په ۲۰۱۷ زیږدیز کال کې یې ترلاسه کړی و، په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې هم وساته. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په دغه راپور کې افغانستان په هغه ډله هېوادونو کې یاد شوی چې نه دی توانېدلی د انساني قاچاق لکه جنسي ناوړه استفادې، د امنیتي پولیسو له لوري د ماشومانو د جذب مخه ونیسي او یا یې لږ تر لږه پرمختګ وکړي، خو دې موخې ته د رسېدو لپاره یې مهمې هڅې پیل کړې دي. |

**د انساني قاچاق په مخنیوي کې د افغانستان کلنۍ درجه بندي**



**د افغانستان لپاره د انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې په اړه د ۲۰۱۷ – ۲۰۱۸ کال وړاندیزونه:**

د انساني قاچاق هر راپور د اړوند حکومت لپاره ځانګړي وړاندیزونه هم لري چې باید په راتلونکي کال کې یې په نظر کې ونیسي. په دغه راپور کې د هر هېواد لپاره، پر وړاندیزونو سربېره یو لنډ د عمل پلان هم وړاندیز کېږي چې یاد وړاندیزونه په کې منعکس شوي وي؛ دغه د عمل پلان او وړاندیزونه دواړه د دې لپاره دي چې حکومت ته د انساني قاچاق د مخنیوي لپاره د لږ تر لږه معیارونو په اړه چې د انساني قاچاق د زیانمن شوو د ساتنې په قانون (TVPA's) کې راغلي، لارښوونه وکړي.

د افغانستان دولت د ۱۳۸۷ لمریز کال د انسان د اختطاف او قاچاق پر وړاندې د مبارزې قانون، د جزا د قانون ۵۱۶مه ماده او د ۱۳۸۸ لمریز کال د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون په کارولو سره د انساني قاچاق د ډېری ډولونو مخنیوی کړی خو د ټولو ډولونو مخنیوی یې نه وکړی. دغه ستونزه د ۱۳۹۵ لمریز کال د انسان او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون په پلي کولو سره چې د ۱۳۸۷ لمریز کال قانون یې لغوه کړ، ترسره شو. په دغه قانون کې راغلي، مجازات په کافي اندازه جدي دي او د نورو جدي جرمونو، لکه د جنسي تېري د مجازاتو په اړه هم په کې بشپړ معلومات شامل شوي دي.

د انساني قاچاق په اړه د نافذ قانون تعریف او د انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې لپاره درې اړخیزه تګلاره (عدلي تعقیب، ساتنه او مخنیوی) په عمومي ډول د انساني قاچاق په اړه له نړیوال قانون سره اړخ لګوي چې دغه نړیوال قانون د انساني قاچاق او په تېره بیا د ښځو او ماشومانو قاچاق د مخنیوي او مجازاتو پروتوکول چې د سازمان شوو جرایمو پر وړاندې د مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو د کنوانسیون (د پالمیرا پروتوکول) ضمیمه دی، جوړ شوی دی.

د افغانستان لپاره د ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ زېږدیزو کلونو د انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې د عمل پلان لپاره لاندې هغه وړاندیزیونه راغلي چې د افغانستان حکومت یې په راتلونکي کال کې د انساني قاچاق پر وړاندې مبارزه کې د خپلې موخې ترلاسه کولو لپاره کارولی شي:

۱- د افغانستان امنیتي ځواکونو په لیکو کې د ماشومانو د ګومارنې او کارول کېدو مخنیوی او د بې وسلې شوو ماشومانو ملاتړ او عادي ژوند ته بېرته ور ستنول یې.

۲- د انسان له قاچاق او د مهاجرانو له قاچاق سره د مبارزې قانون په رڼا کې او د عدلي او قضایي بهیر د بشپړتیا په نظر کې نیولو سره د انساني قاچاق د مجرمینو د عدلي او قضایي تعقیب او محکومېدنې زیاتېدل.


۳- د هغو حکومتي چارواکو، د قانون د تنفیذ چارواکو او د پوځ د غړو چې د انسان له قاچاق کوونکو سره د یو لاس اوسېدلو ګومان وربانديکېږي، تر عدلي او قضایي تعقیب لاندې نیول او په مناسب ډول د مرتکبینو محکوم او مجازات کول.

۴- د هغو قربانیانو مجازات بندول چې د انسان د قاچاق کېدو په پایله کې د جرمونو مرتکب شوي دي، لکه د اخلاقي جرایمو په تور د قربانیانو د عدلي تعقیب او په دارالتأدیبونو کې د انساني قاچاق د ځوانو قربانیانو د اچولو مخنیوی.

۵- د ۲۰۰۸ زېږدیز کال د انسان د اختطاف او قاچاق پر ضد د مبارزې قانون د تسوید شوو تعدیلاتو نهایي او نافذ ګرځول، څو د انساني قاچاق د ټولو ډولونو مخنیوی وشي او ټول ډولونه یې جرم وپېژندل شي.

۶- د کورنیو چارو وزارت د قاچاق ضد څانګو د وړتیاوو لوړول، په هره سیمه کې د پرسونل د شمېر زیاتولو په ګډون او له دې ډاډ ترلاسه کول چې هغوی د انساني قاچاق (Human Trafficking) او د کډوالو قاچاق (Human Smuggling) تر منځ توپیر کولای شي.

۷- د انسان د اختطاف او انساني قاچاق د جرمونو پر وړاندې د مبارزې عالي کمېسیون (عالي کمېسیون) د وړتیاوو لوړولو ته دوام ورکول، څو د انساني قاچاق پر وړاندې د حکومت د هڅو همغږي وکړي او راپور یې خپور کړي او د دغه قاچاق پر وړاندې د مبارزې لپاره د عمل ملي پلان د پلي کېدو څارنه وکړي.
۸- څومره چې امنیتي وضعیت اجازه ورکوي او کلیوالو سیمو ته لاسرسی شونی وي، د انساني قاچاق د تعریف او د هغو د موندلو، د قربانیانو د ساتنې او د قانون د تنفیذ د ستراتیژیو په هکله د هغوی د پوهې کچې لوړول.
۹- د انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې د اطلاعاتو راټولولو، څېړلو او په کره توګه د راپور ورکولو په هڅو کې سمون راوستل.
۱۰- د قربانیانو د اوږدمهالې بیارغونې مناسبو فرهنګي پروګرامونو چې د ماشومانو لپاره په ځانګړې توګه جوړ شوي وي، پلي کول.
۱۱- د بچه بازۍ او د پور په بدل کې د ماشومانو د کار د جرمي ماهیت په باب د حکومتي چارواکو او عامو خلکو پوهول.
۱۲- د ماشومانو د استخدام او ګومارنې د مخنیوي له قانون څخه د حکومت، په ځانګړې توګه د کورنیو چارو او دفاع وزارتونو د چارواکو خبرول او د جزایي مویداتو پر مټ د دغه قانون د احکامو پلي کول.



د مور او پلار مسوولیت دی پر خپلو
ماشومانو زده کړې وکړي، دغه راز
هغوی نېکو او غوره کارونو ته وهڅوي
او له وسله والو ډلو سره یې له یوځای
کېدو مخنیوی وکړي.

ديني عالمان بايد د اسلامي قوانينو په
نظر کې نيولو سره خلکو ته د انساني
قاچاق د مخنيوي په برخه کې عامه
پوهاوی ورکړي.

# پنځم څپرکی

## د انساني قاچاق پر وړاندې مبارزه کې د مدني ټولنې ونډه

### د مدني ټولنې رول

د انساني قاچاق پر وړاندې مبارزه کې د حکومت تر څنګ نړیوال سازمانونه، د مدني ټولنې بنسټونه، نادولتي موسسې او نړیوال شرکتونه هم مهم رول لوبولی شي. د تېرو څو کلونو په اوږدو کې په افغانستان کې نادولتي موسسې ډېرې شوې او فعالیتونو یې پراختیا موندلې ده او همدارنګه په وروستیو دوو لسیزو کې د مدني ټولنې بنسټونو په ټولنه کې مهم رول لوبولی دی.
د شوراګانو، جرګو او دیني بنسټونو په څېر ټولنیز بنسټونه او رهبران په خپلو ټولنو کې مهم رول لوبوي. دې ته په کتو هغوی کولای شي چې د انساني قاچاق د مخنیوي، د پوهاوي کچې لوړولو، د اطلاعاتو را ټولولو، له قربانیانو سره د مرستې او د انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې پالیسۍ په جوړولو کې هم مهم رول ولوبوي.
ډېری کسان د انساني قاچاق قرباني شوي، خو هغوی پر ځان نه پوهېږي، دا د مدني ټولنې مسوولیت دی چې هغوی دې مسئلې ته متوجه کړي. دیني عالمان باید د اسلامي لارښوونو په نظر کې نیولو سره د انساني قاچاق د مخنیوي په اړه په جوماتونو کې خلکو ته عامه پوهاوی ورکړي، دوی د جوماتونو او ممبر له لارې د اسلامي ارشاداتو په رڼا کې د انساني قاچاق د مخنیوي، مبارزې او عامه پوهاوي برخو کې ښه رول لوبولی شي.
په افغانستان کې نړیوالو سازمانونو او نا دولتي موسسو په اتو ولایتونو کې پولیس، څارنوالان او نور دولتي چارواکي د انساني قاچاق د قضیو د عدلي او قضایي تعقیب لپاره روزلي دي. دغه راز په افغانستان کې یو شمېر ښځینه نادولتي موسسو د هغو ښځو او ماشومانو لپاره چې انساني قاچاق شوي دي، خوندي ځایونه جوړ کړي دي. د مدني ټولنې بنسټونه، لکه نادولتي موسسې د انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې په لومړۍ لیکه کې ولاړ دي. دوی کولای شي د انساني قاچاق د مخنیوي، د پوهاوي کچې لوړولو، له قربانیانو سره د مرستې او د هغوی د بېرته راستنېدو او د عادي ژوند په پیلولو کې مهم رول ولوبوي؛ د بېلګې په ډول هاجر انټرنېشنل ( Hagar International) یو نړیوال سازمان دی او د هغو کسانو د ملاتړ لپاره کار کوي چې د بشري حقونو له شدید نقض، په ځانګړې توګه له انساني قاچاق، جنسیتي تاوتریخوالي او جنسي استثمار سره مخ شوي وي. هغوی ژمن دي چې هر هغه کار ترسره کړي چې په بشپړه توګه د یو چا د ژوندانه د بېرته اعاده کېدو لامل ګرځي.
لاندې د انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې تګلارې د هغو عناصرو بېلګې ورکړل شوې چې مدني ټولنه په کې مرسته کولای شي:
**مخنیوی:** نادولتي موسسې داسې تدابیر نیسي چې د نالوست توب، بېوزلۍ او د فرصتونو د نشتوالي په شان د انساني قاچاق پر وړاندې د خلکو زیانمننه لږه کړي. همدارنګه نادولتي موسسې د عامه پوهاوي کچې لوړولو او د څېړنو ترسره کولو له لارې هم انسان قاچاق ته د خلکو غوښتنه کموي.
**ساتنه:** نادولتي موسسې د انساني قاچاق له قربانیانو سره د خواخوږۍ په جلبولو، پالیسي جوړوونکو او د قانون د تنفیذ چارواکو ته په دې اړه د پوهاوي په ورکولو کې هم مهمه ونډه لري چې د انسان د قاچاق قربانیان ساتنې ته اړتیا لري او همدارنګه مجرمان که څه هم لوی جرمونه یې کړي وي، خپلو بشري حقونو او عدالت ته د لاسرسي حق لري.

**عدلي او قضايي تعقيب:** نادولتي موسسې او انجيوګانې د انساني قاچاق له قربانيانو سره د عدلي او قضايي اجرااتو په ترڅ کې داسې مرسته کولای شي چې د هغوی دفاع او ورسره مرسته وکړي چې په قانون يې سر خلاص کړي، څو هغوی پوه شي چې د قانون له مخې کومې لارې چارې په اختيار کې لري.

دا چې د انساني قاچاق قربانيانو ته د خوندي ځايونو په برابرولو او له هغوی سره د تخصصي مرستو په ډګر کې د نا دولتي موسسو ونډه پراخه شوې ده، نو د دې شونتيا رامنځته کوي چې قربانيان دې ته چمتو کړي چې په محکمه کې د شاهدانو په توګه ودرېږي، په دغه شرط چې د جزايي عدالت سيستم د خوندي ځايونو له چمتو کوونکو سره د تعامل د څرنګوالي په باب مناسب کړندودونه رامنځته کړي. په ځينو هېوادونو کې دولت له نادولتي موسسو سره په ګډه له قربانيانو سره د مرستې نوښتونه کړي چې له امله يې د هغو قربانيانو په شمېر کې چې چمتو شوي څو له عدلي او قضايي سيستم سره همکاري وکړي، زياتوالی راغلی دی.

د ۱۳۹۷ کال د غبرګولي په ۹مه په لومړي ځل په افغانستان کې د انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې شبکه (ANCTIP) جوړه شوه؛ د دې شبکې موخه په ملي او نړيواله کچه د انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې پراخول او د اړوندو بنسټونو د تجربو شريکول دي. دغه شبکه چې د افغاني رسنيو او د مدني ټولنې له مسلکي بنسټونو جوړه شوې ده، غواړي د انساني قاچاق پر ضد د افغانانو غبرګونونه پياوړي کړي او د انساني قاچاق د زيانمن شوو ملاتړ وکړي.

**د دې شبکې کړنې په لاندې ډول دي:**

۱- په افغانستان کې له انساني قاچاق سره د مبارزې په برخه کې د عامه پوهاوي ورکړه او د روښانه راتلونکې لپاره د دې کرغېړنې پديدې له منځه وړل.

۲- په ټولنه کې له انساني قاچاق سره د مبارزې قانون د ټينګښت لپاره هڅه او کار.

۳- د هېواد د پرمختګ او سرلوړۍ لپاره د قانون او ارزښت په اړه يې د خلکو د عامه پوهاوي کچې لوړول.

۴- د انساني قاچاق په اړه د ترلاسه شوو اطلاعاتو شريکول.

۵- د هر راز انساني قاچاق او د هغه اړوند فعاليتونو د درولو په برخه کې هڅه.

۶- په ياد ډګر کې د اغېزناکو پروګرامو تطبيق لپاره د اړوند بنسټونو تر منځ ظرفيت جوړونه.

۷- د غړو بنسټونو تر منځ د ښځو، نارينه وو، ځوانانو او ماشومانو د وضعيت په تړاو د اطلاعاتو او تجربو شريکول.

۸- د دولتي، نادولتي، ملي او يا نړيوالو بنسټونو او شبکو تر منځ د کاري اړيکو جوړول.

۹- د انساني قاچاق مبارزې په برخه کې د فعالو او نوښتګرو بنسټونو هڅونه او ستاينه.

۱۰- د انساني قاچاق په تړاو د فعالو سازمانونو او همداراز په پراخ ډول د ټولنيز چوکاټ پر مټ د حقوقي پوهې ورکړه.

۱۱- د شبکې د موخو عملي کولو لپاره له حکومتي او غير حکومتي، ملي او نړيوالو بنسټونو سره د هوکړه ليکونو لاسليکول.

ایا د انساني قاچاق قربانیانو تر اوسه قاچاق کوونکي پېژه بللي؟ ډېری قربانیان ځانونه پېژه بولي او وايي: "ولې مې پر یاد کس باور وکړ؟ ولې مې ترې لاره جلا نه کړه؟ نو پر دغه بنسټ، د انساني قاچاق د زیانونو او ګواښونو په اړه د خلکو تر منځ د عامه پوهاوي کچې لوړول ډېر مهم دي.

ډېری کسان د انساني قاچاق قرباني دي
خو پر ځان خبر نه دي، دا زموږ
مسوولیت دی چې هغوی دغې نیمګرتیا
ته متوجه کړو.

# شپږم څپرکی

# له انساني قاچاق سره په مبارزه کې د رسنيو ونډه

## د انساني قاچاق په اړه د رسنيو راپور ورکول

د نړۍ له دوديزو رسنيو نيولې بيا تر ټولنيزو رسنيو پورې، ټولو يو پراخ خوځښت پيل کړی، څو وښيي چې انساني قاچاق بشري حقونو او ملي امنيت ته ګواښ رامنځته کوي. نږدې ۱۵ کاله مخکې د انساني قاچاق په اړه سم راپور نه ورکول کېده، ډېرى وخت به په دې اړه راپورونه نا سم وو؛ په څو وروستيو کلونو کې د رسنيو راپورونو مثبت بدلون موندلی؛ د انساني قاچاق پر راپورونو سربېره تحليلي او د خلکو د خوښې وړ راپورونه هم چمتو کوي او خپروي. دغو راپورونو د انساني قاچاق په اړه د عامو خلکو نظر بدل کړی؛ اوس خلک انساني قاچاق جرم بولي او دا يې هم درک کړې ده چې دغه کار د خلکو پر ژوند منفي اغېز ښندي.

رسنۍ د انساني قاچاق په اړه د خلکو په پوهاوي کې مهم رول لوبوي؛ خلک له دې لارې د قاچاق کوونکو له پروګرامونو او تخنيکونو سره اشنا کوي، د دې جرمي کړنې پر څرنګوالي يې پوهوي او د مخنيوي لارې چارې يې ور په ګوته کوي. په کار دا ده چې د انساني قاچاق د مخنيوي په موخه څېړنيز ژورناليزم ته وده ورکړل شي، خو په ورته وخت کې رسنۍ بايد په پام کې ولري څو دغه کار په سم ډول ترسره کړي او له دې اړخه د زيانمن شوو حقوق تر پښو لاندې نه کړي او دا هم اړينه ده چې رسنيو ته په دې برخه کې معيارونه رامنځته شي.

ژورنالېستان بايد راپورونه په ټولنه کې د مثبت بدلون راوستلو په موخه چمتو کړي او د انساني قاچاق د ستونزې د مخنيوي لپاره دې د دې برخې د قربانيانو غبږ تر مسوولو چارواکو ورسوي څو د دې ناوړې پديدې مخنيوی وشي. دغه راز ژورنالېستانو ته په کار ده چې د ټولنې د محرومو خلکو غږ پورته کړي، د بشري تجربو پراختيا او نوښت ته پام وکړي او هغه سرچينې دې وپلټي چې له نورو هېرې دي او يا ارزښت نه ورکوي. سره له دې ژورنالېستان د زيان کچې را ټيټولو په هڅه کې هم وي؛ هغه راپورونه چې قرباني يا زيانمن ته د ګټې پر ځای زيان پېښوي، له خپرولو يې ډډه کوي.

د ژورنالېستانو د کاناډايي ټولنې د اخلاقي لارښوونو او د مسلکي ژورنالېستانو ټولنې د اخلاقي کوډ له مخې، اخلاقو ته ژمن ژورنالېست له سرچينو، موضوع ګانو، کارکوونکو او عام ولس سره له درناوي ډک چلند کوي.

**ژورنالېستانو ته په کار ده چې:**

- د بالقوه زيان يا ناراحتۍ او اطلاعاتو ته د خلکو د لاسرسي تر منځ انډول په پام کې ونيسي؛ د خبرونو ترلاسه کول يې د نورو په اړه د بې پروايۍ يا يې په چارو کې د لاسوهنې د جواز په معنا نه دي.
- له اغېزمنو يا هغو ماشومانو سره چې د جنسي تېري قربانيان دي او له نورو زيانمنو سرچينو سره چې حساس چلند کوي، د اطلاعاتو اخيستو پر مهال زغم ولري.
- اطلاعاتو ته د قانوني لاسرسي او د اطلاعاتو د خپراوي اخلاقي پرېکړې تر منځ توپير په پام کې ونيسي.
- شخصي اطلاعات د پايلو له سنجولو پرته نه خپروي؛ ځکه عام خلک د چارواکو په پرتله د ځاني اطلاعاتو د کنټرول حق ډېر لري.
- د يو چا له تورنولو مخکې د جرم د تشخيص پايلې په پام کې ونيسي؛ د تورن د سپيناوي او په اړه يې د خلکو د اطلاعاتو حقونه پرتله کړي.
- اطلاعاتو ته د پراخ لاسرسي او د خپراوي اوږدمهالو اغېزو ته په پام تازه او بشپړ اطلاعات چمتو کړي.
- د اطلاعاتو لاسرسي او خپراوي په بهير کې توکميز، قومي، مذهبي، ژبني، جنسيتي او داسې نور چلندونه ونه کړي.
- له ماشومانو سره د هغوی د مور يا پلار، قانوني سرپرست يا مراقبت کوونکو له اجازې پرته مرکې ونه کړي او نه دې يې انځورونه او ويډيوګانې اخلي.
- د تاوتريخوالي د قربانيانو اړوند خبرونو پر مهال هغه څه نه خپروي چې د زيانمنو درناوی يا يې مادي او معنوي ګټې تروړي.

## د انساني قاچاق په مخنیوي کې د رسنیو اهمیت

رسنۍ د انساني قاچاق په اړه د خلکو په پوهاوي کې مهمه ونډه لري؛ ځکه د دې ناوړې پدیدې ټول ناوړه ابعاد خلکو ته په ډاګه کوي، خو له بده مرغه چې د افغانستان ولایتونو د لرو پرتو سیمو خلک رسنیو ته بشپړ لاسرسی نه لري او تر ټولو بده دا چې ځینې افغاني رسنۍ لا تر اوسه د انساني قاچاق له پدیدې سره اشنا نه دي او تر ډېره بریده د غیر قانوني کډوالۍ او انساني قاچاق تر منځ توپیر نه کوي. بل دا چې په افغانستان کې د څلورو لسیزو جګړو او بحران له امله د تاوتریخوالي کلتور حاکم دی، خو افغاني رسنۍ پر دې نه دي توانېدلې چې د دغه کلتور د له منځه وړو لپاره اغېزناک کار ترسره او په دې برخه کې مسوولیتونه په سمه توګه ادا کړي.

رسنۍ چې په ټولنه کې د مثبت بدلون راوستو ځواکمنه وسیله ده، نو د انساني قاچاق د مخنیوي او ورسره د مبارزې په برخو کې د عامه ملاتړ را جلبولو مهمه دنده پر غاړه لري.

- **څلورم رکن:** رسنۍ د دولت د څلورم رکن په توګه د انساني قاچاق په اړه د خلکو د پوهاوي کچې په لوړولو او د دې ښکارندې پر وړاندې په مبارزه کې مهم رول لوبوي.
- **د ستونزې روښانه کول:** رسنۍ د انساني قاچاق په اړه د لیکنو په چاپولو یا د راپورونو په خپرولو سره نه یوازې دا چې خلکو ته پوهاوی ورکوي، بلکې داسې ستونزې را برسېره کوي چې له خلکو پټې پاتې وي. په ډېرى مواردو کې د رسنیو ځینې راپورونه د انسان د قاچاق کوونکو د نیولو لامل کېږي او سزا ویني، حال دا چې که دغه راپورونه خپاره نه شي، قاچاق کوونکي به خپلو ناوړو کارونو ته دوام ورکوي.
- **د ټولنیز بدلون لپاره وسیله:** رسنۍ د یوې ټولنیزې ناخوالې یا د خلکو اندېښنو د څرګندولو له لارې د خلکو او پالیسۍ جوړوونکو تر منځ د منځګړي رول لوبولی شي.
- **د مرستې لپاره د اړیکې او نورو اړوند شمېرو خپرول:** کله چې رسنۍ د انسان د قاچاق په اړه یو راپور خپروي، ښه دا ده چې د انساني قاچاق مخنیوي لپاره د مبارزې ځایي مرستندویې ادارې او نورو مرستندویو سرچینو د اړیکو شمېرې هم خپرې کړي، څو قربانیان او د ټولنې وګړي د اړتیا په صورت کې ورسره اړیکه ونیسي.

د پڅواک د یوې نظرپوښتنې موندنې ښیي چې د انساني قاچاق په اړه د افغانانو د پوهې کچه ډېره ټیټه ده او له هرو ۲۵ لوستو کسانو یو یې د انساني قاچاق او د کډوالو پر قاچاق پوهېږي. دغه راز د یادې انلاین نظرپوښتنې پایلې چې یوازې لوست کسان په کې شامل دي، له هرو ۱۱ کسانو لسو یې د انسان او کډوالو د قاچاق په اړه اورېدلي، خو لږ شمېر یې په دې اړه ډېر کم معلومات لري او ډېری یې د دې دوه ډوله قاچاق توپیر نه شي کولای. د سروې پوښتنو ته له هرو لسو ځواب ورکوونکو څلور یې پوهېږي چې افغانستان د انساني او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون لري، خو په یادو څلورو کسانو کې ډېری یې په دې اړه لازم معلومات نه لري.

په سروې کې ډېری ځواب ویونکو په انټرنېټي پاڼو کې په دې اړه د خپلو معلوماتو سرچینه لوستې ده. یاده سروې د ۲۰۱۸ کال د اپرېل له ۱۴ مې بیا د مې میاشتې تر ۵مې په انلاین ډول ترسره شوې ده. په سروې کې ټولو ۵۰۹ کسانو برخه اخیستې چې عمرونه یې له ۱۷ تر ۷۴ کلونو دي، له لومړنیو تر لوړو زده کړو برخمن دي، په دغو کسانو کې ۱۷ ښځې، ۳۶۷ نارینه او ۱۲۵ نورو یې خپل جنسیت نه دی مشخص کړی. په سروې کې پوښتنې داسې طرحه شوې چې ځوابونه یې مشخص کړي چې خلک د انساني قاچاق او کډوالو د قاچاق د څرنګوالي په اړه پوهېږي او کنه، که پوهېږي، د انساني قاچاق له امله څوک ډېر زیانمن شوي او په دې اړه د افغانستان د قانون په اړه د خلکو د پوهاوي کچه څومره ده؟

ایا د انسان او کډوالو د قاچاق په اړه مو اورېدلي دي؟ ډېری کسانو چې دې پوښتنو ته یې ځواب ویلی، ویلي چې په دې اړه یې اورېدلي دي. د کابل ښار یو اوسېدونکی محمد حلیم چې په سروې کې یې برخه هم اخیستې، په دې اړه وایي: "بهرنیو هېوادونو ته د کار پیدا کولو او پناه اخیستنې په موخه په غیر قانوني ډول د ګڼ شمېر افغانانو

تګ او د دغه بهير دوام، دغه ډول سفرونه د خلکو په منځ کې پر قاچاقي سفرونو مشهور کړي، وايي چې فلانی ايران ته په قاچاقي ډول تللی او فلانی کس قاچاقبر ترکيې ته بيولی." د نوموړي په وينا، همدغه دليل دی چې ډېری کسانو ويلي چې د انسان او کډوالو د قاچاق په اړه يې اورېدلي دي، په داسې حال کې چې ښايي ډېر کسان د انساني قاچاق او کډوالو د قاچاق تر منځ توپير ونه شي کړی.

هغه کسان چې په دې نظرپوښتنه يا سروې کې يې برخه اخيستې، ټول لوستي دي؛ ځکه چې نا لوستي کسان په انلاين سروې کې له ګډونه عاجز وي. د انساني قاچاق په اړه د لوستو کسانو د پوهې ټيټې کچې ته په پام سره ويلای شو چې دغه کچه په بې سواده کسانو کې څو چنده ډېره ده. د احصايې مرکزي ادارې د معلوماتو له مخې، په افغانستان کې د سواد کچه په ځوانانو کې ۵۲ سلنه او په لويانو کې ۳۴ سلنه ده او پاتې يې نالوستي دي.

د حقوقپوهانو له نظره، د انساني قاچاق په اړه په ټوله کې په لوستو او نا لوستو کسانو کې د معلوماتو کچه ډېره ټيټه ده، کله چې له خلکو د انساني قاچاق په اړه پوښتنه وشي، فکر کوي چې قاچاق يوازې له يوه هېواد څخه بل هېواد ته په نا قانونه ډول سفر کول دي. هغوی د انساني قاچاق د ډولونو په اړه د خلکو د پوهاوي کچې لوړول مهم بولي؛ ځکه په دې اړه د خلکو د پوهاوي کچې لوړېدل د دې لامل کېږي چې د قاچاق پېښې را کمې شي.

د عدليې وزارت د معلوماتو له مخې، په ۱۳۹۰ کال کې د کمېسيون له جوړېدو وروسته د حکومت د کار کوونکو او کمېسيون د غړو لپاره د ورکشاپونو له لارې د انساني قاچاق په اړه د پوهاوي پروګرامونه جوړ شوي دي او د ارشاد، حج او اوقافو وزارت چې د دغه کمېسيون غړی دی، په دې موده کې په مرکز او ځينو ولايتونو کې د ۵۴۰ جوماتونو له لارې خلکو ته په دې اړه پوهاوی ورکړی دی. د سروې يوه ګډون کوونکي چې له انلاين سرچينو يې د انساني قاچاق په اړه معلومات ترلاسه کړي، ويلي: "ډېری کسان د خپلو ګرځنده ټيلېفونونو له لارې انټرنېټ ته لاسرسی لري او ډېری کسانو له همدې لارې معلومات ترلاسه کړي؛ ځکه له دې لارې د معلوماتو اخيستل اسانه دي."

ډېر شمېر کسانو په دې اړه ځکه له انلاين لارې معلومات موندلي چې د انځوريزو، غږيزو او چاپي رسنيو په پرتله انلاين رسنۍ او شبکې د دې موضوع په اړه ډېر معلومات ورکوي؛ دولت بايد په دې اړه د خلکو د پوهاوي کچې لوړېدو لپاره زمينه برابره کړي، د راډيو، ټلوېزيون او چاپي رسنيو له لارې دې هم خلکو ته پوهاوی ورکړي او د راډيو له لارې د معلوماتو وړاندې کول د هغو کسانو لپاره ډېر ګټور دي چې سواد نه لري.

د سروې ۳۴ سلنه ګډونوالو دې پوښتنې ته چې ايا افغانستان د انسان له قاچاق او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون لري؟ ځواب ورکړی دی. د ياد قانون د شتون په اړه د خلکو د پوهاوي په اړه ياده شمېره په داسې حال کې ده چې له هرو پنځو کسانو څخه يوه يې د انسان له قاچاق سره د مبارزې قانون په اړه لږ معلومات وړاندې کړي دي؛ د بېلګې په توګه يو شمېر کسانو ليکلي: "جزا يې ټاکلې"، "د قاچاق د مخنيوي لپاره ليکل شوي دي" او... خو د ګوتو په شمېر نورو کسانو په دې اړه ډېر معلومات نه دي ورکړي.

د حقوقپوهانو په باور، له انساني قاچاق سره د مبارزې د قانون په اړه د دولت د کارکوونکو په ګډون د خلکو د پوهاوي کچه ډېره ټيټه ده او د دولت دنده ده چې د رسنيو، مدني بنسټونو، ښوونځيو، جوماتونو او نورو لارو څخه په دې اړه خلکو ته پوهاوی ورکړي، که چېرې په دې برخه کې د خلکو په ځانګړې توګه دولتي کارکوونکو د پوهې کچه لوړه شي چې په دې برخه کې کار کوي، قانون په سمه توګه تطبيقېږي او د انساني قاچاق پېښې هم کمېږي.

## له جنایتکار باندونو څخه د خوندیتوب لاربنود

ژورنالېستان د خپلو ورځنیو فعالیتونو په لړ کې کله ناکله د حکومتي، نا حکومتي او د قانون د تنفیذ د چارواکو او د فاسدو کړیو له ګواښ سره مخ کېږي، په داسې حال کې چې ډېری وختونه هغه کسان چې پر ژورنالېستانو بریدونه کوي، له معافیت څخه برخمن کېږي. دې ته په پام سره د ژورنالېستانو د خوندیتوب لپاره د ملګرو ملتونو سازمان د عمل پلان پر دې ادعا د صحت مهر ږدي چې ژورنالېستان هم د ټولنې د څارونکو او هم د اطلاعاتو او خبر رسوونکو په توګه په ټولنه کې رغنده رول لري. دا د درک وړ ده چې د ملګرو ملتونو سازمان د نومبر دویمه نېټه د ژورنالېستانو پر وړاندې د مجرمینو معافیت ته د پای ټکي ایښودو د ورځې په توګه ټاکلې ده.


د ژورنالېستانو مسلکي والی، صنفي حقونه او خوندیتوب له یو بل سره نږدې اړیکې او پر یو بل مستقیم اغېز لري. که ژورنالېستان قانون، ژورنالېستکي معیارونو او موازینو ته درناوی ولري او د راپورونو په چمتو کولو کې یې په پام کې ونیسي، له خپلو صنفي حقونو سمه ګټه واخلي تر ډېره یې ژوند خوندي کېږي؛ ځکه په دغه حالت کې د کومې وېرې احساس نه کوي او په بشپړ جرئت سره داسې راپورونه جوړولای شي چې نه یوازې د مثبت بدلون جوګه ګرځي، بلکې ولسي ملاتړ هم ترلاسه کولای شي. له بلې خوا که ژورنالېستان خوندیتوب احساس کړي او مسلکي معیارونه په پام کې ونیسي، داسې راپورونه جوړولای شي چې د خلکو پر ژوند مثبت اغېز وکړي، له همدې امله کولای شي د خپلو صنفي ټولنو په ملاتړ مخکې ولاړ شي او ټولنې ته په ګټه تمام شي. د کرزي د واکمنۍ په لومړیو شاوخوا لسو کلونو کې رسنۍ د خپلو مسلکي معیارونو د تطبیق له امله د ټولنې د باور وړ ګرځېدلې وې، خو په وروستیو څلورو کلونو کې ګوندي او قومي تمایلاتو دغه باور یو څه زیانمن کړی، نو اړینه ده چې ژورنالېستان د یاد باور د بېرته پیدا کېدو لپاره خپلو ژورنالېستکي موازینو او معیارونو ته بشپړ پام وساتي.

جرم او فساد د راپور ورکولو دوه خورا مهمې موضوع ګانې دي. د سیاسي او جنایتکارو ډلو تر منځ د بېلوالي کرښه ډېری وخت خورا پیکه وي چې له امله یې ژورنالېستانو ته ګواښونه متوجه کېږي. دا ستونزه، په ځانګړې توګه په اسیا، افریقا او سوېلي امریکا کې چېرې چې جنایتکار باندونه او ډلې له خوندیتوبه برخمن دي، عمومیت لري، له همدې امله هر هغه امنیتي ملاتړ چې ژورنالېستان پرې تکیه کوي، کمزوری کېږي.

د انساني قاچاق په اړه د راپور جوړولو لپاره اړتیا ده چې:

- د دندې له منلو مخکې یوه امنیتي څېړنه وشي؛ کله چې غواړئ خطرناکې یا حساسې موضوع ګانې تر خبري پوښښ لاندې راولئ، یو احتیاطي پلان هم باید جوړ شي؛ ځکه که چېرې ژورنالېست یا سرچینه له ګواښ سره مخ کېږي، له یاد احتیاطي پلان څخه کار واخیستل شي. په څېړنه کې باید تر ټولو خطرناک کسان او تر ټولو حساسې مسئلې په ګوته شي او هغه خطرونه چې د را ولاړېدو شونتیا یې شته، ورته کره کتنه وشي.
- ژورنالېست دې په دې اړه له خپل اډېټر او نورو همکارانو سره په وضاحت خبرې وکړي او د ستونزې حل ته روښانه قواعد وضع شي.
- د دې ډول راپورونو چمتو کولو پر مهال ځان په ساده وضعیت کې راولئ او اضافي وسایل په تېره بیا لپ ټاپ او نور ورته وسایل له ځان سره مه اخلئ.
- لومړی له هغو سرچینو سره مرکه وکړئ چې تر ټولو ډېر اعتبار پرې لرئ او وروسته ورو ورو پر خطرناکه سرچینو کار وکړئ.
- کله چې یوه خطرناک شخص یا ځای ته نږدې کېږئ، باید یو همکار مو ملتیا وکړي یا تر نظر لاندې مو ونیسي.
- د دې لپاره چې څوک مو د غچ اخیستلو لپاره په نښه نه کړي، باید ټولو جرمي سرچینو، په تېره بیا مخالفینو ته په ډاګه کړئ چې یواځې نه یاست، بلکې یو خبري اژانس یا همکار مو ټول فعالیتونه له نږدې څاري.
- یو لوړپوړی امنیتي چارواکی چې په بېړني حالت کې تاسې یا نور ورته مراجعه وکړای شي، ومومئ او اړیکې ورسره جوړې کړئ.
- کله چې له مخالف شخص سره مرکه کوئ، د ځواب په مقابل کې یې د مخالفو پوښتنو له کولو ډډه وکړئ او پر ځای یې بشپړوونکې پوښتنې وکړئ.
  - شخص پرېږدئ چې خپله خبره په جزئیاتو سره په هغه ډول چې غواړي، بیان کړي.
  - جر او بحث مه کوئ.
  - داسې مه ښکاره کوئ چې د چا پلوي کوئ یا د هغه په اړه قضاوت کوئ.

د انساني قاچاق قرباني شوي ته باید
پخواني یادونه ور پهٔ زړه نه شي؛ ځکه
ښايي روحاً وځوريږي.


د یوه نارینه د شخصیت او
نرتوب اصلي جوهر له ښځو
سره په تاوتریخوالي، تېري او
حاکمیت لرونکي فکر سره نه،
بلکې ښځې ته د درناوي او
درنښت په رښیتنې هنداره کې
څرګندېږي.

# اووم څپرکی

# له انساني قاچاق څخه د زیانمن شوو په اړه راپور ورکول

**د زیانمن شوو په اړه راپور ورکول**

د ۱۳۸۸ لمریز کال د افغانستان د ټولنیزو رسنیو قانون د ۴۵مې مادې له مخې، د هغو اثارو، مطالبو او انځورونو تولید، چاپ او خپرول منعه دي چې له امله یې د تېرې او تاوتریخوالي قربانیانو ټولنیز حیثیت زیانمنېږي. دغه راز د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منعې قانون د ۶مې مادې له مخې، د ښځو نسبتي موضوع محرمیت لري. دغه راز د یاد قانون د ۱۱مې مادې له مخې، د اطلاعاتو او کلتور وزارت مکلف دی چې د ټولیزو رسنیو له لارې د تاوتریخوالي د تبلیغ کوونکو برنامو له خپرېدو مخنیوی وکړي.

دغه راز د ښځو او ماشومانو د ځورونې او اذیت د مخنیوي قانون د ۱۳مې مادې د درېیم بند له مخې، د اطلاعاتو او کلتور وزارت دنده لري چې د ټولنیزو دولتي او خصوصي رسنیو له لارې د ښځو او ماشومانو د ځورونې او اذیت د عامېدونکو پروګرامونو د خپراوي مخنیوی وکړي. د یاد قانون د ۱۹مې مادې له مخې، د هغې ځورونې او اذیت شکایت ته رسېدنه چې د ښځې او ماشوم حیثیت ته زیان رسوي، نه افشاء کېږي.
رسنی باید خپله خپرنیزه پالیسي داسې چمتو کړي، څو عام خلک په ځانګړي ډول ماشومان له تاوتریخوالي د ډکو او غیر اخلاقي خپرونو له لیدو او اورېدو خوندي پاتې شي. ژورنالېستان باید له خپلو ازادیو مسوولانه ګټه واخلي او د ژورنالېزم له منل شوو اصولو او معیارونو پیروي وکړي؛ ځکه یوه عادي بې احتیاطي یې کولای شي قرباني او زیانمن شوی شخص له بېلابېلو ستونزو او حتی د مرګ له ګواښ سره مخ کړي.
له حرفوي اېډېټ څخه پرته د قربانیانو د انځورونو او تصویرونو خپرول، د ژورنالېزم د اصولو او موازینو خلاف کار دی؛ ځکه کېدای شي د ټولنې پر روان ناوړه اغېز وکړي، له لارې یې تاوتریخوالي ته نوره لمن ووهل شي او قرباني شوي کس ته نور زیان ورسوي. د پېښو او پرمختیاوو په اړه د اطلاعاتو او حقیقتونو راټولولو او خپرولو پر مهال د چا معلولیت، جسمي او روحي ناروغیو او ورته نورو ستونزو ته د هغه د شخصیت او درېځ د کمزورتیا په نظر باید ونه کتل شي.
د انساني قاچاق په اړه راپور ورکولو کې باید ټولنیز، کلتوري، اخلاقي او مذهبي هغو ارزښتونو ته چې په عمومي توګه په افغانستان کې ورته درناوی کېږي، درناوی وشي، په دغو ارزښتونو کې باید د انصاف، دقت، بې پرېوالی، خصوصي حریم ته درناوی، له ځورونې او ښکنځلو څخه د خلکو، په ځانګړي ډول د ځوانو اورېدونکو او لیدونکو د ژغورنې معیارونه په پام کې ونیول شي. یادو معیارونو ته باید په خبري پوښښ، غبریزو او انځوریزو خپرونو کې ډېر پام وشي، څو عامو خلکو ته د زیان رسوونکو مواردو د نفوذ مخنیوی شوی وي.
پاروونکې وېناوې، تاوتریخوالی، جنسي تېری، سپکاوی، پر لوړ انساني مقام تېری، د عمر، نژاد، مذهب او جنسیت په اړه تبعیض لرونکي نقل قولونه او وېناوې خلکو ته له زیان رسوونکو مواردو څخه دي. دغه راز هغه خپرونې او راپورونه چې په افغانستان کې د کوچنیانو لپاره مناسب نه وي، باید خپاره نه شي؛ که چېرې د خپرونو دغه توکي د لویانو لپاره مناسب او اړین وي، خو د ماشومانو (له اتو یا لسو کلونو ټیټ عمر لرونکي) لپاره نه وي، د ماشومانو د فزیکي، رواني او اخلاقي ودې د مخنیوي لامل ګرځي، تاوتریخوالي او د نا سمو کړنو تقلید ته یې هڅوي، نو بیا باید په داسې وختونو کې له روښانې توجیه سره خپاره شي چې ماشومان ویده وي او یا د ښوونځي وخت یې وي. داسې راپورونه او خپرونې باید جوړې او خپرې نه شي چې د جنایت ارتکاب ته خلک وهڅوي او تحریک کړي، هغه تاکتیکونه چې د جنایت د ارتکاب لارې چارې په کې ښودل شوې وي، هم باید خپاره نه شي، خو په هغه وخت چې محتوا یې د توجیه وړ وي او د خپرېدو اړتیا یې شتون ولري.

د انساني قاچاق راپورونو په خپرولو کې ټولنې او زیانمن شوي شخص ته د راپور د زیان او ګټې پرتله باید وشي که ګټه یې ټولنې ته ډېره وه، د ژورنالېزم د موازینو او معیارونو په پام کې نیولو سره دې خپور شي.

**هغه کارونه چې رسنۍ يې بايد ترسره کړي او يا ډډه ترې وکړي:**

| وکړئ | مه کړئ |
|---|---|
| حقیقت ووايئ. | له قرباني سره د يو څيز په توګه چلند مه کوئ؛ له هغه سره د يو مظلوم انسان په توګه چلند وکړئ. |
| دقيق او ناپېيلی و اوسئ او د چا پلوي مه کوئ. | له هغوی څخه تړلې پوښتنې مه کوئ؛ ويې هڅوئ چې تفصيلات ورکړي، داسې پوښتنې مه کوئ چې ځواب يې يواځې نه يا هو وي. |
| د قربانيانو د هويت له پېژندلو د مخنيوي لپاره د ماسک تړلو تخنيک وکاروئ. | له قرباني سره د قرباني په ډول هم چلند مه کوئ؛ داسې احساس مه ورکوئ چې ځان خوار او حقير وګڼي. |
| قربانيان له هغو ژورنالېستانو سره چې ورسره غمرازي کوي، ډېر څه شريکوي؛ هڅه وکړئ د هغوی درد درک کړئ. | د قربانيانو د مخ د عکسونو له اخيستو ډډه وکړئ؛ ځکه چې کېدای شي د هغوی ژوند له ګواښ سره مخ شي. |
| هغوی مه افشا کوئ، خو هدف يې ترلاسه کړئ. | کوښښ وکړئ چې له قربانيانو داسې پوښتنې ونه کړئ چې د هغوی حيثيت ته زيان ورسوي. |
| د انساني قاچاق تر شا دليلونه را وسپړئ. | قرباني بېرته د فحشا مرکز ته مه بيايئ؛ د هغه څه په باب چې ورباندې تېر شوي، دومره ډېرې پوښتنې مه کوئ چې د هغه ذهن بېرته هغو ورځو ته چې د فحشا په مرکز کې و، ور وګرځي. |
| تحقيقاتي روحيه ولرئ او د جرم د مرتکبينو په موندلو کې همکاري وکړئ. | کوښښ مه کوئ داسې حالت غوره کړئ چې ګواکې د قرباني پر حال مو زړه سوځي يا هغه د ترحم وړ او بدبخت دی. |
| اصلي ځايونه وګورئ او حقيقت له ټولو پېچلتياوو سره ووينئ. | د لنډيز او کېپشنونو د په زړه پورې کېدلو لپاره هم حقيقتونه مه تحريفوئ. |
| هغه ستونزې چې قربانيان ورسره لاس او ګرېوان دي، په ګوته کړئ، نه د هغوی کړاوونه چې ګاللي يې دي. | د راپور عنوان ته مو بېځايه يا ډېر افراطي رنګ مه ورکوئ. |
| قضيه په محکمه کې هم تعقيب کړئ او په اړوند قانون او د هغه پر تشو، د پلي کېدو پر خرنګوالي، خنډونو او نورو باندې تمرکز وکړئ. | د «مورډ د هغوی په مقابل کې» له چلند څخه ډډه وکړئ او کوښښ وکړئ چې خپل ناپېيليتوب وساتئ. |
| خپل الفاظ په احتياط سره غوره کړئ. | رسنيزه محکمه مه جوړوئ او حقيقيت ته ځان ورسوئ. |

## د جنسي تېري زيانمن شوو په اړه راپور ورکول

د جنسي تېريو په تړاو تصويرونه بايد خپاره نه شي او له داسې ځانګړو پېښو پرته په نورو پېښو کې بايد د قرباني اصلي نوم خپور نه شي، زيانمن شوي ته بايد مستعار نوم غوره شي او د لوستونکو د معلوماتو لپاره تر غوره شوي نوم وروسته بايد (مستعار نوم) وليکل شي؛ د بېلګې په ډول، که د يوې زيانمن شوې ښځې نوم حبيبه وي، نو بايد داسې وليکل شي، جميله (مستعار نوم).

په راپور کې کېدا شي زيانمن شخص داسې هم معرفي شي:

- دا مېرمن چې خپل مستعار نوم ذکيه ښيي.
- ګل احمد او واحد دواړه مستعار نومونه دي.
- اميد، په دغه راپور کې يو مستعار نوم دی.

په ځينو هغو ځانګړو حالتونو کې چې قرباني او يا د هغه کورنۍ وغواړي، کېدای شي د تېري د قرباني اصلي نوم هم خپور شي. د جنسي تېري د زيانمنو د پېژندګلوۍ په اړه بايد په راپور کې يواځې د زيانمن شخص د ولايت او ولسوالۍ نوم واخيستل شي او د هويت په اړه يې نورې ځرګندونې ونه شي؛ يعنې د کلي، سيمې، خېل او پلرنۍ له يادولو يې ډډه وشي؛ د بېلګې په ډول، پر يوې ښځې جنسي تېری شوی، چارواکي يې هويت پـه ډاګـه کـوي، خـو رسنۍ يې بيا د هويت له په ډاګه کولو ډډه کوي او په راپور کې ليکي: "پوليسو د يادې ښځې هويت په ډاګه کـړی، خو په دې اړه د رسنيو تګلارې ته په کتو دلته يې د هويت له ځرګندولو ډډه کېږي."

د جنسي تېري د زيانمنو بشـپړ هويـت پـه دغـه شـرط پـه راپـور کـې ځرګندېدای شـي چـې پـه خپلـه قربـاني يـې د ځرګندېدو غوښتنه وکړي؛ په داسې حال کې چې زيانمن بايد ماشوم يا لېونی نه وي او ښکاره رواني نـاروغي ونـه لري. د جنسي تېري د زيانمنو هغه انځورونه، غږ او ويډيوګانې چې زيانمن په کې ونه پېژندل شي، خپرېدای شي.

## د جندر یا جنسیت له مخې تاوتریخوالي په اړه راپور ورکول

د جندر له مخې تاوتریخوالی هغه تاوتریخوالي ته ویل کیږي چې له ښځې سره له دې امله چې ښځه ده او یا له نارینه سره له دې امله چې نر دی، ترسره کیږي، خو په دې برخه کې ښځې ډېرې زیانمنې دي. د جنسیت له مخې تاوتریخوالی یوه پېچلې او حساسه موضوع ده چې جنسي تېري، ناوړه جنسي کتنه، د قانوني عمر له بشپړېدو مخکې نکاح، ښکنځلې، سپکاوی، وهرول، ځورول، له خلکو او ټولنې په زور لرې ساتل (انزوا ته مجبورول)، کورنی تاوتریخوالی او نورې بېلابېلې ځورونې په کې راځي. دا ټولې چارې سملاسي او قوي غبرګون رامنځته کوي. په دې اړه مسلکي راپور برابرول په ځینو حالاتو کې ستونزمن کار دی؛ ځکه چې دغه ډول راپور خپرول کېدای شي په ټولنه کې د مروجو دودونو له مخې، د حساسو او ان منعه شوو مسایلو په اړه وي.

ژورنالېستان په رسنیو کې د مېرمنو د غږ په پورته کولو کې ستره ونډه لري او همدا رسنۍ لامل کېږي چې د تاوتریخوالي عاملین عدالت ته کش کړل شي. ژورنالېستان د قربانیانو او زیانمنو لپاره د خدمتونو په وړاندې کولو کې رغنده رول لرلای شي او د «صفر زغم» تګلارې په هڅونې سره له مېرمنو سره د جنسیت له مخې د تاوتریخوالي په مخنیوي کې مرسته کولای شي.

**ځیرکتیا:** واقعیت راسپړنه د ژورنالېزم بنسټیزه موخه ده او د جنسیت له مخې د تاوتریخوالي پېښنو په پوښښ کې هم مرسته کولای شي. د ژورنالېستانو مرکې باید حساسې وي او هغوی باید د داسې قضیو پر قانوني بهیر ځان پوه کړي؛ ځکه چې دغه کار د قضیې په اړه د مسلکي راپور په جوړولو کې ورسره مرسته کوي. ځیني ژورنالېستان د ځانګړو اصطلاح ګانو پر ځای نورې کلمې کاروي او فکر کوي چې فصیحه او بلیغه ژبه یې کارولې، خو دغه کار ښایي ستونزې را ولاړې کړي او د دې لامل شي چې خلک له راپوره بل مفهوم واخلي یا هم پر اصلي مفهوم باندې ونه پوهېږي؛ نو ځکه غوره ده چې په راپور کې د موضوع اړوند معمولي کلمې وکارول شي.

**وړتیا (مناسبوالی):** ژورنالېستان باید د جنسیت له مخې د تاوتریخوالي له زیانمنو سره مناسب چلند او په دې تړاو د راپورونو د سرچینو خوندیتوب ته هم پام وکړي؛ په دې برخه کې د له پوهې سره د قبلونې نظریه مهمه ده؛ یعنې ژورنالېستان له چا سره چې مرکه کوي، هغوی باید په رسنیو کې د را څرګندېدو له پایلو خبر وي؛ ځکه چې د جنسیت له مخې د تاوتریخوالي زیانمن شوی شخص، ښایي د اطلاعاتو له خپرولو وروسته له بېلابېلو ګواښونو او خنډونو سره مخ شي؛ نو ځکه هغه کسان چې مرکه ورسره کیږي، باید په دې تړاو پر احتمالي ګواښونو پوه وي.

**بې پربتوب:** ژمن ژورنالېست ته ښایي چې له قضاوت او تبعیض ډډه وکړي او په راپور کې داسې تفصیل ور نه کړي چې د جنسیتي تاوتریخوالي په ګډون په هېڅ قرباني تور پورې نه شي؛ د بېلګې په توګه، که د پېښې پر مهال د زیانمن جامې یا ظاهري بڼه یاده شي، نو د هغه په اړه به پربکړه شوې وي، ځیني ژورنالېستان ښایي د تفصیل ورکولو هڅه وکړي چې په دې سره د تورن د سپینولو پر هڅو تمرکز کیږي.

**د خبرولو دنده:** د جنسیت له مخې د تاوتریخوالي په اړه راپور ورکولو پر مهال دې د ټولنې د ګټو او د خلکو د خوښې وړ موضوعاتو توپیر وشي. د جندر له مخې د تاوتریخوالي ځیني راپورونه په لوړپوړو چارواکو پورې تړاو لري چې د هغوی ډېر شخصي اطلاعات په کې شامل دي. له دې موضوع سره په احساساتي طریقه چلند کېدای شي د جندر پر بنسټ د تاوتریخوالي قربانیانو ته ګټور اطلاعات ونه لري.

**شخصي حریم ته درناوی:** اصولي ژورنالېست هغه دی چې د تاوتریخوالو قربانیانو او زیانمنو کورنیو عزت ته د جندر له مخې درناوی وکړي او د هغو قربانیانو په اړه چې غواړي په مستعار نوم معرفي شي، داسې معلومات ورنه کړي چې وپېژندل شي. ژورنالېستان هڅه کوي چې د ښځو لپاره د کابل او ولایتونو په امن خونو کې د مېرمنو د ژوند په اړه راپورونه چمتو کړي، خو په دې اړه د چارواکو اجازه نه شي ترلاسه کولای، خو ژورنالېست باید:

- پنځوونکي و اوسي او د ستونزې د پوښښ لپاره پر بېلابېلو لارو چارو فکر وکړي؛ د بېلګې په توګه کولای شي له هغو ښځو سره خبرې وکړي چې په امن خونو کې یې وخت تېر کړی وي، د ملګرو ملتونو له هغو ادارو سره مرکې وکړي چې له امن ځایونو ملاتړ کوي او د دې برخې پوهانو نظر واخلي. ژورنالېست باید په دې اړه له اړوندو چارواکو سره خبرې وکړي او هغوی ته ور وفهموي چې ولې غواړي په دې اړه راپور جوړ کړي.
- په افغانستان کې د ښځو لپاره امن خونې یوه حساسه موضوع ده؛ نو ځکه خو یې باید د امن خونو د موقعیتونو او کارکوونکو له ښودلو ډډه وشي.

ژورنالېستان د هغو نجونو په اړه د راپور چمتو کولو پر مهال هم له ستونزو سره مخ کېږي چې ډېر عمر لرونکو کسانو ته واده شوې دي؛ ځکه چې ډېری داسې نجونې او سړي نه غواړي مرکې وکړي، پر ژوند یې راپور جوړ او خپور شي.

- دغې ستونزې ته د رسېدو لپاره له هغو کسانو سره چې غواړئ مرکې ورسره وکړئ، ډاډ ورکړئ چې ستونزه نه ورته جوړوئ. په دې اړه له دیني عالمانو او هغو کسانو سره هم خبرې وکړئ چې له دې ډول ودونو د را پیدا شوو ستونزو په حل کې یې برخه اخیستې وي.
- خو که څوک نه غواړي، د مرکې لپاره ور باندې فشار مه راوړئ.
- "هېڅ زیان مه رسوئ" اصولو ته غاړه کېږدئ او دا باوري کړئ چې نجونې او مېرمنې په لا زیات خطر کې اچول شوې نه دي.

کله کله ژورنالېست ته خبر ورکول کېږي چې یوه مېرمن د هغې د مېړه یا د کورنۍ د نرو غړي له خوا سخته وهل شوې ده، نرډې روغتون ته وړل شوې، صدمه یې لیدلې، د هغې د ګاونډ ځینې مېرمنې هم ورسره دي او هغوی هم غوسه دي. هغې زړې جامې اغوستې، ویني ترې څاځي او له ژورنالېست څخه غواړي څو هغه څه ثبت کړي چې ورته پېښ شوي دي. دغه راز د هغې ګاونډۍ مېرمنې هم غواړي چې د دې ستونزې په اړه خبرې وکړي، په دغه ډول حالت کې:

- دغه مېرمن په لا زیات خطر کې مه غورځوئ.
- هغې او نورو مېرمنو ته د عامه مرکې د احتمالي خطرناکو پایلو په اړه خبر ورکړئ او خطرونه ورته تشریح کړئ.
- که چېرې هغه غواړي چې راپور پرې ولیکئ، په افغانستان کې د جنسیت له مخې تاوتریخوالي په پام کې نیولو سره راپور جامع او متوازن کړئ، د کورني تاوتریخوالي شاوخوا عمومي حالت په اړه په راپور کې د کارپوهانو نقل قولونه شامل کړئ، د ملګرو ملتونو د کارکوونکو په ګډون د اړوند چارواکو ځوابونه او اطلاعات باید په راپور کې شامل وي.
- د غچ اخیستنې او لا زیات زیانمنېدو د مخنیوي لپار باید د هغې هویت پټ وساتئ.

## د زیانمن ماشوم په اړه راپور ورکول

د رسنیو د خپرنیزې تګلارې له مخې، د جرمونو په تړاو د اړوندو حکومتي ارګانونو له خوا د نیول شوو او یا د محاکمو له خوا د محکوم شوو ماشومانو د هویت په اړه باید په راپور کې څرګندونې ونه شي.

د یادونې ده، د افغانستان د مدني قانون له مخې، د ماشومتوب دوره تر اتلس کلنۍ پورې بشپړه شوې ده. دغه راز د هغو زیانمنو ماشومانو هویت باید په راپور کې څرګند نه شي چې په څرګندېدو یې ټولنیز حیثیت زیانمنېږي؛ خو که پلار او یا نیکه یې موافقه ولري، هویت یې خپرېدای شي. په دغسې حالتونو کې باید په راپور کې ولیکل شي چې د رسنیو د پالیسۍ له مخې، د ماشوم نوم نه دی څرګند شوی، خو د پژواک د خپرنیزې تګلارې له مخې د هغو ماشومانو هویت باید په راپور کې څرګند شي چې د سیاسي موخو او یا د پیسو د لاسته راوړو لپاره تښتول کېږي.

له رسنیو څخه د تاوتریخوالي او جنسي تېریو د قرباني ماشومانو د څېرې او هویت خپرول یا جرم ډاګیز کول یې نه یوازې د ژورنالېزم د اخلاقي موازینو خلاف کار دی، بلکې له قانون څخه ښکاره سرغړونه ده. د یونیسېف د اصولو له مخې، د ماشومانو په اړه راپور ورکول ځانګړې ننګونې لري چې کله کله یې د سزا یا ان د سپکاوي له خطر سره مخ کوي.

لاندې اصول د دې لپاره دي چې اخلاقي راپور ورکول د نېکو ارادو ملاتړ وکړي او د ماشومانو په اړه له معاملې پرته عامې ګټې خوندي شي:

۱- هر ماشوم په هر حالت کې د درناوي وړ دی.

۲- له ماشومانو سره د مرکو یا یې په اړه د راپور ورکولو پر مهال باید هڅه دا وي چې شخصیت ته یې درناوی وشي، رازونه یې وساتل شي، نظریې یې واورېدل شي، په پرېکړو کې د ګډون حق ورکړل شي او هڅه وشي چې ماشومان له زیان او مجازاتو وساتل شي.

۳- د ماشومانو لوړې ګټې باید تر بلې هرې ملاحظې مخکې خوندي شي چې په هغو کې د ماشومانو د مسایلو لپاره تر عدالت غوښتنې لوړ او د هغو د حقونو دودولو موارد شامل دي.

۴- د ماشومانو د لوړو ګټو د تشخیص پر مهال، د ماشومانو له عمر سره په مطابقت کې دې د هغوی نظرونو ته په کتو د هغوی حقونه په پام کې ونیول شي.

۵- د سیاسي، ټولنیزو او کلتوري خبري پوښښ د پاپلو په اړه دې له هغو کسانو سره چې د ماشوم له وضعیت سره نږدې اړیکه او د شرایطو د ارزونې توان لري، مشوره وشي.

٦- داسې راپور باید خپور نه شي چې ماشوم، د ماشوم خویندې، وروڼه یا ملګري له ګواښ سره مخ کړي.

یو ژمن ژورنالېست چې کله د ماشومانو په اړه راپور ورکوي، هڅه کوي:

- په هر حالت کې د هر ماشوم د حق او عزت درناوی وکړي؛
- هغه انځورونه چې ماشومانو ته د زیان لامل کېږي نه خپروي؛
- له ماشومانو سره د مرکو، ویډیوګانو او مستندو انځورونو د اخیستلو لپاره له میندو او پلرونو لیکلې اجازه ترلاسه کوي؛
- که عامه ګټه په کې نه وي، په انځورونو کې د ماشوم له ځانګړي کولو ډډه کوي؛
- د ماشومانو اړوند د هر ډول موادو د خپراوي پایلې له پامه نه غورځوي؛

ژورنالېست باید له کارګرو ماشومانو سره د مرکو لپاره د هغوی د پلار، مور یا قانوني سرپرست د اجازې ترلاسه کولو لپاره لاندې موارد په پام کې ونیسي:

- د ماشوم پلار، مور او یا قانوني سرپرست ته دې دا وضاحت ورکړل شي چې د ماشوم او د هغه د کورنۍ هویت څه ډول پټ ساتل کېږي.

- رېښتينولي دې وساتل شي او هغه برخې دې لرې شي چې ماشوم ته د خطر پېښېدو لامل کېدای شي یا د ماشوم راتلونکی اغېزمنوي.
- د ماشوم لپاره دې یو بېل مستعار نوم وکارول شي او هېڅکله یې باید د استوګنې پته ونه ښودل شي. د هغوی د کار ځای په اړه اطلاعات دې نه خپرېږي څو له ممکنه ګواښه وژغورل شي.
- که چېرې انځورونو ته اړتیا وي، د ماشومانو د انځور اخیستو په اړه دې لارښوونې تعقیب شي. د کارګرو ماشومانو د انځور اخیستو پر مهال دې دا باوري شي چې د هغوی مخونه په انځور کې نه ښکاري او نه پېژندل کېږي.

کله چې ژورنالېستان د ماشوم له پلار، مور او یا قانوني سرپرست سره خبرې کوي او له هغو سره د خبرو او مرکې رضایت او اجازه غواړي، داسې فکر کوي چې پر دې مرکې یې اولادونو ته خدای مه کړه ستونزې پیدا کېږي.
د ماشوم د پلار، مور او یا قانوني سرپرست د هڅونې او د هغوی د رضایت ترلاسه کولو لپاره باید له لاندې لارو چارو ګټه واخیستل شي:

- میندو او پلرونو، قانوني سرپرست یا مراقبت کوونکو ته باید د مرکې د موخې په اړه چې ولې غواړئ د هغوی د ماشوم انځورونه واخلئ او یا خبرې ورسره وکړئ، کافي معلومات ورکړل شي.
- هغوی ته تشریح کړئ چې مرکه به څرنګه ترسره شي، تاسو به څه پوښتنې وکړئ، کومو اطلاعاتو ته اړتیا لرئ او مرکه به څومره وخت ونیسي.
- هغوی حق لري ډاډ ترلاسه کړي او هم د ماشوم له انځور اخیستو یا مرکې مخکې با خبره رضایت ترلاسه کولو ته اړ یاست. باید دا باوري کړئ چې له ماشوم سره مرکه او د مرکې خپرول به هغه په خطر کې وانه چوي.
- کولی شئ میندو او پلرونو ته ووایاست چې که چېرې وغواړي د ماشوم نوم بدلولی شي. د ماشوم انځورونه به داسې واخیستل شي چې هویت یې څرګند نه شي.

ډېری ماشومان خبرې نه شي کولای، د مرکې پر مهال کافي جرئت نه لري یا هم پرې ذهني فشار وي، دغه راز ماشوم باید د هغه څه ویلو ته اړ نه کړل شي چې ژورنالېستان یې غواړي؛ که چېرې ژورنالېست دغه څه په نظر کې ونه نیسي، مرکه کې ستونزې پېښېږي، په داسې حالتونو کې حل لاره دا ده چې:

- ماشومانو ته باید ونه ویل شي چې هغوی څه ووایي، په دې توګه کېدای شي غوره کیسه یا وینا ترلاسه کړئ.
- د ماشوم د بیان حق باید خوندي شي؛ د بېلګې په توګه کله چې له یو ماشوم سره خبرې کېږي، باید په خبرو کې یې مداخله ونه شي. د ثبت وسایل دې د ماشومانو د لاسرسي جوګه شي څو پر هغوی شته فشار کم او یا له منځه ولاړ شي.
- له ماشومانو سره دې د هغوی پر ژبه خبرې وشي، دا دې ورته تشریح شي چې د دې بشپړې پروسې په اوږدو کې څه کېږي. له ماشومانو سره د مرکې پر مهال هغوی ته د ډېر وخت ورکول تر هر څه ډېر مهم دي.
- د دې لپاره چې پر ماشومانو ذهني فشار را کم کړای شي، هڅه دې وشي هغوی پوه شي چې دا ازموینه نه ده، هېڅوک یې په اړه قضاوت نه کوي یعنې سم او نا سم ځوابونه نشته.
- هېڅ ماشوم ته باید زیان ونه رسېږي، له کلتوري ارزښتونو سره په ټکر کې پوښتنو، تبصرو او له نا سمو حرکاتو چې یو ماشوم په خطر کې غورځوي، له سپکاوي سره یې مخ کوي او د ماشوم درد او غم بیا تازه کوي، ډډه وشي.

**د قرباني ماشومانو د هویت په ډاګه کولو زیانونه**

د ۱۳۸۸ لمریز کال د تلې په نیمایي کې د کابل چاپ ورځپاڼو داسې یو خبر خپور کړ:

یوه پلار پر خپله لور پر له پسې جنسي تېري کړي او لور یې ترې امیدواره شوې ده.

او یا د ۱۳۹۶ لمریز کال د لیندۍ د ۷مې دغه خبر:

د بدخشان ولایت امنیتي چارواکي وایي چې د دغه ولایت په کشم ولسوالۍ کې هغه پلار نیول شوی چې له دوو میاشتو راهیسې یې پر خپله ۱۳ کلنه لور جنسي تېری کاوه.

د بدخشان د امنیتي قوماندانۍ له جنایي جرمونو سره د مبارزې مدیر سید مهرالدین انوري وویل چې د کشم ولسوالۍ د سرای ها کلي اوسېدونکي محمد اسماعیل له دوو میاشتو راهیسې پر دغې نجلۍ جنسي تېری کړی دی. سرچینې زیاته کړه، یادې نجلۍ پرون د کشم ولسوالۍ پولیسو ته مراجعه کړې او له خپل پلاره یې ورته شکایت کړی چې د دغه شکایت پر بنسټ د نجلۍ پلار د امنیتي ځواکونو له لوري نیول شوی او په توقیف کې دی.

د هغه په خبره، د قضیې په اړه د پولیسو څېړنې روانې دي، شکمن کس محمد اسماعیل له دې مخکې د یادې نجلۍ مور طلاقه کړې او د کورني تاوتریخوالي له امله یې دغه کار ته مخه کړې ده.

د ملي قوانینو او کړنلارو او د ماشوم حقونو ساتنې نړیوالو پرنسیپونو له مخې، د قرباني شوو، زیانمنو او یا له قانونه د سرغړوونکو نجونو او هلکانو څېرې، د لوړو مصلحتونو او واکمنې محکمې له حکم پرته د دولتي او نا دولتي رسنیو له لوري نه خپرېږي.

دغه ډول راپورونه او خپرونې لاندې جدي زیانونه لري:

- د ټولنې، په ځانګړي ډول د ماشومانو رواني امنیت ته جدي زیان رسوي.
- د ماشوم انساني کرامت او راتلونکی شخصیت په ټولنه کې له جدي زیان سره مخ کوي.
- ماشوم په ګوته کېږي او له لا ډېر ګواښ سره مخ کېږي.
- ماشوم له ټولنې ګوښی او منزوي کېږي.
- د ماشوم او د هغه د کورنۍ ټولنیز حیثیت ته جدي زیان رسېږي.
- ماشوم د ټولنې له نظره حقیر او هویت یې سپک ګڼل کېږي.
- کورنۍ خپل ماشومان نه پرېږدي چې له دې ډول نوم بد شوو ماشومانو سره د ملګرۍ اړیکه وساتي، خبرې او لوبې ورسره وکړي.
- تر ټولو مهمه دا چې د خپلې کورنۍ ملاتړ له لاسه ورکوي او کورنۍ فکر کوي چې ماشوم یې د دوی د نوم بدۍ لامل شوی، حتی د هغه په اړه ډېر خطرناک تصمیمونه هم نیسي.
- کله چې ماشوم له چاپېریال او کورنۍ لرې شو، د لوبو او خبرو ملګري یې ونه درلودل، بالاخره تېښتې ته مجبورېږي، له ناوړو لکه پر نشه روږدېدو یا هم له رواني او روحي ستونزو سره مخ کېږي او ښایي ځان وژنې ته هم مخه کړي، له همدې امله دغه ډول راپورونه او خپرونې د لاندې لاملونو په سبب جرم ګڼل کېږي او عدلي تعقیب لري:
- د انساني کرامت ساتنه او درناوی د اسلامي شریعت لاربښوونه ده، اساسي قانون او نور ملي قوانین د بشري بنسټیز حق په توګه د نړیوالو کنوانسیونونو ملاتړ له ځان سره لري. د افغانستان د اساسي قانون ۲۴مه ماده کې راغلي: "... د انسان ازادي او کرامت له تېري څخه خوندي دي. دولت د انسان د ازادي او کرامت پر ساتنه او درناوي مکلف دی."
- د افغانستان د اساسي قانون ۳٤مې مادې د بیان ازادۍ په اړه بحث کړی او د دې مادې په یوه برخه کې راغلي: "هر افغان حق لري د قانون له حکمونو سره سم مطالب، بې له دې چې هغه مخکې له مخکې

دولتي مقامونو ته وښيي، خپاره او نشر کړي. د مطبعو، راډيو او ټلوېزيون، د مطبوعاتو د خپرولو او په نورو ډله ييزو رسنيو پورې مربوط حکمـونه د قانون له لارې تنظيمېږي."

- په همدې ترتيب، د اساسي قانون په ٥٤مه ماده کې کورنۍ د ټولنې اصلي او بنسټيز رکن بلل شوی او د کورنۍ په ځانګړې ډول د ماشومانو لپاره د جسمي او روحي سلامتيا پر رامنځته کولو ټينګار شوی. په دې ماده کې راغلي دي: "کورنۍ د ټولنې اساسي رکن دی او د دولت تر پاملرنې لاندې ده. دولت د کورنۍ او په ځانګړې توګه د مور او ماشوم د جسمي او روحي روغتيا د تامين، د ماشومانو د روزنې او د اسلام د سپېڅلي دين له احکامو سره د مغايرو رسومو د له منځه وړو لپاره لازم تدبيرونه نيسي."
- د ١٣٨٨ لمريز کال د ټوليزو رسنيو قانون د ٢٠مې مادې له مخې، د خصوصي راډيو ټلوېزيونونو ادارې مکلفې دي چې په خپلو خپرونو کې د اسلام د سپېڅلي دين اصول او حکمونه او د افغانستان د ملت ملي، معنوي او اخلاقي ارزښتونه او رواني امنيت په پام کې ونيسي. د ياد قانون ٣٩مې مادې د ډله ييزو رسنيو مسوول مدير د خپلو مضامينو، د خپرونو د محتوياتو، هنري، زده کړه ييزو او تبليغاتي پروګرامونو د توليد پر وړاندې مسوول ګڼلی دی.
- د ماشومانو سرغړونو ته د رسېدو قانون د ٣٢مې مادې له مخې، د ماشومانو د سرغړونو څېړنه په پټه او د حکم ابلاغ په هر حالت کې په علني توګه ترسره کېږي، د ماشومانو د محاکمې د بهير د سندونو خپرول د شاهدانو د شهادت او د اهل خبره وو د نظر په شمول په ټوليزو رسنيو کې خپرول جواز نه لري. د ماشوم د شخصيت په اړه د معلوماتو افشاء کول او يا هغه اطلاعات چې د ماشوم د هويت د کشف لامل شي، تر هېڅ عنوان لاندې جواز نه لري. د محاکمې د غونډې بهير ثبت او ساتل کېږي.

د ترکيې د ژورنالېستانو د اخلاقي موازينو د حقونو او مکلفيتونو ١٧مه ماده د ماشومانو په اړه د مطالبو د خبري پوښښ په اړه ده او په کې راغلي چې د ماشومانو د جرمونو او جنسي تېريو په برخه کې، که چېرې متهم، شاهد او يا قاتل له ١٨ کلونو کم عمر ولري، نومونه يې بايد وا نه خيستل شي، په داسې حالتونو کې چې د ماشوم شخصيت او کړه وړه اغېزمنېږي، ژورنالېست نه شي کولای د ماشوم د کورنۍ مشر او يا يو له غړو يې چې د ماشوم مسووليت ور له غاړې وي، له اجازې پرته له ماشوم سره مرکه وکړي او يا يې انځور واخلي. هغه کسان چې د جنسي تېريو ښکار شوي وي، د هغوی انځورونه، فلمونه چې د ټولنې په ګټه نه وي، بايد خپاره نه شي.

په افغانستان کې د ژورنالېزم ملي اخلاقي موازين هم د مور او پلار او يا د قانوني سرپرست له اجازې پرته له کم عمره ماشومانو د تصوير او فلم له اخيستو او مرکو ډډه کوي. خو که د کوم دليل له مخې د تاوتريخوالي د قربانيانو په اړه د راپورونو او خبرونو خپرول په خپله قربانيانو ته ګټور و ارزول شي، نو بيا دې ته پام ساتي چې د هغوی مشهورېدا ببرته د هغوی حيثيت او مادي او معنوي ګټو ته زيان وا نهړوي.

## د انساني قاچاق له قرباني سره مرکه

د انساني قاچاق له قرباني سره مرکه کول د انساني قاچاق په اړه د راپور ورکولو يوه مهمه برخه ده. د انساني قاچاق له قرباني سره د مرکې کولو ځينې عمومي لارښوونې په لاندې ډول دي:

- قرباني ته ډاډ ورکړئ چې هغه د تاوتريخوالي په قضيه کې ملامت نه دی.
- که چېرې مرکه کېدونکی په غوسه يا اندېښمن وي او يا هم له تاوتريخوالي ډک چلند کوي، هغه ارام کړئ.
- هغه يا هغې ته ډاډ ورکړئ چې هويت يې پټ ساتئ.
- له قرباني سره مرسته وکړئ چې د خپل ځان او ماشومانو خونديتوب په اړه فکر وکړي.
- له قرباني سره په يواځې توګه مرکه وکړئ او نورو ته اجازه مه ورکوئ چې پر قضيه تبصره وکړي.

- کله چې قرباني خپله کیسه کوي، ورته په دقت او غور غوږ ونیسئ.
- هغه یا هغې ته وخت ورکړئ چې خپل نظر څرګند کړي.
- خواخوږي ورسره وکړئ.
- د مرکې پر مهال د قرباني په اړه له قضاوت کولو یا تبصرې ډډه وکړئ او ناپېيلی چلند غوره کړئ.
- داسې ژمنې له قرباني سره مه کوئ چې وروسته یې بیا پوره نه شئ کړای.
- قرباني ته د سلاکارانو یا د امن کورونو ته د مراجعې د لېستونو په شان د شته سرچینو په باب معلومات ورکړئ.

### د قرباني هویت او فردي حیثیت ته درناوی

هره کورنۍ او شخص د حیثیت او رازونو لرونکي دي؛ ژورنالېستان او رسنۍ باید د خلکو پر حیثیت له تېرې ډډه وکړي؛ ځکه چې د خلکو خصوصي حریم له هر ډول تېري خوندي دی او د خلکو حیثیت ته درناوی یو منل شوی اصل دی. خو په ځینو ځانګړو حالتونو کې چې موخه ترې ټولنیز خیر او ګټه وي، د شخصي ژوند **محرمیت** د قانون او منل شوو اصولو په چوکاټ کې چې مخکې یې یادونه شوې ده، ساقطېږي. هغه حالتونه په لاندې ډول دي:

الف: د یو لوی جرم د پلټنې او خپرېدو پر مهال؛
ب: په هغه حالت کې چې د ټولنې پر برخلیک ناوړه اغېز ولري؛
ج: د ټولنې روغتیا او امنیت ته ګواښ شتون ولري؛
د: د خلکو د تېروتنې د مخنیوي لامل شي؛

په دغو پورته حالتونو کې هم دا باید په پام کې ونیول شي چې د یو چا د ژوند هغه برخه چې په اړه یې اطلاعات خپرېږي، له موضوع سره مستقیمه اړیکه ولري او دا هم باید هېره نه شي چې ایا د هغه ټولنیز فعالیت زیان وینې او که نه. د جزا کوډ په ۴۶۲مه ماده کې راغلي، هغه شخص چې د جرمونو په اړه د شاهد یا د معلوماتو د خبر ورکوونکي یا د مدارکو وړاندې کوونکي هویت د هغوی له رضایت یا د محکمې له اجازې پرته افشاء کړي، پر منځنې بند محکومېږي. د یادونې وړ ده، د یادو جرمونو د مرتکبینو عدلي تعقیب د متضرر په شکایت پورې تړلی دی.

دغه راز د انسان له قاچاق او د مهاجرینو له قاچاق سره د مبارزې قانون د ۲۳مې مادې له مخې، د مجني علیه هویت محرم ساتل کېږي، مګر دا چې پر افشاء کولو یې راضي وي.

د جزا کوډ د ۶۳۰مې مادې له مخې، که چېرې د راز له افشاء څخه موخه له جنایت یا جنحې او یا د هغو له ارتکاب څخه مخنیوی وي یا د راز څښتن، د هغو د افشاء کولو اجازه ورکړي یا دا چې له هغو څخه موخه د عامه ګټو تامین وي، مرتکب تر عدلي تعقیب لاندې نه نیول کېږي.

غوره ده په راپورونو کې د هغو سرچینو اطلاعات شامل نه شي چې نه غواړي هویت یې څرګند شي، خو ښایي د دې ډول سرچینو څرګندونې د لاندې حالتونو په پام کې نیولو سره په راپور کې شاملې شي:

الف: د سرچینې هویت او تر ممکنه بریده د اطلاعاتو شریکولو موخه باید خبریال، اډیټر او یا ادارې ته معلومه وي.

ب: د دې ډول سرچینو اطلاعات باید د باور وړ وي او هڅه وشي چې سرچینه کومه سیاسي اجنډا او نا سمه موخه نه لري.

ج: د دې ډول سرچینو د اطلاعاتو د کره کولو لپاره باید له نورو سرچینو سره خبرې وشي، څو رسنۍ د اطلاعاتو له کره والي ډاډمن شي.

د- د رسنۍ اداره او اډیټر د دې ډول سرچینو د اطلاعاتو د خپرولو صلاحیت لري.
ه - په راپور کې دا ډول سرچینې، د سرچینې په خوښه تر هغه بریده معرفي کېدای شي چې شخصي پېژندګلوي یې ونه شي؛ د بېلګې په ډول (یوه دولتي سرچینه وایي چې...) (یوې حکومتي سرچینې وویل چې...) (د عدلیې وزارت یوه کارکوونکي او یا چارواکي وویل چې...) (د ولسي جرګې یوه غړي وویل چې...) (په فلاني ولایت کې د دولت یو وسله وال مخالف یا د وسله والو مخالفینو د یوې ډلې مشر وایي چې...) (د کندهار د پنجوایي ولسوالۍ یو اوسېدونکی وایي چې...) او داسې نور.

رسنۍ کولای شي د شکمنو، تورنو، محکوم تورنو او مجرمینو هویت په راپور کې څرګند کړي، خو په دغه شرط چې ځانګړي حالتونه ورسره په پام کې ونیسي او د مشکوک، تورن، محکوم تورن، مجرم، محکمې او محاکمې کلمې په سمه توګه پر خپل ځای وکاروي.

د مشکوک، مظنون، تورن، محکوم تورن او مجرم حالتونه په لاندې ډول دي:

الف: د پولیسو او نورو امنیتي ځواکونو له خوا نیول شوي کس ته مشکوک ویل کېږي.

ب: شخص هغه مهال مظنون ګڼل کېږي چې د تحقیق په هره مرحله کې د جرم ارتکاب هغه ته نسبت ورکول شي. یا په بل عبارت، مظنون هغه شخص دی چې د جرم د ارتکاب په نسبت د بدګومانۍ (سوء ظن) پر بنسټ تر اشتباه لاندې راغلی وي یا د اچې هغه ته د تور (اتهام) له نسبت ورکولو مخکې د ده په اړه احتیاطي تدبیرونه نیول شوي وي.

ج: شخص هغه مهال تورن (متهم) ګڼل کېږي چې د څارنوال له خوا یې پر ضد د دعوا اقامه وشي، شخص تر هغه وخت پورې تورن بلل کېږي چې محکمې د هغه پر برائت حکم نه وي کړی او یا د محکمې د وروستي حکم پر بنسټ محکوم شوی نه وي. یا په بل عبارت، تورن هغه شخص دی چې د تحقیق د اثبات راټول شوو دلایلو د ارزونې پر بنا د جرم د مرتکب په توګه تشخیص شوی او تور پرې لګېدلی وي.

د: کله چې د تورن په اړه لومړۍ محکمه پرېکړه وکړي او دغه پرېکړه نهایي نه وي، محکوم تورن ورته ویل کېږي او د دویمې محکمې (استیناف) تر پرېکړې وروسته هم ورته محکوم تورن ویل کېږي. د اساسي قانون د ۲۵مې مادې له مخې، متهم چې تر هغه پورې د باصلاحیته محکمې پر قطعي حکم محکوم نه شي، بې ګناه ګڼل کېږي.

هـ: متهم چې د با صلاحیته محکمې پر قطعي حکم محکوم شي، بیا ورته مجرم ویل کېږي.

بېلګې:

الف: پولیسو یو کس د غلا پر شک ونیو.

ب: لومړنۍ یا استیناف محکمې یو کس د قتل په تور پر اعدام محکوم کړ. خو په دغه حالت کې باید په راپور کې ولیکل شي چې محکوم شوی کس یوه یا دوه نورې محکمې هم په مخ کې لري.

ج: وروستۍ محکمې یو کس د غلا په جرم پر پنځه کاله بند محکوم کړ او وروسته چې له همدغه محکوم سره خبرې کېږي (د راپور جوړونې لپاره) باید د مجرم کلمه ورته وکارول شي.

رسنۍ په راپورونو کې د چارواکو له خولې لیکلی شي چې شکمن او یا تورن کس پر خپل جرم اعتراف کړی؛ خو که په دې اړه شکمن او یا تورن څرګندونې نه وي کړې، باید په راپور کې ولیکل شي چې مشکوک یا تورن په دې اړه څه نه دي ویلي.

د ترکیې د ژورنالېستانو د اخلاقي موازینو حقونو او مکلفیتونو کې راغلي، ژورنالېستان باید د متهم او مجرم د خپلوانو په اړه اطلاعات په هغه صورت کې چې د قضیې سره اړیکه ونه لري او یا د موضوع د لا روښانتیا لپاره نه وي، د هغو په اړه اطلاعات خپاره نه کړي.

# په افغانستان کې د ژورنالېزم ملي اخلاقي موازین

**مقدمه:**

اخلاقي موازین د نړۍ په ډېری هېوادونو کې د رسنیز کار له مهمو بنیادي تولګو ګڼل کېږي. اصول او اساسي معیارونـه، لکه بې طرفي، انصاف، کره والی، دقت، قانونیت، د ملي مصالحو رعایت او حرفه یي خپلواکي د هېوادونـو پـه رسنیزو نظامونو کې د تاکید وړ ګرځېدلي او د رسـنیو او ژورنالېسـتانو اصـول او چلنـد د یـادو تولګـو (مولفـو) او ارزښـتونو پـر اساس رامنځته شوي دي.

په ځینو هېوادونو کې له دغو اصولو بېلابېل تعبیرونه او تفسیرونه موجود دي، د بېلابېلو ټولنو داخلي اوضاع او شـرایط، د سیاسي نظامونو جوړښتي ځانګړنې او فرهنګي- اعتقادي ارزښتونه د یادو اخلاقي موازینو په پېژندنه کې رول لري.

په وروستیو کې په افغانستان کې رسنیو د پام وړ وده کـړې ده چـې پـر عامـه افکـارو، پـر سیاسـي، ټولنیزو، اقتصـادي او فرهنګي بهیرونو یې له اغېزو انکار نه شي کېدای.

همدې پراخو، اغېزناکو او له لاسته راوړنو ډکو رسنیزو فعالیتونو، د ژورنالېستانو د حرفه یي خوندیتوب د تامین اړتیاوو او په افغانستان کې د ثبات او امنیت پر وړاندې شته ننګونو د افغاني ټولنې ځانګړنو ته په پام د هېواد ګڼ رسـنیز فعـالان دې ته وهڅول چې د ژورنالېزم نړیوالو نوو ارزښتونو او اصولو، په هېواد کې د رسنیز کار واقعیتونـو او د بیـان ازادۍ پـه رڼا کې د اخلاقي اصولو تدوین ته ملا وتړي.

ټاکل شوې کمېټې د خبر جـوړونې د بهرنیـو او کورنیـو بنسـټونو او د رسـنیزو اړیکـو د علومـو برخـې د نظـر خاونـدانو د موازینو او اسنادو له مطالعې وروسته لاندې موارد د هېواد د ژورنالېزم د ملي اخلاقي موازینو په توګه وړانـدیز کـړل چـې په ولایتونو کې له پراخو مشورو او د دې برخې د فعالانو له نظر اخیستو وروسته، د دې وروستۍ مسوده په لویې غونـډه کې چې نږدې ۵۰۰ خبریالانو، د رسنیو کارکوونکو او مدیرانو او د ژورنالېستانو ملاتړو او صنفي بنسټونو پـه کـې ګـډون کړی، په کابل کې تصویب شوه.

د اخلاقي موازینو د تصویب ملي ناسـته د افغانسـتان د ژورنالېسـتانو د بنسټونو او رسـنیو فدراسـیون لـه لـوري د ۱۳۹۵ لمریز کال د غبرګولي په پنځمه نېټه په کابل کې جوړه شوه. د غونډې ګډونوالو لومړی په بېلابېلو کـاري ډلـو کـې د یـادو شوو موازینو په اړه بحث وکړ او د ناستې په پای کې یې له یادو موادو هر یوه ته د تایید رایه ورکړه.

**ځواب ورکول:**

- ژورنالېستان؛ د خپلو حرفه یي دندو ترسره کولو پر مهال د هېواد اساسي او د ټولیزو رسـنیو قوانینـو تـه پـه پـام د بیـان ازادۍ اصول، د رسنیو د فعالیت ازادي او اطلاعاتو ته د لاسرسي حق رعایتوي.
- د نورو له خوا د تولید شوو مطالبو د خپرولو پر مهال د اصلي سرچینې ذکر حتمي او اړین بولي.
- د شوو تورونو او ادعاوو پر وړاندې متقابل لوري ته د ځواب او نظر ورکولو فرصت رامنځته کوي.
- د حرفه یي چارو په ترسره کولو کې د ملي ګټو خوندیتوب ته پام کوي.
- په رسنیزو مطالبو او خپرونو کې چا ته له سپکاوي، تور لګولو، افترا او بې حرمتۍ ډډه کوي.

خپلې تېروتنې مني او د هغو د سمون لپاره هر ځومره ژره اقدام کوي.

**خپلواکي او بې پرې والی:**

- ژورنالېستان د خپلو کارونو پر مهال له هر ډول نژادي، قومي، حزبي، سمتي، مذهبي، جنسیتي، سیاسي او ژبني توپیر پرته عمل کوي او یوازې اطلاعاتو ته د خلکو د لاسرسي حق ته پام کوي.
- لکه څنګه چې بې پرې والی د حرفه یي ژورنالېزم هسته جوړوي، نو ژورنالېستان مکلف دي چې د راپـور جوړولـو پـر مهال "د مقتضي بې طرفي" رعایت کـړي او پـه راپـور کـې د شخصـي لیـد لـورو، غرضـونو او قضـاوتونو لـه ځـایولو ډډه وکړي.
- په هر هغه فعالیت کې له داخلېدو چې د ژورنالېزم د حرفې باور ته زیان رسوي، ډډه وکړي.

– د ځانګړو وړاندیزونو له منلو، د ډالیو له اخیستو او بلې خوړو چې د حرفه یې کار په پروسه یې د نفوذ وسیله کېږي، ډډه کوي.
– خودسانسوري نه کوي او ملي ګټې پر شخصي ګټو لوړې ګڼي.
– د اطلاعاتو ترلاسه کولو او د راپور او مطلب چمتو کولو او خپرولو پر مهال بې طرفي او انصاف له پامه نه غورځوي.
– د نورو په خوښه د پېښو او حقایقو خپرولو یا نه خپرولو په منظور د دولتي چارواکو، کسانو او نفوذ لرونکو ډلو مستقیمو یا غیر مستقیمو فشارونو ته نه تسلیمېږي.
– هم مهاله د زړورتیا په خوندیتوب سره د ځان امنیت نه هېروي او لازم امنیتي تدابیر نیسي.
– له خپلو هم مسلکو سره په مسلکي ګټو کې له تضاد څخه که هغه حقیقي وي یا تصویري، متقابل احترام ته په کتو، ډډه کوي.
په هغه صورت کې چې په کومه مسئله کې یې مستقیمه ګټه وي، د هغې پېښې له پوښښه ډډه کوي.

**سموالی او توازن:**

– خلکو ته سم اطلاعات او د پېښو په اړه خبر رسول د ژورنالېست لومړنۍ دنده ده.
– ژورنالېست یواځې هغه اطلاعات خپروي چې کره والی یې تایید شوی وي.
– ژورنالېستان د لاسته راغلو اطلاعاتو کره والی پر اړوندو سرچینو تاییدوي او احتیاط کوي چې د تېروتنو مخه ونیسي او هېڅکله په اطلاعاتو کې قصداً لاسوهنه نه کوي او تحریف نه په کې راوړي.
– د مساوي یا متوازنو فرصتونو په رامنځته کولو، په هغو ټولو اړخونو کې چې په یوه خبر، راپور او نورو رسنیزو ژانرونو کې په یو ډول دخیل دي، منصفانه او متوازن عمل کوي.
– مخاطبانو ته خپلې سرچینې ور پېژني. که له ښکاره سرچینې د کافي اطلاعاتو لاسته راوړنه نا ممکنه وي، د هغې سرچینې له اطلاعاتو چې نه غواړي هویت یې افشا شي، یواځې په هغه صورت کې کار اخلي چې د ټولو په ګټه وي.
– د سرچینې د هویت د نه افشا د تصمیم په صورت کې، د اطلاعاتو په وړاندې کولو کې مخکې له مخکې د هغو له موخې او انګېزې ډاډ ترلاسه کوي.
– ځان ډاډمنوي، کوم اطلاعات، اسناد او مدارک چې یې لاسته راوړي، بې لارې کوونکي نه دي.
– په پټه او محرمانه توګه د اطلاعاتو له راټولولو (لکه د چا د غږ ثبت، د ټیلیفوني خبرو اورېدل او مکتوبونو ته د لاسرسي هڅه) ډډه کوي. خو دا چې ونه شي کولای هغو اطلاعاتو لاسرسی پیدا کړي چې خپرول یې د ملي ګټو په خیر دي، د دغو لارو د استفادې په صورت کې باید د اطلاعاتو د خپرولو په جریان کې د هغو د لاسته راوړنې څرنګوالي ته اشاره وشي:
– د حرفه یي فعالیت پر مهال د لیدلورو او نظرونو ازادې تبادلې ته لومړیتوب ورکوي، خو ورسره دې ته هم پام ساتي چې خپرېدونکي نظرونه د هغو ناقانونه وسله والو ډلو او استخباراتي کړیو نه وي چې غواړي عامه امنیت او ګټې وګاښي.
– د جنایي او جرمي پېښو په خبري پوښښ کې دې ته پام کوي چې له دغسې مسایلو د خلکو د خبرولو حق د تورنو د حقونو د تلف لامل نه شي.
– هغه کسان چې د عدلي او قضایي بنسټونو له خوا تورن یا مجرم نه وي پېژندل شوي یا د هغو په اړه قضایي پروسه روانه وي، ټولنې ته یې د مجرم په توګه نه ور پېژني.
– د مرګې او ګردې مېز چلولو پر مهال له مېلمنو سره دروند سلوک کوي او پر چا ملنډې نه وهي.
– توازن، دقت، بې طرفي او د ملي مصالحو رعایت د اطلاعاتو په خپرولو کې له سرعت څخه نه قربانوي.
– د پېښو او پرمختیاوو په شننه او ارزونه کې د صحت او دقت معیارونو ته پام کوي.
– د هغو پېښو له دوامداره پوښښ څخه چې په هغو کې نوی والی نه وي، ډډه کوي.
– په قصدي توګه د پېښو او پرمختیاوو له غټولو او کوچني ښودلو ډډه کوي.
– په رسنیزو مطالبو کې په قصدي ډول د پېښو له لوی یا کوچنیی ښودلو ډډه کوي.

**د زیان کمول:**

- ژورنالېستان له هغو کسانو سره د مرکو او تصویر اخیستو پر مهال چې له ناوړه پېښو سره مخ او یا په غم او ویر اخته وي، دقت کوي، څو هغوی ته نور روحي زیان ونه رسېږي.

- له مسلکي سمونې پرته له تاوتریخوالي د ډکو صحنو، په ځانګړې توګه د بربنډو، پر وینو د لړلو جسدونو او ټپي کسانو تصویرونه خپرول چې په ټولنیز روان منفي اغېز کوي او تاوتریخوالی تبلیغوي، له خپرولو ډډه کوي.

- د ترهګرو د تبلیغاتي کلیپونو له خپرولو چې د هغوی نظامي تمرینونه او مانورونه ښیي او تاوتریخوالی تبلیغوي، ډډه کوي.

- د اطلاعاتو په لاسته راوړلو او د رسنیزو مطالبو په چمتو کولو او خپرولو کې د نورو خصوصي حریم ته زیان نه رسوي.

- خلکو ته د ځانګړو او مهمو اطلاعاتو د رسولو په تړاو له سختې اړتیا پرته، د چا خصوصي حریم ته زیان نه اړوي.

- هغو مسایلو ته له لمن وهلو ډډه کوي چې عامه ذهنیت خرابوي، وېره زېږوي او ټولنه سره وېشي.

- د پېښو او پرمختیاوو په اړه د اطلاعاتو او حقیقتونو راټولولو او خپرولو پر مهال له قومي، ژبني، سمتي، نژادي او جنسیتي تړاوونو او تبعیض نه ډډه کوي او د چا معلولیت، جسمي او روحي ناروغیو او ورته نورو ستونزو ته د هغه د شخصیت او درېځ د کمزورتیا په نظر نه ګوري.

- د مور او پلار او یا د قانوني سرپرست له اجازې پرته له کم عمره ماشومانو (د هېواد د نافذه قوانینو په رڼا کې) د تصویر او فلم له اخیستو او مرکو ډډه کوي. له ښځو او عمر خوړلو کسانو څخه هم د هغوی له اجازې پرته عکس او فلم نه اخلي. خو که د کوم دلیل له مخې د تاوتریخوالي د قربانیانو په اړه د راپورونو او خبرونو خپرول په خپله قربانیانو ته ګټور و ارزول شي، نو بیا دې ته پام ساتي چې د هغوی مشهورېدل، ببرته د هغوی حیثیت او مادي او معنوي ګټو ته زیان وانه ړوي.

- په شکمنو او بې ارزښته مسایلو پسې، له ګرځېدو ډډه کوي.

**دقت:**

- ژورنالېستان او د رسنیو چارواکي د خبر او پروپاګند تر منځ تفاوت ته قایلېږي او د هغو تبلیغاتو له خپرولو ډډه کوي چې تاوتریخوالی پاروي او عامه ذهنیت خرابوي.

- د هغو کسانو او ډلو د کړنو پر وړاندې چې قدرت یې په واک کې دی او یا د واک لاسته راوړلو هڅه کوي، هوښیار وي.

- د خبر، تصویر او ویډیو د محتوا له تحریفولو ډډه کوي.

- د تېر ایستونکو او صحنه سازي شوو خبري پېښو له خپرولو ډډه کوي.

- د هغو سرچینو پر وړاندې په هوښیارتیا چلند کوي چې اطلاعات پلوري او ژورنالېستان د خبر پر سر جوړجاړی نه کوي.

- د هغو شمېرو په اړه دقت کوي چې ښکېلې غاړې یې د خپلو ګټو لپاره کمې یا ډېرې ښیي.


- حقایق او د شخصي نظرونو څرګندول (لید لوري) له یو بل سره توپیر لري، د مطالبو په چمتو کولو او خپرولو کې شخصي لیدلوري او شننې د حقایقو په بڼه نه وړاندې کوي.

- د خبري راپور او عدالت غوښتنې کار تر منځ توپیر ته قایلېږي، په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول د عدالت غوښتنې په فعالیتونو کې په داسې ډول ځان نه ښکېلوي چې مسلکي اعتبار ته یې زیان ورسېږي.


**په کاري چاپېریال کې مسلکي چلند:**

مدیران او رسنیز کارکوونکي د ټولو کارکوونکو، په ځانګړې توګه ښځو ته د مناسب کاري چاپېریال په برابرولو کې مکلف دي.

په کاري چاپېریال کې د ښځینه کارکوونکو پر وړاندې هر ډول تبعیض، ځورونه او جنسیتي توپیر د اصولو او د ژورنالېستیکې او مدني لوړو ارزښتونو خلاف کار دی.



پر انسانانو په زور کار کول د اوسني
عصر د مريي او غلام جوړولو نوې بڼه
ده؛ دغه ناوړه کار اوسمهال په ټوله نړۍ
کې شتون لري. د يادې ناوړه پديدې د له
منځه وړو لپاره بايد په ګډه کار وشي.


د انسان قاچاق د بېلابېل
عمر لرونکي نر او ښځې
دواړه اغېزمنوي؛ خو د
ناوړه جنسي استفادې لپاره
ډېرى ښځې قاچاق کېږي.

# اتم څپرکی

## د انساني قاچاق د زیانمن شوو انځور اخیستنه

### د زیانمنو کسانو انځور اخیستنه

د انځور اخیستنې په هنر سره کېدای شي چې د خپلې ټولنې سیاسي، اقتصادي او نورې ټولنیزې پېښې داسې انځور شي چې ډېره یوه لویه پېښه یواځې د یو انځور په اخیستلو سره خلاصه او روښانه شي. په دې کې شک نشته چې تصویر اخیستنه د خبریالي او یا هم ژورنالېزم یوه خورا مهمه برخه ده او د ژورنالېزم د اصولو او اخلاقي موازینو له مخې بیا تصویر اخیستل هم خپل اصول او قواعد لري.

که چېرې د انځور اخیستنې پر مهال اصول او قواعد په پام کې ونه نیول شي، ډېرې بدې پایلې هم لرلای شي چې ځیني وخت بیا دغه بدې پایلې د دې لامل کېږي چې مطلوب کس ځان وژنه کوي. که چېرې ګوګل وکتل شي نو د دې خبرې د ثبوت لپاره د نړۍ په بېلابېلو برخو کې ډېرې بېلګې وجود لري.

دا چې د انساني قاچاق له قرباني شوي سره مرکه کول ځان ته اصول لري، نو دغه شان یې تصویر اخیستل هم ځان ته اصول او ځانګړتیاوې لري. د قرباني شوي د هویت او یا هم انځور او ویډیو خپرول، په ټولنه کې سره له دې چې له قرباني شوي سره مرسته نه کوي، هغه ته نورې ډېرې ستونزې زېږوي، سره له دې چې جبران یې ناشونی دی، قرباني کس له ډېرو نورو ستونزو سره هم مخ کوي او دغه کار بیا د دې لامل کېږي چې قرباني شخص د دویم او درېیم ځل لپاره هم د قاچاقبرانو لاس ته ورشي.

کله چې د هغو کسانو انځورونه اخیستل کېږي یا یې ویډیوګانې جوړېږي چې کلینیکي حیثیت یا ټولنیز حالت یې بدنام وي، لکه هغه چې ایډز ناروغي لري، شراب خواره وي، د جنسي تاوتریخوالي قربانیان یا هغه کسان چې د هغوی په پېژندلو یا شخصي اطلاعاتو په څرګندېدو سره د غچ اخیستو، تاوتریخوالي یا ردېدنې له خطر سره مخ کېږي، انځور اخیستونکی باید په انځورونو یا ویډیو کې د هغوی له پېژندګلوۍ ډډه وکړي. د زیان لیدونکو اشخاصو د پېژندنې اړوند هر ډول راټول شوي اطلاعات باید پټ وساتل شي. د امکان په صورت کې باید داسې انځور واخیستل شي چې هغوی ونه پېژندل شي.

د دې لپاره چې له یو شخص څخه د غم یا صدمې لیدلو پر مهال د ناوړه ګټې اخیستنې مخنیوی وشي، د جګړې په وختونو کې باید ځانګړې پاملرنه وشي.

### داسې انځورونه اخیستل چې اشخاص په کې ونه پېژندل شي

د یوه شخص د پېژندلو د مخنیوي لپاره یوه بدیله طریقه په داسې ډول د انځور اخیستل دي چې کس ونه پېژندل شي؛ د بېلګې په توګه د هغو روغتیایي کار کوونکو انځورونه چې ناروغانو ته حاضر وي، باید له داسې زاویې واخیستل شي چې د ناروغانو مخونه او نورې ځانګړتیاوې په کې څرګندې نه شي. په همدې ډول د ماشومانو کار کوونکو انځورونه باید د شا له لوري واخیستل شي څو وښیي چې هغوی څه کوي خو پېژندنه یې ونه شي.

دغه راز د انساني قاچاق ډېرى پېښې تر ډېره تراژيدې يا غمناکې وي، نو هېڅ مهال بايد د قرباني شوي داسې تصوير وانه خيستل شي چې خوشحالي په کې له ورايه ښکاره شي.

د قرباني شوي شخص جامې او يا هم څادر بايد شين، سور او يا بل داسې کوم رنګ نه وي چې د خوشحالۍ معنا ورکړي؛ که چېرې د قرباني شوي کس انځور په شنو او سرو کاليو کې اخيستل شوی وي، نو بيا د انځور اېډېټر او يا هم هغه کس چې په فوټو شاپ باندې پوهېږي، بايد يادو کاليو ته تور يا داسې کوم بل رنګ ورکړي چې د غم او خپګان ښکاروندېيي وکړي؛ د بېلګې په ډول، د خښتو په بټيو کې د ماشومانو د قاچاق په اړه راپور ليکل شوی، خو د دغه راپور لپاره داسې عکس اخيستل شوی چې د قرباني شوي کس سپينې جامې پر تن دي، نو دا به څوک ومني چې هم دې قاچاق شوی وي او هم دې د خښتو په بټيو کې کار کوي خو سپينې جامې دې پر ځان وي، په داسې حالاتو کې بيا هم بايد له فوټو شاپ څخه کار واخيستل شي، د جامو رنګ يې بايد بدل شي او هم دې لاس او پښې داسې ور جوړ شي چې ختې او خيرې پرې ښکاره شي.

**د انساني قاچاق زيانمن شوو په اړه له کارټون څخه کار اخيستل**

د انساني قاچاق د زيانمن شوو کسانو د انځورونو پر ځای له کارټون او انځورګرۍ څخه هم کار اخيستل کېږي، دا يې بله بديله طريقه ده چې کس ونه پېژندل شي خو د انساني قاچاق پېښه او اغېزه يې د کارټون له لارې خلکو ته ورسېږي.

## د ماشومانو انځورونه اخيستل او ويډيو جوړول

د ماشومانو د انځور اخيستلو او ويډيو جوړولو لپاره بايد د هغوی عمر او کلتور په پام کې ونيول شي او په حساس ډول دې واخيستل شي. د ماشوم ګټې په پام کې نيول بايد لومړيتوب ولري، د ماشومانو د ستونزو حل او د ماشومانو حقونو ته وده په کې شامله وي. که چېرې قرباني شوي شخص د قانون له مخې خپل قانوني عمر نه وي پوره کړی، د تصوير اخيستنې پر مهال بايد د هغه له ولي (پلار، مور، مشر ورور، نيکه) اجازه واخيستل شي. د افغانستان په مدني قانون کې د هلکانو د بلوغيت عمر ۱۸ او د نجونو ۱٦ کاله ټاکل شوی، خو که چېرې قرباني شوي خپل قانوني عمر پوره کړی وي، په هغه صورت کې بايد د هغه شخص انځور له داسې يوې زاويې يا انګل څخه واخيستل شي چې هويت يې په ډاګه نه شي؛ يعنې د قرباني شوي شخص مخ يا د بدن او جامو داسې برخه بايد معلومه نه شي چې د هغه هويت په ډاګه کړي؛ د بېلګې په ډول احمد د انساني قاچاق يو قرباني دی، د هغه يو غوږ نشته، تاسو داسې يو تصوير اخيستی چې د احمد مخ په کې نه ښکاري، خو په انځور کې څرګند ښکاري چې د قرباني شوي شخص غوږ نشته، نو د کلي يا د سيمې ټول خلک پر دې خبرېږي چې په دغه کلي يا سيمه کې يواځېنی کس چې غوږ نه لري، هغه احمد دی، په دغه کار سره د قرباني هويت په ډاګه کېږي او ټولنيز حيثيت ته يې زيان رسېږي.

د هغه ماشوم چې قانوني عمر ته رسېدلی نه وي، له انځور اخيستو او ويډيو جوړولو مخکې يې بايد د مور، پلار يا مراقبت کوونکو ليکلی يا ثبت شوی ويډيويي رضايت ترلاسه شي. د ماشوم له انځور اخيستو يا ويډيو جوړولو مخکې بايد ماشوم او د هغه مور، پلار او يا هم مراقبت کوونکو ته په دې اړه وضاحت ورکول شي. ماشومان بايد د امکان تر بريده په هغو پرېکړو کې ګډون ولري چې هغوی ترې اغېزمنېږي.

دې ته بايد پام وشي چې له ماشومانو چېرې او څرنګه انځورونه اخيستل کېږي يا يې ويډيو جوړېږي. هغوی ته بايد مناسبې جامې ور اغوستل شوې وي او بربنډ نه وي. د ماشومانو د هوساينې د باوري کولو لپاره بايد پام وشي او د انځور اخيستو يا ويډيو جوړولو پر مهال بايد د ماشومانو د شاوخوا چاپېريال اغېزې په پام کې ونيول شي.

### له ماشومانو ناوړه جنسي ګټه اخيستنه

د انځور اخيستلو لپاره د يونيسېف له لارښوونې سره سم، د ټولو قرباني شوو ماشومانو، په ځانګړې ډول د هغو ماشومانو هويت بايد په ډاګه نه شي چې له جنسي ځورونو سره مخ شوي وي خو بيا هم ځينې رسنۍ شته چې له جنسي ځورونو سره د مخ شوو ماشومانو هويت په ډاګه کوي. هېڅوک حاضر نه دي چې د خپلو هغو ماشومانو

انځورونه یې خپاره شي چې له جنسي ځورونو سره مخ شوي وي؛ ځکه دغه انځور خپرونه د قربانانیانو د بدنامۍ لامل کیږي او ښایي له دې امله ورسره د تاوتریخوالي کېدو ګواښ نور هم زیات شي.

د ناوړه جنسي ګټې اخیستنې د غندنې لپاره اغېزناکه وسیله د دې پېښو مستندول دي؛ ځکه چې د جنسي ځورونې د خپرولو پر وړاندې کلتوري خنډونه د بالقوه قربانیانو لپاره خطرونه زیاتوي او د دې ډول پېښو پر وړاندې د عدالت غوښتنې پروسه ټکنۍ کوي. ډېری هغه مسلکي انځورګران چې دغه اړتیاوې په پام کې نیسي او د ماشومانو د باور ترلاسه کولو او د هغوی د خصوصي حریم خوندي ساتلو لپاره کار کوي، دا ښودلې ده چې انځورونه د هویت بشپړ خوندي ساتنې تر څنګ غښتلي او باوري کېدای شي.

دغه راز پر سترګو د تورو پټیو کارول یا د ماشوم مخ تتول نه تجویزیږي؛ ځکه چې دغه تخنیکونه د انځور د اغېزې له کمولو سره سره موضوعات جرمي کوي او شخصیت یې پیکه کوي.

د جنسي تېري او جنسي ځورونې په ځینو حالتونو کې د قرباني ماشومانو میندې او پلرونه ټینګار کوي چې باید د ماشوم انځورونه واخیستل شي او خپاره شي؛ په دغه ډول حالتونو کې باید:

- د میندو او پلرونو له ټینګار سره سره تل د هغه ماشوم نوم په بل مستعار نوم واړول شي او مخ یې پټ وساتل شي چې د تاوتریخوالي، جنسي تېري او ناوړه ګټې اخیستنې قرباني وي.
- پر هېڅ ماشوم لا زیات تور ونه لګول شي. له داسې کټګورۍ یا تشریحاتو څخه ډډه وشي چې ماشوم د اضافي بدني او رواني زیان، اوږدمهاله ځورونې، تبعیض یا د ټولنو له لوري د ردېدنې په ګډون له منفي غبرګ اخیستنې سره مخ کوي.
- په ځینو حالاتو کې د قرباني شوي ماشومان د کورنۍ مشران ټینګار کوي چې عکس یې باید خپور شي، خو په دغسې حالتونو کې هم باید د ماشوم هویت پټ وساتل شي.
- هېڅ مهال د قرباني شوي په اړه له ځانه معلومات او یا هم تشریحات مه اضافه کوئ؛ ځکه دغه کار یې نور هم ستونزې زیاتوي.

خو که یو ماشوم چې جنسي ګټه ور څخه اخیستل شوې وي، ټینګار کوي چې د هغه فلم باید واخیستل او راپور یې خپره شي، خو مور او پلار یې بیا دغه څه نه غواړي، په دغه حالت کې باید:

- که له یوه ماشوم سره مرکه وشي، د هغه او یا هغې هویت باید خوندي وساتل شي.
- د راپور موخه یې له میندو او پلرونو سره شریکه شي چې دا به په ورته حالت کې له نورو قربانیانو سره څه ډول مرسته وکړي او ډاډ ورکړل شي چې د ماشوم نوم او هویت پټ ساتل کیږي.
- دغه باور ورکول شي چې د مرکې پر مهال ماشوم ته نور اضافي زیان نه رسیږي.
- که چېرې د ماشوم پلار، مور یا قانوني سرپرست راضي نه شول، په دغه صورت کې باید د هغو غوښتنو ته غاړه کېښودل شي.

## له ګواښ سره د مخ ماشومانو خونديتوب

د انځور اخيستو لپاره د "له ګواښ سره مخ ماشومان وژغورئ" په نوم د يونيسېف په لارښوونه کې راغلي چې د هغو موضوعاتو په مستندېدو کې ځانګړې پاملرنې ته اړتيا ده چې لانجمن او له کلتوري اړخه حساس وي. په دغو موضوعاتو کې پر ماشومانو کار، له هغوی جنسي ناوړه ګټه اخيستنه، د جنسيت له مخې تاوتريخوالی، د وسله والو ليکو ته يې جلب او جذب، د دغو او نورو بدناموونکو کړنو اغېزې، لکه ايډز، شاملې دي.

له بشري حقونو د سرغړونو پر وړاندې عدالت غوښتنه کېدای شي له اضافي فزيکي يا رواني زيان، بدنامۍ، د ټولنې له خوا د ردېدو په ګډون ماشومان يا مېرمنې د غچ اخيستنې له خطر سره مخ کړي؛ نو د دې لپاره اړينه ده چې په يادو حالتونو کې د ماشومانو او مېرمنو د انځورونو په اخيستو او د دغو انځورونو په کارولو کې د هغوی د خصوصي حريم ساتنې لپاره په پرېکړو کې هغوی شريک شي څو يې خونديتوب يقيني شي.

**د عيني هويت خونديتوب حالتونه**

که چېرې د يوه ماشوم يا مېرمنې د نوم له بدلون يا ان حذف سره سره د يوه انځور له خپرېدو سره هغوی په خطر کې لوېږي، د انځور نه خپرېدو سپارښتنه کېږي. د ماشومانو هويت بايد عيني يا د نوم له مخې څرګند نه شي. که چېرې هغوی:

- د جنسي ناوړه ګټې اخيستنې قربانيان يا د جرم مرتکبين وي
- د ايډز ناروغي ولري
- پر يو جرم تورن وي
- اوسني يا پخواني جنګيالي وي، که وپېژندل شي په راتلونکي کې د غچ اخيستنې له خطر سره مخ کېدای شي.

په هر صورت د يو ځانګړي انځور کارولو پر وخت د شته خطرونو بېلګې موجودې دي، خو د خپرولو لپاره يې استدلال اعتبار لري؛ د بېلګې په توګه د ماشومانو د حقونو له مدافع وکيلانو سره دا يوه قضيه ده چې د هغوی په ټولنه يا په نړيواله کچه يې په يوه د لوړ خطر موضوع يې وکالت غوره کړی دی. په دغه ډول حالتونو کې بايد د ماشومانو د زيان پېښوونکو ستونزو د حل په قضيه کې د هغوی د ګډون د حق درناوی وشي.

## د انځور اخیستنې هوکړه لیک

د ۲۰۱۵ زېږدیز کال د روغتیا نړیوال سازمان د انځورونو، وېډیوګانو او مرکو لپاره د رضایت ترلاسه کولو په اړه د لارښوونې له مخې، انځور اخیستونکی یا عکاس باید د انځور اخیستو یا ویډیو پر مهال د تصویر، غبږ او ویډیو خپرېدوهوکړه لیک یا وېډیویي خوښه ترلاسه کړي. د پوهېدونې خوښه دا معنې لري چې شخص پر انځور اخیستلو پوهېږي او هوکړه ورسره کوي او دغه راز یې پر موخه او پلان شوو کارونو هم پوهېږي او ورسره هوکړه کوي.

دغه رضایت باید د دې لپاره ترلاسه شي څو باور تر لاسه شي چې شخص په هېڅ ډول اړ ایستل شوی نه دی. دغه هوکړه لیک چې له هرچا سره لاسلیک کېږي، باید په پوره ډول ورته روښانه شي چې هوکړه لیک د دواړو لورو په ګټه دی او کومه ستونزه نه جوړوي.

د تصویر، غبږ او ویډیو خپرېدو هوکړه لیک باید تر انځور اخیستنې یا ویډیو جوړونې مخکې ډک او لاسلیک شي (یا رضایت ثبت شي). که د یوه ماشوم انځور اخیستل کېږي یا یې ویډیو جوړېږي، نو له مور، پلار، قانوني سرپرست یا مراقبت کوونکو (د عامه خدمتونو موظف) څخه باید لیکلې یا وېډیویي ګړنی رضایت ترلاسه شي.

په افغانستان کې له ښځو څخه انځور اخیستنه په ځانګړي ډول یوه حساسه موضوع ده او با خبره رضایت په بشپړه توګه مهم دی. انځور اخیستونکي باید د انځورونو یا ویډیوګانو د محدودې کارونې له ژمنې ځان وساتي. که د زړه نا زړه توب، اندېښنې، وېرې یا غوسې احساس وکړي، له انځور اخیستنې یا ویډیو جوړونې دې لاس په سر شي.

د میندو او پلرونو یا قانوني مراقبت کوونکو له اجازې پرته له ۱۸ کلنۍ څخه د ټیټ عمر ماشومانو ویډیو یا ورسره مرکه د ژورنالېستانو لپاره محدودیت نه دی. د یوې عمومي لارښوونې په توګه ټولو ماشومانو (له ۱۸ کلنۍ څخه کم عمره) لپاره باید له ویډیو جوړولو، مرکو کولو او انځور اخیستلو مخکې دې د هغوی د مور، پلار، یا قانوني سرپرست رضایت ترلاسه شي.

خو که چېرې دا یوه ډله ییزه او ټولنیزه کړنه وي چې یو ځانګړی ماشوم نه مشخص کوي او دا د ماشومانو په اړه وي چې عادي ورځنی ژوند کوي، ځانګړی رضایت ترلاسه کول اړین نه دی؛ د بېلګې په توګه که چېرې یو ۱۶ کلن هلک د فوټبال یا کرکټ لوبه کوي او یا پر نورو ټولنیزو فعالیتونو بوخت وي، په دغه صورت کې ژورنالېست د رضایت لپاره ډېره اړتیا نه لري خو که چېرې سیاسي، امنیتي یا نورې ستونزې وي چې د ماشوم ژوند په خطر کې اچوي، په دغه حالت کې باید رضایت له میندو او پلرونو څخه ترلاسه شي.

ژورنالېستان تل باید د ماشوم خوندیتوب او ګټې تل په خپل ذهن کې ولري او کله چې شکمن وي چې یو ماشوم په خطر کې دی که نه، نو د ماشومانو لپاره د عمومي حالت په اړه باید راپور جوړ کړي، نه پر یوه ځانګړي ماشوم. دغه راز اړینه ده چې انځور اخیستونکي باید د انځور اخیستنې پر مهال له ځایي قوانینو، دودونو او محدودیتونو څخه ځان خبر او ځان ورسره برابر کړي.

کله چې ژورنالېست پلان لري چې په کلي او بانډو کې انځورونه واخلي یا ویډیو جوړه کړي باید:

- ګاونډیانو ته خبر ورکړي چې د ویډیو جوړولو پلان لري، هغوی ته تشریح کړي چې ولې ویډیو جوړوي او مخکې له مخکې یې اجازه او باخبره رضایت ترلاسه کړي.
- داسې فکر دې نه کوي چې هر څوک یې له ویډیو جوړولو سره ستونزه نه لري، ان که په ټولنه کې څوک وواییي هم چې څه ستونزه نشته.
- په ځینو وختونو کې ښایي د احتیاط له مخې اړینه وي چې لیکلی رضایت ترلاسه کړي.
- یو څه د شالید څېړنه وشي او د دې ډول قضیې په څېر د کلتوري حساسیتونو په اړه شاوخوا پوښتنه اړینه ده.

جدول: د انځورونو / ويډيوګانو په تړاو د رضايت او اجازې اړتياوې

| رضايت اړين نه دی | لیکلی رضایت یا ثبت شوی شفاهي رضايت اړين دی | | |
|---|---|---|---|
| **عمومي** | **عمومي** | **ځانګړې پاملرنه اړينه ده** | **ډېره پاملرنه اړينه ده** |
| په عامه ځايونو کې نا پېژانده افراد (مخونه او نور د پېژندنې وړ ځايونه يې پټ وي) پرته له دې چې په دې جدول کې ښودل شوي دي<br><br>مشهور خلک په عامه ځايونو (لکه په کنفرانسونو او غونډو کې، فلم ستوري، دولتي مامورين)<br><br>په عامه ځايونو کې چې د پېژندنې وړ افراد نه ښيي (لکه يو نندارچي په يوه بهرني کنسرټ کې) | په ټولو ځايونو کې د پېژندنې وړ افراد، چېرې چې د خصوصيت تمه کېدای شي. | د ماشومانو انځورونه (د مور، پلار، قانوني سرپرست او يا مراقبت کوونکو رضايت اړين دی)<br><br>په هر ډول چاپېريال کې د پېژندنې وړ افراد، چېرې چې شخصي، خصوصي يا کلينيکي اطلاعات په انځور يا ويډيو کې ښودل شوي وي يا په متن کې ثبت شوي وي (ناروغان يا روغتيايي کارکوونکي)<br><br>که چېرې انځورونه په يوه ودانۍ يا داسې ځای کې واخيستل شي چې عام خلک ورته لاسرسی نه لري (روغتون، روغتيايي مرکز يا ښوونځی)، له څښتن، رئيس يا مدير څخه يې بايد ليکلې اجازه ترلاسه شي څو ودانۍ ته لاسرسی ولري چې انځورونه واخلي او ويډيو جوړه کړي. | په لاندې حالاتو کې ډېره پاملرنه اړينه ده:<br><br>• هغه کلينيکي حيثيت چې ښايي بدنامي ولري (لکه ايډز، د جنسي لارو انتقالېدونکې ناروغۍ، د امېندوارۍ د ځنډ مخينه، توبرکلوز)؛<br>• جنسي کار، الکول او شرابو کارونه؛<br>• د جنسيت پر بنسټ تاوتريخوالي قربانيان<br><br>د پورته يادو شوو موضوع ګانو ټول انځورونه بايد په داسې طريقه واخيستل شي چې اشخاص په کې د پېژندنې وړ نه وي. |

**د پژواک د تصویر، غږ او ویډیو خپرېدو هوکړه لیک**

په پژواک خبري اژانس یا همکارو رسنیو کې د یو چا تصویر، ویډیو او غږ په هغه صورت کې خپرېږي چې هغه له پژواک سره په لاندې ډول هوکړه وکړي:


زه ( ) پژواک خبري اژانس ته اجازه ورکوم چې تصویر، ویډیو غږ او متن مې په خپلو تبلیغاتي او روزنیزو موادو کې کارولی شي. یا هم دغه مواد ښایي عامو وګړو ته وویشل شي او له بېلابېلو لارو (ویبپاڼې، کېبل، راډیو ټلویزیون او نور وسایل) په عام ډول ننداریې ته کېښودل شي. د دې هوکړې پر بنسټ د مجازو کړنو په اړه له راپورته شوو غوښتنو او ادعاوو څخه په نه بېلېدونکې توګه او له شرط پرته ځان مبرا ګڼم، پر دې هم پوهېږم چې بې له کوم امتیازه مې د یادو موادو د کارونې اجازه ورکړې ده.

زه منم چې قانوني عمر (۱۸) مې پوره کړی دی، دغه متن مې لوستی، پرې پوهېږم او تاییدوم چې دغه هوکړه الزامي بڼه لري. دا هم راته څرګنده ده چې هر وخت کولی شم د پژواک خبري اژانس ادارې ته د (video@Pajhwok.com) بریښنالیک له لارې د رضایت فسخه کولو خبر ورکړم.

د یادونې ده، که چېرې د شخص عمر له ۱۸ کلونو کم وي، په دې صورت کې د هغه ولي یا سرپرست کولی شي دغه هوکړه لیک لاسلیک کړي.

د رضایت ښودونکي شخص لاسلیک یا ګوته

( ) نېټه:


انساني قاچاق د بشري حقونو
صريح نقض دی، نو پر وړاندې
يې سمبوليکه نه، بايد عملي
مبارزه وشي.


د انساني قاچاق قربانیان جسمي او روحي ربړول
شوي وي چې د وګړو او ټولنې مرستې ته اړتیا لري.

# نهم څپرکی

# د خبري راپور ليکلو بنسټيز اصول

## د خبري راپور ليکنه

پيل په پلټنې سره وکړئ او د «څوک، څه شی، چيرته، ولې او څه وخت» پوښتنې طرحه کړئ؛ د دغو پوښتنو طرح کولو به درسره مرسته وکړي چې د راپور لپاره مو چوکاټ او متن جوړ کړئ او لاندې پوښتنو ته ځواب ومومئ.

څه شی: څه پيښ شول؟

چېرته: چيرته پيښ شول؟

څه وخت: کله پيښ شول؟

څوک: څوک ښکېل وو؟ دغه راز زيانمن شوی څوک دی؟

ولې: ولې پيښ شول؟

څرنګه: څه ډول پيښ شول؟

غوره خبري راپور هغه دی چې ټولو دغو پوښتنو ته ځواب ووايي. په کار ده چې دغه پوښتنو ته په خپل ذهن کې د تل لپار ځای ورکړئ؛ د بېلګې په توګه که چېرې غواړئ چې په افغانستان کې د خښتو په داشونو کې د ماشومانو د کار په اړه يو راپور جوړ کړئ، په کار ده لاندې پوښتنو ته ځواب ووايئ:

زيانمن شوی ماشوم څوک دی؟

د خښتو د داش څښتن څوک دی؟

دلالان يې څوک دي؟

د خښتو په داش کې کاري شرايط څرنګه دي؟

د خښتو داش چېرته واقع دی؟

ماشومان له کوم ځايه ورته راځي؟

ماشوم څه وخت پر دنده وګومارل شو؟

ماشوم څو ساعته کار کوي؟

ايا نور زماني مهم فکتورونه شته؟

ماشوم ولې پر دنده ګومارل شوی و؟


نور کوم دليلونه شته چې له امله يې ماشوم د خښتو په داش کې کار ته اړ شوی دی؟

نړيوال سازمانونه او حکومت په دې برخه کې څه مرسته کولای شي؟

يو پياوړی ليډ وليکئ؛ د راپور لومړي پراګراف ته ليډ ويل کېږي؛ دغه پراګراف چې معمولاً يو يا دوه جملې وي، بايد د راپور اصلي مقصد په لنډه توګه بيان کړي او د څوک، څه شی، څه وخت، چېرته، څرنګه او ولې پوښتنو ته ځواب ورکړي.

### معکوس هرم

راپور د معکوس هرم په بڼه وليکئ؛ دا په دې معنی ده چې تر ټولو مهم او حياتي حقايق بايد په لومړي سره کې ذکر شي او هغه مسايل چې هومره مهم نه دي وروسته ذکر شي. لومړی پراګراف بايد له دويم پراګراف څخه ډېر مهم وي او دويم پراګراف له دريم پراګراف څخه ډېر مهم وي او په همدې توګه وړاندې ولاړ شي.




لومړی برخه: لیډ باید ولیکل شي.
دویمه برخه: سرچینه: دلته دغې پوښتنې ته ځواب ورکړئ: «زه له کومه ځایه پوهېږم؟» دا راپور ته اعتبار وربښي او ترڅنګ یې د قانون مادې هم ذکر کړئ څو خلکو ته معلومه شي چې تاسو د انساني قاچاق پر موضوع کار کړی دی.
درېیمه برخه: مهم مسایل: دلته ولیکئ چې د راپور اهمیت په څه کې دی؟ دلته دغو پوښتنو ته ځواب ورکړئ «نو څه؟» او «څرنګه؟»
څلورمه برخه: نقل قولونه: راپور کې نقل قولونه راولئ ترڅو نور هم په زړه پورې شي.
پنځمه برخه: پایله: دلته ستاسو له لوري د لیکل شوي موضوع په تړاو د مهمو حقایقو لنډیز ولیکي.

## د خبري راپور متن

ټول خبري راپورونه په دې اړه دي چې خلک څرنګه اغېزمن کېږي. کولای شئ په راپور کې مو پر نورو فکتورونو هم تمرکز وکړئ، لکه د اغېزمن شوي ماشوم کورنۍ، د کار خاوند او یا هم هغه شخص چې د ماشوم د انساني قاچاق کېدو لپاره یې زمینه برابره کړې ده.

**راپور مو له یوې ځانګړې زاویې ولیکئ**

ډېری راپورونه له یوې ځانګړې زاویې لیکل کېږي. دا یو معیاري تخنیک دی چې څه تاوان نه لري، بلکې د راپور د موخې په روښانه کولو او متمرکزولو کې مرسته کوي.

"د خښتو بټیو پنځوس سلنه کارګر له ۱۸ کلونو کم عمر لري."

احمد د خپل پلار د پور خلاصولو په موخه ۱۶ ساعته د خښتو په بټۍ کې کار کوي

تاسې باید په بشپړه توګه ناپېیلي و اوسئ. که مو راپور له یوه ډېر اړخونه ولري، ټول اړخونه یې تر پوښښ لاندې راولئ. د «زه» یا «ما ته» ضمیرونه مه کاروئ، خو دا چې له چا څخه نقل قول واخلئ.

ژورنالېست باید د انساني قاچاق په اړه راپور جوړولو کې خپل احساسات په کنټرول کې وساتي، خو د زیانمن شوي درد باید په کې منعکس کړي. ژورنالېست په راپور کې له زیانمن شوي سره خپله غمرازي ښودلی شي، خو نه شي کولی ملاتړ ورسره وښیي.

**له خلکو څخه نقل قول وکړئ**

د بېلګې په توګه؛ د خښتو پخولو بټۍ خاوند هدایت خان وایي: "پوهېږم چې دغه کار غیر قانوني دی، خو دا چې زه ماشوم ته د کار په بدل کې دوه وخته ډوډۍ ورکوم، هغه له لوږې څخه ژغورم."

دغه راز د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت د ماشوم د خوندي ساتنې ځانګې مرستیال رسنیو ته وویل: "ماشوم د خښتو بټۍ کې له کاره وژغورل شو او د بټۍ د مالک دوسیه عدلي او قضایي ارګانونو ته وسپارل شوه." او یا دا چې په یوه بټۍ کې یو کارګر ماشوم وایي: "ګوتې مې خوږېږي!"

**پایله**

یوه پایله ولیکئ او په کې د راپور تر ټولو مهم حقایق له سره په لنډه توګه وړاندې کړئ. د راپور پای باید په داسې زړه راښکونکي پراګراف کې ولیکل شي چې د لوستونکو زړونو ته لار ومومي او هغه دې ته وهڅوي چې د انساني قاچاق اړوند بدې ښکارندې مخنیوي کې د خپل وس مطابق رول ولوبوي. پای باید په داسې جمله وشي چې هغه د لوستونکي په یاد کې د پاتې کېدو لامل شي.

**د انساني قاچاق په اړه د راپور ورکولو پلان**

| | |
|---|---|
| د ژورنالیست نوم | |
| ولایت | |
| د راپور عنوان | |

**د راپور محور مو څه شی دی؟ تشریح یې کړئ:**

| |
|---|
| |

**سرچینې :**

| | |
|---|---|
| ۱- | |
| ۲- | |
| ۳- | |

نورکوم تحقیق په دې اړه وجود لري؟

| |
|---|
| |

د راپور د چمتو کولو لپاره مهال ویش:

- کله به خپل تحقیق او مرکې بشپړې کړئ؟

| |
|---|
| |

- مرکې او ضبطول مو څه وخت ترسره کوئ؟


| |
|---|
| |


- کله به فایلونه پڅواک ته وسپارئ؟

| |
|---|
| |

له هغو فایلونو سره چې پڅواک ته یې سپارئ لاندې معلومات هم ورکړئ:

| | |
|---|---|
| نوم | |
| | |
| | |
| اداره | |
| | |
| | |
| د مرکو ترسره کېدو موقعیتونه | |
| | |
| | |
| د مرکو ترسره کېدو نېټې | |
| | |
| | |


ځيني وختونه د انساني قاچاق قرباني له دې امله چې
پر امنيتي چارواکو باور نه لري، د مرستې غوښتنه نه
کوي. داسې قربانيان هم شته چې ځان ورته قرباني نه
ښکاري او ځيني بيا د مرستې په غوښتو کې شکمن
وي چې ګواکې ګټه به ورته ونه کړي.



که داسې یو څوک چې نه یې پېژنئ او یا یې هم پېژنئ، نه اړیکلېدونکې ژمنې درکوي، لکه د ډېر معاش دنده، بهر یا ولایتونو ته د لوړو زده کړو لپاره د امکاناتو برابرول، باور باید پرې ونه شي؛ شک دې پرې وښودل شي، له کورنۍ او دوستانو سره دې مشوره پرې وشي؛ ځکه قاچاقبر په هر حالت کې د خلکو غولولو لپاره په کمین کې ناست وي.

# لسم څپرکی

## د انساني قاچاق اطلاعاتي سرچينې


### د انساني قاچاق د اطلاعاتي سرچينو پېژندنه


۱- د عدليې وزارت د بشري حقونو د ملاتړ څانګه
وېبپاڼه: http://www.moj-hrsu.gov.af/
د اړيکو شمېرې: محمد حسن سليمی: ۰۷۰۰۱۸۹۹۸۳، وحيد هدايت: ۰۷۰۰۰۷۲۱۳۹
۲- د عدليې وزارت
وېبپاڼه: http://moj.gov.af/en
د اړيکو شمېرې: ۰۷۸۶۳۳۳۶۶۸
۳- د کورنيو چارو وزارت
وېبپاڼه: http://moi.gov.af/en
د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۲۰۱۷۵۸
۴- د بهرنيو چارو وزارت
وېبپاڼه: http://mfa.gov.af/en
د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۱۰۰۳۷۲، ۰۷۰۰۱۰۴۱۷۳
۵- د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت
وېبپاڼه: http://molsamd.gov.af/en
د اړيکو شمېرې: ۰۷۰۰۲۷۵۲۲۹، ۰۷۹۸۲۸۶۰۴۵، ۰۷۵۲۱۰۴۹۵۴
برېښناليک: info@molsamd.gov.af، aminaafzali@yahoo.com
۶- د پوهنې وزارت
وېبپاڼه: http://moe.gov.af/en
د اړيکو شمېرې: ۰۷۴۴۲۲۸۸۰۶
۷- د حج او اوقافو وزارت
وېبپاڼه: http://mohia.gov.af/en
د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۲۰۳۵۴۶، ۰۷۹۶۹۶۶۰۶۰، ۰۷۰۷۰۶۵۷۴۳، ۰۷۴۴۴۸۷۸۵۸
۸- د عامې روغتيا وزارت
وېبپاڼه: http://moph.gov.af/en
د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۱۳۷۷، ۰۲۰۲۳۰۱۳۵۱، ۰۷۹۹۲۱۱۹۳۴
۹- د ښځو چارو وزارت
وېبپاڼه: http://mowa.gov.af/en
د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۲۰۱۳۷۸، ۰۷۰۰۲۸۸۰۸۴
۱۰- د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت
وېبپاڼه: http://morr.gov.af/en
د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۰۲۰۰۵۶، ۰۷۹۹۴۷۴۲۳۷، ۰۷۸۵۰۲۵۵۸۶
۱۱- د ملي امنيت لوی رياست
د اړيکو شمېرې: ۰۷۷۸۸۲۴۲۹۰
۱۲- د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون
وېبپاڼه: http://www.aihrc.org.af/
د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۵۰۰۱۹۷
۱۳- لويه څارنوالي
وېبپاڼه: http://ago.gov.af/fa
برېښناليک: ago.afg@gmail.com، agadviser@yahoo.com

# د اطلاعاتي سرچینو موندل

دا فورمه له ژورنالېستانو سره مرسته کوي چې په ټولنه کې د هغو ادارو او خدمتونو معلومات راټول کړي چې کېدای شي د انساني قاچاق پر وړاندې په مبارزه کې همکاري وکړي. په دې اړه د اړیکو لپاره تر ټولو غوره کسان انساني قاچاق سره د مبارزې کارپوهان دي، ډېر شمېر ټولنې د انساني قاچاق شوو کسانو لپاره کوم ځانګړي خدمتونه نه لري.

| د خدمتونو وړاندې کوونکې ادارې | د اړیکې شمېره، برېښنالیک، پته او نور |
|---|---|
| د انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې سیمه ییزه اداره | |
| | |
| | |
| پناه ځایونه او د امن کورونه | |
| | |
| | |
| ۲۴ ساعته ټېلېفوني کرښې | |
| | |
| | |
| روغتیایي خدمتونه | |
| | |
| | |
| د رواني روغتیا او سلامشورې خدمتونه | |
| | |
| | |
| نا دولتي او ځايي مؤسسې | |
| | |
| | |
| د حقوقي خدمتونو ادارې | |
| | |
| | |
| پولیس، د قانون د تنفیذ خدمتونه | |
| | |
| | |
| سیمه ییز دولتي ارګانونه | |
| | |
| | |
| سفارت او قنسلګري | |
| | |
| | |
| نړیوال سازمانونه | |
| | |
| | |


د نجونو بدل او په بدو کې ورکول ناوړه دود او د انساني
قاچاق یو ډول دی چې باید مخه یې ونیول شي.


د انساني قاچاق پر قرباني مېرمنې جنسي تېری نه
یوازې د هغې د حقونو تر پښو لاندې کول دي،
بلکې دغه ډول عمل یې پر ژوند او روان منفي
اغېز هم کوي.

# يوولسم څپرکی

## په افغانستان کې د انساني قاچاق ډولونه

په افغانستان کې د انساني قاچاق ډولونه او موارد ډېر دي چې له ډلې يې د جنسي تېري، بېگار، اجباري کار، د پور په بدل کې د کار، د بدن د غړو ايستلو، پر ماشومانو د درنو کارونو، په زور ودونو، بچه بازۍ، په بدو کې د نجونو ورکولو، سازمان شوې سوالگرۍ، د ترهگريزو کړنو لپاره د مغزو مينځل، فحشا ته د ښځو اړ ايستلو او د جگړو په ليکو کې د ماشومانو استخدام په اړه رسنيو راپورونه خپاره کړي، خو ځيني داسې دي چې اوس هم له خلکو او رسنيو پټ پاتې دي.

انساني قاچاق د عمل، د لارو چارو او د موخو ځانگړې فارمول لري؛ هره هغه کړنه چې د يادو لارو او د ځانگړو موخو لپاره سر ته ورسېږي، هغه په انساني قاچاق کې راځي.

## ۱- جنسي تېری

په اجبار او اکراه سره له بالغې ښځې سره د زنا يا لواطت د فعل ارتکاب يا له نا بالغې نجلۍ سره د زنا يا لواطت د فعل ارتکاب او يا د ښځې پر عفت او ناموس تېري ته جنسي تېری وايي. هغه شخص چې په زور، وېره، گواښ او يا د نورو وسايلو يا د مجني عليه (زيانمن شخص) له جسمي يا رواني ناتوانۍ په گټه اخيستنه يـا پـه نـاتوانۍ د رضايت په ځرگندولو يا پر هغه د بې هوشه کوونکو درملو خوړولو يا د عقـل پـه زايلوونکـو نـورو وسـايلو سـره د جنسي مقاربت عمل ترسره کړي يا د بدن غړي يا نور څيزونه د هغه په قبل يا دبر کې دننه کـړي، د جنسـي تېـري مرتکب پېژندل کېږي. دغه راز که چېرې يو څوک له داسې يو شخص سره چې قانوني عمر يې نه وي پوره کـړی، جنسي مقاربت ترسره کړي، د هغه عمل جنسي تېری پېژندل کېږي او د مجني عليه رضايت د اعتبار وړ نه دی.

دا ځرگنده ده چې په جنسي تېري کې کله هم رضايت موجـود نـه وي، نـو لـه همـدې املـه جنسـي تېـری د انسـاني قاچاق يوه مهمه برخه جوړوي او تر ډېره يې ښځې او ماشـومان قربـاني وي. د انسـاني قاچـاق پـر مهـال پـر يـوې مېرمنې جنسي تېری نه يوازې د هغې د حقونو تر پښو لاندې کول دي، بلکې دغه کړنه، د هغې پر باور منفي اغېزه کوي.

د جنسي گټې اخيستو عمل، د ښار او کليو په گډون هر ځای او دغه راز د عمر په هر پړاو، جندر او ټولنيزو برخو کې رامنځته کېږي. د انسان قاچاق هېڅکله هم د تابعيـت او زېږېـدنې ځـای پـه اړه تبعيضـي او تـوپيري چلنـد نـه کوي؛ ځکه دغه ناوړه عمل هر ځای او په هر هېواد کې رامنځته کېدای شي.

د يوه نارينه د شخصيت او نرتوب اصلي جوهر له ښځو سره په تاوتريخوالي، تېري او حاکميت لرونکي فکر سره نه، بلکې ښځې ته د درناوي او درنښت په رښتينې هينداره کې ځرگندېږي. پر يوې ښځې جنسي تېری نـه يـوازې د هغې پر جسم او عزت تور داغ لگوي، بلکې داسې ارواييي عذاب ورکوي چې روح يې ټول عمر د غم او مايوسـۍ په تيارو کې ډوب وي. ښځه له دغه ډول تياره او دردېدلي روح سره خپلې ټولنې ته ځي او هلته نورو ته هم درد او ناهيلي وړاندې کوي. دغه راز پر يوې ښځې جنسي تېری، نه يـوازې د ښـځې پـر وړانـدې د يـوه نارينـه د وحشـت ښکارندوی دی، بلکې دغه ډول عمل د تېري کوونکي شخص پر نفس د ورته ترسره شوي وحشـت ښـکارندويي هم کوي او همدا شخص بيا وروسته غواړي د خپلې قربانۍ غچ له يو کمزوري شخص څخه واخلي.

د جزا کوډ د ۶۳۷مې مادې له مخې، د جنسي تېري د جرم مرتکب پر اوږده بند محکومېږي او د جنسي تېري د جرم ارتکاب په لاندې حالتونو کې مشدده پېژندل کېږي او مرتکب د ۲ مې درجې دوام حبس پر مجازاتو محکومېږي:

۱- مجني علیه ماشوم وي.

۲- مرتکب، د جنسي عمل په ارتکاب سره د جنین د سقط لامل شوی وي.

۳- مرتکب په یو ډول پر مجني علیه نفوذ او اختیار لرلی وي.

۴- مجني علیه د جنسي تېري د عمل له امله حامله شوې وي.

۵- د جنسي تېري عمل د تپي کېدو یا مجني علیه ته د شدیدې روحي صدمې د رامنځته کېدو سبب شوی وي.

۶- د تجاوز عمل د جنسي مقاربت پر ناروغیو تمام شوی وي.

۷- مجني علیه د متجاوز د دایمي یا موقتي محارمو له جملې څخه وي.

د یادونې ده، که چېرې د جنسي تېري په پایله کې مجني علیه ومري، مرتکب پر اعدام محکومېږي. دغه راز د جزا کوډ د ۶۴۱مې مادې له مخې، که چېرې پر مجني علیه جنسي تېري له یوه نفر څخه د زیاتو په واسطه ارتکاب شي، له مرتکبینو څخه هر یو د جزا کوډ د ۱۷۰ یمې مادې په ۴ او ۵ جزونو کې د درج شوو حکومونو په رعایت سره، له احوالو سره سم پر اعدام یا ۱ درجه دوام حبس محکومېږي.

د جزا کوډ د ۱۷۰ یمې مادې په ۴ جز کې پر ښځه باندې ډله ییز جنسي تېری او په ۵ جز کې یې پر نارینه باندې ډله ییز جنسي تېری چې د مجني علیه د مړینې لامل شي، د اعدام د جزا مواردو یادونه شوې ده.

هغه شخص چې د ښځې پر عفت او ناموس د تېري مرتکب شي، خو د هغه تجاوز په قبل (د ښځې تناسلي اله) یا دبر (مقعد) کې په داخلېدو تمام نه شي، بلکې په تفخیذ (سولول)، مساحقې (د جنسي غریضې د رفع کولو لپاره د ښځې له ښځې سره لوبې کول) یا جنسي تماس تمام شي، تر اوو کلونو پورې پر اوږده حبس محکومېږي.

دغه راز د ښځې له رضایت یا د واکمنې محکمې له حکم پرته د بکارت پردې د عدلي طبي کتنو د اجرا امر ممنوع دی، مرتکب پر لنډ بند محکومېږي خو که دا طبي کتنه له زور، تهدید یا ارعاب څخه په ګټې اخیستنې تر سره شي، مرتکب پر منځني بند محکومېږي.

په ځینو حالتونو کې د ښځو له لوري پر سړیو او یا هم هلکانو جنسي تېری کېږي او هلکان په زور او یا د هغوی له مجبوریت څخه په ګټې اخیستو سره دې ته اړ ایستل کېږي څو ورسره جنسي قرابت ټینګ کړي چې دا هم په جنسي تېري کې شمېرل کېږي.

د جنسي تېري په اړه د پژواک راپور:

## د جنسي تېري له يوې قرباني نجلۍ د مينځې کار اخيستل کېږي



ناهيد بشردوست - *Mar 11, 2018*

کابل (پژواک، ۲۰ کب ۹۶): شپاړس کلنه شازيه (مستعار نوم)، دوولس کلنه وه چې جنسي تېری پرې وشو، څلور کاله وروسته يې واده وکړ، خو زوم چې کله له دې قضيې خبر شو، نور يې ونه غوښتل چې له دې سره د خاوند په توګه ژوند وکړي، اوس ترې د يوې مينځې په توګه کار اخيستل کېږي. شازيه د کابل اصلي اوسېدونکې ده؛ نوموړې پژواک خبري اژانس ته وويل چې لا يې نړۍ ته سترګې نه وې غړولې چې پلار يې د طالبانو له لوري ووژل شو او کونډه مور يې د بېلابېلو لاملونو په سبب د خپلې خسرګنۍ له لوري له ناخوالو سره مخامخ وه. دغې ځوانې ښځې په ژړا سره وويل: "مور مې وايي چې ته تازه پيدا شوې وې چې له کوره يې وشړلم، اړه شوم چې ستا د بابا کور ته ولاړه شم. مور مې د خپل ژوند ترخه کيسه کوي چې څرنګه يې زما د بابا کور کې چې بوټ ګنډونکی او غريب و، له يو عالم کړاوونو سره ژوند تېراوه."

شازيې زياته کړه: "مور ته مې دغه وضعيت د زغملو نه و، اړه شوه چې له يوه داسې کس سره واده وکړي چې يوه بله ښځه يې هم درلوده او همکار يې و؛ هغه مهال زه درې کلنه وم او له ځان سره يې بوتلم." هغې وويل: "په هغه کور کې مې له خپلې ميره مور، ميرنيو وروڼو او خويندو سره ژوند پيل کړ، خو ښه ورځ مو نه درلوده، اړ شوو چې ګڼې ستونزې وزغمو، کلونه مو په همدې ډول تېر کړل." شازيې د ساړه اسويلي په کښلو زياته کړه: "دوولس کلنه وم چې د ژوند تر ټولو ترخه پېښه راسره وشوه، يوه ورځ کور کې يوازې وم، په پخلنځي کې مې کار کاوه، ناڅاپه مې ناسکه پلار را ننوت، له شا يې په غېږ کې ونيولم. ټول وجود مې ولړزېده، غوښتل مې چيغه کړم، په خوله يې لاس راکېښود، ځو غږ مې بند شي، وروسته يې په خپل ټول رذالت راباندې جنسي تېری وکړ او په لمن مې داغ ولګېده."

هغې په داسې حال کې چې غريو نيولې وه، وويل: "دريغه چې د واده جامو پر ځای يې ما ته کفن را اغوستی وای او په قبر کې يې ښخه کړې وای، زه اوس تر دغه وضعيته چې ژوندۍ ښخه شوې وای." د شازيې مور ۵۰ کلنه نفس ګل (مستعار نوم) چې په لوګر کې د خپل لور کور ته د پوښتنې لپاره تللې ده، په داسې حال کې چې ژړل

يې، پژواک ته يې وويل، هغه سړی چې د دې له لور سره يې واده کړی، درې لونې او زامن لري. هغه چې ظاهراً پرېشانه او غمګينه ښکارېده، وويل چې د بېوزلۍ، ناچارۍ او د ګل محمد (د دې همکار) د ټينګار له امله يې واده ته غاړه کېښوده. نفس ګل له دويم واده وروسته د خپلې لور په اړه وويل: "له کړاوونو ډک ژوند مې درلود، غوښتل مې چې لور مې ښوونځي ته واستوم، خو خاوند مې اجازه نه راکوله او ويل يې چې د نجونو لپاره سواد ګټه نه لري چې لويه شي، مېړه کوي." يادې ښځې له خپلې لور سره د شوي ظلم او په ځانګړې توګه د ناسکه پلار له خوا يې پر هغې د جنسي تېري په اړه سوړ اسوېلی و ايست او ويې ويل: "د شازيې ناسکه پلار خبرداری ورکړی و چې که له دې کيسې څخه څوک خبر شي، دا او مور به يې ووژني."

د شازيې مور چې نالوستې ده، وويل چې څو ورځې وروسته يې له لور څخه واورېدل چې څه موضوع پېښه شوې ده، خو دا چې پر حقوقي مسايلو نه پوهېږي او تر دوو کلونو وړاندې يې چې خاوند ژوندی و، ډارېده او نه يې شو کولای چې دا موضوع له بل چا يا دولت سره شريکه کړي. هغې زياته کړه: "له دې قضيې څخه څلور کاله تېر شوي او بالاخره د لوګر ولايت له محمد اغې ولسوالۍ څخه زموږ کور ته يو کس راغی او زما لور يې د خپل زوی لپاره وغوښته. زما خوښه نه وه؛ ځکه زوی يې وزګار و او د وزګارتيا له پايلې څخه خبره وم، خو خاوند مې ټينګار وکړ او د مجبوريت له مخې مې مثبت ځواب ورکړ."

د پاخه عمر يادې مېرمن په داسې حال کې چې اوښکې يې د خپل ټيکري پر پيڅکه پاکولې، وويل: "مېړه مې له هاغه سړي څخه پيسې اخيستې او لور مې يې ورباندې پلورلې وه. يوه ورځ راغلل او پرته له دې چې د واده مراسم جوړ کړي، نکاح يې وتړله او لور مې يې په داسې حال کې چې سپينې جامې يې پر تن نه وې، د زوم کور ته بوتله." خو نفس ګل چې د بلې بدې پېښې په تمه وه، وويل: "د هماغې ورځې پر سبا موټر زما د کور مخې ته ودرېد او زوم، زما لور را ونيوله او په زور سره يې زما کور ته را دننه کړه او په لوړ اواز يې وويل چې لور مو در واخلئ. زوم موږ ته يوه کېسټه هم راکړه چې زما لور پر دې د خپل ناسکه پلار د جنسي تېري کيسه کړې وه."

د شازيې مور زياته کړه: "د خپلې کورنۍ د ابرو او عزت ساتلو په خاطر د زوم موټر ته ورغلم او ومې ويل چې لور يې بوځي او رسوايي دې نه جوړوي او يا دا چې زما پر سينه دې تېر شي. لور مې يې بوتله، خو وروسته يې بله ښځه وکړه او له هماغه وخته يې زما لور د مينځې په توګه ساتلې ده، لور مې هره ورځ وهي او اړه ده چې د خاوند جامې يې و مينځي، خواړه پاخه کړي او يا د غواګانو او پسونو غوجله پاکه کړي."

يادې مور زياته کړه، کله کله يې د لور ليدو ته ورځي، خو د لور بد وضعيت يې نه دی بدل شوی.

نفس ګل وويل: "د لومړي ځل لپاره مې چې د لور کور ته ورغلم، هغه يې د تناره په سيخ وهلې وه، ټول بدن يې سور او تور و او بل ځل چې ورغلم، د يوې سترګې شاوخوا يې تور و او پر مخ يې د وهلو نښې ليدل کېدې، خو مجبوره يو چې دا ټول وزغمو."

يو ديني عالم شمس الرحمان فروتن په دې اړه وايي: "د اسلام له نظره د نجلۍ ناسکه پلار زنا کړې چې بايد مجازات شي او يا واکمن حاکم کولای شي چې له تحقيق او د جرم له ثابتېدو وروسته هغه اعدام کړي." نوموړي زياته کړه: "دغه نجلۍ هېڅ ګناه نه لري، خو چا چې په زور تجاوز ور باندې کړی، د خدای په نزد ګناه کار دی او اوس چې دغه نجلۍ د خپل خسر په کور کې د مزدور په شان ژوند کوي، د طلاق غوښتنه کولای شي او داسې ځای دې ژوند وکړي چې خوندي وي او عزت يې وساتل شي."

د بشري حقونو کمېسيون د ښځو چارو مسوولې لطيفې سلطاني په داسې حال کې چې دغه پېښه او له شازيې سره شوې کړنې يې سختې وغندلې، ويې ويل چې په دې اړه دغه کمېسيون ته خبر نه دی ورکړل شوی. نوموړې

زیاته کړه: "کله چې د دې پېښې قرباني مور ته مراجعه وکړي، نه یوائې مور هغه تعقیبوو، بلکې دغه بوړنوونکې پېښه عدلي او قضايي ارګانونو ته راجع کوو او د عدالت غوښتنه کوو، څو تورن کس ته د خپل عمل سزا ووینې."

د مېرمن سلطاني په وینا، ورته قضیې شته چې له یو چا سره تاوتریخوالی شوی، د وېرې او ډار له امله یې له خپل غچ اخیستو څخه ډډه کوي.

د انساني قاچاق او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې عالي کمېسیون غړی محمد سلیمي پژواک ته وویل: "د نوموړې ښځې خاوند دې د ګډ ژوند اصول مراعات کړي؛ ځکه چې دغه ښځه ګناه کاره نه ده او باید د خپلې مېرمنې په شان ورسره چلند وکړي." خو نوموړي د هغه تاوتریخوالي په اړه چې له یادې مېرمنې سره شوی، وویل: "له دې ښځې سره د یوې مینځې په شان جنسي چلند شوی او په یو ډول له انساني قاچاق څخه کار اخیستل شوی چې باید رسېدنه ورته وشي او لازمه ده چې له یادې ښځې څخه ملاتړ وشي."

د لوګر ولایت د ښځو چارو مشرې شیما زرګر وویل چې تر اوسه د دوی ادارې ته د دې قضیې په اړه خبر نه دی ورکړل شوی.

نوموړې وایي: "که یاده ښځه مور ته مراجعه وکړي، طلاق ورته اخیستلای شو او هغه له دې غمجن ژوند څخه ژغورلای شو." د اړوندې موضوع په اړه د انساني قاچاق او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون په ۱۱مه ماده کې راغلي، په هغه صورت کې چې د انسان د قاچاق د جرم مرتکب د مجني علیه ښځه، والدین، قانوني سرپرست یا د عامه خدمتونو موظف شخص وي، پر اوږده حبس چې له لسو کلونو څخه لږ نه وي، محکومېږي.

د همدې مادې په دویم بند کې راغلي، په هغه صورت کې چې د انسان قاچاقبر له مجني علیه سره، د زنا یا لواطت د فعل مرتکب شوی وي، د حد د جزا د تطبیق د شرایطو د نه شتون په صورت کې له دوولسو کلونو څخه پر زیات بند محکومېږي.

## ۲- فحشا ته اړ ایستل

د نړۍ په پرمختللو او وروسته پاتې اسلامي او غیر اسلامي هېوادونو کې خلک شته چې فحشا یې د ژوند برخه جوړوي، له دې ډلې ځیني داسې دي چې په رضایت سره دغه کار کوي چې هغوی په دغه بحث کې نه شاملېږي، کوم کسان چې په زور، چل یا هم له کومې بلې لارې یا وسیلې فحشا ته اړ ایستل کېږي، په انساني قاچاق کې شاملېدای شي؛ د بېلګې په ډول د ۱۳۹۰ لمریز کال د وري په ۹مه په جوزجان ولایت کې د ملي اردو یوه پخواني تېپي شوي او نا توان سرتېري د دې لپاره چې د کور کرایه یې نه شوه ورکولی، خپلې ښځې ته یې ویلي وو چې په بدل کې یې د کور له څښتن سره جنسي اړیکه ټینګه کړي، یادې ښځې له دغه کار څخه انکار کړی و او قضه یې درج کړې وه. د ښځې مېړه پر خپله دې کړنه اعتراف کړی او د محکمې له خوا پر ۷ کاله بند محکوم شوی و.

د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منعې قانون د ۱۸مې مادې له مخې، هغه شخص چې بالغه ښځه فحشا ته مجبوره کړي، له احوالو سره سم پر اوږده بند چې له اوو کلونو څخه لږ نه وي، محکومېږي خو که چېرې مجني علیه نا بالغه وي، مرتکب پر اوږده بند چې له لسو کلونو څخه لږ نه وي، محکومېږي.

## ۳- د زور نکاح

د زور نکاح یا اجباري واده، د واده لپاره د یوه شخص تر فشار لاندې راوستلو یا اړ ایستلو څخه عبارت دی. په بله وینا، نجلۍ یا هلک چې د روحي فشار، ګواښ یا نا سمې فزیکي استفادې له لارې واده ته اړ ایستل شي یا په بل عبارت، د زور یا اجباري نکاح په دې معنا ده چې یوه ماشومه له رضایت پرته بل چا ته په نکاح ورکړل شي او د دغه کار منلو لپاره زور او اجبار پرې وشي. اجباري واده له دودیز واده سره چې په هغه کې هلک او نجلۍ خپله یا د کورنۍ د غړو په وسیله سره پېژني او د دواړو په خوښه واده رامنځته کېږي، توپیر لري.

د زور واده د انساني حقونو د ضایع کېدو مصداق ګڼل کېږي او د جنسیتي تاوتریخوالي په بېلګو کې راځي. نجونې د دې چارې اصلي قربانیانې او په افغانستان کې دغه پېښې خورا ډېرې دي، په ځانګړې ډول په هغو لرو پرتو سیمو کې چې دولتي حاکمیت په کې نشته. د دې ښکارندې د ډېری قرباني نجونو عمر له اتو کلونو پورته وي. معمولاً د اجباري او د وړو نجونو ودونو تر منځ نږدې اړیکه شته.

اجباري ودونه د خپګان او وېرې لامل ګرځي او قربانیان یې له بېلابېلو روحي او جسمي ستونزو سره مخ کېږي، ان تر دې چې خپل ځان ته زیان اړوي. دغه راز ځیني کسان چې له اجباري ودونو یې د تېښتې هڅه کړې، د ناموسي جرایمو قرباني شوي او یا یې ځانوژنه کړې ده.

نا امني، بېوزلي او ناپوهي د اجباري ودونو لامل دي او پایلې یې هم ناوړه وي. ځیني پلرونه خپلې لوڼې لکه د څارویو په څېر د پیسو په بدل کې پلوري، په داسې حال کې چې د واده په کولو کې د نجونو رضایت شرط دی، له رضایت پرته واده د مدني قوانینو او اسلامي شریعت خلاف عمل دی. په زور او اجباري ودونو کې ډېری وخت د کورنۍ د مشر له لوري، په ځانګړي ډول د پیسو ترلاسه کولو په موخه پر نجونو ظلم کېږي او دغه راز نجونې بیا د خاوند په کور کې هم په خوشحالۍ سره وخت نه شي تېرولای.

په افغانستان کې د زور ودونه په ټولنه کې د حاکم دود او عرف له مخې کېږي او ان په ولایتونو کې هم له قانوني عمر څخه په ټیټ (د نجونو لپاره له ١٦ کلونو کم) عمر کې ودونه شوي او له کوره د تېښتې لوی لامل دا دی چې نجونې د هغوی د خوښې خلاف او غیاب کې ورکول کېږي.

د ښځې پر وړاندې د تاوتریخوالي د منعې قانون د ۲۶مې مادې له مخې، که چېرې یو شخص، هغه ښځه چې د واده قانوني سن یې بشپړ کړی وي، د هغې له رضایت پرته کوژده یا یې واده کړي، له احوالو سره سم پر منځني بند چې له دوو کلونو څخه لږ نه وي، محکومېږي، کوژده او نکاح د قانون د حکومونو مطابق فسخ کېږي.

د زور نکاح په اړه د پژواک لومړی راپور:

**په زور ودول اجباري قاچاق دی**




*زین الله ستانکزی– Feb 27, 2017*

لښکرګاه (پژواک، ۹ کب ۹۵): په هلمند کې په زور واده شوې او بېرته طلاقه شوې یوه مېرمن وایي چې د خپلو ینځو ماشومانو د ساتنې مسوولیت لري، دګټې یې څوک نشته او ډېری وخت د شپې په لوږه ویده کېږي. په زور ودول په دې معنا دي چې یوه ماشومه له رضایت پرته بل چا ته په نکاح ورکړل شي او د دغه کار د منلو لپاره پرې فشار راوستل شي. د یادونې ده چې دغه پېښې اوس په افغانستان کې ډېرې شوې دي.

تر ډېره کم عمره نجونې د پیسو په بدل کې سپین ږیرو ته ورکول کېږي چې دا یو ډول انساني قاچاق دی او ډېری قربانیان یې هم کم عمره نجونې دي. په هلمند ولایت کې یوه مېرمن د همدې ډول یوې پېښې قرباني شوې ده؛ دغه مېرمن بصیره نومېږي، ۳۲ کلنه ده او د هلمند د ګرشک ولسوالۍ په یوه زاړه کور کې له خپلو ینځو ماشومانو سره د بېوزلۍ ورځې شپې تېروي. بصیرې (مستعار نوم) چې د خپل پړوني څنډه یې په خوله کې نیولې وه او شمېرلې شمېرلې خبرې یې کولې، پژواک خبري اژانس ته وویل: "زه ۱۵ کلنه وم چې پلار مې د وخت په ینځه سوه زرو شنو افغانیو له رضایت پرته د یوه پاخه عمر سړي ته چې نږدې ۴۰ کلن و، ورکړم." دې وویل چې خاوند یې تر دې وړاندې یوه بله مېرمن هم درلوده خو د هغې عمر کم و او واده یې ورسره نه و کړی.

بصیره وایي: "اول یې زه واده کړم او بیا په تمه و څو هغه بله لویه شي او بیا له هغې سره هم واده وکړي." هغه زیاتوي چې له واده وروسته یې هېڅ ښه ورځ نه ده لیدلې او تل به یې خاوند ورسره بد سلوک کاوه. بصیرې وویل: "خسر او خواښې مې خاوند راته لمساوه او تل به یې وهلم او کوښښ یې کاوه چې له کوره مې ځواب کړي." هغې د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل: "هېڅ نه پوهېږم چې ولې یې له ما سره داسې چلند کاوه، کله به یې راته دیګ بهانه کړ، کله به یې جارو، بس بر ناحقه به یې وهلم." د بصیرې په خبره چې څو ځلې یې د ځان وژنې هڅه کړې خو بچي یې سترګو ته درېدلي او له دغه کاره لاس پر سر شوې ده. د هغې په وینا، له خپل خاوند څخه درې لونې او دوه زامن لري چې مشر زوی یې ۱۳ کلن دی. هغې په ژړغوني غږ وویل: "مشر زوی مې له ما سره د بد وضعیت له امله لېونی شوی، پر ښه او بد نه پوهېږي، سمې خبرې هم نه شي کولی، هغه هم زما د وږو بار دی." بصیره وایي چې په کم عمر کې له ډېرو ناخوالو سره مخ شوې ده او د وهلو ټکولو داغونه یې اوس هم پر بدن شته دي. دې وویل، خاوند یې ځکه ورسره بد سلوک کاوه چې ورور یې نه درلود او پلار یې هم سپین ږیری دی.

### طلاق اخیستو ته اړ کېدل:

بصیره وایي چې درې کاله وړاندې له خاوند سره محکمې ته ولاړه او هلته یې خاوند طلاق ورکړ، خو ماشومان یې دې ته ور پرېښودل او خاوند یې ترې کلي ته ولاړ. دې وویل چې اوسهال په یوه زاړه کور کې اوسېږي او د میاشتې زر افغانۍ کرایه ورکوي. د هغې په وینا، د ژوند تېرولو په موخه خیاطي کوي او یا هم د خلکو په کورونو کې کالي مینځي او د میاشتې تر دربیو زرو افغانیو پورې پیدا کوي. دې زیاته کړه: "تاسو باور وکړئ چې په دې پیسو هېڅ هم نه کېږي، ډېر داسې وخت کېږي چې زه له خپلو ماشومانو سره په لوږه ویده کېږم." د بصیرې په خبره چې خپلې ستونزې یې له ټولو اړوندو ارګانونو سره شریکې کړې دي خو تر اوسه چا ورسره مرسته نه ده کړې.

### د ښځو چارو ریاست: د بصیرې دوسیه مو قضایي ارګانونو ته استولې ده

د اړوندې موضوع په اړه د هلمند د ښځو چارو رییسې جمیلې نیازۍ پژواک ته وویل چې بصیرې خپله ستونزه د ټیلیفون له لارې له دوی سره شریکه کړې ده. هغې وویل: "بصیرې دغه کار ځکه د ټیلیفون له لارې وکړ که چېرې خاوند یې پرې خبر شي نو حالت به یې له دې هم بدتر کړي." د نیازۍ په وینا، دوی اجرایي ارګان نه دي؛ نو ځکه له بصیرې سره مرسته هم نه شي کولای، خو د هغې موضوع یې له عدلي او قضایي ارګانونو سره شریکه

کړې څو اړینه مرسته ورسره وکړي. هغې وویل چې نا امني، بېوزلي او ناپوهي د دغه ډول اجباري ودونو لامل کېږي چې بیا ښې پایلې نه لري. هغې له قومي مشرانو او ملا امانو غوښتنه وکړه چې د اجباري ودونو د مخنیوي په برخه کې جدي هلې ځلې وکړي.

**له انساني قاچاق سره د مبارزې عالي کمېسیون: په هلمند کې اجباري ودونه ډېر شوي**

د هلمند د عدلیې رییس او له انساني قاچاق سره د مبارزې عالي کمېسیون غړي محمد طیب اتل پژواک ته وویل چې د قانون له مخې د نجونو لپاره د واده عمر ۱٦ کاله ټاکل شوی دی. هغه وایي چې د واده په اړه د نجونو رضایت شرط دی او له رضایت پرته واده کول د مدني قوانینو او اسلامي شریعت خلاف عمل دی. ده زیاته کړه: "که چېرې یوه نجلۍ له رضایت پرته ورکړل شي، دا اجباري قاچاق دی او که چېرې نجلۍ په دې برخه کې عارضه شي نو وکیل که پلار وي او یا هم ورور، د قانون له مخې سزاویني."

ده وویل چې په هلمند کې د اجباري ودونو کچه لوړه ده او دوی هڅه کوي د عامه پوهاوي پروګرامونو په پلي کولو سره یې مخه ونیسي.

طیب وایي چې د بصیرې په نوم کومې ښځې تر اوسه دوی ته مراجعه نه ده کړې او که چېرې مراجعه وکړي نو د ستونزو د حل لپاره به یې لازم اقدامات وشي.

**د بشري حقونو کمیسیون: په اجباري ودونو کې د مور او پلار ملامتیا**

د هلمند د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون د ښځو چارو رییسې فاطمې عابدي پژواک ته وویل چې یو شمېر پلرونه خپلې لوڼې لکه د څاریو په څېر د پیسو په مقابل کې پلوري چې بیا بدې پایلې لري.

دې وویل چې دغه ډول ډېرې پېښې تر اوسه دوی ته راغلې دي او هڅه یې کړې چې د قضیې دواړه لوري کېنوي او موضوع یې د خبرو له لارې حل کړي.

**نادولتي سازمانونه: د دې مسئلې د مخنیوي لپاره باید عامه پوهاوی وشي**

په هلمند کې د مدني ټولنو د همغږۍ دفتر مشر خدای نور خانزاده پژواک ته وویل چې د اجباري ودونو په اړه شکایتونه دوی ته هم رسېدلي دي. هغه وایي چې د یادې ستونزې د حل لپاره دوی تر اوسه د عامه پوهاوي پروګرامونه ترسره کړي او هم یې هڅه کړې چې د ځوانانو په مرسته په دې اړه خلکو ته مشورې ورکړي. ده زیاته کړه: "ځینې قضیې چې ډېرې جدي وي، هغه بیا مورږ عدلي او قضایي ارګانونو ته هم محول کړې څو د حل یوه لار ورته پیدا کړي." ده هم له قومي مشرانو او مخورو غوښتنه وکړه چې د اجباري ودونو د مخنیوي په برخه کې جدي هلې ځلې وکړي. په هلمند کې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د ولایتي دفتر د معلوماتو له مخې، د روان کال په اوږدو کې تر دې مهاله د دوی په دفتر کې ۳۱۸ پېښې ثبت شوې چې یوازې ۵۳ یې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي دي.

د زور نکاح په اړه د پژواک دويم راپور:

## د زور او له وخته مخکې ودونه د انساني قاچاق بله بڼه ده




*میرحسین امیري— Mar 29, 2017*

کابل (پژواک، ۹وری ۹٦): د زور د واده ښکار شوې ښځه وايي چې له اته کاله ګډ ژوند وروسته د خپل خاوند د ناوړه چلند له امله اړه شوه چې له کوره وتښتي او د امن خونې ته پناه يوسي. د افغانستان په ځينو سيمو کې د ټولنيزو او کورنيو ستونزو د حل لپاره د زور او بې وخته ودونه کېږي، دا ډول ودونه تر ډېره په بدو او بدل کې د ورکړې بڼه لري او يا هم د پور په مقابل کې کېږي چې په انساني قاچاق کې راځي. د افغانستان له قوانينو سره سم ډېری دا ډول ودونه د زور، اجبار، قدرت، چل او استثمار له امله کېږي. دوه ويشت کلنه سکينه (مستعار نوم) اوسمهال له خپل ١٦ مياشتني ماشوم سره د کابل ښار د امن په يوه خونه کې تر مراقبت لاندې ده. نوموړې پژواک خبري اژانس ته وويل، اته کاله وړاندې چې ١٤ کلنه وه، د کورنۍ له لوري يې په زور له يوه ٣٥ کلن سړي سره واده وشو. دغه ځوانه ښځه چې ظاهراً ستومانه معلومېده، وويل: "تر درېيو کلونو پورې مو ښه ژوند درلود، د يوه اولاد خاوندان شوو، د ناصر (د خاوند مستعار نوم) په غوښتنه له خپلې خسرګنۍ بېل شوو، کابل ته راغلو او د خاوند د خپلوانو په کور کې مو نوی ژوند پيل کړ."

خو سکينه وايي چې کابل ته تګ يې په ژوند کې د بدمرغيو د پيل لامل شو؛ هغې زياته کړه: "کله چې کابل ته راغلو، بدبختۍ مې پيل شوې، دا چې زموږ د ګاونډي زوی روږدی و، د دې لامل شو چې خاوند مې روږدی کړي، هغه د کور په يوه کونج کې نشه يي توکي څکول، تر دې چې د ګاونډي کور ته د تګ راتګ په سبب مې خاوند د ګاونډي کور له نجلۍ سره ناروا اړيکې جوړې کړې." سکينې څرګنده کړه، تر هغه وخته (يو کال وړاندې) چې له واده يې اووه کاله تېر شوي وو، څلور اولادونه يې لرل. هغې وويل: "دا موضوع مې له خپلې خوابنې سره شريکه کړه چې ستونزه مو حل کړي، خو حل نه شوه، خاوند مې سخته ووهلم، تر دې چې خوابنې مې له خپلو اولادونو سره ومنلم، وروسته مې خاوند له هماغې نجلۍ سره وتښتېد او په مزارشريف کې يې ورسره واده وکړ."

سکينې د خپل ژوند کيسه داسې بيان کړه: "خاوند مې مزارشريف ته تللی و، درې مياشتې وروسته له هغې نجلۍ سره راستون شو او زموږ کور ته راغی، خو لا يې هم خپل بد عادت ته دوام ورکړ، تر دې چې زه يې د کور له دويم پوړ څخه لاندې ګوزاره کړم، پښه مې ماته شوه، وروسته يې کور وسوځاوه." هغې ادعا وکړه چې د خپل خاوند د دغه ناوړه عمل له امله اړه شوه چې د بشري حقونو کمېسيون ته د طلاق لپاره مراجعه وکړي، خو د

بشري حقونو کمېسيون په منځګړيتوب بېرته حاضره شوه چې خپل ژوند ته دوام ورکړي. سکينې وويل چې د خاوند ارامولو او سوله ييز ژوند ته د هغه د هڅولو سربېره هم د ناصر له تاوتريخوالي ډک چلند دوام وکړ او اړه شوه چې نږدې ۱۱ مياشتې مخکې له کور څخه وتښتي او د مزارشريف له امن خونو په يوه کې پناه واخلي.

**د سکينې او د هغې د زامنو نا څرګند برخليک**

د هغې امن خونې مشرې چې سکينه په کې ساتل کېږي، پژواک ته وويل چې دغه ځوانه ښځه شاوخوا ۹ مياشتې مخکې له مزارشريف څخه دغه کور ته را لېږدول شوې ده. هغې زياته کړه چې د سکينې د قضيې جزئيات څېړي او خبر شوي چې د دې ښځې خاوند د کابل د روږدو د درملنې په يوه مرکز کې تر درملنې لاندې دی. د امن خونې مشر د معلوماتو له مخې، تر اوسه پورې د دې ځوانې ښځې دوسيه د عدلي او قضايي واحدونو له لوري نه ده څېړل شوې او له خپلې ۱٦ کلنې لور سره چې لا هم شيدې خوري، تر مراقبت لاندې ده، خو درې نور اولادونه يې چې لويان دي، د خپلې نيا په کور کې ژوند کوي. د سکينې وکيل چې د امن خونې له لوري د هغې د دوسيې څېړنې ته ګومارل شوی، وويل چې د دوسيې په اړه لا هم پرمختګ نه دی شوی او ټاکل شوې ده چې د روږدو درملنې له مرکز څخه د ښځې د خاوند له رخصتېدو وروسته وڅېړل شي.

**له ښځو سره د تاوتريخوالي په مبارزه کې د حکومت ليدلوری**

د ښځو چارو وزارت د ښځو د ملاتړ مرکز مشرې او له انساني قاچاق سره د مبارزې عالي کمېسيون غړې نازيې فيضي د سکينې قضيه دردوونکې وبلله او ويې ويل، اړينه ده چې دا قضيه په جدي ډول وڅېړل شي. نوموړې هغو ستونزو او ننګونو ته چې دا ښځه ورسره مخ شوې ده، په اشاره وويل: "له کوره د تېښتې عمده لامل دا دی چې له ښځو د واده په اړه پوښتنه نه کېږي." د ښځو د ملاتړ مرکز د مشرې په خبره، په هېواد کې د زور ودونه په ټولنه کې د حاکم دود او عرف له مخې کېږي او حتی په ولايتونو کې هم له قانوني عمر څخه په ټيټ (د نجونو لپاره له ۱٦ کلونو کم) عمر کې ودونه شوي. مېرمن فيضي زياته کړه، هغه څه چې سکينې ويلي، له ١٤ کلنۍ نه په ټيټ عمر کې له يوه ۳۵ کلن کس سره واده، وهل ډبول او زيان ور رسېدل، له ښځو سره د تاوتريخوالي د مخنيوي قانون د پنځمې مادې پر بنسټ جرم ګڼل کېږي.

د عدليې وزارت د تقنين مشر عبدالمجيد غني زاده وويل: "د خونديتوب او له مرګه د ژغورنې په موخه تېښته د هر فرد حق دی.)) د هغه په خبره، د هېواد مدني قانوني په ۷۰مه ماده کې د نجلۍ لپاره د واده عمر ١٦ کاله او د نرانو لپاره ١٨ کاله ښودل شوی چې له دغه په ټيټ عمر کې نکاح کول جواز نه لري. غني زياته کړه: "د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي قانون د ٢٦ مې مادې له مخې، هر کله چې يو شخص له داسې ښځې سره د هغې له خوښې پرته نکاح وکړي چې د واده لپاره يې قانوني عمر نه وي بشپړ کړی، پر منځنۍ بند چې له دوو کلونو کم نه وي، محکومېږي، کوژده او نکاح يې د قانون له حکمونو سره سم فسخه کېږي." د عدليې وزارت د تقنين مشر وويل: "کوم کس چې خپله ښځه وښکنځي، سپکاوی يې وکړي يا يې وويروي، پر لنډ بند چې له درېيو مياشتو کم نه وي، محکومېږي."

**له ښځو سره د تاوتريخوالي په اړه د عالمانو نظر**

د هېواد د عالمانو شورا غړي شمس الرحمن فروتن وويل چې ښځو ته ښکنځل، د نامشروع اړيکو جوړول، وهل ډبول بد او شرموونکی عمل دی، مدني بنسټونه بايد پر ځان لازمه وبولي چې له داسې قربانيانو سره مرسته وکړي او همدارنګه کورنۍ حاضرې شي چې د سکينې په څېر قربانيانو ته په ټولنه او کورنۍ کې د بيا ژوند کولو چانس ورکړي؛ ځکه خو کورنۍ بايد هڅه وکړي چې اولادونه يې د سکينې په څېر له انساني قاچاق سره مخ نه شي. هغه د سکينې خبرو ته په اشارې سره وويل چې دا ښځه د خپل ځان او اولادونو د ساتنې لپاره له کوره تښتېدلې او د اسلام له نظره يې کار پر ځای او د ستاينې وړ دی، حتی د دې مستحقه ده چې د عدالت د تامين په صورت کې د طلاق غوښتنه وکړي.

## ۴- په بدو کې د نجونو ورکول

په بدو کې ورکول؛ د قتل، جنسي تېري يا له ناوړه دود، دستور او عادتونو څخه په پيروۍ په نورو احوالو کې د ديت يا سولې په بدل کې د نجونو يا ښځو ورکولو ته وايي.

د نجونو په بدو کې ورکول په افغانستان او په ځانګړي ډول پښتني قبيلو کې د دښمنيو او تربګنيو په له منځه وړو کې د يو ناوړه داسې دود په توګه د نجلۍ يا ښځې ورکول دي چې له ډېره وخته موجود دی او د انساني قاچاق يو ډول دی. له بده مرغه بايد وويل شي چې لا هم سلګونه نجونې په بدو کې ورکول کېږي چې دغه کار د انساني قاچاق کلتوري بڼه ښيي او داسې يوه اړيکه منځ ته راوړي چې دغه نجونې په کې هېڅ خوښ او سوکاله ژوند نه لري.

د نجونو په بدو کې ورکول پخوانی ناوړه دود دی؛ مخينه يې ان هغې زمانې ته رسېږي چې په ټولنه کې يو مرکزي قانوني سيستم شتون نه درلود او جګړې هم تر ډېره د قومي جوړښتونو له امله وې. سره له دې چې دغه کړنه (د نجونو په بدو کې ورکول) شرعي او قانوني بنسټ نه لري، خو ورو، ورو پراخ او په ټولنه کې دود شوی دی. کله چې يو کس څوک ووژني، له خپلې ښځې پرته له چا سره جنسي اړيکې ونيسي يا جنسي تېری پرې وکړي، ځايي شورا د منځګړتوب لپاره ور دانګي؛ د لرې ګناه په بدل کې معمولاً پيسې، پسونه يا غواګانې ورکوي او په دغه ډول روغه جوړه رامنځته کېږي.

د جدي جرمونو پر وړاندې معياري پرېکړه د تېري کوونکي کورنۍ له خوا د زيانمن کورنۍ ته د نجلۍ په ورکړې پای ته رسېږي؛ يعنې هغه مهال چې د افغانستان په ځينو برخو کې کورنۍ د يو لړ جدي موضوعګانو له امله په خپلو کې سره ولوېږي، د وينې تويېدو د مخنيوي يوه لاره د تېري کوونکي لورې زيانمن لوري ته ښځه ورکوي. دغه کار چې د «بد» په نامه يادېږي، د زيان ليدلې کورنۍ نارينه ته د ښځې ودولو دود، ناوړه دود دی. د دوو کورنيو تر منځ د دښمنيو پای ته رسولو لپاره د نجونو د ورکړې دود يوازې په څو ولايتونو پورې محدود نه دی؛ دغه کار په ټول افغانستان کې شته چې له بشري حقونو ستره سرغړونه بلل کېږي. دغه دودونه عادلانه نه دي او هېڅکله يې له مخې عدالت نه شي تامينېدای. که له يوې خوا شخص له غچ اخيستو ژغورل کېږي، خو بلخوا بيا ښځې، په ځانګړې توګه پېغلې د اجباري ودونو قرباني کېږي. پر دغو نجونو د خسرګنۍ له خوا ظلم کېږي او هماغه پاتې عقده پر دوی سړوي او دغه ډول کړنې د کورني تاوتريخوالي عمده لامل دي.

د يادونې ده چې په بدو کې د نجونو ورکول، د هغوی له رضايت پرته ترسره کېږي. د افغانستان په ډېرو لرو پرتو سيمو کې ځيني داسې ناوړې پېښې شته چې په بدو کې د ښځو د ورکولو پر مهال نه يوازې هغه نجونې چې د واده قانوني سن يې پوره کړی وي، ورکوي، بلکې هغه نجونې چې نوې دنيا ته راشي، په لومړيو ورځو کې د بل ماشوم په نامه کېږي او يا مېړوښه ښځه له خاوند څخه جلا کېږي او په بدو کې ورکول کېږي. په بدو کې د نجونو ورکول په اصل کې د هغو بنيادي حقونو تر پښو لاندې کول دي. د دوو کورنيو تر منځ د دښمنۍ پای ته رسولو لپاره په زور د ودونو کول جنسي غلامي او د انساني قاچاق يو ډول دی.

افغانستان په ۱۹۸۹ زېږديز کال کې د ماشومانو د حقونو کنوانسيون تصويب کړی او په بدو کې د نجونو ورکول په کې منع شوي دي. دغه راز افغانستان په ۲۰۰۵ زېږديز کال کې له ملګرو ملتونو سره د ماشومانو د ودونو د له منځه وړلو پروتوکول لاسليک کړ او د افغانستان اساسي قانون هم د نجونو په بدو کې ورکول منعه کړي دي.

هغه نجونې چې په بدو کې ورکول کېږي، په حقيقت کې د کورنۍ او ټولنيز تاوتريخوالي قرباني کېږي. ډېر په دې نا سم باور دي چې کېدای شي په بدو کې د نجونو ورکول، د کورنيو تر منځ ستونزې او دښمنۍ له منځه يوسي.

نجونې په داسې حال کې د دې ډول پېښو قرباني کېږي چې په خپله په دې دښمنيو کې لاس نه لري. دوی د ټولنيز تاوتريخوالي او نا سمو باورنو قرباني کېږي.

د ښځې پر وړاندې د تاوتريخوالي د منعې قانون د ۲۵مې مادې له مخې، هغه شخص چې په بدو کې د ورکولو په نوم ښځه په نکاح ورکړي يا يې وکړي، پر اوږده حبس چې له لسو کلونو څخه زيات نه وي، محکومېږي. د بدو ورکولو په حالت کې ذيدخل اشخاص (شاهد، وکيل، مصلح او عاقد) هر يو له احوالو سره سم پر منځني حبس محکوم او د نکاح عقد، په بدو کې د ورکړل شوې ښځې د غوښتنې په صورت کې د قانون د حکومونو مطابق فسخ کېږي. د دغه ناوړه دود پر وړاندې د پکتيا يوه ۲۷ کلن اوسېدونکي خان ولي عادل په ۲۰۱۶ زېږديز کال کې د ملي شورا دروازې مخې ته د اعتصاب خېمه ودروله. د نوموړي مشر ورور د ځمکې پر سر شخړه کې وژل شوی و، د دې لپاره چې دغه دښمني دوام پيدا نه کړي د قاتل کورنۍ عادل ته د خپلې مشرې لور ودولو وړانديز وکړ، خو عادل دغه وړانديز ونه مانه چې له امله يې د کليوالو له غبرګون سره مخ شو او له کوره وشړل شو.

عادل د دغه کار په خلاف ودرېد، د ملي شورا مخې ته يې اعتصاب پيل کړ، له څلور مياشتني اعتصاب وروسته د عالمانو شورا يوه رسمي اعلاميه خپره کړه او دغه دود يې ناقانونه او د اسلام خلاف اعلان کړ. د ۲۰۱٦ زېږديز کال د اګست په مياشت کې د ۵۰ عالمانو له خوا په دې لاسليک شوې اعلاميه کې راغلي وو، هر هغه ديني عالم، شاهد او ان د موسيقۍ ډله به له سزا سر مخ شي چې په دغه راز ودونو کې ګډون وکړي.

د اسلامي قوانينو له مخې په فتوا کې ټينګار شوی و، ښځې حق لري خپل د ژوند ملګرى په خپله خوښه وټاکي. د تربګنيو د له منځه وړلو لپاره د نجونو تبادله منعه ده او دغه راز کرکجن دودونه، لکه د دښمنيو د له منځه وړو لپاره د نجونو ورکول، له خپلې خوښې پرته د نجونو بدل او د کم عمره نجونو ودول ټول په اسلام کې منعه دي.

ديني عالمان وايي، په اسلام کې د جرم ترسره کول فردي عمل دی. الله ج په قران کريم فرمايي، هېڅوک د بل د جرم له امله سزا نه ويني.

د پلار يا ورور د جرم پر وړاندې د تربګنيو د پای ته رسولو لپاره له خپلې خوښې پرته د نجلۍ ورکول په کلکه منعه دي،که څوک دغه راز عمل ته مخه کوي بايد عدلي ادارو ته ور وپېژندل شي او تر عدلي تعقيب لاندې راشي.

په بدو کې د نجونو ورکولو په اړه د پژواک راپور:

## د پکتیا خلکو په بدو کې د نجونو ورکول کم کړي



*ساحل منګل — Dec 09, 2014*

ګردېز (پژواک، ۱۸ لیندۍ ۹۳): په سوېل ختیځ کې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون او د ښځو چارو ریاست وايي چې په پکتیا کې د قومي تړون او عامه پوهاوي له امله په بدو کې د نجونو د ورکړې پېښې کمې شوې دي. دوی وايي چې د تېرو څو کلونو په پرتله دغه کچه اتیا سلنه راټیټه شوې او لامل یې په دې برخه کې د خلکو عامه پوهاوی او د ښځو مبارزه بولي. په سوېل ختیځ کې د بشري حقونو کمېسیون رییس پوهنوال نوراحمد شهیم پژواک خبري اژانس ته وویل چې پخوا به د دغه ولایت اوسېدونکو د سړي د وژنې په بدل دوه نجونې ورکولې خو اوس مهال دغه دود اتیا سلنه کم شوی او خلک اوس پر دې پوهېدلي چې په بدو کې د نجونو ورکول ډېر زیانونه لري. نوموړې زیاته کړه چې د بشري حقونو کمېسیون او د مدني ټولنې د مبارزې هڅې وې چې خلک یې پر دې پوه کړل چې نور به په بدو کې نجونې نه ورکوي. د پکتیا د ښځو چارو رییسې نسرین اوریاخېل پژواک ته تایید کړه چې د پخوا په پرتله په بدو کې د نجونو ورکړه کمه شوې ده. نوموړې وايي چې د دغه دود کمېدو لامل د دوی فعالیتونه دي چې په بېلابېلو برخو کې یې کړي دي. د مېرمن اوریاخېل په خبره، دوی نور هم هڅه کوي هغه دودونه چې له امله یې ښځې ستونزې ګالي، لږ تر لږه یا راکم کړي او یا یې له منځه یوسي. د پکتیا یو قومي مشر حاجي ریاض وايي چې په ډېرو سیمو کې اوس تړونونه شوي چې خلک به په بدو کې نجونې نه ورکوي. د نوموړي په خبره، خلکو ځکه دا ډول تړونونه کړي چې په بدو کې د نجونو ورکول ډېر تاوانونه لري او خلک یې له ډېرو ستونزو سره لاس او ګرېوان کړي دي. دی وايي چې اوس مهال له یوې خوا دومره د بدو کار نه کوي او بیا که چېرې وشي نو په مقابل کې یې ځمکه او یا پیسې ورکوي. دا چې په بدل کې د نجونو ورکړه کوم تاوان لري او خلکو ته یې څه ستونزې پیدا کړې دي؟ د پکتیا د ډنډې پټان ولسوالۍ یو اوسېدونکی حسن ګل چې خپلې دوه لونې یې په بدو کې ورکړې وايي: "لس کاله مخکې مو د غره پر سر شخړه وه، یو کس را څخه په ټوپک ولګېد او مړ شو، وروسته د جرګې خلکو فیصله وکړه چې دوه لونې به په کې ورکوم." دی وايي چې کله مې لونې له دغه کاره خبرې شوې نو یوې یې ځانوژنه وکړه او هغه بله یې اوس په ډېر کړاو د خاوند په کور کې ژوند تېروي. حسن ګل وايي چې د لور یې څو اولادونه دي خو بیا هم د خسر په کور کې څوک ورته په ښه سترګه نه ګوري او ورته وايي چې په بدو کې یې راکړې یې.

په هېواد کې د ښځو د تاوتریخوالي په قانون کې په بدو کې د نجونو ورکړه یو جرم بلل شوی دی. دیني عالمان په بدو کې ورکړه د اسلام له نظره ناسم عمل بولي او غوښتنه کوي چې باید مخنیوی یې وشي. د دیني علومو ماسټر مولوي احمد سلطان پژواک خبري اژانس ته وویل، په بدو کې ورکړه په اسلام کې حرام کار دی او باید مخنیوی یې وشي. دی وايي: "په اسلام کې دا نشته چې ظلم دې یو وکړي او جزا یې بل ته ورکړل شي؛ یعنې دغه کار حرام دی چې څوک به بدو کې خپله خور او لور ورکوي." ده وویل، دیني علماوو په دې تړاو عامه پوهاوی ورکړی، په خپله دې خلک هم له دغه کار څخه ډډه وکړي او حکومت هم باید د دغسې ممکنه کارونو مخه ونیسي.

## ۵- د نجونو په بدل کې ورکول

د نجونو بدل ناوړه دود او د انساني قاچاق د کلتور یو ډول دی. دغه دود په افغاني کورنیو کې د ښوزلې له امله رواج موندلی دی. په ډېری هغو کورنیو کې چې د بدل ودونه په کې شوي، تاوتریخوالی ډېر وي؛ کله چې د بدل پر یو لور زور یا ظلم کېږي، په غچ کې یې پر مقابل لوري هم ظلم کېږي او دا هر څه د دې لامل کېږي چې د کورنیو تر منځ لویې دښمنۍ وزېږي؛ په داسې حال چې په اسلام کې د نجونو د بدل نکاح روا ده خو بیا هم حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هغه ناخوښی کار ګڼلی او حتی په یو حدیث شریف کې راغلي چې په اسلام کې د نجونو بدل نشته.

د نجونو د بدل په اړه د پژواک راپور:

**د بدل ودونه ناوړه پایلې لري**



*رامین- Dec 05, 2015*

زرنج (پژواک ۱٤ لیندۍ ۹٤): د هېواد په یو شمېر سیمو کې د "بدل" په نوم یو نا سم دود اوس هم شته چې د دوو کورنیو اړیکې پیکه کوي او ان د طلاق لامل کېږي. "بدل" په دې معنا چې یوه کورنۍ خپله نجلۍ د بل کور هلک ته ورکوي او د دوی لور بیا د خپل کور هلک ته په نکاح کوي. د دې ډول ودونو یو لامل اقتصادي ستونزه ده او نور لاملونه هم لري.

په نیمروز کې ځینې هغه کورنۍ چې دغه دود لري وايي چې له دغه کار څخه ښه خاطره نه لري او لوڼې یې د مېړونو په کورونو کې د تاوتریخوالي موخه ګرځي. دوی زیاتوي چې دغه رواج د دې لامل شوی چې یو شمېر ښځې له طلاق سره مخ شي. د نیمروز مرکز زرنج ښار یوه اوسېدونکي خان محمد وویل، دېرش کاله وړاندې یې خپله خور د نجم الدین په نوم یوه خپلوان ته په نکاح ورکړې او په بدل کې یې د نجم الدین خور ځان ته نکاح کړې ده. هغه پژواک ته وویل، دواړو کورنیو دغه کار د دې لپاره وکړ چې د ولور د ورکړې وس یې نه درلود. په لومړیو کلونو کې یې ښه ژوند درلود، خو په وروستیو کې د هغو ناوړو خبرو له امله چې د خواښې له لوري به یې خور ته کېدلې، مور به یې دی هم دې ته اړ ایسته چې له کوم لامل پرته پر خپلې مېرمنې فشار راوړي او پلمه ورته پیدا کړي.

خان محمد زیاته کړه: "که چېرې به مې خور د مېړه په کور کې نوي کالي نه درلودل، نو ما هم نه شوی کولی چې خپلې مېرمنې ته نوې جامې واخلم او یا که به چېرې بې مالګې او تروه ډوډۍ پخېده، نو ما هم باید له کوم دلیل پرته پر خپلې ښځې غوسه کړې وای، تر دې چې مور مې اړ ایستم چې بله ښځه وکړم." هغه زیاته کړه، دویمه مېرمن یې هم وکړه او لومړۍ مېرمن یې هم وساتله، خو اوښې یې پر دې سربېره چې دویمه مېرمن یې وکړه، د هغه خور ته یې هم طلاق ورکړ او له خور څخه یې درې لوڼې او یو زوی هم ورته پاتې شول.

خان محمد وویل: "ما دا چې له خپلې ښځې سره مینه درلوده، خو بیا مې هم د خپلې مور پر ټینګار سربېره هغې ته طلاق ورنه کړ، خو اړ شوم چې بله ښځه هم وکړم او لومړۍ مېرمن چې په بدل وه، نو بدل د دې لامل شو چې خور مې طلاق شي او زه دویمه ښځه وکړم."
د نیمروز د ښځو چارو ریاست سږ کال د طلاق ۹ پېښې ثبت کړې دي. دغه شمېرې په ګوته کوي چې په نیمروز ولایت کې د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د تاوتریخوالي ۸۰ موارد او د تېر کال په ورته موده کې ٦۰ موارد ثبت شوي دي. د نیمروز د ښځو چارو مشرې امنې حکیمي وویل، درې قتلونه او د ځان سوځولو یوه پېښه چې په مرګ پای ته رسېدلې، د سږ کال د تاوتریخوالي په پېښو کې شامل دي. له دې پرته وهل ډبول، له کور څخه تېښته، د کم عمر پر مهال کوژده کول، نفقه نه ورکول او... د تاوتریخوالي نورې پېښې جوړوي. هغې زیاته کړه، تېر کال د بدل ۱۲ موارد ثبت شوي، خو سږ کال بیا تر اوسه پورې کوم مورد نه دی ثبت شوی.
خو مېرمن حکیمي وویل، د بدل رواج تر اوسه پورې په دغه ولایت کې شته چې په ځینو مواردو کې د دوو کورنیو تر منځ د اړیکو د پیکه کېدو لامل هم کېږي، ان کم عمره نجونې هم په بدل ورکول کېږي چې بالاخره بیا د ښځې او مېړه تر منځ ژوند تر تریخوالي رسېږي. د دغه بد دود یوې قرباني شوې مېرمن چې له نوم اخیستو یې ډډه کوله، وویل، ١٤ کاله مخکې ۱۳ کلنه وه چې ورور یې یوه ځوان ته په نکاح کړه او د دې په بدل کې یې د هغه ځوانه خور ځان ته نکاح کړه. یادې مېرمن چې د زرنج ښار اوسېدونکې ده، زیاته کړه چې تر اوسه پورې له خپل مېړه او کورنۍ سره د ژوند سختې شپې او ورځې تېروي. هغې وویل: "خواښې به مې راته ښکنځلې کولې او د کور سخت کارونه، لکه د غوا او مېږو ساتل، اوړه لندول او د کالیو مینځل او نور کارونه به یې هم پر ما باندې کول، څو مې مېړه مجبور کړ چې بله ښځه وکړي."
یادې مېرمنې زیاته کړه، له تېرو شپږو کلونو راهیسې یې مېړه بله ښځه کړې ده او دې ته نفقه نه ورکوي. یادې مور وویل، اوس د خپل مېړه په یوه کور کې ژوند کوي او د خپل یوه وړوکي زوی او دوو لوڼو ټول لګښتونه د خیاطۍ له لارې پوره کوي. د نیمروز د استیناف محکمې مشر قضاوتمند مولوي عطاءالله فکري وایي، انسان ازاد پیدا شوی او د یوه ازاد انسان په بدل کې باید بل څوک ورنه کړل شي، ازاد انسان باید د یوې خور او نجلۍ په بدل کې ورنه کړل شي، واده باید په رضایت او د مهر په ورکړې سره ترسره شي، نه د بل انسان په بدل کې چې په هغه کې د څلورو کسانو برخلیک یو ځای تړل شوی وي. هغه په دې اړه یو حدیث هم نقل کړ چې حضرت محمد (ص) مسلمانان د بدل له نکاح څخه منعه کړي او فرمایلي یې دي چې کونډه او یا نجلۍ تر هغه وخت پورې په نکاح نه ورکول کېږي، څو له دوی سره مشوره نه وي شوې.
فکري په هېواد کې د کورنیو تر منځ د ۷۰ سلنه شخړو او تاوتریخوالي بنسټ د بدل ودونه وبلل او زیاته یې کړه: "څکه په یو شمېر کلیو او بانډو کې مې ولیدل چې دغه رواج تر اوسه پورې شته او د دې ډول ودونو پر ضد هغومره تبلیغ نه کېده، نو په همدې موخه مې یو کتاب لیکلی، څو د وس پر مهال یې مخه ونیول شي." نوموړي د "بدل نکاح" په نوم یو کتاب چې پنځوس مخونه او دېرش عنوانه لري د درېیو کلونو په موده کې لیکلی دی. په دغه کتاب کې خلکو ته سپارښتنه شوې ده چې د نجونو په بدل کې ورکولو ته دې نور د پای ټکی کېښودل شي. یاد دیني عالم چې په تېرو لسو کلونو کې یې په قضایي ادارو کې د دایکنډي، غور، بادغیس او نیمروز ولایتونو د استیناف محکمو د رییس په توګه کار کړی، په دغه کتاب کې یې خپلې ټولې هغه تجربې راوړې چې د خپلې یادې دندې پر مهال یې ترلاسه کړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د ښځو او نجونو د تاوتریخوالي په برخه کې چې طلاق، د بدل او کم عمره ودونه او... تشکیلوي، ۲٦۰۰ قضیې ثبت کړې دي.

## ۶- د واده په پلمه پېرل او پلورل

په هېواد کې د نورو ډېرو ستونزو، ناخوالو او ناوړه دودونو تر څنګ يوه ډېره پخوانۍ هغه يې پر پيسو باندې د نجونو پلورل دي؛ له بده مرغه چې د همدغو ناوړه دودونو له کبله له نجونو د يو حيوان په توګه ګټه اخيستل کېږي چې په پېر او پلور سره يې ډېرې کورنۍ، په ځانګړې توګه په خپله نجونې له سختو کړاوونو سره مخ کېږي. په ډېرو ځايونو کې پېغلې نجونې د پيسو په بدل کې بوډاګانو ته ورکړل شوې دي او تر ډېره دغسې ودونه د کورنۍ تاوتريخوالي او د نجونو په ژوند کې د بدمرغيو لامل شوي دي. دغه راز د پېر او پلور دغه ودونه په ځينو ځايونو کې د طلاق او ان د ځانوژنې لامل هم ګرځېدلي، خو يو شمېر نجونې بيا د ټولنيزو نزاکتونو په خاطر د ټولو ناخوالو په ګاللو سره خپل غږ نه پورته کوي او د مرګ تر ورځې پورې هر څه په سړه سينه زغمي.

په افغانستان کې د ښځو او نارينه وو تر منځ يو پراخ توپيري دود حاکم دی چې تر ډېره يې ښځې قرباني دي. په بدو کې د نجونو ورکول، جبري ودونه، له زده کړو محروميت، د نجونو پر پيداينښت د کورنيو خپګان، وهل ټکول او نور د ښځو د ژوند هغه ترخه اړخونه دي چې د درد او افسوس بې شمېره داستانونه يې په نږدې هر کور کې پرېيښې دي. که څه هم په دې وروستيو کې په ټوله نړۍ او په ځانګړې ډول په افغانستان کې د انسانانو او بيا د ښځو د پېر او پلور موارد ډېر نشته خو بيا هم په ځينو ځايونو کې ښځې په يوه او بله پلمه پېرل او پلورل کېږي چې يو هم له هغې څخه د واده په پلمه د ښځو پېرل او پلورل دي.

له ښارونو لرې په لرو پرتو سيمو کې ځيني قومي مشران او يا هم شتمن کسان نجونې، په ځانګړې ډول کم عمره نجونې په دې پلمه چې په پېغلتوب کې بيا واده ورسره کوي، له بېوزلو کورنيو پېري؛ خو له بده مرغه چې له دغو نجونو سره له نکاح پرته او مخکې له دې چې پېغلې شي جنسي قرابت کوي او دا په حقيقت کې جنسي تېری دی.

د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منعې قانون د ۲۴مې مادې له مخې، هغه شخص چې ښځه د واده په منظور يا پلمه وپلوري يا يې وپېري يا په هغو کې وساطت وکړي، له احوالو سره سم پر اوږده حبس چې له لسو کلونو څخه زيات نه وي، محکومېږي.

د واده په پلمه د پېرلو او پلورلو په اړه د پژواک راپور:

### د ولور زياتوالی د فراهي ځوانانو د روږدېدو لامل شوی




همايون ذهين - Dec 31, 2014

فراه (پژواک، ۱۰ مرغومی ۹۳): په فراه کې یو روږدی محمدنبي چې د ولور د زیاتوالي په غم کې روږدی شوی، وایي: "د ولور پوره کولو لپاره ایران ته ولاړم، خو بېرته روږدی راستون شوم. هر چا مې چې ژوند تباه کړی، نه یې بښم." ولور هغو پیسو ته وایي چې پلار او د نجلۍ کورنۍ یې له زوم او د زوم له کورنۍ څخه اخلي او د لګښت واک یې هم د نجلۍ د کورنۍ وي.

د فراه د مرکز د بهبود کلا اوسېدونکی څلوېښت کلن محمدنبي له ۱۹ کلونو راهیسې بېلابېل نشه یي توکي، لکه تریاک، کرسټال او پوډر کاروي او اصلي لامل یې هم ایران ته د ولور پیدا کولو لپاره تګ یادوي. نوموړی د ژمي په یوه سړه ورځ له خپلو څو روږدو ملګرو سره د فراه زاړه ښار په یوه تنګ غار کې د نشه یي توکو په څکلو بوخت و، هغه پژواک ته وویل: "۱۸ کلن ځوان وم چې کوژده مې وکړه، د نجلۍ پلار ۸۰۰زره افغانۍ ولور وټاکه، ما هم ومنله؛ هر څه مې چې وکړل، تر دې په ښکته ولور مې نجلۍ ونه مونده."

هغه زیاته کړه: "پلار مې نه و، حتی دومره توان مې نه درلود چې خپل عادي ژوند وکړم، اته لکه افغانۍ ولور پیدا کول خو لا پرېږده... اړ شوم چې د نورو سلګونو ځوانانو غوندې ایران ته د مزودرۍ لپاره ولاړ شم." محمدنبي وویل چې د ایران په ساوه ښار کې د خپل ارباب (له چا سره یې چې کار کاوه) په هڅونه پر نشه یي توکو روږدی شو، نږدې څلور کاله په ایران کې و، څه پیسې به یې چې پیدا کولې، پر نشه یي توکو یې لګولې. هغه زیاته کړه: "کله مې چې وجود کمزوری شو او سم کار مې نه شو کولی، ارباب مې وشړلم. وروسته فراه ته ستون شوم، هماغه محمدنبي او خالي جېب! خو اوس مې یو بل صفت زیات شوی دی، نبي معتاد!"

هغه د روږدي کس لپاره مرګ تر ژوند غوره وباله، ویې ویل چې اوسمهال دوه زامن او یوه لور لري، ډېره مینه راسره لري، خو په دغه حالت مې نه شي زغملی. محمدنبي په غار کې کثافاتو او خپل شاوخوا ته په اشارې سره وویل: "ربښتیا هم په دې چټلیو او غارونو کې ژوند غیر انساني دی، خو موږ اړ یو؛ ځکه په کور مو نه پرېږدي او یوه ورځ چې نشه ونه وکړو، داسې یو، لکه په دوزخ کې؛ ټول بدن مو سوځي. دا ټولې ورځې د زیات ولور له امله را باندې راغلې دي."

هغه وویل: "په پیل کې مې یواځې تریاک کارول، خو وروسته په کرسټال او پوډرو هم روږدی شوم او له تېرو لسو کلونو راهیسې پوډر کاروم؛ د کورنۍ او خسر پر زیاتو هڅو سربېره مې هم نشه یي توکي پرې نه ښودای شوای." نوموړي څرګنده کړه چې د ده په څېر د دغه ولایت لسګونه نور ځوانان هم د لوړ ولور موندلو لپاره ایران ته تللي او هلته روږدي شوي دي چې اوس د زاړه ښار په غارونو کې اوسېږي او بېلابېل نشه یي توکي کاروي. هغه له ټولو خلکو په ځانګړي ډول له میندو او پلرونو غوښتنه وکړه چې خپل اولادونه په لوړ ولور تباه نه کړي. خو دا یواځې محمدنبي نه دی چې لوړ ولور یې ژوند بدمرغه کړی، بلکې د دغه ولایت ډېری ځوانان له ورته ستونزې سره لاس او ګرېوان دي.

د فراه د جوین ولسوالۍ د درګ کلي اوسېدنکی ۲۲ کلن جوان، یو روږدی دی چې د فراه زاړه ښار د شمالي برخې په یوه سوړه کې له نورو روږدو سره نشه کوي. د ده په خبره، د ښوونځي په نهم ټولګي کې و چې کوژده یې وکړه او دا چې پلار یې بزګر و او وس یې نه و چې یو میلیون افغانۍ ولور پوره کړي، نو اړ شو چې کلنۍ ازمویښې پرېږدي او د ولور موندلو لپاره د ایران کرمان ښار ته ولاړ شي. هغه وویل: "د کار په اوږدو کې د یوه شرکت د مالک له بد اخلاقۍ او روږدي لور سره په تریاکو او فحشا روږدی شوم... تر دې چې یوه ورځ په بازار کې د پولیسو لاس ته ورغلم او له دغه هېواده یې را و ایستم." هغه زیاته کړه: "یو کال کېږي چې فراه ته راغلی یم او په زاړه ښار کې اوسېږم، کورنۍ مې پر زیاتو هڅو سربېره هم ونه توانېده چې له نشه یي توکو مې وګرځوي، بالاخره دوی مایوسه شول او له ما یې لاس ومینځل." له ژونده دغه ناهیلي ځوان وویل چې واده یې نه دی کړی؛ ځکه

چې د واده لپاره یې پیسې نه درلودې. د نجلۍ کورنۍ هم موافقه نه کوله، له روغتیایي اړخه هم په دې کچه کې نه دی چې واده وکړي. هغه زیاته کړه: "نور د واده کولو لپاره هېڅ انګېزه نه لرم...اوس خپل ځان هم راباندې بار دی، ښځه او د کورنۍ جوړول لا چېرته دي." د فراه د خاکسفېد ولسوالۍ د جیجه کلي اوسېدونکی ۳۷ کلن سیداحمد هم یو له هغو روږدو کسانو دی چې د زیات ولور له امله یې د دغو توکو کارونې ته مخه کړې ده. هغه وویل: "تر ۳۰ کلنۍ پورې د لوړ ولور له امله بې واده ګرځېدم، چا ته به چې ورتلم، نو خپله لور یې له ۷۰۰زره افغانیو په کمو نه راکوله... بالاخره اړ شوم چې له خپلو دوو ورونو سره ایران او هند ته د نشه یي توکو د قاچاق کار پیل کړم."

هغه زیاته کړه چې تریاک یې د خولې له لارې په ګېډه کې ځای پر ځای کول، ایران او هند ته یې لېږدول چې له دې لارې یې یوه اندازه پیسې هم پیدا کولې او نیت یې درلود چې له یوې نجلۍ سره کوژده وکړي. خو هغه وایي، له کوژدې مخکې پر نشه یي توکو روږدی شو او وروسته یې ټولې شته پیسې پر نشه یي توکو ولګولې. هغه زیاته کړه: "اوس مې خبره تر پوړرو، کرسټالو او شیشې رسېدلې ده، ومې نه شو کولی چې پرې یې بدم، له تېرو دوو کلونو راهیسې په زاړه ښار کې له کورنۍ لرې یم." هغه په داسې حال کې چې ویل یې، ځینې ورځې په بازار کې کار کوي او پیسې یې پر نشه یي توکو لګوي، دا یې ومنله چې کله پیسې نه وي، نو غلا هم کوي.

د فراه ولایتي شورا غړې شهلا ابوبکر هم وویل چې ایران ته د فراهي ځوانانو د تګ یو عمده لامل د ولور پوره کول دي. هغې زیاته کړه: "د لوړ ولور او ودونو د ډېرو لګښتونو له امله ځوانان اړ کېږي چې د تحصیل پر ځای ایران ته د کار لپاره ولاړ شي چې په دې لاره کې له زرګونو خطرونو سره مخ کېږي چې له دې ډلې پر نشه یي توکو روږدېدنه هم ده." هغې وویل، عالمان او د مدني ټولنې ټول غړي ټول دنده لري چې د دغه نا سم عمل د مخنیوي لپاره مبارزه وکړي او ځوانان له دې تباه کوونکې ستونزې وژغوري. د فراه ولایت له نشه یي توکو سره د مبارزې مشر محمد جمعه بشیري وویل چې د ملګرو ملتونو له نشه یي توکو سره د مبارزې څانګې د سروې له مخې، په فراه کې څه باندې ٤٥زره روږدي شته چې تر اتیا سلنه ډېر یې ځوانان دي. هغه زیاته کړه چې د فراه څه باندې اویا سلنه روږدي په ایران کې روږدي شوي او له نیمایي زیات ځوانان یې ایران ته د کار لپاره ځي؛ هغه کسان دي چې یا یې تازه کوژدې کړې دي او یا هم د واده هوډ لري.

د ده په خبره، دغه ځوانان اړ شوي چې د ولور ګټلو لپاره ایران ته ولاړ شي؛ ځکه چې له یوې خوا په فراه کې ولور له ٦٠٠زره څخه تر دوه میلیونه افغانیو پورې دی او له بلې خوا د هېواد دننه کار نشته. هغه وویل: "دا په داسې حال کې ده چې له بده مرغه اکثره وختونه نه یواځې چې پیسې نه راوړي، بلکې را ستنېږي او د عمر تر پایه د کورنۍ او ټولنې د اوږو بار دي چې دغه خطر تباه کوونکی دی. دولت او خلک په ځانګړې ډول دیني عالمان باید د واده د شرایطو په اسانۍ کې اقدام وکړي او ځوانان وژغوري." په نورو ولایتونو کې هم له ولور څخه را پیدا شوې ستونزې شته. د ازادو رسنیو د مشارکت له خوا په کابل، ننګرهار، بلخ، هرات، کندهار، غزني، خوست او بامیانو ولایتونو کې ترسره شوې څېړنه څرګندوي چې ولور او د واده زیات لګښتونه د زیاتو ستونزو، لکه پر نشه یي توکو اخته کېدو، له هېواده بهر د درنو کارونو ترسره کول، ځان وژنه، غلا، طلاق او بېلتون، له واده څخه د ځوانانو د محرومیت، رواني ناروغیو، کورنیو ستونزو او له کورونو څخه د نجونو د تېښتې لامل دي.

## ۷- د واده له حق څخه بې برخې کول

واده (ازدواج) یو عقد دی چې د ښځې او سړي معاشرت یې د کورنۍ جوړېدو په موخه مشروع کړی او د دواړو خواوو حقوق او وجایب تنظیموي. کله چې نجلۍ د واده قانوني عمر بشپړ کړی وي او د واده مخنیوی یې کېږي، د انساني قاچاق په زیانمن شوو کې حسابېږي. د ځینو هغو نجونو چې مور او پلار یې مړه او یا هم په شکل د اشکالو له یو بل څخه جلا شوي وي او د لوڼو د ساتنې مسوولیت بل چا پر غاړه اخیستی وي، په یوه او بله پلمه له واده کولو څخه منعه کېږي. ډېری مهال دغه ډول انساني قاچاق د کورنیو له لوري ترسره کېږي؛ د بېلګې په ډول کله چې له یوې ٤٠ کلنې پېغلې وپوښتل شي چې واده دې ولې نه دی کړی؟ نو وایي چې د مور او پلار او یا هم د تره، نیا او نیکه د خدمت لپاره یې واده نه دی کړی چې دا په خپل ذات کې انساني قاچاق بلل کېږي.

د ښځې پر وړاندې د تاوتریخوالي د منعې قانون د ۲۷مې مادې له مخې، که چېرې شخص د ښځې د واده خنډ وګرځي یا د مېړه (زوج) د غوره کولو حق له هغې واخلي، له احوالو سره سم پر قصیر حبس محکومېږي.

د واده له حق څخه د بې برخې کولو په اړه د پژواک راپور:

**د سنګسار جزا له ژغورل کېدو وروسته د هلک او نجلۍ واده**



*عبید غوري— May 20, 2012*

چغچران (پژواک ۳۱ غویی ۹۱): یو هلک او نجلۍ چې له کوره د تېښتې په تور په غور ولایت کې سنګساربدل، د پولیسو په مداخلې سره وژغورل شول، وروسته یې کوژده وکړه او یوې بلې نجلۍ ځانوژنه وکړه. د غور د امنیې قوماندانۍ د امنیت سرپرست امر سمونوال زین العابدین د دغه مطلب په څرګندولو سره پژواک ته وویل، پولیس تېره ورځ له غرمې وروسته خبر شول چې ټاکل شوې ده د چغچران د تګاب غلمین په سیمه کې یو هلک او یوه نجلۍ له کوره د تښتېدو په تور سنګسار شي. هغه زیاته کړه چې پولیس له ملي اردو سره یو ځای سیمې ته واستول شول او د یادو دوو کسانو د سنګسار مخه یې ونیوه. زین العابدین وویل، دغه هلک او نجلۍ چې یو له بل سره یې مینه درلوده او د کورنۍ د مخالفت له امله له کوره تښتېدلي وو، د څو کسانو په منځګړتوب کور ته ستانه شول؛ خو د نجلۍ خپلوانو د سیمه ییزو طالبانو په همکارۍ هلک او نجلۍ په یوه خونه کې بندیان کړل او غوښتل یې سنګسار یې کړي.

سرچینې زیاته کړه، که څه هم د سیمې سپین ږیرو قومي جرګه جوړه کړه او ځینې یې له سنګسار سره مخالف وو، خو که چېرې امنیتي ځواکونه پر وخت نه وای رسېدلي، سنګسار ترسره کېده. د غور د امنیت سرپرست امر وویل چې طالبان سیمې ته د دولتي ځواکونو په رسېدو وتښتېدل او د پولیسو د هڅو په پایله کې د یادې نجلۍ او هلک خپلوانو د هغو پر واده کولو هوکړه وکړه او د نکاح په ترسره کېدو سره له سنګساره وژغورل شول. زین العابدین وویل، پولیسو د زوم او ناوې د امنیت لپاره غوښتل چې هغوی چغچران ته ولېږدوي؛ خو خلکو ژمنه وکړه چې هغوی ته به کوم زیان نه رسېږي. د سیمې یوه اوسېدونکي احمدعلي وویل: "دغه نجلۍ د غلمین کلینیک کار کوونکې ده او له هلک سره یې اړیکې درلودې." هغه زیاته کړه، دغه ځوانان وروسته له هغه له کوره چغچران ته وتښتېدل چې د نجلۍ کورنۍ د هغوی له واده سره مخالفت وکړ. علي وویل: "کله چې هلک او نجلۍ د یو شمېر خلکو په منځګړتوب بېرته راستانه شول، د نجلۍ کورنۍ او طالبانو غوښتل دواړه په ښکاره سنګسار کړي."

د احمدعلي په وینا، د سیمې یو شمېر خلک د سنګسار مخالف او ځینې یې پلویان وو او دواړو خواوې د خپلو غوښتنو پوره کېدو لپاره یو بل ته په مورچو کې ناست او جګړې ته چمتو وو چې پولیس ور ورسېدل. هغه زیاته کړه چې د طالبانو شمېر کم و او کله یې چې پولیس او اردو ولیدل، له سیمې وتښتېدل.

د یوه بل خبر له مخې، تېره ورځ له غرمې وروسته د دغه ولایت په لعل او سرجنګل ولسوالۍ کې یوې نجلۍ ځان وواژه. د غور د امنیې قوماندانۍ د امنیت سرپرست امر وویل چې یوې ۱٤ کلنۍ نجلۍ د یادې ولسوالۍ په نوي ځنګل کلي کې ځانوژنه کړې ده. هغه زیاته کړه چې د دې پېښې په اړه هغوی ته نور معلومات نه دي رسېدلي، خو د لعل او سرجنګل د امنیې قوماندانۍ د جنایي امریت پلاوی د څېړنې لپاره سیمې ته استول شوی دی. د لعل او سرجنګل ولسوالۍ د امنیې قوماندانۍ یوه افسر چې نه یې غوښتل نوم یې واخیستل شي، وویل چې د دې نجلۍ کورنۍ د هغې د غوښتنې خلاف هغه د زیات ولور په بدل کې غوښتل د هغې واده له یوه بوډا سره وکړي نو نجلۍ له دې امله ځان غرغره کړی دی.

د غور د بشري حقونو کمېسیون د دفتر رییس جواد رضایي، په غور کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي له زیاتېدو اندېښنه څرګنده کړه او ویې ویل چې د دغه تاوتریخوالي لاملونه بېسوادي، بېځایه دودونه، له اسلامي احکامو بې خبري او بې وزلي ده. د رضایي په وینا، د روان کال له پیله تر اوسه ٦ ښځو د کورني تاوتریخوالي له امله خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

## ۸- قانوني عمر ته له رسېدو مخکې واده

د افغانستان په ځينو سيمو کې د ټولنيزو او کورنيو ستونزو د حل لپاره د زور او بې وخته ودونه کېږي؛ دغه ډول ودونه تر ډېره په بدل او بدو کې او يا هم د پور په بدل کې وي چې په انساني قاچاق کې راځي او د افغانستان قوانين څرګندوي چې ډېری دا ډول ودونه د زور، اجبار، قدرت، چل او استثمار له لارې ترسره کېږي. ډېرې پېښې بوډاګانو ته د کم عمره نجونو د ورکړې دي چې دا يو ډول انساني قاچاق دی او ډېری قربانيان يې هم کم عمره نجونې دي.

افغان مدني قانون د نجونو لپاره د واده کولو عمر ۱۶ کاله او د هلکانو لپاره ۱۸ کاله ټاکلی، خو بيا هم د يونيسف (UNICEF) د شمېرو له مخې، په افغانستان کې ۱۵ سلنه نجونې له ۱۵ کلنۍ مخکې ودېږي، نور راپورونه دغه شمېر نور هم لوړ ښيي. د دې لپاره ډېر دليلونه شته چې په کم عمر ودونه د ماشومانو او ټولنې لپاره ولې زيانونه لري؛ په ټيټ عمر واده کول پر نجونو او هلکانو دواړو منفي اغېزه کوي، خو دغه اغېزه يې د هلکانو په نسبت پر نجونو ډېره او ناموزونه وي؛ لومړی دا چې د نجونو د روغتيا لپاره د لوی زيان لامل ګرځي. له وخت مخکې اميدواري او د ماشوم زېږېدنه د نجونو د ټول ژوند لپاره ستونزې را ولاړولای شي او ان د مور او ماشوم د مړينې لامل ګرځي. د ۱۵ او ۱۹ کلونو تر منځ ۳۲ سلنه مړينه د اميدوارۍ د ستونزو له کبله رامنځته کېږي. په نړيواله کچه د نوو زېږېدلو ماشومانو مړينه چې کم عمره مور زېږولي وي، د هغو په پرتله زياته ده چې د ۲۰ تر ۲۹ کلنو ميندو زېږولي وي.

دويم؛ دا يوه اقتصادي ستونزه ده. په کم عمر ودونه د نجونو زده کړې محدودوي، نجونې له زده کړو بې برخې پاتې کېږي، د کارموندلو فرصتونه له لاسه ورکوي چې بيا د کورنۍ د لګښتونو په پوره کولو کې هم برخه نه شي اخيستلای.

درييم؛ وړې نجونې که کم عمره هلکانو او يا هم د لوړ عمر لرونکو سړيو ته په زور واده شي، دا نجونې بيا په کورنيو کې د ځان د دفاع او خبرو کولو جرئت نه لري، همدا لامل دی چې تر ډېره له کورني تاوتريخوالي سره مخ کېږي. لکه څرنګه چې د برېتانيا د نړيوالې پراختيا وزيرې جسټن ګريننګ ويلي: ((هره نجلۍ چې په ماشومتوب کې ودېږي، يوه فاجعه ده... د هغې نجلۍ لپاره يوه فاجعه ده، د هغې د ماشومانو لپاره يوه فاجعه ده... او د هغې د هېواد د پرمختګ لپاره يوه فاجعه ده.))

افغانستان له ستونزو ډک اقتصادي حالت لري؛ ځکه خو اړتيا ده چې له خپلو ټولو سرچينو سمه ګټه پورته کړي، بايد د خپلو خلکو د روغتيا پام وساتي او ماشومان ښوونځيو ته واستوي. ولسمشر غني ويلي چې ښځې د ځوانانو او بې وسه خلکو تر څنګ د افغانستان له درېيو مهمو اکثريتونو څخه دي. هغه د ښځو په برلاسي کېدو کې اقتصادي ارزښت هم روښانه کړی، څو هغوی په بېلابېلو برخو کې دندې واخلي. په ټيټ عمر کې د ماشومانو ودولو لاملونه ډېر دي چې ځيني يې ټولنيز فشارونه، بېوزلي او د پوهې کچې ټيټوالی دی، خو دغه لاملونه په دې برخه کې د رامنځته شوو ستونزو په اړه د خلکو د پوهاوي کچې په زياتولو سره له منځه تلای شي. د نجونو حقونو پلي کولو ته زمينه برابرول، قانوني خونديتوب رامنځته کول، روغتيا، پوهنې ته لاسرسی، په دې برخه کې د ټولنې او ديني مشرانو فعاليتونه په کې شامل دي.

د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منعې قانون د ۲۸ مې مادې له مخې، که چېرې شخص هغه ښځه چې د واده قانوني عمر يې نه وي بشپړ کړی او د مدني قانون په ۷۱مه ماده کې د درج حکم له په پام کې نيولو پرته يې د نکاح په عقد کې راولي، له احوالو سره سم پر منځني حبس چې له دوو کلونو لږ نه وي، محکومېږي او نکاح د ښځې د غوښتنې په صورت کې د قانون د حکمونو مطابق فسخ کېږي.

د مدني قانون په ۷۱مه ماده کې راغلي، که نجلۍ د واده عمر نه وي پوره کړی، د هغې د واده (ازدواج) عقد یوازې د پلار په وسیله چې د صحیح تصرف لرونکی وي یا د صلاحیت لرونکي محکمې په وسیله صورت موندلی شي. د واده اهلیت هغه وخت پوره کېږي چې هلک د ۱۸ کلنۍ عمر او نجلۍ د ۱۶ کلنۍ عمر پوره کړی وي. د صغیرې نجلۍ د نکاح عقد چې عمر یې له ۱۵ کلونو کم وي، په هېڅ صورت کې جواز نه لري.

د ماشومانو د حقونو کنوانسیون او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي قانون له مخې، له ټاکلي عمر څخه د ټیټ عمر ماشومانو واده د قانون خلاف عمل دی او څوک چې د ټیټ عمر لرونکو نکاح تړي، قانون له مخې د تعقیب وړ دی.

د نجونو عاطفي وده د هلکانو په پرتله چټکه ده، له دې مخې باید د مېړمنو عمر د واده پر مهال له نارینه وو درې کاله کم وي؛ یعنې ۲۳ کلن نارینه کولی شي چې په ډېرې اسانۍ له ۲۰ کلنې نجلۍ سره واده وکړي؛ ځکه چې دا عمر د نجلۍ او هلک لپاره له عاطفي، اخلاقي او ټولنیز اړخه د ودې کچې ته رسېږي او کولی شي چې یوه نېکمرغه کورنۍ تشکیل کړي؛ ځکه د دوی افکار، ټولنیزې اړیکې او جنسي ځانګړتیاوې همغږې لري. ارواپوهان پر دې باور دي، هغه کسان چې عمر یې له ۲۰ کلونو ښکته وي او واده وکړي، جوړه، سو شکل، کمزوري او کم وزنه ماشومان زېږوي او د نورو بېلابېلو ستونزو درلودونکي وي او مړینه یې هم ډېره وي. د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ ادارې "یونیسېف" د افغانستان کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو له وزارت سره په ګډه په افغانستان کې په ماشومتوب کې د ودونو په اړه څېړنه چې د ۱۳۹۷ لمریز کال د زمري په ۷مه خپره شوې؛ ښيي چې په افغانستان کې امنیتي وضعیت، بېوزلي، ټولنیزو باورونو او ټولنیزو رواجونو په عمومي ډول د نجونو ژوند له ګواښ سره مخ کړی او لا هم د ماشومتوب ودونو د منفي اغېزو په اړه په ټولنه کې پوهاوی کم دی خو سره له دې بیا هم په تېرو پنځو کلونو کې د ماشومتوب ودونو په کچه کې لس فیصده کموالی راغلی دی.

د افغان حکومت او د یونیسېف د دې ګډې څېړنې له مخې، په افغانستان کې د ۴۲ سلنه کورنیو لږ تر لږه یوه غړي له ۱۸ کلنۍ مخکې واده کړی دی. د سرچینې په وینا، دا اندازه د افغانستان په ولایتونو کې یو ډول نه ده، د غور په ولایت کې د ۲۱ سلنه کورنیو لږ تر لږه یوه غړي له اتلس کلنۍ مخکې واده کړی چې دا اندازه بیا د پکتیا په ولایت کې ۶۶ سلنې ته رسېږي.

دغه څېړنه د افغانستان د پنځو ولایتونو (بامیان، کندهار، پکتیا، غور او بادغیس) ښارونو د ښارونو په څنډو او کلیو کې له کورنیو سره د مرکو پر اساس شوې ده. په څېړنه کې شاملو ۷۸ سلنه مرکه کوونکو ویلي چې په کورنیو کې د واده اړوند مسئلو په اړه یوازې پلرونه پرېکړې کوي او ۵۵/۷ سلنه مرکه کوونکو ویلي چې د ودونو په اړه باید له واده مخکې سلا مشورې وشي.

قانوني عمر ته له رسېدو مخکې واده په اړه د پژواک راپور:

**۹۴ کلن سړي ته نکاح شوې ۱۴ کلنه ذکیه له رواني ستونزو سره مخ ده**



کابل (پژواک، ۱۱ مرغومی ۹۵): یوه ۱٤کلنه نجلۍ چې ۹٤ کلن سړي ته نکاح شوې ده، وايي چې له رواني ستونزې سره مخ شوې ده او د ځان او خپلو اولادونو راتلونکې په اړه اندېښمنه ده. دا مېرمن چې د کاپیسا د نجراب ولسوالۍ اوسېدونکې ده او اوس په خوست کې ژوند کوي، شپږ کاله مخکې یوه کس ته په نکاح شوې ده، د دغه سړي دوه مېرمنې پخوا د زوړتوب له امله مړې شوې دي او له هغو اووه زامن او یوه لور ور پاتې دي او شاوخوا ۲۰ لمسیان لري.
یاد بوډا ته په نکاح شوې دغه مېرمن چې خپل مستعار نوم ذکیه بولي، په داسې حال کې چې د ټول بدن له درد څخه شکایت کوي، پژواک ته وویل: "خاوند مې سل کلن دی او د ناروغۍ پر بستر پروت دی، کله یې د مړینې په اړه فکر کوم، ناڅاپه راباندې فشار راشي او چپه شم، بیا نو پر ځان نه پوهېږم او کله چې په هوښ راشم، وروسته مې بیا د ټول ځان پوستکی شین شوی وي." دغې ځوانې مېرمنې چې په څېره کې یې له ورایه خپګان ښکارېده، زیاته کړه، کله چې پرې شوک راشي، پنځه کسان یې ټینګه نیسي بیا یې هم زور نه پرې رسېږي.
ذکیې چې په ډېر کم عمر زوړ سړي ته په نکاح شوې، یادونه وکړه چې هېڅکله یې د راتلونکې په اړه فکر نه کاوه او اصلاً د ښځې او مېړه د ګډ ژوند پر معنا نه پوهېده، خو اوس چې یې له دغه سړي سره ګډ ژوند پیل کړی، نو اړه ده چې ویې زغمي.
ذکیه چې اوس ۲۰ کلنه ده او خاوند یې ۱۰۰ کلن دی، په داسې حال کې چې ټولې هیلې یې پر اوبو لاهو شوې، په نهیلۍ وویل: "نه غواړم چې بل ځای مېړه وکړم؛ ځکه اوس په داسې ځا واده یم چې خپله کونډه نه پرېږدي چې بل ځای کې مېړه وکړي." یاده دردېدلې مور چې اوس دوه زامن او یوه لور لري، په دې اړه چې ولې یې له یو ځوان سړي سره واده نه دی کړی، ټینګار وکړ چې هغې هېڅکله دې موضوع ته پام ونه کړ، مور یې هغه د سل زرو افغانیو په بدل کې دغه زوړ سړي ته په نکاح کړه.
ذکیې زیاته کړه چې پلار یې مړ شوی او مور یې بل مېړه کړی، دا یوه خور او څلور وروڼه لري او هېڅکله یې هم د هغوی دروازه نه ده ټکولې او هغوی هم د دې پوښتنه نه کوي. هغې زیاته کړه: "په واده کې چا راته جامې ونه کړې او نه مې سم واده وشو؛ د څاروي په څېر یې پر یو لک افغانیو خرڅه کړم، اوس یې څه کوم چې د ناسکه پلار او وروڼو کره ولاړه شم" د ذکیې په خبره چې اوسمهال یې مور له ناسکه پلار څخه درې لوڼې او درې زامن لري، هغوی هم له دې سره مناسبات نه لري او دې هم هوډ کړی چې راشه درشه به ورسره ونه کړي. هغه زیاتوي، کله چې یې خاوند ناروغ شي، زامن یې دا ملامتوي او ښکنځې یې چې ګواکې د پلار سم خدمت یې نه دی شوی، ورته وايي چې غوړ او سړې اوبه دې ورکړې او اوس د هغوی له ډېر توند وضعیت سره مخ ده او ورته وايي: "که ته په دې فکر یې چې د پلار له مرګ وروسته به بل واده وکړې، دا هیله به دې ګور ته یوسې." هغې وویل چې خاوند یې ساه لنډې ناروغي لري هره شپه ورته اکسیجن تطبیقوي.
دیني عالم شمس الرحمان فروتن په دې اړه وویل، څرګنده ده چې له ۹٤ کلن سړي سره د ۱٤کلنې نجلۍ نکاح د عمر له اړخه ډېر توپیر لري، د نجلۍ حق ضایع شوی او کوم حقونه چې دغه نجلۍ لري، د لوړ عمر یاد بوډا به یې ور نه کړای شي.
هغه زیاته کړه، کله چې یاده نجلۍ نوې د ځوانۍ عمر ته رسېږي، ښايي خاوند یې مړ شي نو بیا دا ښځه د کونډۍ برخه وګرځي او کونډۍ د خپل رسم او دود له مخې وايي چې دا یې ناموس دی باید له کور څخه بهر نه شي، هغه د کونډۍ بل غړي ته په نکاح ورکوي چې دا هم پر هغې مظلومې ښځې بله ناروا ده. یاد دیني عالم زیاته کړه، په یوه حدیث شریف کې راغلي: "ځان او بل ته زیان رسول د اسلام سپېڅلي دین خلاف عمل دی." بل ځای کې راغلي دي چې تاسو پر خپلو لاسونو ځان د تباهۍ کندې ته مه غورځوئ. دا ډول ودونه په حقیقت کې ځان تباه کول دي او د شریعت له مخې که د نجلۍ او پلار یې خوښه وي، نو ستونزه نه شته.
خو دلته له نجلۍ څخه د نظر اخیستو حق اخیستل شوی او مور یې هغه ۹٤ کلن سړي ته ورکړې ده. د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د ماشومانو له حقونو د ملاتړ برخې د همغږۍ مسوول نجیب الله ببرکزي وویل چې د افغانستان او نړیوالو قوانینو له مخې، د نجلۍ لپاره د واده عمر ۱٦ او د هلک لپاره ۱۸کاله دی.
نوموړي یادونه وکړه: "نجلۍ چې ۱۸ کلنه شوې نه وي که خپله او د وکیل خوښه یې وي نو څه خبره نشته او له دې پرته د ماشومانو حقونو کنوانسیون او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي قانون له مخې، له ټاکلي عمر څخه د ټیټ عمر ماشومانو ودول د قانون خلاف عمل دی او څوک چې د ټیټ عمر لرونکو جوړو نکاح تړي، د قانون په رڼا کې د تعقیب وړ دی."
د عدلیې وزارت د تقنین رییس عبدالمجید غني زاده یادونه وکړه چې د مدني قانون ۷۰یمې مادې له مخې چې د واده عمر په اړه یې حکم صادرکړی، دغه عمر هغه وخت بشپړېږي چې نجلۍ د ۱٦کلنۍ عمر او هلک د ۱۸کلنۍ عمر بشپړ کړی وي. د

دې تر څنګ، د مدني قانون ۷۱یمه ماده حکم کوي که نجلۍ د واده لپاره قانوني عمر نه وي بشپړ کړی، د نجلۍ نکاح تړل یوازې د هغې پلار چې پوره واک ورسپارل شوی وي او د صلاحیت لرونکې محکمې له لوري ترسره کېدای شي. د غني زاده په وینا: "په یاده ماده کې داسې ټینګار شوی چې له ۱٦ کلونو د ټیټ عمر نجلۍ ورکول د قانون له مخې هېڅ جواز نه لري."
د عدلیې وزارت د تقنین مشر، د دې پوښتنې په ځواب کې چې که د یادې مېرمنې خاوند مړ کېږي، د قانون له مخې میراث وړي او که نه؟ پژواک ته وویل چې د میراث او مدني قوانینو له مخې یاده مېرمن د مېراث مستحقه ده. هغه څرګنده کړه چې د میراث قانون له مخې، که مېرمن له یاد سړي څخه اولاد ولري، اتمه برخه میراث ورکول کېږي او که اولاد ونه لري، د میراث څلورمه برخه یادې مېرمنې ته ور رسېږي. د هغه په خبره، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منعې قانون د ۳۳مې مادې په ارث کې د تصرف د منعې په درېیم څپرکي کې هم راغلي، هغه شخص چې د مورث په متروکه کې د ښځې د تصرف خنډ شي، د هغه د شرعي ونډې پر ورکړې سربېره، د حسب احوال سره سم په لنډ بند محکومېږي چې له یوې میاشتې څخه ډېر نه وي.
د ٤۳ مادې په اموالو کې د تصرف منعې دویم څپرکي کې هم راغلي، هغه شخص چې د ښځې شخصي مالونه تصرف او یا هم هغه په کې له تصرف منع کړي، له حسب احوال سره سم پر لنډ بند چې له درېیو میاشتو زیات نه وي، محکومېږي.
هغه زیاته کړه، که چېرته د مېرمنې، نجلۍ او یا هم خور له حق څخه ناوړه ګټه پورته شي، دوی کولی شي چې د عدلیې وزارت تقنین ریاست او د ښځو چارو وزارت د حقوقو ریاست ته مراجعه وکړي. د ښځو د حقوقو یوې فعالې مېرمن شهلا فرید وویل چې په افغاني ټولنه کې د ښځو یوه ستونزه ښځو ته غیر انساني نظر دی چې د دویمې درجې انسان په سترګه ورته کتل کېږي، دې نظر ته په پام سره ښځې نارینه وو ته چاپلوسي کوي او د لاس د الې په توګه ترې کار اخیستل کېږي؛ ځکه خو حق نه لري چې له نارینه وو سره په یوه کچه کې وي او د هغوی انساني ارادې او اختیاراتو حقونو ته درناوی وشي. پر دې سربېره په ډېرو وختونو کې اجازه نه ورکول کېږي چې د خپل برخلیک په ټاکلو کې ونډه واخلي او په هر عمر کې چې وي، واده کېږي.
هغې ټینګار وکړ چې له ښځو سره د تاوتریخوالي مخنیوي په قانون کې د نجلۍ لپاره د واده عمر ۱٦ او د هلک لپاره ۱۸ کاله ټاکل شوی دی؛ نو دا د نجلۍ په حق کې یوهستره جفا ده چې په ۱٤ کلنۍ کې یوه ۹٤ کلن سړي ته واده شي. مېرمن فرید زیاته کړه چې له دې ستونزو د وتلو لپاره باید د قوانینو په اړه د ښځو د سواد او عامه پوهاوي کچه لوړه شي. د نوموړې د معلوماتو له مخې، په افغانستان کې د ښځو بله ستونزه کلتوري ده چې له یوې خوا د افغانستان ښځې له انساني حقونو او د هغو له ملاتړو ارزښتونو بې خبره دي او بلخوا نارینه د ښځو له حقونو خبر نه دي، پر ښځو د ډېرو ظلمونو لامل ګرځي، ښځو ته د میراث له ورکړې ډډه کول هم د دغه حقیقت یوه ښکاره بېلګه ده.
په کابل کې د ښوونې او روزنې پوهنتون د ارواپوهنې استاد شرف الدین عظیمي وویل چې د ښځې او نجلۍ عمر یو له هغو مسایلو ګڼل کېږي چې باید له واده مخکې ورته پاملرنه وشي. د هغه په باور، هر کله چې د مېرمنو عمر د واده پر مهال له نارینه وو درې کاله کم وي، نو په دغه عمر کې د نجونو عاطفي وده د هلکانو په پرتله چټکه ده.
هغه ټینګار وکړ چې ۲۳ کلن نارینه کولی شي چې په ډېرې اسانۍ سره له ۲۰ کلنو نجونو سره واده وکړي؛ ځکه چې دغه عمر د نجلۍ او هلک لپاره له عاطفي، اخلاقي او ټولنیز اړخه د ودې یوې کچې ته رسېږي او کولی شي چې یوه نېکمرغه کورنۍ تشکیل کړي. نوموړي څرګنده کړه: "کله چې یوه ۱٤ کلنه نجلۍ ۹٤ کلن سړي ته ودېږي، افکار، ټولنیزې اړیکې او جنسي ځانګړتیاوې یې اصلاً یو د بل سره برابر نه وي او دا ډول واده ته یوه کورنۍ نه شو ویلای، اصلاً دا یوه ظالمانه اړیکه ده او له ماشوم څخه د یوه عمر خوړلي سړي ناوړه ګټه اخیستنه او د تېري نوم ورکولی شو." پر دې سربېره ارواپوهان باور لري، هر وخت چې عمرونه لوړ وي، مورنۍ او پلرنۍ اړیکه رامنځته کېږي؛ د بېلګې په توګه که چېرې د نجلۍ او هلک عمر لس یا شل کاله توپیر ولري، نو تاسې ورسره د شریک ژوند احساس نه لرئ. د دوی په باور، اوس چې د دې ۲۰ کلنې نجلۍ او ۱۰۰ کلن نارینه تر منځ کوم احساس شته، د پلار او لور اړیکې ته ورته دی. ارواپوهان پر دې باور دي، هغه کسان چې عمر یې له ۲۰ کلونو ښکته وي، ماشومان یې جوړه، ناوړه بڼه لرونکي وي، خپلو ماشومانو ته وده نه شي ورکولی، ماشومان یې مري، کم وزنه ماشومان زېږوي چې سرونه یې ډېر غټ وي، د ستونزو بېلابېلې بڼې ورته پیدا کېږي چې په راتلونکي که به یو سالم ماشوم نه وي.

## ۹- ځورونه (اذیت)

ځورونه یا اذیت په هره وسیله یا هر ډول د هغو کړنو او حرکتونو ارتکاب یا د الفاظو استعمال دی چې د ښځې شخصیت، جسم او روان ته د زیان موجب شي. د ښځو او ماشومانو د ځورونې او اذیت د مخنیوي قانون له مخې، ځورونه او اذیت عبارت دی له بدني اړیکې، نا مشروع غوښتنې، کلامي یا نا کلامي ځورونه یا هر هغه عمل چې د ښځې او ماشوم د رواني او جسماني صدمې او انساني کرامت ته د سپکاوي لامل شي.

نا مشروع غوښتنه؛ له ښځې او ماشوم څخه د نارینه داسې غوښتنه چې جنسي انګېزه ولري.

بدني اړیکه؛ په عمدي ډول د زیان په قصد د ښځې او ماشوم بدن لمسول یا د ښځې او ماشوم بدن ته سطحي زیان رسولو ته وایي.

کلامي ځورونه؛ د غیر اخلاقي کلمو او جملو کارول، ټوکې او طنز ویل، د بدن، رفتار یا جامو ستاینه او ټیلیفوني مزاحمت چې د ښځې او ماشوم رواني هوساینې او امنیت ته زیان ورسوي.

غیر کلامي ځورونه؛ په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د جنسي مسایلو په اړه د توهین امیزو انځورونو یا مطالبو خپرول، د ښځې یا کورنیو د انځور ایمیل کول، عکس اخیستل، د فلم خپرول او نور هغه موارد چې د ښځې او ماشوم شخصیت او رواني سلامتیا ته د زیان رسولو لامل شي.

د ۱۳۹۳ کال د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منعې اعلامیې په لومړۍ ماده کې راغلي چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي هر هغه عمل ته ویل کېږي چې له امله یې ښځو ته فزیکي، جنسي یا رواني زیان یا رنځ رسېږي، دغه راز ګواښ، اجبار او له ازادۍ بې موجبه بې برخې کول هم په دې برخه کې راځي، دا که په عامه او یا خصوصي ژوند کې وي.


د ښځو او ماشومانو د ځورونې او اذیت د مخنیوي قانون د ۲۴مې مادې له مخې، که چېرې یو شخص د وینا، حرکاتو، لیکنې یا نا مشروع غوښتنو له لارې د ښځې یا ماشوم شخصیت او کرامت ته د صدمې موجب، د وېرې او نا امنۍ، رواني فشارونو او یا د ښځو او ماشومانو د ټولنیز مشارکت د کمښت لامل شي، یاد شخص د ښځو او ماشومانو د ځورونې او اذیت مرتکب پېژندل کېږي او په لاندې ډول مجازات کېږي:

که چېرې یو شخص د اثباتیه شواهدو او قراینو پر بنسټ په عامه ځایونو یا محلونو، په عمومي نقلیه وسیلو او یا بل هر ځای کې د ښځو او ماشومانو د ځورونې او اذیت مرتکب شي، له احوالو سره سم د محکمې له خوا له پنځو تر لسو زرو افغانیو او که چېرې یو شخص د کار په ځای، تعلیمي او تحصیلي مرکزونو یا روغتیایي مرکزونو کې د ښځو یا ماشومانو د ځورونې او اذیت مرتکب شي، له احوالو سره سم د محکمې له خوا له لسو زرو څخه زیات تر شلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزاء محکومېږي.

د یادونې ده، د ښځو او ماشومانو ځورونه او اذیت، په هغه صورت کې چې د جرم ارتکاب د استاد، مربي، طبیب یا امر په واسطه له موقف او مقام څخه په ګټې اخیستنې ترسره شوي وي، په هغه صورت کې چې د جرم ارتکاب د مجني علیه په جسمي یا رواني صدمې تمام او جرم په مکرره توګه ترسره شوی وي، مشدده ګڼل کېږي، مرتکب یې له احوالو سره سم د محکمې له خوا له درېیو څخه تر شپږو میاشتو پورې پر بند محکومېږي. دغه راز د ښځې پر وړاندې د تاوتریخوالي د منعې قانون د ۳۰مې مادې له مخې، هغه شخص چې د ښځې د ځورونې او اذیت مرتکب شي، له احوالو سره سم پر لنډ بند چې له درېیو میاشتو څخه لږ نه وي، محکومېږي. که یاد جرم له موقف او مقام څخه په ګټې اخیستنې سره ارتکاب شي، مرتکب له احوالو سره سم پر لنډ بند چې له شپږو میاشتو څخه لږ نه وي، محکومېږي.

د ځورونې (اذیت) په اړه د پژواک راپور:

## په روزنتونونو کې ماشومان له جنسي ازار او ځورونې سره مخ دي



*ناهید بشردوست او فیاض عمري - May 16, 2017*

کابل (پژواک، ۲٦ غویی ۹٦): د زده کوونکو تر څنګ ښوونکي هم په روزنتونونو کې له جنسي ځورونې سره مخ کېږي، خو په دغو ځایونو کې وېره او ډار حاکم دي، ټول د حقیقت له ویلو ډډه کوي چې دا هم د انساني قاچاق یو بل ډول دی. د وېرې او ډار یو لامل دا دی چې ځینې بې سرپرسته نجونې او ښوونکې یې چې مور او پلار یې له لاسه ورکړي او د استوګنې لپاره بل کوم ځای نه لري، د حقایقو بیانولو پر مهال ډارېږي چې له روزنتونونو به وشړل شي او د سړک پر غاړه به پاتې شي، خو د افغانستان د ولسي جرګې یوې غړې دا موضوع افشا کړه:

**ناهید فرید: د علاء الدین په نوم روزنتون کې نجونې له جنسي ځور او ازار سره مخ کېږي**

په ولسي جرګه کې د هرات د خلکو استازې ناهید فرید څه موده وړاندې په ولسي جرګه کې ویلي وو: "په علاوالدین روزنتون کې یتیمې او بې سرپرسته نجونې له جنسي ازار او ځور سره مخ دي." خو مېرمن فرید اوس اوس پژواک خبري اژانس ته وویل چې د کابل ښار د تهیه مسکن په روزنتون کې د ماشومانو د اعتصاب راپور هم ولسي جرګې ته رسېدلی او لا هم دوام لري.

مېرمن فرید څرګنده کړه چې کله له ماشومانو د اعتصاب لامل وپوښتل شو، نو ویل یې چې له اخلاقي او مالي ستونزو سره مخ دي. نوموړې وویل، وروسته له هغه چې یاده موضوع یې د ولسي جرګې په عمومي ناسته کې مطرح کړه، یو شمېر زیانمن ورغلل او ترې ویې غوښتل چې موضوع یې وڅېړل شي. د خلکو دغه استازې زیاتوي چې د روزنتونونو د مدیریت له لوري دغو نجونو ته ډېرې ستونزې جوړېږي، خو نجونې یې له ویلو ډډه کوي.

د نوموړې په خبره: "د نجونو د روزنتونونو ښوونکې ډېرې ستونزې لري؛ یعنې له جنسي ځورونې سره مخې شوې دي، په روزنتونونو کې وېره او ډار شته، خو دوی نه غواړي چې په ډاګه شي." هغې زیاته کړه: "ولسي جرګې یو پلاوی وټاکه، پلاوی ولاړ او ساحه یې ولیده، خو د نجونو پر سر داسې کسان ټاکل شوي وو چې دوی د زړه خبرې ونه شي کړلی."

**د کار او ټولنیزو چارو وزارت: دا موضوع حقیقت نه لري، خو د ولسي جرګې له لوري ورته لمن وهل کېږي**

د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو چارو وزارت ویاند عبدالفتاح عشرت احمدزي د ولسي جرګې د یادې استازې دغه خبرې په کلکه رد کړې او هغه یې یوه توطیه وبلله. هغه زیاته کړه: "دا مسئله چې د ولسي جرګې له لوري ورته لمن وهل کېږي، په پرېکنده ډول به یې تعقیب کړو." دغې سرچینې پژواک خبري اژانس ته وویل، ولسي جرګې پلاوی ټاکلی چې دا موضوع وڅېړي، خو داسې هېڅ کومه موضوع پیدا نه شوه چې د مېرمن فرید د خبرو پخلی وکړي، نو پر دې اساس اړتیا نه لیدل کېږي چې وزارت هم پلاوی وټاکي؛ ځکه چې وزارت د وضعیت له څرنګوالي خبر دی.

له بلې خوا د کار او ټولنیزو چارو وزارت هېڅ دولتي او نا دولتي بنسټ ته له روزنتونونو د لیدو اجازه نه ورکوي؛ د پژواک خبریال د ورته قضیو موندلو او له قربانیانو سره د مرکو لپاره د ځینو روزنتونونو د لیدو غوښتنه وکړه، خو اجازه ورنه کړل شوه؛ ځکه چې د کار او ټولنیزو چارو وزارت د روان کال د وري په ۳مه نېټه د روزنتونونو ریاست ته یو مکتوب استولی چې په متن کې یې راغلي: "دا چې د روزنتونونو عمومي ریاست د وزارت له حساسو او زیانمنو واحدونو څخه دی، ایجابوي چې هر وخت ورته د وزارت مقام او مشرتابه لوري ورته جدي پاملرنه وشي." په مکتوب

کې زیاته شوې چې دې ته په پام سره لاربنوونه کېږي چې د وزارت مقام له خبراوي پرته هېڅ کوم شخص، دولتي او نا دولتي بنسټ نه شي کولی چې له روزنتونونو لیدنه وکړي.
د روزنتونونو چارواکي او د لیلیې امرین هم د دغه حکم د عملي کولو په برخه کې د وزارت مقام ته مسوول دي.

**څارنوالي: د موضوع د څېړنې لپاره پلاوی ټاکل شوی**

د لويې څارنوالۍ ویاند جمشید رسولي پژواک خبري اژانس ته وویل چې په دې ځایونو کې د شته قضیو په تړاو په دې وروستیو کې ارګ حکم صادر کړی دی. هغه زیاته کړه چې د یاد حکم پر بنسټ، یو پلاوی ټاکل شوی او داسې موارد یې ترلاسه کړي چې باید د قانون له احکامو سره سم د قضیو له مرتکبینو سره چلند وشي.
رسولي که څه هم د ګومارل شوي پلاوي له لوري د ترلاسه کړو مواردو په اړه جزئیات ور نه کړل، خو ویې ویل چې د لويې څارنوالۍ همکارانو په دې برخه کې کار پیل کړی، هر وخت چې د محکمې حکم نهایي شي، له رسنیو سره به یې شریک کړي. له بلې خوا ویل کېږي چې په امن خونو کې د جنسي تېري قضیې هم شته، خو د ښځو چارو وزارت دغه موضوع رد کړې ده. د ښځو چارو وزارت د امن خونو مشرې نازیې فیضي پژواک ته وویل چې په امن خونو کې د جنسي تېریو موضوع شتون نه لري.
هغې زیاته کړه: "کومې ښځې چې دلته یې ساتنه کېږي، تر ډېره هغه څوک په کې شامل دي چې په بدو کې ورکړل شوې، له قانوني عمر څخه مخکې او یا هم په زور واده شوې، کورني تاوتریخوالي او وهل ډبول یې تجربه کړي دي." فیضي وویل، دا چې دغه کسان څوک د سړک پر سر نه پرېږدي، تر شنه اسمان لاندې ژوند کوي، د بشري حقوقو کمېسیون، د ښځو چارو وزارت او یا هم د قوماندانۍ له لوري امن خونو ته ور پېژندل کېږي، د اداري پړاوونو له وهلو وروسته یې ملاتړ کېږي.
سرچیني څرګنده کړه، کومې ښځې چې د یاد مرکز تر پوښښ لاندې راغلې، د استوګنې د ورېا امکاناتو ترلاسه کولو تر څنګ له روغتیایي خدمتونو، رواني او درملیزو مشورو هم ګټه اخیستلی شي، هر وخت چې چمتو وي د خپل مدافع وکیل په مرسته یې د عدلي او قضایي ارګانونو له لوري د قضیې په حل کې مرسته کېږي. هغه زیاته کړه چې مېرمنې خپلې ستونزې هغو مدافع وکیلانو ته استوي چې د ملاتړو مرکزونو تر پوښښ لاندې دي، مدافع وکیلان موضوع د امکان تر کچې لومړی په کورنیو کې د تاوتریخوالو له عاملینو سره شریکوي او نهایي هڅه کوي چې د دواړو لورو قناعت حاصل کړي. د فیضي په خبره، هر کله چې قضیه په دې ډول حل نه شي، دوسیه محاکمو ته سپاري او له لارې یې تعقیبېږي.
د نوموړې د معلوماتو له مخې، په دغو مرکزونو کې پر امنیتي اندېښنو سربېره ښځو ته د کالیو ګنډلو، خامک دوزۍ او پخلي تر څنګ د قرانکریم او نورې زده کړې هم ورکول کېږي. اوسمهال له ۲۸ امن خونو څخه شپږ هغه په کابل ولایت کې فعالیت لري. د ښځو چارو وزارت د یادو خونو پر فعالیت څارنه لري او تل یې د هغوی د فعالیت د ښه والي لپاره وړاندیزونه ورکړي دي.
د ویلو ده چې په وروستیو دربیو لسیزو کې په افغانستان کې وسله والې نښتې رامنځته شوې چې له امله یې ګڼ شمېر ماشومان یتیم او بې سرپناه شوي دي. یادو ماشومانو د خپل ژوند د پایښت لپاره په امن خونو او یا هم روزنتونونو کې ژوند غوره کړی، خو هلته هم خوندي نه دي او کله کله له انساني قاچاق سره مخ کېږي.
په هغه راپور کې چې په ۲۰۱٦ کال کې د امریکا متحده ایالتونو له لوري خپور شوی، څرګندوي چې افغان ماشومان په روزنتونونو کې زیانمن شوي او کله کله هم له انساني قاچاق سره مخ کېږي. د ملګرو ملتونو د ماشومانو صندوق یا یونیسف په راپور کې هم راغلي چې افغان ماشومان د افغانستان په دارالایتامونو کې له ذهني، جسمي او جنسي ځورونې سره مخ دي او کله کله له انساني قاچاق سره هم مخ کېږي. دا په داسې حال کې ده چې د انساني او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون په دربیمه ماده کې هم راغلي چې د انسان له زیانمن حالت او یا مجبوریت څخه ګټه اخیستل هم انساني قاچاق ګڼل کېږي. په دې ماده کې چې د ګټه اخیستنې لپاره پر ماشومانو تسلط هم انساني قاچاق ګڼل کېږي، سره له دې چې له خپل واک ځواک څخه ناوړه ګټه اخیستنه، ګواښ او یا له مجبوریت څخه ګټه اخیستنه هم په کې نه وي شوې.

## ۱۰- انزوا (يوازې پرېښودل)

له شرعي محارمو سره د ښځې ليدو مخنيوى اجباري يوازې پرېښودلو ته وايي. د كورني تاوتريخوالي له امله د ښځې خاوند يا خسرګنۍ اجباراً ښځه نه پرېږدي چې له خپل مور، پلار او ورونو سره ووينې او يا د پلارګنۍ كره ولاړه شي. ډېرې دغه ډول پېښې په افغاني كورنيو كې هغه وخت رامنځته كېږي چې كله د نجلۍ كورنۍ ولور او يا د واده لګښت ډېر واخلي.

د ښځې پر وړاندې د تاوتريخوالي د منعې قانون د ۳۱مې مادې له مخې، هغه شخص چې ښځه انزوا (يوازېتوب) ته مجبوره كړي، له احوالو سره سم پر قصير حبس چې له درېيو مياشتو څخه زيات نه وي، محكومېږي. د افغانستان په بېلابېلو سيمو، په ځانګړي ډول په سوېلي ولايتونو كې نګور يا ناوې د لېوره او خسر تر څنګ د خپلې خسرګنۍ له ټولو نارينه وو مخ پټوي او په دې ډله كې ډېرى د ښځې شرعي محارم وي، حتى د لوګر په ولايت كې اوس هم په يو قوم كې داسې رواج شته چې نوې واده شوې ناوې له خپلې خواښې او يورګانو څخه كلونه كلونه مخ پټوي.

## ۱۱- د قرابت نفي كول

ځيني كسان د دې لپاره چې ميراث او يا هم نوره ګټه ترلاسه كړي، د ځينو كسانو قرابت له ځان يا له خپلې كورنۍ سره نفي كوي؛ د بېلګې په توګه يو كس له خپلې لومړۍ مېرمنې اولاد نه لري، كله چې دا سړى مري، د دويمې ښځې اولادونه په چل ول او ان د پيسو له لارې هڅه كوي څو د خپلې ميرنۍ مور قرابت له خپلې كورنۍ سره نفي كړي، څو د پلار ميراث يې يوائې دوى ته پاتې شي او دا موضوع بيا هغه مهال پر قاچاق بدلېداى شي چې كله دغه مور يې د اقتصادي ستونزو له امله د يو قاچاقبر لاس ته ورشي او هغه پرې ډېر ظلمونه وكړي.

د ښځې پر وړاندې د تاوتريخوالي د منعې قانون د ۳۸مې مادې له مخې، هغه شخص چې د ښځې له قرابت څخه د ميراث حق يا له نورو شرعي او قانوني حقونو څخه د هغې محرومولو په مقصد انكار وكړي، خو قرابت يې بيا د محكمې په حكم ثابت شي، له احوالو سره سم پر قصير حبس چې له شپږو مياشتو څخه زيات نه وي، محكومېږي.

## ۱۲- ځانوژنې ته د ښځې اړ کېدل

په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د کورني تاوتریخوالي اصلي لاملونه د زده کړو کچې کموالی، د ښځو پر وړاندې نا سم ټولنیز باور او هغې ته د کور د کارونو سپارل، فحشا ته مجبورول، د نجونو پېر او پلور، په زور ودونه، جګړه او بېوزلي دي. د ښځو پر وړاندې د کورني تاوتریخوالي د پیل ځای د کورنۍ چوکاټ وي؛ کورنی تاوتریخوالی د دې لامل ګرځي چې ښځه ځان سوځولو، د کیمیاوي یا زهري موادو او یا هم له بلې لارې ځانوژنې ته مجبوره کړي. په افغانستان کې هره ورځ په دې ډول پېښو کې ښځې خپل ژوند له لاسه ورکوي، ټپي او معلولې کېږي، خو په اړه یې راپورونه ډېر کم ورکول کېږي او د ګوتو په شمېر عاملین یې سزاویني؛ د بېلګې په ډول د ۱۳۸۹ لمریز کال د وري په اتمه د ګردېز په ښار کې یوه ښځه وروسته له هغه چې خپل مېړه یې د ورور په واده کې د برخې اخیستو اجازه نه وه ورکړې، خپل ځان ته اور واچاوه، وروسته یې مېړه د درملنې لپاره د کابل یوه روغتون ته ولېږدوله، خو په روغتون کې یې د ډېرې سوځېدنې له امله ساه ورکړه چې بیا وروسته د پکتیا ښاري محکمې د یادې ښځې خاوند پر ۷ کاله بند محکوم او د استیناف محکمې هم د مجازاتو یاد حکم تایید کړی و.

د ښځې پر وړاندې د تاوتریخوالي د منعې قانون د ۲۱مې مادې له مخې، که چېرې ښځه د تاوتریخوالي له امله ځان سوځولو یا ځانوژنې او یا د کیمیاوي، زهري موادو او یا ځان ته د نورو زیان رسوونکو توکو پر استعمالولو مجبوره شي، د تاوتریخوالي عامل د مجني علیها د ټپي کېدو او معلولیت په صورت کې پر منځني بند او د مجني علیها د مړینې په صورت کې له احوالو سره سم پر اوږده بند چې له لسو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

د ښځې پر وړاندې د تاوتریخوالي د منعې قانون د ۲۰مې مادې له مخې، هغه شخص چې ښځې ته اور واچوي یا یې پر بدن باندې کیمیاوي یا زهري او یا نور زیان رسوونکي مواد چې د ټپي کېدو یا معلولیت موجب یې شي، استعمال کړي یا زهري مواد پر هغې وخوري او یا یې په بدن کې ور زرق کړي، له احوالو سره سم پر اوږده بند چې له لسو کلونو لږ نه وي، محکومېږي، خو که په یادو حالتونو کې د یادو اعمالو د ارتکاب موخه له مدني حقونو څخه د ښځو د حرمان په منظور په ټولنه کې د وېرې او ډار رامنځته کول وي او یا د مجني علیها پر مړینه تمام شي، مرتکب له احوالو سره سم پر دوام حبس یا اعدام محکومېږي.

ځانوژنې ته د ښځې اړ کېدلو په اړه د پژواک راپور:

### "د ښځو له سوځوونکو غچ اخلم"




***ناهید بشردوست -Oct 04, 2015***

کابل (پژواک، ۱۲ تله ۹٤): هغه ښځه چې خاوند یې لاسونه ورمات کړي، وېښته یې ور ایستلي او په پایله کې د کباب په څېر په اور سوځېدلې، غواړي چې د ټولو هغو ښځو غچ واخلي چې د کورني تاوتریخوالي قرباني شوې

دي. دا ۲۲ کلنه مېرمن چې د هرات ولایت اصلي اوسېدونکې ده او د نوم له اخیستو یې ډډه وکړه، څېره یې سوځېدلې او داغونه پرې ښکارېدل، پر مخ یې دستمال پېچلی و، وویل چې ډېره ماشومه وه او تل به یې بکس پر شا و، د کرمچونو بندونه به یې تړل او د "امیرعلي شېر نوایي" کورس او ښوونځي ته به تلله. دغې مور پژواک ته وویل چې غوښتل یې په راتلونکي کې خپلې لوڼې زده کړې د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې ترسره کړي او ټولنې ته یو ویښه او روڼ اندې وړاندې شي، په ولسي جرګه کې د خلکو استازې شي، خو له دې ناخبره وه، په کومه ټولنه کې چې ژوند کوي، پر مرګ یې محکومېږي.
د هغې په شونډو خوږه موسکا خپره وه، په واقعیت کې هغه کړاو یې په څېره کې له ورایه ښکارېده چې ګاللی یې و، ویې ویل ١٤ کلنه وه چې ربړار یې کور ته ورغی او د رویبارانو له تګ راتګ وروسته یې پلار د ۲۵۰زره افغانیو په بدل کې یوه نالوستي کرونډګر ته ورکړه. په داسې حال کې چې د دې مېرمنې په سترګو کې اوښکې غړېدې، زیاته کړه چې لا د ١٤ کلونو نه وه شوې چې د خاوند کور یې د واده غوښتنه وکړه. هغې وویل، هر څومره ټینګار یې چې وکړ څو ښوونځی پای ته ورسوي خو چا یې غږ وا نهورېد، په داسې حال کې چې دې له هغه سړي سره مینه هم نه درلوده، د پلار او ورونو د ټینګار په نتیجه کې یې واده ته زړه ښه کړ.
دې دردمنې ښځې زیاته کړه چې په ١٤ کلنۍ کې د خاوند کور ته ور واده شوه، د یوې شل کسیزې کورنۍ ټول کاري مسوولیتونه ور له غاړې شول؛ خو لا ماشومه وه او په وس کې یې نه و، د کور کارونه نیمګړي پاتې کېدل، نو ځکه هره ورځ د خاوند او کورنۍ د نورو غړو له لوري له وهلو ټکولو سره مخ کېده. هغې چې ترمې اوښکې یې پر سوځېدلو اننګو را بهېدې وویل: "زه د ښار نجلۍ وم، زه یې کلي کې ورکړم د خاوند کورنۍ مې غوښتل چې زه په نغري خواړه پاخه کړم، چاې وکړم، دا چې په نغري خواړه پخول او یوې شل کسیزې کورنۍ ته خواړه چمتو کول را ته ستونزمن و؛ نو ځکه وهل او ټکول کېدم."
دغه مېرمن دوه لوڼې چې لینا او نرګس نومېږي، لري او په داسې حال کې چې په یوه سولیدلي کاغذي دستمال یې اوښکې پاکولې د ځان سوځولو کیسه داسې وکړه: "درې کاله وړاندې د لړم میاشت کې هوا ډېره سړه وه، نجونو د کور د انګړ په منځ کې شوخي کوله، کله یې چې پلار را ننوت، نجونو ته نږدې شو، په غوسه یې ورته وویل، ولې مو واښه شکولي؟ کوچنۍ لور یې چې له پلار څخه یې ډېره وېرېدلې وه، د دې لپاره چې هغه ونه وهي، وویل، مور مې ویل. خو بیا یې هم پلار دومره وډبوله چې نږدې و لور یې ضعف وکړي.
دې مظلومې مېرمنې زیاته کړه: "د خاوند له لاسه مې لرګی واخیست، ورته ومې ویل، ما ووهه، خو لوڼو ته مې څه مه وایه... دومره یې ووهلم چې په لاره نه شوم تللی، غوښتل مې چې د انګړ دروازه خلاصه کړم، له لارویانو مرسته وغواړم، د دروازې په خوله کې یې ګیر کړم، تر کوره واټن زیات و، له ویښتانو یې کور ته را کش کړم، یوه کوځۍ ویښته به مې چې وختل، بیا به یې نور ونیول، کور ته یې راستم، بیا یې لرګی راووړ او نور یې هم ووهلم."
د تاوتریخوالي دې قرباني وویل، حالت یې دومره خراب شو چې نه پوهېده څه وکړي، له تېلو ډک د نوشابې بوتل مې راووړ، اورلګیت لوند و، خاوند مې اورلګیت له لاسه واخیست، ویې ویل، اور در اچوم.
هغې زیاته کړه: "ولاړم، وچ اورلګیت مې راووړ، نه پوهېږم چې زما د اورلګیت اور و، که د خاوند مې، هغه مهال مې ربښتیا هم د مرګ غوښتنه کوله، تمه مې نه وه چې څوک دې زما اور مړ کولو ته راشي، خاوند مې لا هم په لمبو کې په لغتو او لرګیو وهلم، چپ لاس مې سره له دې چې سوی و، مات شو، د خاوند لرګیو او لغتو له امله پر ما لګېدلی او له ۲۵ دقیقو وروسته مړ شو، یواځې پښې مې نه وې سوې، پورتنی نیم وجود مې سوی و."
دې مېرمنې زیاته کړه، ټول لاسونه، غاړه او مخ یې سوځېدلي وو، خاوند یې دروازه خلاصه پرېښوده، له کوره ووت، خلک راغلل، دا بربنډه شوې وه، د پټولو لپاره یې پرې له خاورو ډکه کمپله واچوله او ځان یې په کې پټ کړ. هغې زیاته کړه، یو ساعت وروسته د خاوند مور او د تره زوی یې راغلل او ویې ویل، په روغتون کې به نه

وايې چې ځان مې سوځولی، که دې وويل د زهرو پېچکاري به درکړو... خلک را ټول شول او هغه يې د هرات روغتون ته ولېږدوله.
د تاوتريخوالي دې قرباني وويل، وروستۍ هيله يې د لوڼو ليدل وو، له ژونده مړه شوې وه، د دې لپاره چې زهر ور پېچکاري کړي، ويې ويل، ځان يې وسوځاوه؛ ځکه چې خاوند يې پرې ظلم کاوه. هغې چې معصومو سترګو يې د حقيقت کيسه کوله، زياته کړه چې د خولې او شونډو سوځېدو له امله يې يوه مياشت ډوډۍ ونه خوړه او خبرې يې هم نه شوې کولی، يواځې سيروم يې لاس ته بند و. خاوند يې پر دې د ظلم له امله ۱۲ مياشتې بندي شو، خو د پيسو په زور يې ځان بېرته ازاد کړ.
دې مور وويل، ۹ مياشتې په روغتون کې بستره وه، پنځه عمليات يې تېر کړل، خو يو کس يې هم پوښتنې ته نه ورغی، ډاکترانو يې د ژوند هيله نه درلوده او ويل يې: "اتيا سلنه ځان دې سوی، ته مړه کېږې." هغې وويل: "خو خدای پاک بيا ژوند راکړ، څو خپل ځان ثابت کړم، زه غواړم د ټولو هغو مېرمنو غږ واخلم چې سوځول شوې دي. زما ګناه څه وه؟ ما ته يې اجازه نه راکوله چې له کوره ووځم، نجلۍ مې زېږولې وه، څه بل کار مې نه شوای کولی." دغه ځوانه مېرمن اوس له هرات څخه کابل ښار ته راغلې او له خپلې يوې ملګرې سره چې د ښځو د حقونو مدافع ده، ژوند کوي. دې په جديت سره وويل، لومړۍ هيله يې دا ده چې پلاستيکي جراحي وکړي، ماشومان يې وېرولي چې د دې خوا ته دې نه ورځي چې تاسې هم سوځوي، خو په دويم قدم کې غواړم چې ځوانه لور يې د خاوند د کورنۍ له منګلو وژغوري او په درېيم قدم کې د ښځو د حقونو د خونديتوب لپاره کلکه مبارزه وکړي. هغه چې د زوی نشتوالی د خپل خاوند د ظلم يو لامل بولي، څرګندوي: "درې کاله کېږي چې له هېڅ کوم يوه څخه حال احوال نه لرم، يوه ورځ غواړم ځان ور وښيم چې پرمختګ مې کړی."
دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون شمېرې څرګندوي چې د روان کال په لومړيو درېيو مياشتو کې د تاوتريخوالي څه باندې دوه زره پېښې ثبت شوې چې فزيکي، رواني، ځان وژنې، سوځونې او... د تاوتريخوالو نورې پېښې په کې شاملې دي.

## ۱۳- د نشه يي توکو اعتياد ته د ښځې اړ کېدل

د انسان له قاچاق او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون پر بنسټ، د نشه يي توکو اعتياد ته د ښځې مجبورول، په چل او فريب د يو چا له مجبوريته ګټه اخيستل د انسان د قاچاق يوه څرګنده بېلګه ده. د نشه يي توکو ستونزه او ورځ تر بلې د روږدو زياتېدل په هېواد کې د ترهګرۍ په څېر يوه بله ستره ملي ستونزه بللای شو او ويل کېږي چې تر ډېره بهرني لاملونه لري. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون پر نشه يي توکو روږدېدنه په هېواد کې يو ناورين بولي او وايي چې په دې وروستيو کې د روږدو ښځو شمېر زيات شوی او اندېښنه څرګندوي چې ښايي يادې روږدې ښځې له جنسي تېري، تاوتريخوالي او ايډز ناروغۍ (HIV) سره مخ او په ټولنه کې د ميکروب پر محراق بدلې شي.

له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت د معلوماتو له مخې، اوسمهال په هېواد کې درې نيم ميليونه خلک پر نشه يي توکو روږدي دي چې ۲/۹ سلنه يې ښځې جوړوي. د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منعې قانون د ۳۲مې مادې له مخې، هغه شخص چې ښځه د نشه يي توکو اعتياد ته مجبوره کړي، پر قصير حبس چې له درېيو مياشتو څخه زيات نه وي، محکومېږي؛ د بېلګې په توګه ځيني کسان پر نشه يي توکو روږدي وي، د دې لپاره چې په اسانه دغه توکي استعمال کړي، کوښښ کوي چې خپلې مېرمنې هم پرې روږدې کړي، دغه مېرمنې چې کله روږدې شي، ځان ته د نشه يي توکو پيدا کولو لپاره فحشا ته مخه کوي او د دې تر څنګ ډېرى مهال د خاوندانو له لوري له بېلابېلو جسمي ځورونو سره هم مخ کېږي.

د نشه يي توکو اعتياد ته د ښځو اړ کېدلو په اړه د پژواک راپور:

**يوه روږدې ايرانۍ مېرمنه د کابل تر پول سوخته لاندې ژوند کوي**



*عزيزالله همدرد – Jan 28, 2017*

کابل (پژواک، ۹ سلواغه ۹۵): يوه ايرانۍ مېرمن چې پر نشه يي توکو د روږدي کېدو قرباني شوې او اوسمهال د کابل تر پل سوخته لاندې له نورو روږدو سره يو ځای د ژوند سختې شپې او ورځې تېروي، وايي چې مېړه او خسرګنۍ يې د دې لپاره چې دردونه يې ښه شي، دې ته يې ترياک ورکړي دي. د وروستيو راپورونو له مخې، په

دې ورځو کې پر نشه يي توکو روږدي کسان چې د کابل تر پل سوخته لاندې ژوند کوي، د کابل د سختو سړو له امله په منځني ډول د ورځې له دوو تر څلورو کسانو ژوند له لاسه ورکوي.
ياده ۳۰ کلنه ايران الاصله مېرمن ليلا قمبري نومېږي چې د ياد هېواد د "قزوين ولايت" اوسېدونکې ده، مور يې دري ژبې او پلار يې د قزوين له ترکانو څخه دی. مېرمن قمبري له دوولسم ټولګي تر فارغېدو او دوو کلونو چمتووالي وروسته د ايران امام خميني پوهنتون ته لاره موندلې او هلته يې د طب په برخه کې درې نيم کاله تحصيل هم کړی دی. پر نشه يي توکو دغه روږدې مېرمن وايي چې په يوولس کلنۍ کې يې د قزوين ولايت په کچه د قرانکريم په يوه سيالۍ کې د ۴۰۰ ګډونوالو له ډلې لومړی مقام ترلاسه کړی او له يوه روزنيز مرکز څخه يې د کمپيوټر په برخه کې د استادۍ سند هم ترلاسه کړی دی.
**جسمي وضعيت:**
د پژواک خبري اژانس خبريال چې له يادې مېرمنې سره يې مرکه کړې، وايي چې دغه مېرمن اوس هم له نورو سلګونو روږدو سره يو ځای چې په دې سيمه کې د ډېرو بويونو او خځلو له امله له ماسک پرته ساه اخيستل هم ستونزمن کار دی، شپې ورځې تېروي. د پژواک د خبريال په وينا، قمبري چې سر يې ببر و، په بېسيکه ګامونو له پله را وخته، په عمر کې تر ۵۰ کلونو ډېره معلومېده خو د هغه په وينا چې ۳۰ کلنه ده. خبريال وايي چې دغې مېرمن له پله تر راختو وروسته پر يوه دېوال تکيه وکړه او مرکې ته يې ځان چمتو کړ. هغه زياتوي: "کله مې چې ياده مېرمن له نږدې وليده، نو د ژامې لاندېني غاښونه يې مات او پاتې يو شمېر نور يې تور شوي وو، له جسمي پلوه هم دومره کمزورې معلومېده، تا به ويل چې له څو ورځو راهيسې يې ډوډۍ نه ده خوړلې. "
ليلا چې له ښه روغتيايي حالته برخمنه نه وه او په ډېرې سختې يې خبرې کولې، زياته کړه چې دوولس کاله مخکې يې له يوه افغان ځوان سره چې د دايکنډي ولايت اصلي اوسېدونکی دی، واده وکړ او په ايران کې له دوو کلونو تېرولو وروسته د خپلې خسرګنۍ د ليدو په موخه دايکنډي ته راغله. هغې زياته کړه، په دايکنډي ولايت کې د اوسېدو په لومړيو ورځو کې يوې بهرنۍ موسسې چې په ياد ولايت کې يې روغتيايي خدمتونه ترسره کول، له دې په دې موسسه کې د کار کولو غوښتنه وکړه.
ليلا وويل، دا چې په ياد ولايت کې لوستې ښځې ډېرې کمې وې نو د خلکو او قومي مشرانو په غوښتنه يې خسرګنۍ دې ته حاضره شوه، څو دا د دايکنډي له خلکو سره په روغتيايي برخه کې مرسته وکړي او ياد مسووليت څو کاله پر مخ يوسي. ليلا قمبري چې د خبرو پر مهال يې ټول لاسونه رېږدېدل او د خولې د وچوالي له امله يې په کراره خبرې کولې، ادعا وکړه چې د ۱۳۸۹ لمريز کال د ولسمشرۍ ټاکنو پر مهال يې له يوناما سره د (DDFC) په توګه او دغه راز يې له (MPO) موسسې سره د سيمه ييزو قابلو د روزنې په برخه کې د روزونکې او په ياد ولايت کې د فرانسويانو په ۵۰ بستريز روغتون کې د مشرې په توګه هم دنده ترسره کړې ده.
مېرمن ليلا چې خپل ککړ وينبتان يې په رېږدېدلو لاسونو سمول، ناڅاپه يې په سترګو کې اوښکې راغلې او ويې ويل: "ډېره ستړې يم او ذهن مې کار نه کوي، نورو دفترونو کې مې چې کار کړی، هېر شوي مې دي."
**پر نشه د روږدېدو عوامل:**
سره له دې چې د يادې روږدې مېرمن په څېره کې ستړيا ښکارېده او ډېرې خبرې کول يې نه غوښتل، له نيم ساعته وقفې وروسته مې ترې وغوښتل چې پر نشه يي توکو د روږدې کېدو لامل راته ووايي، ليلا وويل چې شاوخوا پنځه کاله مخکې د دايکنډي ولايت په شهرستان ولسوالۍ کې يې د موټر چپه کېدو له امله د ملا څو مهرې ماتې شوې او له دې امله يې يو کال کړاو تېر کړ، خو شه نه شوه، ورځ تر بلې يې حالت خرابېده او تر مرګه ورسېده. نومورې په داسې حال کې چې له سترګو يې اوښکې تلې، وويل: "يوه ورځ مې خوابنې راته په يوې پياله کې د دوو نخودو په اندازې يوه تور رنګه ماده واچوله او ويې ويل چې دا موملايي ده او د ملا مهرو ته ګټوره ده، دا چې ما ډېر درد درلود نو دغه ماده مې وخوړه." ليلا چې ژړا يې لا پسې زياته شوه او ډېره ټوخېده، له يوې شېبې

چوپټیا وروسته یې وویل، له هغه وروسته به یې چې ملا درد کاوه، نو د موملایي غوښتنه به یې کوله، خو له دې خبره نه وه چې د موملایي پر ځای تریاک ورکول کېږي.

**له مېړه او خسرګنۍ نا خوښي:**

دغه ایرانۍ مېرمن چې پر نشه یي توکو د روږدي کېدو قرباني شوې، له خپل مېړه او خسرګنۍ د ناخوښۍ تر څنګ وایي، دوی د دې پر ځای چې دا د درملنې په موخه یوه معیاري او مجهز روغتون ته بوځي، د درد ارامولو لپاره یې په پټه شپږ میاشتې تریاک ورکړي وو. هغې زیاته کړه چې په دې موده کې امیدواره هم وه او د زېږون مودې ته په نږدې کېدو یې د کابل ښار یوه روغتون ته راوسته، ډاکتران وروسته له هغه چې د انستیزي پیچکاري پرې تاثیر ونه کړ، پوه شول چې دا معتاده ده او څو میاشتې ورته تریاک ورکړل شوي دي.

نوموړې وویل، وروسته بیا ډاکترانو د بې هوښۍ تر ټولو سختې پیچکارۍ ورته طبیق کړې، په پایله کې یې خپل ماشوم هم له لاسه ورکړ. یاده روږدې مېرمن وایي: "ټول عمر مې د دیني درسونو په زده کولو زحمت ایسته او د طب په برخه کې مې لوړې زده کړې وکړې، خو کله چې د لومړي ځل لپاره پر دې پوه شوم چې پر نشه یي توکو روږدې شوې یم، یو ډېره دردناکه شېبه وه، داسې فکر وکه چې له اسمانه ځمکې ته را وغورځېدم، خو کله مې چې په روغتون کې خپل بچی هم له لاسه ورکړ، نو نوره هم دردمنه شوم."

لیلا له روغتونه تر رخصتېدو وروسته له دې امله چې مېړه او خواښې یې په پټه پرې تریاک خوړلي وو او د هغې په وینا، په یوه ستر ظلم یې لاس پورې کړی و، هره ورځ به یې له خپل مېړه سره په دې اړه لانجه وه او ستونزې یې نورې هم ډېرې شوې. هغې څرګنده کړه: "دا چې د غربت په هېواد کې وم او مېړه مې هم یو بد اخلاقه او بدخوی انسان و، بله لار مې نه درلوده، مجبوره شوم څو له تریاکو ګټه واخلم، مېړه مې هم پخوا د خوښۍ په ځینو مراسمو کې نشه یي توکي کارول، کله چې زه معتاده شوم نو مېړه مې زما له معتاد کېدو ګټه پورته کړه او زما له تریاکو به یې په ازادانه توګه کار اخیست."

**له روږدېدو وروسته ستونزې:**

لیلا په ژړغوني غږ وویل، له روغتون څخه تر راوتلو وروسته یې په کابل کې ژوند پیل کړ، د درد کمېدو لپاره به یې هر وخت له خپل مېړه د نشه یي توکو غوښتنه کوله، دغه کار دوام وکړ او یوه ورځ یې مېړه هم د کابل ښار په واصل اباد سیمه کې له یادو تریاکو سره یو ځای د پولیسو له لوري ونیول شو او پر دوه کلن بند محکومت شو. هغې وویل، د مېړه له زنداني کېدو وروسته یوازې پاتې شوه، د یوازېتوب له امله یې کرایي کور هم له لاسه ورکړ او په پایله کې دې ته اړه شوه چې خپلې شپې ورځې په کوڅو او سړکونو تېرې کړي، اخر یې هم برخلیک پل سوخته شو.

پل سوخته د کابل ښار په لوېدیځ کې یو مشهور پل دی او تر دغه پله لاندې پر نشه یي توکو سلګونه روږدي ژوند کوي او له ډېر ناوړه حالت سره مخ دي. پر دې سربېره چې د کابل ښار روغتیایي چارواکو له نورو اړوند ادارو سره تر اوسه څو ځلې یو شمېر روږدي د روغتیا امن ځایونو ته لېږدولي، خو بیا هم په دې سیمه کې د ښځو او نارینه وو په ګډون سلګونه معتادین ژوند کوي. تر دغه پله لاندې یو شمېر معتادین په ګروپي ډول سره راټول وي او نشه یي توکي څکوي، ځیني یې بیا تر پله لاندې بل ځای یو بل ته پیچکارۍ وهي او نشې کوي او له دغو کسانو یو شمېر یې تر مرګ تر پولې رسېدلي دي.

لیلا چې له دغو سلګونو معتادینو یوه ده، د دې پوښتنې په ځواب کې چې ولې یې په ایران کې له خپلې کورنۍ مرسته نه ده غوښتې؟ وویل: "ایران ته د دې لپاره نه ځم چې کورنۍ مې بدنامېږي، خو خسرګنۍ مې چې کله له دغه حالته خبره شوه، نور یې له ما سره له مرستې لاس واخیست." مېرمن قمبري په دې اړه چې که د درملنې په موخه ولېږل شي، ایا د خپل دغه عمل پرېښودو هوډ لري؟ وویل: "یو ځل مې درملنه وکړه، خو کله چې له

روغتونه را ووتم، د اوسېدو ځای مې نه درلود، بېرته دغه پل سوخته ته راغلم، خلکو به څورولم، خو اخر راته پولیسو وویل، تر پله لاندې ځای ته ولاړه شه، موږ تا کوم ځای ته بوځو، هغه شپه بیا پله ته راغلم."
نوموړې په لړزېدلي غږ وویل: "پخوا به مې د زړګونو کسانو درملنه کوله او هره میاشت به مې اووه زره ډالر معاش اخیست، له همدغه معاش مې د مېړه ورونو ته ودونه وکړل او دوی یو ژوند پیدا کړ، اوس مې هغوی هم نه مني او بل څوک هم نه لرم، څو ما له دغه ناوړه حالته وژغوري."

**له حکومته غوښتنه:**

له لیلا وپوښتل شول چې له حکومته څه غواړي؟ هغې خپل حواس راټول کړل او ځواب ته یې له پوره چمتووالي وروسته وویل: "له حکومته غواړم چې د خاوند برخلیک مې معلوم کړي، یوه روغتون ته مې د درملنې لپاره واستوي او له درملنې وروسته په یوه روغتون کې ورته د نرسې یا قابلې په توګه او یا هم په نورو ادارو کې د کمپیوټر د استادې په توګه کاري زمینه مساعده کړي." لیلا چې تحصیل کړې، بریالۍ او راتلونکې ته هیله منه ښځه وه، اوس یوه ګوښه شوې او مجبوره ښځه ده چې د ژوند مجبوریت تر پله لاندې ژوند ته اړ کړې؛ ځکه چې د خاوند د چل او فریب له امله په غیر ارادي ډول پر نشه یي توکو روږدې شوې ده. لیلا چې یو وخت یې په نیلي اسمان کې هرې خوا ته د الوت توان درلود، اوس د یوې وزر ماتې مرغۍ په توګه تر پل سوخته لاندې پر چټله ځمکه پرته ده.

**له نشه یي توکو سره د مبارزې وزارت ځواب:**

له نشه یي توکو سره د مبارزې وزارت د دې روږدې په ځواب کې وایي چې ممکن یو شمېر محدودې ښځې او ماشومان چې د روږدو ټولولو د کمپاین په ورځ په سیمه کې حاضر نه وو، لا هم پر سړکونو پاتې وي چې لیلا قمبري هم له دې ښځو یوه ده. د یاد وزارت ویاند محمد حنیف دانشیار وویل چې اوسمهال په ټول هېواد کې د روږدو د درملنې لپاره ۱۱۶ مرکزونه شته چې هر کال د څه باندې ٤۰زره روږدو د درملنې وړتیا لري او له دې ډلې ۳۰ سلنه ښځې او ماشومان جوړوي. هغه زیاته کړه چې د روږدو د درملنې لپاره د نورو مرکزونو تر څنګ د ښځو او ماشومانو لپاره هم د درملنې ۱۵۰ بستریز مرکز جوړ شوی، ځینې ښځې او ماشومان چې په کوڅو کې وو، را ټول کړل شوي او د درملنې لپاره دغه مرکز ته لېږدول شوي دي.
نوموړي نشې ته د بېرته ګرځېدو په اړه هم اندېښنه وښوده او ویې ویل چې د کورنیو او خپلوانو له لوري بېرته نه منل، وزګارتیا، بېوزلي، په ټولنه کې د عامه پوهاوي کچې ټیټ والی هغه لاملونه دي چې ځیني له درملنې وروسته بېرته نشې ته ور ګرځي. خو دانشیار وایي چې له نشه یي توکو سره د مبارزې وزارت هڅه کوي څو د جوماتونو او ښوونځیو له لارې خلک پوه کړي چې د نشه له پرېښودونکو سره باید د یوه سالم وګړي په څېر چلند وکړي او درناوی ورته ولري.

**د ایران سفارت: خپلو وګړو ته د با عزته ستنېدنې اسانتیاوې برابروو**

په کابل کې د ایران سفارت د رسنیو برخې مسوول پژواک خبري اژانس ته وویل، که چېرې ثابته شي چې یاده مېرمن ایرانۍ ده او ایران ته د ستنېدو غوښتنه کوي، د درملنې او با عزته ستنېدنې لپاره به یې ټولې اسانتیاوې برابرې کړي. هغه وویل چې د ایران سفارت خپلو ټولو هغو وګړو ته چې په افغانستان کې مېشت دي، خبر ورکوي چې که کومې ستونزې سره مخ وي، د ایران سفارت او سیاسي څانګو ته دې مراجعه وکړي، څو په افغانستان کې دننه یې د ستونزو د حل په برخه کې عملي اقدامات وکړي. له نشه یي توکو سره د مبارزې وزارت د معلوماتو له مخې، اوسمهال په هېواد کې درې نیم میلیونه وګړي پر نشه روږدي دي چې ۲/۹ سلنه یې ښځې دي.

**د روږدو د درملنې برخې نا دولتي موسسې غوښتنه:**

د نجات سنټر مشر قاسم زماني وايي چې د ژمي په ورځو شپو کې د روږدو ستونزې زیاتېږي؛ په دې وروستیو کې یو شمېر روږدي ښځې د سړې هوا له امله تر پلونو لاندې مړې شوې او نورې یې هم له د مرګ له ګواښ سره مخ دي. هغه وویل چې نا دولتي موسسې او حکومت د روږدو له درې تر پنځه سلنه پورې تداوي کوي او پاتې یې له دې ډول خدمتونو بې برخې دي. نوموړي د دې شومې ښکارندې په له منځه وړو کې د خلکو او کورنیو همکاري ممهمه وبلله او ویې ویل، تر هغو چې کورنۍ او هېوادوال په دې برخه کې همکاري ونه کړي، هېڅ ډول پروګرام به مثبته پایله ونه لري. د نجات سنټر مشر زیاته کړه چې نجات او ځینې نورې موسسې د روږدو د درملنې په برخه کې کار کوي، هغه روږدي چې له درملنې وروسته یې کورنۍ ونه مني، له کورنیو سره یې خبرې کوي او د یوه کال لپاره له هغوی سره په اړیکه کې وي.

د هغه په خبره، که چېرې هغوی د کورنیو له لوري ونه منل شي، دا ښځې نورو موسسو ته چې د ښځو په برخه کې فعالیت لري، ور پېژني او هغوی ته د ژوند او کار کولو زمینه مساعدوي. نجات سنټر یوه نا دولتي موسسه ده چې له ۲٦ کلونو راهیسې د روږدو د درملنې، هغوی او د هغوی کورنیو ته د حرفوي زده کړو او د نشه یي توکو او ایډز ناروغۍ په اړه د پوهاوي ورکولو په برخو کې په کابل کې فعالیت کوي.

**د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون اندېښنه:**

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون پر نشه یي توکو روږدېدل په هېواد کې یو ناورین بولي او وایي چې په دې وروستیو کې د روږدو ښځو شمېر زیات شوی، ښایي چې روږدې ښځې له جنسي تېرې، تاوتریخوالي او اېډز ناروغۍ (HIV) سره مخ شي او په تولنه کې د میکروب محراق شي. د بشري حقوقو کمېسیون کمېشنرې ثریا صحبرنګ د نشه یي توکو د روږدو اوسنی وضعیت د اندېښنې وړ وباله او ویې ویل چې دغه کسان د بشر له ډېرو لومړنیو حقونو هم محروم دي او هره ورځ په ګرمه هوا کې خپل خوږ ژوند بایلي؛ دولت باید ډېر ژر د هغوی وضعیت ته پام وکړي او د دې ناوړه ښکارندې مخه ونیسي. د بشري حقونو دغې کمېشنرې په هېواد کې د روږدو د درملنې مرکزونو د فعالیت پر نشتوالي او کمښت اندېښنه وښوده او ویې ویل: "د ولایتونو په مرکزونو کې د ښځینه روږدو لپاره ځانګړي مرکزونه نشته، په هغو ځایونو کې چې نارینه روږدوي په کې ساتل کېږي، یوه کوټه یې ښځو ته ځانګړې کړې، هلته یې هم د ژوند وضعیت ډېر خراب دی."

هغې له درملنې وروسته بېرته نشې ته مخه کول یوه بله ستونزه وبلله او ویې ویل چې حکومت په دې برخه کې ستراتیژي نه لري، له همدې امله له درملنې وروسته بېرته نشې ته مخه کوي او له نورو روږدو سره یو ځای کېږي. صحبرنګ وویل چې دولت ته یې د روږدېدنې د لاملونو د مخنیوي لارو چارو او د دې شومې ښکارندې د له منځه وړو لپاره وړاندیز کړی، خو له بده مرغه چې تر اوسه دولت په دې برخه کې هېڅ کوم ځانګړی اقدام نه دی کړی. د نشه یي توکو ستونزه او ورځ تر بلې د روږدو زیاتېدل، په هېواد کې د ترهګرۍ په څېر یوه بله ستره ملي ستونزه بلل کېږي او ویل کېږي چې تر ډېره بهرني لاملونه لري او باید پر وړاندې یې د سیمې په کچه نړیواله مبارزه وشي.

د انسان له قاچاق او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون پر بنسټ، د نشه یي توکو اعتیاد ته د ښځې مجبورول او د چل او غولولو له مخې د یو چا له مجبوریت څخه ګټه اخیستل، د انسان د قاچاق یوه ښکاره او ډاګیزه بېلګه ده. د افغانستان د قوانینو له مخې، د انسان قاچاق جرم دی، د انسان او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون په ۱۱مه ماده کې راغلي چې که چېرې قاچاق د مېرمنې، مور او پلار او یا قانوني سرپرست له لوري ترسره شي، پر اوږدمهال بند محکومېږي.

## ۱۴- د زده کړو، کار او روغتيايي خدمتونو ته د لاسرسي له حقونو د ښځو ګرځول

د افغانستان د لرو پرتو سيمو تر څنګ په ښارونو کې هم ډېرې کورنۍ دي چې خپلې لوڼې، ښځې او خويندې له زده کړو منعه کوي او که چېرې زده کړې هم وکړي نو خصوصي او دولتي ادارو کې يې له کار کولو سره جدي مخالفت کوي.

د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منعې قانون د ۳۵مې مادې له مخې، هغه شخص چې د ښځو د زده کړې، تحصيل، کار، روغتيايي خدمتونو ته د لاسرسي او په قوانينو کې له نورو درج شوو حقوقو د ګټې اخيستنې مانع شي، له احوالو سره سم پر قصير حبس چې له شپږو مياشتو څخه زيات نه وي، محکومېږي.

د زده کړو له حق څخه د ښځو منعه کولو په اړه د پژواک راپور:

### "په کندهار کې هر کال ۴۰۰۰ نجونې د ښوونځي پرېښودو ته اړې کيږي"

" 


*بشير احمد نادم— Mar 08, 2016*

کندهار(پژواک، ۱۸ کب ۹٤): کندهار کې هر کال شاوخوا ٤۰۰۰ نجونې د خپلو کورنيو له خوا له لومړنيو زده کړو وروسته ښوونځيو ته له تګ څخه ګرځول کيږي. د کندهار د ښځو چارو مشرې رقيې اڅکزۍ له پژواک خبري اژانس سره په ځانګړې مرکه کې د يادو څرګندونو تر څنګ ووېل چې سږ کال په دغه ولايت کې تر اوسه د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي ۱۹۸ پېښې ثبت شوې، خو هلته د پخوا په پرتله په دولتي او نادولتي ادارو کې د ښځو ونډه ډېره شوې ده. اڅکزۍ زياته کړه چې په دغه ولايت کې د ښوونځيو ۳۰ سلنه زده کوونکي نجونې جوړوي، خو زياتوي: "ډېرې کورنۍ د کلتوري افراط او ناپوهۍ له امله خپلې نجونې له لومړنيو زده کړو وروسته پر کور کېنوي او هغوی ته د نورو زده کړو اجازه نه ورکوي چې دا يوه لويه غمېزه ده." د کندهار د ښځو چارو مشره په دې اړه ژوره اندېښنه ښيي او د دې ستونزې د حل لپاره د خلکو د پوهاوي ډېرولو غوښتنه کوي. اڅکزۍ وايي، د نارينه وو په څېر ښځې هم د زده کړو حق لري تر څو د ځان او کورنۍ تر څنګ ټولنې ته خدمت وکړي او له دې لارې په ټولنه کې د ناپوهۍ کچه ټيټه شي.

د هغې د معلوماتو له مخې، اوسمهال په کندهار ښار کې د نجونو ۱۸ ښوونځي شته چې له ٦۱ زره زياتو نجونو ته په کې د شاوخوا ۹۰۰ ښځينه ښوونکو له خوا زده کړې ورکول کيږي. اڅکزۍ وايي سږ کال تر دې مهاله د ښځو چارو له رياست سره

۱۹۸ د تاوتریخوالي پېښې ثبت شوې دي. د هغې د معلوماتو له مخې، په دې پېښو کې درې د قتل، یوه د ځان سوځونې، یوه د جنسي تېري، دوې د تښتونې، څلور د میراث حق د نه ورکولو، ۷ له کور څخه د تېښتې او ۱۸۰ نورې د بېلابېلو کورنیو تاوتریخوالیو پېښې شاملې دي. د دې په خبره، د یادو پېښو له ډلې ١٤ د کورني تاوتریخوالي او ۷ له کور څخه د تېښتې قضیې د ښځو چارو ریاست د ټاکل شوې کمېټې له خوا حل شوې او پاتې نورې عدلي او قضایي ارګانونو ته محول شوي دي.

د ښځو چارو مشرې پر ګڼو ستونزو او ننګونو سربېر، په کندهار کې د پخوا په پرتله په دولتي او نادولتي ادارو کې د ښځو ونډه ډېره وبلله او ویې ویل چې دغه چاره د پرمختګ په حال کې ده. دا وایي، دا مهال شاوخوا ۲۰۰ مېرمنې د کندهار په دولتي ادارو او شاوخوا ٥٣٤ مېرمنې په نادولتي ادارو او موسسو کې کار کوي او د دې تر څنګ په نظامي برخه کې ۷۵ ښځینه د سرتېرو، ۸ د افسرانو، ٣٦ نورې د ساتمنانو، ۷ د څارنوالانو او ٦ د ملي امنیت د منسوبینو په توګه کار کوي. دا په داسې حال کې ده چې نن د هېواد د ګڼو ولایتونو تر څنګ په کندهار کې هم د مارچ اتمه د ښځو د نړیوالې ورځې په توګه ولمانځل شوه چې د سلګونو ښځو تر څنګ په کې ګڼ شمېر دولتي چارواکو برخه اخیستې وه.

دې غونډې ته د نورو تر څنګ د کندهار والي ډاکټر همایون عزیزي په خپله وینا کې وویل چې د ښځو حقونه باید په یوه او بل نوم تر پښو لاندې نه شي او په دې برخه کې باید د اسلام د مبارک دین له ارشاداتو سره سم عمل وشي. هغه ډاډ ورکړ چې ولایتي اداره به د ښځو د حقونو د ساتلو په برخه کې ډېر کار کوي او هڅه به کوي چې هغوی د زده کړو، کار او غوره ژوند لارې چارې برابرې شي.

## ۱۵- د میراث له حق څخه محرومول

ښځه په میراث کې له تصرف څخه منعه کول پر ښځو د تاوتریخوالي مهمه بېلګه ده چې د افغانستان په ډېرو سیمو کې پلار خپل میراث پر خپلو زامنو وېشي او وروڼه له پلار څخه ور پاتې مال لکه ځمکه په خپلو کې سره وېشي، خو خپلې خویندې له خپل حق څخه محروموي. د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منعې قانون د ۳۳مې مادې له مخې، هغه شخص چې ښځه د هغې د مورث په متروکه کې د تصرف څخه منعه کړي، د هغې د شرعي د پرېښود برسېره، له احوالو سره سم له یوې میاشتې څخه زیات نه وي، محکومېږي. دغه راز هغه شخص چې د ښځې مالونه تصرف او یا هغه په دې مالونو کې له تصرف څخه منعه کړي، له احوالو سره سم پر قصیر حبس چې له درېیو میاشتو څخه زیات نه وي، محکوم او مال د ښځې په تصرف کې ورکول کېږي. د ٤٣مې مادې په اموالو کې د تصرف منعې په دویم څپرکي کې هم راغلي، هغه شخص چې د ښځې شخصي مالونه تصرف او یا هم هغه په کې له تصرفه منع کړي، له حسب احوال سره سم پر لنډ بند چې له درېیو میاشتو زیات نه وي، محکومېږي.

د میراث قانون له مخې، که مېرمن له خپل خاوند څخه اولاد ولري، اتمه برخه میراث ورکول کېږي او که اولاد ونه لري، د میراث څلورمه برخه یادې مېرمنې ته ور رسېږي. د اسلامي احکامو له مخې، نارینه د خپل پلار په میراث کې یوه حصه او ښځه نیمه حصه حق لري. د دیني عالمانو په وینا، په اسلام کې د ښځو پر میراث ډېر ټینګار شوی، خو دا چې په افغاني ټولنه کې ښځو ته دغه حق نه ورکول کېږي، لامل یې له اسلامه د خلکو بې خبري او د ټولنې ناوړه دودونه دي. د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په احادیثو کې د ښځو د میراث پر ورکړه ټینګار شوی دی، په اسلامي شریعت کې لکه څرنګه چې د یوه پلار زوی حق لري، همداسې لور هم حقداره ده، خو یوازې یې اندازه کمه ده.

میراث د ښځو هغه حق دی چې په افغاني ټولنه کې یې څوک د حق په نوم نه پېژني او اخیستل یې شرم ګڼل کېږي. دلته که ښځې د پلار په کور کې وي او یا د خاوند په کور کې، د میراث له حقه محرومې دي، له دغه محرومیته اکثره ښځې ځورېږي او د دې غوښتنه کوي چې د نورو حقونو په لړ کې دې د میراث حق هم ورکړل شي. په افغانستان کې ښځو ته لا هم میراث نه ورکول کېږي او ښځې هم د پېغور له وېرې د خپل میراث غوښتنه نه شي کولای؛ ډېرې وخت خپل میراثي حق خپلو ورونو ته ببښي. هغه مېرمنې چې میراث یې د ورونو له لوري پایماله شوی، خواشینې دي، دوی وایي چې له غریبۍ سره سره بیا هم د میراث اخیستو خبره نه شي کولای او نه یې هم وروڼه دومره پام کوي چې د دوی میراث ورکړي.

مدني فعالان او قومي مشران پر دې باور دي چې په افغانستان کې د ښځو د میراث حق تر ډېره د ورونو له خوا په زور اخیستل کېږي. دا باید وپوهول شي چې میراث د ښځو حق دی او بې له کوم جنجاله باید ورکړل شي. د یادونې ده، ښځې ځکه د میراث غوښتلو ته زړه نه ښه کوي چې بیا خلک پېغور ورکوي. لکه څرنګه چې د پلار په حق کې زامن میراث لري، خویندې یې هم لري، نو باید په افغاني ټولنه کې د دغه ناوړه دود پر وړاندې مبارزه وشي او دغه دود دې له منځه یووړل شي، په کار ده په دې برخه کې د عامه پوهاوي ګټور پروګرامونه ترتیب شي. د ښځو او ماشومانو د حقوقو څېړنیز بنسټ د سروې له مخې چې د هېواد په لسو ولایتونو کې د ښځو د ملکیت او میراث د ورکړې په برخه کې له شاوخوا ۶۰۰۰ کسانو سره مرکې شوې دي او له مخې یې دا په ډاګه شوې ده چې په سلو کې ۶۷ لوستې مېرمنې د هغو مېرمنو په پرتله چې سواد نه لري، د میراث له حق څخه برخمنې دي. دغه بنسټ وایي چې دوی په دې اړه د یوې ستراتیژۍ جوړولو په حال کې دي او موخه یې دا ده چې ښځې له خپلو دغو حقونو برخمنې شي. د دغه بنسټ له نظره، په افغانستان کې د ښځو اساسي اړتیا اقتصادي خپلواکي ده

چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په له منځه وړو کې هم مهم رول لوبولای شي او دا کار کولای شي چې ښځې په پرېکړو کې خپلواکي ترلاسه کړي. په افغاني ټولنه کې د میراث د ناقانونه لاسته راوړلو ډېرې بېلګې شته؛ یوه پېښه د کابل ولایت په خاکجبار ولایت کې یادولای شو چې د میراث د نا قانونه لاسته راوړو لپاره د یوې ښځې ماشوم د هغې په ګېډه کې وژل شوی و؛ کلونه مخکې په دې ولسوالۍ کې د زېږون پر مهال د یوې ښځې ماشوم د هغې د لېوره د زامنو له خوا د دې لپاره چې د تره میراث ورته پاتې شي، په چل او فریب سره د صابون د اوبو په وسیله له منځه یووړ او په دې کار سره تر هدفه هم ورسېدل؛ له یادې ښځې یې د تره ډېره برخه ځمکه ترلاسه کړه.

د انساني قاچاق او کډوالو قاچاق پر وړاندې د مبارزې قانون په دریمه ماده کې راغلي چې د ګټې اخیستنې په موخه د شخص استخدام (تر واک لاندې راوستل)، لېږد را لېږد، ساتنه او یا هم د ګواښ له لارې د کارولو لپاره د شخص ترلاسه کول، په همدې ډول د زور یا ځواک له بېلابېلو لارو کار اخیستل، تښتول، تېر ایستل او چل د انساني قاچاق موارد ګڼل کېږي. نو دا چې له یادې کورنۍ سره لوموړی چل او بیا له زوره کار اخیستل شوی، دغه کورنۍ قاچاق شوې ده.

د جزا کوډ د ۵۷۱مې مادې له مخې، هغه شخص چې د حاملې ښځې جنین عمداً د ضرب یا بل ډول اذیت له لارې له منځه یوسي یا هغه د تولد له طبیعي موعد څخه مخکې را وباسي، د سقط جنین د جرم مرتکب ګرځي چې تر اوو کلونو پورې پر طویل حبس محکومېږي، خو که چېرې د جنین سقط د ښځې په عقیم کېدو تمام شوی وي، مرتکب د یادې سزا پر اکثر حد محکومېږي. دغه راز هغه شخص چې عمداً د درملو ورکولو یا د نورو وسایلو د استعمال په وسیله د جنین د سقط موجب شي، که څه هم چې د جنین سقط د ښځې په رضایت سره صورت موندلی وي، پر منځني حبس محکومېږي. که چېرې سقط کوونکی طبیب، جراح، درمل جوړوونکی یا قابله وي، مرتکب له دوو کلونو څخه زیات پر منځني بند محکومېږي.

د میراث له حق څخه محرومولو په اړه د پژواک راپور:

**د میراث ترلاسه کولو لپاره دوه ماشومان له خپل کوره شړل شوي**




*زرغونه صالحی - Sep 23, 2018*

کابل (پژواک، د تلې لومړۍ نېټه ۹۷): په کندوز کې یوه کس خپل دوه یتیم وربرونه د هغوی د پلار او مور له مړینې وروسته د دې لپاره له کوره شړلي چې د ورور میراث یې ورته پاتې شي. یادو ماشومانو وروسته یوه شپانه ته پناه ور وړې وه خو د هغه له خوا هم پرې درانه کارونه شوي او بیا یې په کابل کې بې برخلیکه خوشي کړي او تر اوسه یې حکومت هم د مرستې په موخه کوم اقدام نه دی کړی. لس کلن اکبر او اته کلن سلیم (مستعار نومونه) دوه ورونه دي، دوی د مور او پلار له مړینې وروسته له دوو کلونو راهیسې ډېر دردناکه ژوند تېر کړی او اوس هم له بېلابېلو ستونزو سره مخ دي او له یوې نامعلومې راتلونکې سره مخ دي.

**د اکبر ادعا: زما مور يې په زهرو مړه کړه**

د کندوز ولايت دګورتيپې ولسوالۍ اوسېدونکي اکبر پژواک خبري اژانس ته د خپل ژوند غمجنه کيسه داسې وکړه: "پلار مې بزګر و، ډېره ځمکه مو درلوده هر څه به يې کرل او ښه ژوند مو درلود." هغه د پلار د مړينې په اړه وويل: "د پلار په ټول بدن مې داني راپورته شوې، ډېر سخت ناروغ و، روغ نه شو او مړ شو، د هغه له مړينې شپږ مياشتې وروسته مې يې مور ته زهر ورکړل او مړه شوه، موږ يوازې پاتې شو او کاکا مو له ځان سره بوتلو." اکبر چې له پژواک سره د خبرو پر مهال يې د خپل کوچني ورور لاس کلک نيولی و او هر لوري ته يې کتل، يوه شېبه چوپ شو او وروسته يې وويل، تره يې هم پر دوی مهرباني ونه کړه. هغه زياته کړه: "د تره (غلام مستعار نوم) په کورکې مو ډېرې سختۍ وليدې، تره به مې زه او ورور هره ورځ پر يو سيم وهلو، کله به يې سيخ ګرم کړ او زموږ لاسونه به يې را سوځول، چې خوښه به يې شوه ډوډۍ به يې راکوله او چې زړه به يې نه و ډوډۍ به يې نه راکوله، ډېرې لوږې به مو تېرولې، وروسته يې موږ له کوره وشړلو او زموږ هر څه يې واخيستل." نوموړي ماشوم په دې اړه چې چا يې مور ته زهر ورکړي؟ وويل: "نه پوهېږم چې چا زهر ورکړل، شپه تېره شوه چې له خوبه را ويښ شوو، ومو کتل چې مور مو شنه شوې، خېټه يې پړسېدلې او مړه شوې ده." اکبر زياته کړه، کله يې چې تره له کوره وشړل د اوسېدو ځای يې نه درلود، کلي ته نږدې يوې دښتې ته ولاړل، د ژړا په حال کې له يوه شپانه سره مخ شول. هغه زياته کړه: "کله مو چې شپون له کيسې خبر شو، ويې ويل، راځئ له ما سره ولاړ شئ، زه مو ساتم، ډېر خوشاله شوو او ولاړو، شپږ مياشتې د شپانه په کورکې وو او د کور ټول کارونه مو يې ترسره کول، رمه مو څروله خو له موږ څخه خوشاله نه و. ويل يې تاسو ډېره ډوډۍ خورئ، يوه ورځ به يې ډوډۍ راکوله، يوه ورځ نه او موږ به يې ډېر وهلو هم." نوموړي په دې اړه چې له کندوزه کابل ته څرنګه ورسېدل؟ وويل: "يوه ورځ شپانه راته وويل، راځئ رمه کابل ته د پلور لپاره بوځو، موږ دواړه يې راوستو او د لوبو لپاره يې يو يو موټر راته واخيست، د يوه دوکان مخې ته يې پرېښودو، موږ ته يې وويل رمه پلورم او بېرته راځم، خو بېرته راستون نه شو." وروسته له دې چې دغه شپانه دغه دوه ماشومان په کابل کې پرېښودل، له يو کس سره مخ شول او اوس له هغه سره ژوند کوي.

**يو پخواني پوليس سرتېرى: ماشومان حکومتي ارګان ته سپارم**

شمس الدين سالنګي چې څه موده يې د ملي پوليسو په ليکو کې دنده ترسره کړې ده، وايي چې دا دوه ماشومان يې د کابل ښار په قوای مرکز سيمه کې خپلې پوستې ته څېرمه وموندل؛ کله چې د هغوی د ژوند له قيصې خبر شو، زړه يې پرې وسو او د پوستې قوماندان ته يې وويل چې هغوی خپل کور ته بيايي، ساتنه او پالنه يې کوي.



هغه زياته کړه: "کله مې چې کور ته بوتلل، بدنونه يې خيرن وو او بد بوی يې کاوه، جامې يې زړې وې او رواني وضعيت يې هم سم نه و". هغه وويل: "اوسمهال سليم له ځان سره ساتم او اکبر يې له ترور سره چې زوی نه لري، ژوند کوي. زه او ترور مې ډېر زيار باسو، سبق ورښيو، کار پرې نه کوو، خو سليم له موږ سره له اوسېدو خوښ نه دی، زما خور ور سره درس لولي، يو ځل چې سبق يې زده نه و، په څپېړه يې وهلی و، دا هلک تللی و او پوليس يې په موږ پسې راوستي وو." خو سليم چې هېڅ خبرې يې نه کولې، په پرله پسې ډول ترې پوښتنه وشوه چې پوليس يې ولې راوستي وو؟ ايا له تاوتريخوالي سره مخ شوی، روښانه ځواب يې ورنه کړ.

نوموړي یوازې دومره وویل: "فاطمه ((د شمس الدین خور)) چې کله درس راکوي، که زده یې نه کړم، بیا مې وهي او ټکوي." سالنګۍ وویل چې کورنۍ یې د سلیم له غبرګون وروسته پرېکړه کړې ده چې دواړه وروڼه ونه ساتي، حیران دي چې کوم ارګان ته یې وسپاري.

**کمېسیون: د اکبر او سلیم قضیه د انساني قاچاق بڼه ده**

له انساني قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې عالي کمېسیون د سکرتریت غړي محمد حسن سلیمي پژواک ته وویل چې د دې قضیې په اړه بې خبره دی، خو تعقیب به یې کړي. هغه زیاته کړه: "په دې قضیه کې لومړی د دغو ماشومانو حقونه تر پښو لاندې شوي، له تاوتریخوالي سره مخ شوي او وروسته له هغه چې له کوره شړل شوي، شپون له دوی څخه ګټه اخیستې، په جبر درنو کارونو ته اړ ایستل شوي او کابل ته لېږدول شوي دي." نوموړي وویل چې د یادو ماشومانو په څېر په هېواد کې زیاتې داسې قضیې شته چې باید رسېدنه ورته وشي. هڅه مو وکړه چې د اکبر او سلیم له تره غلام سره په دې اړه خبرې وکړو، خو نوموړی د طالبانو تر واک لاندې سیمه کې ژوند کوي او اړیکه نیول ورسره اسانه نه دي. د دې قضیې په تړاو د ګورتېپې ولسوال محمدنبي پژواک ته وویل چې د دې ولسوالۍ ډېری سیمې د وسله والو طالبانو په ولکه کې دي. هغه زیاته کړه: "د ماشومانو موضوع چې تاسو یاده کړه، هغه سیمې د طالبانو تر کنټرول لاندې دي او کومې پېښې چې په دې سیمو کې رامنځته کېږي، طالبانو ته راجع کېږي او دغو ماشومانو تر اوسه موږ ته مراجعه نه ده کړې؛ کله چې موږ ته عارض شي، موږ دا موضوع په جدي ډول څېړو".

**طالبان: د اکبر او سلیم قضیه له نږدې څېړو**

د طالبانوویاند ذبیح الله مجاهد پژواک ته وویل که غلام دا ډول جنایت ترسره کړی وي، باید ځواب یې ووایي. نوموړي زیاته کړه چې طالبان دا موضوع په جدي ډول څېړي او هغه به محکمې ته وسپاري، څو یې په اړه پرېکړه وکړي.

**قانون په دې اړه څه وایي؟**

د کډوالو او انساني قاچاق قانون د درېیمې مادې په لومړۍ فقره کې راغلي چې د مجبوریت او تاوان منلې پر مهال د ګټې اخیستنې لپاره د چل، دوکې او ډار له لارې د یو کس لېږد، وړل راوړل یا د هغو جذب (تر واک لاس لاندې راوستل) انساني قاچاق بلل کېږي. د مادې په بله برخه کې راغلي، د ناوړه ګټه اخیستو په موخه د ماشوم تر واک لاندې راوستل هم انساني قاچاق دی. د یاد قانون په لسمه ماده کې راغلي، که د انساني قاچاق په قضیه کې د ښځې یا ماشوم پر وړاندې جرم ترسره شوی وي، مجرم ته اته کاله د بند سزا ورکول کېږي.
دغه راز د افغانستان د کار قانون په دیارلسمه ماده کې راغلي چې له ۱۸ کلونو په کم عمر کې د ماشومانو روغتیا ته مضر، د فزیکي ودې د مخنیوي او معلولیت رامنځته کوونکي کارونه منعه دي. په دې ماده کې د سپکو کارونو په برخه کې د کارکوونکو عمر ۱۵ کاله او د کار زده کوونکو عمر ۱۴ کاله په نظر کې نیول شوی دی.
په ورته وخت کې د افغانستان د اساسي قانون په ۴۹مه ماده کې راغلي چې پر ماشومانو په زور کار جواز نه لري. د یادونې ده، اقتصادي ستونزې، د امنیت نه شتون، له قوانینو بې خبري، د دولت او همکارو بنسټونو له لوري د دوامداره ملاتړ نه شتون، فقر او بېوزلي او کډوالي د دې ډول پېښو رامنځته کېدو لامل ګرځي.

## ۱۶- پورنوګرافي (د غیر اخلاقي انځورونو او ویډیوګانو جوړول)

پورنوګرافي اصلاً د غیر اخلاقي یعنې بربنډو انځورونو او ویډیوګانو جوړولو ته وایي او له هغو پورنوګرافیکي وسایلو څخه عبارت ده چې د شخص د جنسي عمل څرګند حالت په واقعي انځورونو او ویډیوګانو کې وښیي. د پورنوګرافي جرم د ځان یا بل لپاره یا د سایبر (مجازي) په فضا کې د خپرولو په منظور د پورنوګرافي تولید، د سایبر د فضا له لارې د پورنوګرافي چمتو کول، د سایبر په فضا کې د پورنوګرافي خپرول، په کمپیوټري سیستم یا د معلوماتو د زېرمه کولو په وسیله کې د پورنوګرافي ساتلو ته وایي.

د پورنوګرافي نشر عبارت دی له وېش، خپرولو، وړاندې کولو، ښودلو، تبادلې، پلور، پېر، د پلور لپاره عرضه یا له هرې بلې لارې وړاندې کول.

د جزا کوډ د ۸۷۴یمې مادې له مخې، د پورنوګرافي د جرم مرتکب تر دوو کلونو پورې پر منځني حبس یا له شپېتو زرو څخه تر یو سلو شلو زرو افغانیو پورې پر نغدي جزا محکومېږي خو که چېرې د پورنوګرافي له خپرولو او نشر څخه موخه جنسي فعالیتونو ته د ماشوم هڅول وي، مرتکب د منځني حبس پر اکثر حد او یا پوره یو سل او شل زره افغانیو نغدي جریمه، محکومېږي.

د ښځې پر وړاندې د تاوتریخوالي د منعې قانون د ۱۹مې مادې له مخې، هغه شخص چې د جنسي تېري او په فحشا د اجبار جرمونو د مجني علیها هویت ضبط او ثبت یا یې د قانون له حکم پرته افشا کړي، په داسې توګه چې شخصیت ته یې زیان ورسوي، له احوالو سره سم پر منځني بند چې له درېیو کلونو لږ نه وي، محکومېږي.

د غیر اخلاقي انځورونو او ویډیوګانو جوړولو په اړه د پژواک راپور:

### ملا لنډي د لسګونو ښځو غیر اخلاقي ویډیوګانې جوړې کړې دي



*قطب الدین کوهی- Sep 13, 2018*

میمنه (پژواک، ۲۲ وږی۹۷): په تولنیز رسنیو کې د تعویذ لیکونکي ملا لنډي هغه غیر اخلاقي ویډیوګانې خپرې شوې چې هغه ځینې ساده ښځې په دوکې او فریب سره غولولې او ورسره غیر اخلاقي کړنې یې ترسره کړې دي. بلخوا د فاریاب د علماوو شورا، ولایتي شورا او عامو خلکو د نوموړي تعویذ لیکونکي پر ضد کلک غبرګونونه ښودلي او د هغه د اشد مجازات غوښتنه یې کړې ده. د فاریاب د علماوو شورا مرستیال مولوي غلام نبي غفوري پژواک خبري اژانس ته وویل چې یاد تعویذګر کوډګر دی، د یو شمیر کورنیو او ساده ښځو د غولولو او د پیسو لاسته راوړلو لپاره یې غیر اخلاقي فلمونه جوړ کړي دي.
هغه زیاته کړه، چې دغه کوډګر یوه موده په مزار شریف او ترکیه کې هم دغه ډول غیر اخلاقي کړنې کړې، د ښځو له حیثیت سره یې لوبې کړي، ویډیوګانې یې جوړې کړي او بیا یې دا فلمونه او ویډیوګانې فاریاب ته راوړي او له

دې ځایه یې یادې میرمنې او کورنۍ یې ګواښل څو پیسې ترې ترلاسه کړي. مولوي غفوري وایي: "نن راته یوه دولتي چارواکي وویل چې یاد تعویذ لیکونکي کوډګر د ترکیې په یوه بانک کې یو نیم میلیون افغانۍ لري او له هغو کورنیو څخه یې ترلاسه کړي چې جنسي اړیکې یې له ګړو سره ترسره کړي، فلمونه ثبت کړي." د فاریاب د علماوو شورا مرستیال وویل چې دغه کوډګر او چلباز دوه ستر جنایتونه ترسره کړي، زنا یې کړې او بیا یې د هغوی فلمونه اخیستي چې وروسته بیا په ټولنیزو شبکو کې خپاره شوي او د ګڼ شمیر کورنیو حیثیت یې په ټولنه کې تر پښو لاندې کړې دي. نوموړي د یاد کوډګر رسول د نیولو او سنګسارولو غوښتنه وکړه. مولوي غفور زیاته کړه چې له دې موضوع څخه دوه اونۍ مخکې خبر شو، د علماوو شورا د مشرانو او ګړو په ګډون سلو کسانو سره والي او د ملي امنیت رییس خواته ولاړل او د رسول کوډګر د نیولو غوښتنه یې وکړه، خو تر اوسه د هغه د نیولو په اړه کوم اقدام نه دی شوی. د هغه په وینا، اوس دغه زناکار او خاین انسان په پښتونکوټ ولسوالۍ کې د سیمه ییزو پولیسو یا پاڅونوالو د یو قوماندان عظیم تر واک لاندې ساحه کې میشت دی او د هغه ملاتړ لري  او وسله وال شوی هم دی. د علماوو شورا مرستیال وویل، د ملي امنیت ریاست په دې بهانه چې د هغه د طالبانو پر ضد جنګېږي له نیولو یې ډډه کوي. نوموړي ګواښ وکړ چې د رسول کوډګر دغه کړنه د فاریاب خلکو لپاره پیغور دی که حکومت یې نه نیسي نو خلک به ددولت له ملاتړ څخه لاس په سر شی. د فاریاب د ولایتي شورا مرستیال صبغت الله سیلاب بیا وایي چې د یاد کوډګر خپاره شوي فلمونه څلورکاله پخوانۍ دي. هغه پژواک ته وویل، د هغه اصلي نوم رسول لنډۍ دی، یو فاسد، بد اخلاقه انسان دی چې د شخصي ګټو او پیسو ترلاسه کولو لپاره یې د نورو کورنیو ښځې یې رسوا کړې دي. سیلاب وایي، وروسته له هغه چې د رسول لنډي کړنې افشا شوې هغه له فاریاب څخه وتښتید، ترکیې ته ولاړ، خو څو میاشتې مخکې بیرته راستون شوی، خو هغه موبایل یې ورک شوی و چې په کې د بد اخلاقی ویډیوګانې ساتلې وې. د هغه په وینا، دغه ویډیوګانې بیا د ټولنیزو شبکو د مستعارو ادرسونو څخه خپرېږي. هغه زیاته کړه چې د فاریاب والي له یو شمیر امنیتي مسوولینو سره پرون پښتونکوټ ولسوالۍ ته تللی، څو رسول لنډۍ ونیسي، خو هغه پټ شوی و. د ولایتي شورا مرستیال وایي، امنیتي او کشفي ارګانونو په یادې ولسوالۍ کې د سیمه ییزو پولیسو قوماندان عظیم ته لارښوونه کړې چې ژر تر ژره یاد کوډګر ونیسي او دقانون منګولو ته یې وسپاري. بلخوا دفاریاب ولایت یو شمیر اوسیدونکي هم له حکومت څخه د رسول کوډګر د نیولو او د سختې سزا ورکولو غوښتنه کوي. دوی له خلکو غوښتنه کړې چې د نوموړي په اړه معلومات له امنیتي ارګانونو سره شریک کړي. د پښتونکوټ ولسوالۍ یو تن اوسیدونکی چې له ویرې خپل نوم پټ ساتي، پژواک ته وویل: "درې ورځې مخکې مې رسول کوډګر په یوه باغ کې ولیدل، ما ورته وویل چې په ټولنیزو شبکو کې ډیر مشهور شوی یې، هغه ویل چې د ویډیو په اخیستلو ترې تیروتنه شوې، اوس یې کاروبار خراب شوی، ګڼې هره ورځ یې تر شپږ زره افغانیو یې عاید درلوده." خو په یاده ولسوالۍ کې د سیمه ییزو پولیسو قوماندان محمد عظیم وایي چې رسول کوډګر پخوا له خپل پلار نعیم چریک سره چې په سیمه کې د پاڅونوالو قوماندان و، اوسیده، وروسته ترکیې ته ولاړ، خو دوه میاشتې مخکې بیرته راغلی او د سیمه ییزو پولیسو په څنګ کې له طالبانو سره جنګېږي. هغه پژواک ته وویل چې د رسول کوډګر له ناوړه او غیر اخلاقي کړنو خبر نه و، دوه ورځې مخکې د فیسبوک له لارې خبر شو چې هغه غیر اخلاقي کړنې ترسره کړې. ده زیاته کړه : "پرون مې هڅه وکړه چې هغه ونیسم او د قانون منګولو ته یې وسپارم، خو نن سهار یې خپله وسله قرارګاه کې ایښې وه او نامعلوم لوري ته تښتیدلی دی، خو هغه تر تعقیب لاندې او ډیر ژر به ونیول شي." د دغه تعویذګر او کوډګر ویډیوګانې او فلمونه په ټولنیزو شبکو کې ډیر خپاره شوي او د خلکو کلک غبرګونونه یې راپارولي دي.

## ۱۷- د سوال کولو سازمان شوی ډول

د نړۍ نړدې په ډېرو وروسته پاتې هېوادونو کې د سوال کولو لپاره په سازمان شوي ډول ښځې او ماشومان ګومارل کېږي خو په مقابل کې ښځې او ماشومانو ته بیا یوازې د شپې د خوب ځای او دوه وخته ډوډۍ ورکول کېږي. دغه راز یو شمېر کورنۍ خپل کوچني ماشومان په زور خیرات غوښتلو ته اړ کوي او اندازه ورته ټاکي چې د شپې کور ته په راتلو سره باید دوه سوه افغانۍ له ځان سره ولري؛ که دغه ماشوم ټاکلی هدف پوره نه کړي، نو بیا د کور مشران ورته په کور کې د شپې تېرولو اجازه نه ورکوي، بالاخره دغه ماشومان اړ کېږي چې شپه بهر د سړک پر سر تېره کړي چې له امله یې ماشوم ډېری وخت له جنسي ځورونې سره مخ کېږي، په راتلونکي کې ټولنې ته سرخوږی جوړوي او حتا ځیني وخت له انساني قاچاق سره مخ کېږي.

د سوال کولو سازمان شوې ډول په اړه د پژواک او د ازادو رسنیو مشارکت راپور:

**په سوالګرۍ کې له کرایي ماشومانو ګټه اخیستل کېږي**




*کرشمه فخري - Jan 03, 2014*

کابل (پژواک، ١٤ مرغومی ٩٢): په کابل کې د سوالګرو ډېروالی پر یوه پېچلې ټولنیزه ستونزه بدله شوې او په دغه کار کې له ماشومانو استفادې سوالګري نوره هم پراخه کړې ده او اندېښنې یې را ولاړې کړې دي. د پژواک او ازادو رسنیو مشارکت موندنې ښیي چې په کابل ښار کې ځیني سوالګر، ماشومان کرایه کوي او بیا تریاک پرې خوري، څو د سوالګرۍ پر مهال ارام وي. سوالګر دغه کار ځکه کوي چې د سوالګرۍ پر مهال د ماشومانو د محرومیت په ښودلو سره د خلکو پام ځان ته واړوي او په دې توګه ډېرې پیسې ترلاسه کړي.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د معلوماتو له مخې، اوسمهال په افغانستان کې نږدې ٦٠زره ماشومان پر نشه یي توکو روږدي دي چې لوی عامل یې په سوالګرۍ کې له ماشومانو ګټه اخیستنه او ورته د نشه یي توکو ورکول دي. همدارنګه دغه موندنې ښیي چې پر کورنیو سوالګرو سربېره په کابل کې د ګرمۍ په موسم کې د پاکستاني سوالګرو شتون هم خلک اندېښمن کړي او د بانډونو له خوا د سوالګرو کارولو په اړه شکونه ورته پیدا شوي دي. پاکستاني سوالګر د وروستیو درېیو کلونو په اوږدو کې په کابل کې زیات شوي او د ګرمۍ په

موسم کې د هېواد په ځينو نورو لويو ښارونو کې هم ليدل کېږي. سوالګر د کابل ښار په ټولو سيمو کې په داسې حال کې ليدل کېږي چې په ۱۳۸۷ لمريز کال کې د ولسمشر د يوه حکم له مخې سوالګري ممنوع شوه او د سوالګرو د ټولولو لپاره يو کمېسيون هم وګومارل شو، خو د ځينو عواملو له مخې له ناکامۍ سره مخ شو.

**له ماشومانو د وسيلې په توګه کار اخيستل**

يوه څلوېښت کلنه مېرمن چې خپل ځان د فريبا په نوم را پېژني او د کابل ښار د لومړۍ ناحيې د ګذر قاضي سيمې اوسېدونکې ده، وايي چې له تېرو ۱۲ کلونو راهيسې په کابل کې سوالګري کوي او د سوالګرۍ پر مهال خپلو اولادونو ته نشه يي توکي ورکوي. هغې زياته کړه چې له دې لارې هره ورځ ۳۰۰ افغانۍ عايد لري. فريبا چې خپله هم پر نشه يي توکو روږدې ده، وايي: "مخکې له دې چې د سوالګرۍ لپاره سړکونو ته ووځم، خپلو ماشومانو ته د دې لپاره د نيم نخود په اندازه ترياک ورکوم چې ويده شي، خو خپله يې په ګاز دودوم؛ هغوی هم د ساعتونو لپاره ويده وي، کله يې د وېښولو لپاره پر مخ اوبه اچوم او يا يې ور څښم؛ کله په عادي حالت کې بيدارېږي او کله يې بيا خوا ګرځي."

د فريبا د دغه عمل دوام د هغې اولادونه هم پر نشه يي توکو روږدي کړي دي. هغې زياته کړه: "کومه ورځ مې چې اولادونو ته ترياک ونه رسېږي، نو ژاړي، خوب نه ورځي، خپل سر په څپېړو وهي او وايي چې ېښې او لاسونه يې درد کوي، خو بيا چې ترياک ورکړم، نو په ارامۍ سره يې خوب وړي." فريبا ۸ اولادونه لري چې له يوه کال څخه تر ۱۷ کلونو پورې عمرونه لري. د دې په خبره، ټول اته اولادونه يې په سوالګرۍ لوی کړي او ځکه په عادي بڼه وده نه کوي چې ټول معتاد دي. هغې زياته کړه چې يو يا دوه ماشومان يې له ځان سره سوالګرۍ ته وړي او نور يې د ۱۷ کلنې لور په ګډون په کور کې وي. هغې وويل چې خاوند يې هم پر نشه يي توکو روږدی دی او کار نه شي کولی.

فريبا د سوالګرو ښځو د هغې ۱۵ کسيزې ډلې غړې ده چې په وينا يې ټولې واټونو ته په ځانګړې ډول باغ قاضي ته د سوالګرۍ لپاره ځي او ماشومانو ته يې ترياک ورکوي. خو ۳۵ کلنه کريمه بيا نه يواځې چې پر ماشومانو يې ترياک خوري، بلکې هغوی په کرايه هم ورکوي. هغه چې له اتو مياشتو تر ۱٤ کلونو عمر لرونکو اولادونو يې په سوالګرۍ کې کار اخلي، وايي: "زه په کور کې پېرکي پخوم، يو زوی مې هغه پلوري، خو که چېرې کومه ورځ ونه پلورل شي، نو زه مې خپل دوه يا درې اولادونه د سوال کولو لپاره راسره سړکونو، په ځانګړې ډول د عاشقانو او عارفانو زيارت او پل خشتي جومات ته څېرمه سيمې ته وړم. خاوند مې وزګار او پر نشه يي توکو روږدی دی."

کريمې زياته کړه: "موږ په دې سيمه کې ١٤ ښځې يو، کله چې بهر ته سوالګرۍ ته ځو، نو زه مې يو زوی له ځان سره اخلم او اته کلنه لور او يو نيم کلن زوی مې يوې بلې ښځې ته چې اولاد نه لري، په کرايه ورکوم او هغوی ماښام راټولې کړې پيسې او جامې راسره نيمايي کوي." دې مېرمنې وويل چې هره ورځ يواځې دا ٤٠٠ افغانۍ عايد لري او يوه اندازه پيسې د اولادونو له کرايې څخه په لاس راوړي. هغې زياته کړه: "کله چې سوالګرۍ ته بهر ته ځم، نو اولادونو ته مې يوه اندازه ترياک ورکوم چې په خوړلو سره يې په ساعتونو ساعتونو ويده کېږي، يخني او ګرمي پرې تاثير نه کوي او کور ته تر راستنېدو ويده وي."

کريمه چې له تېرو اوو کلونو راهيسې په کابل کې سوال کوي، وايي: "اولادونه مې له مجبوريته له ځان سره سوالګرۍ ته وړم؛ ځکه له دوی پرته څوک راسره مرسته نه کوي، کله چې ماشوم ويني نو پنځه ګون يا دوه ګون راکوي." د دې په وينا، پر نشه يي توکو روږدي کېدل د دې لامل شو چې ټول اولادونه يې له ښوونځي پاتې شي.

له پنځو کلونو تر ۲۸ کلونو عمر لرونکو اولادونو مور زینب چې له تېرو ۱۳ کلونو راهیسې په بېلابېلو نشه یي توکو روږدې ده، له تېرو ۹ کلونو راهیسې په کابل کې سوالګري کوي. دا هم د هغو کسانو له ډلې ده چې خپل اولادونه د سوالګرۍ لپاره په کرایه ورکوي.

زینب بېوزلي او کړوالي پر نشه یي توکو د خپلې روږدېدنې اصلي لاملونه بولي او وايي: "مېړه مې بېکاره دی، دوه لویان اولادونه مې را څخه بېل دي، له پنځو اولادونو سره ژوند کوم، کله چې نږدې ۹ کاله وړاندې له پاکستان راستانه شوو، نو تر اوسه سوالګري کوم، یواځې درې اولادونه مې (۵، ۷ او ۹ کلن) روږدي دي."

زینب وايي چې خپلو درېیو کوچنیو ماشومانو ته یې له هغه وخت څخه تریاک ورکوي او په سوالګرۍ کې ترې ګټه اخلي چې د شپږو میاشتو وو. هغې زیاته کړه: "کله چې سوالګرۍ ته ځم، نو دوی ته تریاک ورکوم چې یو له ماسره وي او دوه نور یې نورو ته په کرایه ورکوم چې نیم عاید یې په کرایه کې ترې اخلم، کشر اولاد مې له ما سره وي او لویان یې نورو ته ورکوم." هغې څرګنده کړه چې هره ورځ له دې لارې ۵۰۰ افغانۍ عاید لري او د اولادونو له کرایې څخه هم یوه اندازه پیسې ترلاسه کوي. زینب وویل: "د ماشومانو له امله راسره مرسته کېږي، که هغوی نه وي نو څوک راسره مرسته نه کوي."

### د رسمي سرچینو پخلی

د کابل امنیه قوماندان پاسوال محمد ظاهر تاییدوي چې ځیني سوالګر خپل ماشومان د تریاکو او نورو درملو په وسیله نشه کوي. ده د جزئیاتو له ورکولو پرته وویل چې پر دې موضوع کار دوام لري؛ په تېر کې هم په دې اړه کار شوی او په راتلونکي کې به هم وشي. هغه زیاته کړه: "هره ورځ، هر مازدیګر او هره شپه هغوی را ټولوو، خو بیا هم هغه وخت راوځي چې فرصت وي او خلوت ځایونه پیدا کوي. په دې اړه موږ پرېکنده چلند کوو." د کابل امنیه قوماندان په دې اړه نور معلومات ورنه کړل.

په کابل کې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د سیمه ییز دفتر د ماشومانو له حقونو د ملاتړ څانګې مرستیال بلال صدیقي په هېواد کې د ماشومانو د وضعیت په اړه د اندېښنې په څرګندولو سره وویل چې له ماشومانو کار اخیستل او سوالګرۍ ته هڅول په افغانستان کې پر یوې معمولي چاره بدله شوې. د ده په خبره، له ماشومانو دا ډول کار اخیستنه، د ماشومانو د شخصیت وژنې لامل کېږي او ډېر رواني زیانونه ورته اړوي.

هغه زیاته کړه: "د سوالګرۍ د مخنیوي کمېسیون له خوا د سوالګرو ټولولو پر مهال له داسې سوالګرو په ځانګړي ډول ماشومانو سره مخ شوي یو چې ویل یې ځینو افرادو په زور سوال کولو ته اړ ایستلي دي." ده د ماشومانو په کرایه ورکول تایید کړل او ویې ویل: "د سوالګرو ماشومانو په منځ کې ډېر داسې موارد شته چې ماشوم عملاً پېرل شوی او پلورل شوی، له لارې یې پیسې ترلاسه شوې او یا دا چې د ماشومانو کورنۍ بېوزلې دي، یا کار نه شي کولی او یا حرفوي کسان دي چې ماشومان پېري او د یوې اغېزناکې اقتصادي وسیلې په توګه ترې کار اخلي."

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون کې د ماشومانو له حقونو د ملاتړ څانګې همغږۍ کوونکی نجیب الله ببرکزی وايي: "ماشومانو ته د نشه یي توکو ورکول ثابت شوي دي؛ ځکه دا څنګه امکان لري چې یو ماشوم د سهار له اتو نه د مازدیګر تر څلورو بجو ویده شي، یواځې تنفس دې کوي او هیڅ حرکت دې نه لري. دغه کار واقعاً جرم دی، کمېسیون په بیا بیا د ماشوم ساتنې شبکې په ناستو کې خپلې اندېښنې د سوالګرو ماشومانو په اړه له کار او ټولنیزو چارو وزارت سره شریکې کړې دي، خو ډېره کمه پاملرنه یې کړې ده." ببرکزي سوالګر پر څو ډلو ووېشل او زیاته یې کړه: "ځیني په رښتیا هم اړ دي او کورنیو یې له ډېرې ناچارۍ سوالګرۍ ته اړ ایستلي دي. دویمه ډله موسمي دي چې یو شمېر یې له مشرانو سره په یخنۍ کې ګرمو ځایونو او په ګرمیو کې یخو ځایونو ته ځي او ماشومانو ته

نشه يي توکي ورکوي، څو د خلکو ترحم جلب کړي؛ درېيمه ډله بيا خپل ماشومان نورو ته په کرايه ورکوي او سوالګر دغه ماشومان تر ماښامه له ځان سره ساتي."

له بلې خوا د افغاني سرې مياشتې ټولنې د مرستونونو امر محمدظاهر کوشان وايي چې له کابل ښار څخه د سوالګرو ټولولو پر مهال له ګڼو داسې ماشومانو سره مخ شوی چې د سوالګرو له خوا ترياک ورکړل شوي دي. هغه زياته کړه: "حتی داسې موارد هم وو چې پر بنداژونو تړل شوي ماشومان مو ليدلي، موږ هڅه کوله چې دا ماشومان روغتونونو ته يوسو، خو هغه مېرمنې چې په غېږ کې يې ماشوم و، اجازه نه ورکوله، کله مو چې په ډېر ټينګار د ماشوم لاس خلاص کړ، نو معلومه به شوه چې لاس يې هېڅ ستونزه نه درلوده." که څه هم د هغو ماشومانو کره شمېر نه دی څرګند چې د سوالګرو له خوا نشه يي توکي ورکول کېږي او په سوالګرۍ کې ترې کار اخيستل کېږي خو د بشري حقونو کمېسيون د معلوماتو مخې، اوسمهال ٦٠زره ماشومان په افغانستان کې پر نشه يي توکو روږدي دي. د سرچينې د معلوماتو له مخې، په سوالګرۍ کې له ماشومانو استفاده کول او ورباندې د نشه يي توکو خوړل، د روږدي کېدو له عواملو څخه يو لامل دی.

دا مهال د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت دنده لري چې د سوالګرو د ستونزو حل ته پاملرنه وکړي خو د دغه وزارت مرستيال واصل نور مهمند وايي: "تر اوسه موږ کره معلومات نه لرو چې ووايو څومره ماشومان سوال کوي او يا څومره پر نشه يي توکو روږدي دي، دا ټول يوه اوازه ده." د وسيلې په توګه د ماشومانو کارونه په داسې حال کې ده چې د افغانستان دولت ژمنه کړې چې د ماشومانو د حقونو کنوانسيون به پلي کوي او د دغه کنوانسيون له مخې له ماشومانو ناوړه استفاده د هغوی له حقونو څرګنده سرغړونه ده.

**بهرني سوالګر**

د ازادو رسنيو مشارکت موندنې ښيي چې په کابل کې لږ تر لږه د يوه سوالګر د ورځني عايد منځنۍ کچه شاوخوا ٤٠٠ افغانۍ ده او دغه کار د بهرنيو او کورنيو سوالګرو د ډېرېدو لامل شوی دی. دا په داسې حال کې ده چې په کابل کې د يوه کارګر ورځنی مزد له ٣٠٠ څخه تر ٣٥٠٠ افغانيو دی.

د ازادو رسنيو مشارکت څېړنې څرګندوي چې ډېری بهرني سوالګر معيوب او معلول ماشومان او ښځې دي چې د ګرمۍ په موسم کې کابل ته راځي. دا ډول سوالګر د کابل په له ګڼې ګوڼې ډکو ساحو کې ليدل کېږي. د سکينې په نوم يوې پاکستانۍ سوالګرې چې له بلوچستان څخه کابل ته راغلې او په دري هم په ډېرې سختۍ خبرې کوي، وويل چې اقتصادي ستونزې لري او د خپلې کورنۍ له څلورو غړو سره د سوالګرۍ لپاره کابل ته راغلې. سکينه چې د کوټه سنګي په چوک کې سوالګري کوي، وايي: "عايد مو ښه دی، په کمپنۍ کې ژوند کوو، په ژمي کې بېرته بلوچستان ته ځو. " هغې زياتې خبرې ونه کړې او ويې ويل چې په دري او پښتو ژبو نورې خبرې نه شي کولی.

د فاروق په نوم يوه بل پاکستاني سوالګر چې په وينا يې د پاکستان د سند ايالت استوګن دی، وويل: "نه ډوډۍ لرم نه کور، دلته د سوالګرۍ لپاره راغلی يم." فاروق چې په لاس او پښه معيوب دی، په دې اړه چې کابل ته چا راوستی؟ څه ونه ويل، خو ګڼ کابل ښاريان د ازادو رسنيو له مشارکت سره په خبرو کې د بهرنيو سوالګرو پر ډېرېدو اندېښنه ښودلې او ويلي يې دي چې دغه سوالګر ټول د مشخصو ډلو له خوا د پيسو ټولولو لپاره کابل ته راوستل شوي دي.

د مريم لېسې بازار يوه هټۍ وال محمد داوود له دغو سوالګرو د شکايت په ترڅ کې وويل: "دوی ټول يو باند دي چې سهار په موټر کې راځي او تر ماخوستن او د شپې تر ناوخته پورې په همدغه بازار کې سوالګري کوي، وروسته بيا د خيرخانې مېنې په خشت اختيف سيمه کې په لس کسيزو او پنځلس کسيزو ډلو کې ټولېږي او په

موټرو کې د استوګنې ځای ته لیږدول کیږي. زما په نظر حوزه او ناحیه هم له دوی څخه حق اخلي، که نه نو خپله پولیس مسوول دي او باید هغوی را ټول کړي."

د کابل ښار د ده افغانانو په سیمه کې یو پولیس چارواکي چې نه یې غوښتل نوم یې په راپور کې ولیکل شي، هم د بهرنیو سوالګرو په اړه وویل: "دوی ټول تجارتي دي، شمېر یې معلوم نه دی، د ښار په هره برخه کې لیدل کیږي، ما سل ځلې له دې ځایه لرې کړي، خو بېرته راځي." دغه راز د مریم لېسې په سیمه کې یوه افغان معلول سوالګر خواجه میر وویل: "دا سوالګر په پاکستان کې تنخوا لري، له دوی څخه یوه ما ته وویل چې دوی په پېښور کې د میاشتې ۱۵زره کلدارې تنخوا لري، د شرکتونو له خوا دلته راوړل کیږي، دلته ترلاسه کړې پیسې هماغه شرکتونو ته ورکوي."

له بلې خوا د کابل ښار د مکروریانو په مارکېټ کې د لاسي توکو پلورونکي سیدمحمد وویل چې د ګرمۍ په موسم کې یې هره ورځ تر سلو زیات پاکستاني سوالګر لیدل. هغه زیاته کړه: "دوی په بېلابېلو بڼو راځي، پر خپل سر خرما وهي، بیا پرې پایودین وهي، دلته راځي، ځیني یې په بربنډه او معیوبه بڼه راځي... دوی ټول تجارتي دي او دولت هم په دې برخه کې کار نه کوي."

د مکروریان مارکېټ یو ترکاري پلورونکی وحید هم د بهرنیو سوالګرو په اړه وایي: "په خپلو سترګو مې لیدلي چې کاسټر موټر هر سهار هغوی راوړي، په بي بي مهرو کې یې ښکته کوي او د شپې په اتو بجو له دېرشو تر څلوېښتو پورې سوالګر، د جنګي کلا له دېوالونو سره را ټولیږي او بیا موټر راځي او هغوی وړي." دغه راز د مدني ټولنې غړي محمدانور میدانوال وویل: "دولت باید دا تفکیک کړي چې څوک واقعي سوالګر او څوک د نورو لپاره کار کوي؟ که کار کوي چې باید وپلټل شي او د قانون منګولو ته وسپارل شي، دا خپله د دولت د نوم بدۍ لامل ګرځي، د افغانانو ابرو او حیثیت ته زیان رسوي." نوموړی له حکومت څخه غواړي چې دې موضوع ته پاملرنه وکړي او په ښار کې د بهرنیو سوالګرو مخه ونیسي.

**په سازمان شوې بڼه راوستل شوي سوالګر**

که څه هم حکومتي چارواکي دا مني چې یاد سوالګر د ځینو استفاده کوونکو ډلو له خوا په سازمان شوې بڼه افغانستان ته راوستل کیږي، خو د دې ستونزې د حل لپاره مشخصه کړنلاره نه لري. د ملي امنیت ریاست د بریښنالیک له لارې د ازادو رسنیو مشارکت ته لیکلي: "پاکستاني سوالګر لکه څرنګه یې چې له فزیکي وضعیت څخه څرګندیږي، په خپله نه، بلکې د ځینو کسانو او استفاده کوونکو ډلو له خوا افغانستان ته راوستل شوي او ناوړه ګټه ترې اخیستل کیږي. په دې اړه چې کېدای شي هغوی د ځینو بهرنیو ادارو لپاره د جاسوسانو په توګه وکارول شي، د افغانستان ملي امنیت تر اوسه داسې مدارک په واک کې نه لري، خو له احتمال څخه لرې نه ده چې دغه سازمانونه له دې معلولو او معیوبو کسانو څخه د وسیلې په توګه کار واخلي."

د کابل امنیه قوماندان پاسوال محمدظاهر وویل چې ډېری بهرني سوالګر د پیسو پیدا کولو لپاره په قانوني ډول افغانستان ته راځي. هغه زیاته کړه: "د کابل پولیس هغوی په چټکۍ سره را ټولوي او خپل هېواد ته یې استوي، دغه کار په پرله پسې ډول دوام لري، خو له بده مرغه چې زموږ کونسلګرۍ اړې دي چې د نړیوالو اړیکو پر بنسټ هغوی ته ویزې ورکړي، هغوی په ویزه دلته راځي او سوالګري کوي."

د کابل امنیه قوماندان هم وویل، تر اوسه داسې سند په لاس کې نه لري چې د سیمې هېوادونو له استخباراتي سازمانونو سره د دې سوالګرو اړیکه ثابته کړي، خو د دې پخلی کوي چې هغوی په سازمان شوې بڼه هېواد ته راځي. ده د جزئیاتو له ورکولو پرته وویل: "دې سوالګرو ته په پټه ځیني ځانګړي کورونه نیول کیږي، د شپې هلته

وي او د ورځې له خوا په سړکونو کې سوال کوي، پيسې ټولوي او بېرته خپل استوګنځي ته ځي. دا واقعاً يو جرم دی... زيات شمېر يې نيول شوي او ايستل شوي دي، له دې وروسته به هم نيول کېږي او شړل کېږي."

امنيه قوماندان زياته کړه، د دې قضيې تر شا د پاکستانيانو او ځينو استفاده کوونکو کسانو لاس دی چې دغو سوالګرو ته پاسپورټ او ويزه ورکوي. دا په داسې حال کې ده چې په ۱۳۸۷لمريز کال کې د ولسمشر حامد کرزي د حکم پر بنسټ چې د سوالګرۍ د منعې کولو په اړه يې صادر کړی و، په دې اړه له ۱۳ ادارو څخه يو کمېسيون جوړ شو، څو سوالګر را ټول او له پېژندلو وروسته يې ستونزو ته لاسرسی وشي. په دغه کمېسيون کې افغاني سره مياشت، د کار او ټولنيزو چارو وزارت، د عامې روغتيا وزارت، د بشري حقونو خپلواک کمېسيون او ځينې نورې ادارې شاملې دي. کمېسيون به حرفوي سوالګر له ضمانت وروسته خوشي کول او اړو سوالګرو ته يې په مرستون کې د لوېست، سرپناه او معيشت زمينه برابروله.

په کابل کې د افغاني سرې مياشتې د مرستونونو امر محمدظاهر کوشان وويل چې دغه کمېسيون په بيا بيا پاکستاني سوالګر را ټول کړي او د پاکستان سفارت له تضمين وروسته يې بېرته خپل هېواد ته استولي دي. هغه زياته کړه: "د پاکستان سفارت څو ځلې، د دې هېواد اړوند سوالګرو ضمانت کړی، خو ځينو نورو يې يو ځل بيا په کابل کې سوالګرۍ ته مخه کړې ده."

د ازادو رسنيو مشارکت هڅه وکړه چې په دې اړه په کابل کې د پاکستان له سفارت سره خبرې وکړي، خو له پرله پسې اړيکو وروسته هم د دغه سفارت چارواکي خبرو ته حاضر نه شول.

**د ډېرو سوالګرو حرفوي والی**

د سوالګرو ټولولو کمېسيون غړي پر دې باور دي چې د کابل ښار له نوي سلنې ډېر سوالګر حرفوي دي. د کابل د مرستونونو امر محمدظاهر کوشان وويل: "هغه کسان چې په کابل ښار کې سوالګري کوي، له لسو يې يواځې يو واقعي سوالګر دی." د ده په خبره، د دغه کمېسيون له خوا د راټول شوو سوالګرو ۹۰ سلنه حاضر نه وو چې په مرستون کې وساتل شي او ځينو يې تېښته کوله. هغه زياته کړه: "هېڅ وخت هغه سوالګر چې واقعاً بېوزله وي او مرستون ته ور وپېژندل شي، د مرستون له دېوالونو څخه اوړي او تېښته نه کوي؛ ځکه چې ټولې اړتياوې يې دلته پوره کېږي؛ خو د سوالګرو ډېر يې د ضمانت ليک په وړاندې کولو سره خوشي کېدل چې يو شمېر يې خپلو کورونو ته تلل او ځينو نورو بيا بېرته سوالګرۍ ته مخه کوله."

د بشري حقونو خپلواک کمېسيون کارکوونکي او د سوالګرو ټولولو کمېسيون غړي بلال صديقي وويل: "کله چې سوالګر ټول او د تفکيک لپاره امن مرکزونو ته لېږدول کېدل، له بده مرغه پايله يې دا وه چې... له ۸۰ کسانو څخه نهايت دوه يې بېوزلي وو." له بلې خوا د سوالګرو ټولولو په کمېسيون کې د ښځو چارو وزارت استازې کريمې سالک وويل: "په سوالګرو کې يو شمېر مېرمنې وې چې د پغمان له ارغندۍ څخه د کور په کاليو کې راغلې وې، په ښار کې يې زړې جامې اغوښتې او د شاه دوشمشېره جومات په څنګ کې سوالګرۍ ته کېناستې، کله چې موږ ترې د سوال کولو د علت پوښتنه کوله، ويل يې چې د خور په کور کې مې ماشوم زېږېدلی، پيسې راسره نه وې چې تحفه ورته واخلم؛ نو ځکه مې سوالګرۍ ته مخه کړه."

د مېرمن سالک په وينا، د سوالګرو ټولولو په بهير کې ليدل شوي چې ځينو مېرمنو د سوالګرو په جامو کې ځوانې نجونې اخلاقي فساد ته سوق کولې او ځيني کسان هم د ژمي په اوږدو کې د کرنيزو کارونو د نه شتون په سبب کابل ته د سوال لپاره راتلل. هغې له ولايتونو څخه کابل ته د سوالګرو د راتګ په اړه زياته کړه: "يوه سپينږيري به ځيني ځوانان راټولول او کابل ته به راتلل، دلته به يې په څلور لارو کې سوالګري کوله."سالک، د "چلو" په نامه د ځينو کسانو يادونه وکړه او ويې ويل: "ډېری د چلو په نوم کسان چې د پاکستان او افغانستان تر منځ

سیمو کې ژوند کوي او تذکرې هم نه لري، په کابل کې سوالګري کوي؛ د چلو نارینه بزګش دي، په خپلو کورونو کې وي، مېرمنې یې سوالګري کوي، هغوی دا یوه غوره عایداتي سرچینه ګڼي."

**د سوالګرو ټولولو کمېسیون ناکامي**

د سوالګرو ټولولو کمېسیون د ولسمشر د دویم مرستیال محمد کریم خلیلي په مشرۍ چې سکرتریت یې د سرې میاشتې پر غاړه و، د ۱۳۸۸ لمریز کال له غویي میاشتې د ۱۳۹۰ لمریز کال تر لیندۍ میاشتې عمدتاً په کابل کې د سوالګرو ټولولو، پېژندنې او هغوی ته د رسېدنې په برخه کې کار وکړ، خو وروسته دا لړۍ ودرېده. د افغاني سرې میاشتې ټولنې د معلوماتو له مخې، په دې موده کې ٤٦٢٠ سوالګر راټول شول چې تر ۳٤۸ ډېر ماشومان وو او له دې ډلې ۵۳ ماشومان په روزنتونونو کې شامل شول او پاتې نور یې کورنیو ته وسپارل شول. خو د اړوندو ارګانونو د چارواکو په وینا، د بودجې کمښت، په دې اړه د مشخص قانون نشتوالی، د حکومتي چارواکو له خوا د سوالګرو ضمانت کول، سوالګرۍ ته د سوالګرو بېرته مخه کول او د مسوولو ارګانونو نه همکاري د دغه کمېسیون د ناکامۍ لاملونه دي.

**د بودجې نشتوالی**

د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت مرستیال واصل نور مهمند د یاد کمېسیون د کار د درېدو یو لامل د بودجې نه شتون بولي. ده وویل: "په پیل کې د مالیې وزارت سرې میاشتې ته ۲۰ میلیونه افغانۍ ورکړې وې، خو کله چې دا پیسې خلاصې شوې، مالیې وزارت نورې پیسې ورنه کړې او بالاخره سرې میاشتې هم د بودجې د کمښت له امله د سوالګرو ټولولو کار د ۱۳۹۰ لمریز کال په لیندۍ میاشت کې وځنډاوه. مالیې وزارت ویل چې دوی ځکه افغاني سرې میاشتې ته پیسې نه شي ورکولی چې دا یوه خپلواکه اداره ده او دوی ورځخه بېرته حساب نه شي اخیستی."

د مالیې وزارت ویاند عبدالقادر جیلاني په دې اړه وویل: "هره اداره چې بودجوي واحد وي، هغوی ته بودیجه ورکول کېږي، خو کله چې بودجوي واحد نه وي او کمېسیوني وي او په سکتوري وزارتونو پورې تړاو ولري، نو بیا کولی شي خپله بودجه هم له هماغه سکتوري وزارت ځخه واخلي." د افغاني سرې میاشتې ټولنه یوه ملي خپلواکه خیریه ټولنه ده چې د جګړې له قربانیانو او د طبیعي پېښو له ځپلو سره مرسته کوي. دا ټولنه د خپلو فعالیتونو لګښت له خپلو عایداتي سرچینو ترلاسه کوي. د یادې ټولنې او د سره صلیب او سرو میاشتو د نړیوال غورځنګ د غړو او نورو خلکو مرستې، د افغاني سرې میاشتې ټولنې عایداتي سرچینې دي.

د مهمند د څرګندونو له مخې، د مسوولو ارګانونو له چارواکو سره د مالیې وزارت د خزانو د رییس تر څو ځلې ناستو وروسته وړاندیز وشو چې د یاد کمېسیون سکرتریت دې د افغاني سرې میاشتې پر ځای یوه دولتي اداره پر غاړه ولري. هغه زیاته کړه چې شاوخوا یو کال مخکې د کابینې د پرېکړې له مخې، د کار او ټولنیزو چارو، اقتصاد، مالیې او کورنیو چارو وزارتونو او سرې میاشتې د سوالګرۍ د مخنیوي نوې طرحه جوړه کړې او د ولسمشر د لومړي مرستیال دفتر ته یې لېږلې ده، څو په اړه یې خپل نظر وړاندې او اصلاحات په کې راولي.

هغه وویل: "له بده مرغه چې تر اوسه په دې اړه کوم کار نه دی شوی، د کابینې له پرېکړې، د وزیرانو شورا له مصوبې او ولسمشرۍ ریاست له حکم وروسته به دغه مسوولیت د کار او ټولنیزو چارو وزارت پر غاړه واخلي."

سرچینې زیاته کړه چې په یاده طرحه کې ۸۰ میلیونه افغانۍ بودجه د سوالګرو ټولولو لپاره وړاندیز شوې ده.

**د مسوولو ارګانونو تر منځ د همغږۍ نشتوالی**

د سرې میاشتې ویاند ولید اکبر سروري وویل: "د بودجې د کمښت د ستونزې تر څنګ چې د کمېسیون د کار درېدو لامل شوه، تر یوه بریده پر دغه کار د مسوولو ارګانونو تر منځ د همغږۍ نه شتون هم اغېز درلود؛ یعنې له څه مودې وروسته هغه منظمې ناستې چې باید شوې وای، ونه شوې." دغه راز د بشري حقوقو په کمېسیون کې له ماشومانو څخه د ملاتړ څانګې مرستیال بلال صدیقي وویل چې د ولسمشر په حکم کې ښکاره یادونه شوې وه چې له ټولو سوالګرو سره دې جدي چلند وشي؛ په پرله پسې ډول دې راټول او اړمنو سوالګرو ته دې د ساتنې مرکزونه جوړ شي. خو هغه زیاته کړه: "له بده مرغه چې د مسوولو اړوندو دولتي ارګانونو د نه لېوالتیا په سبب دا مسوولیت ادا نه شو، دې کمېټې ته کافي بودجه په نظر کې ونه نیول شوه او په پای کې دا کمېټه ونه توانېده چې هغې موخې او بریا ته ورسېږي چې باید رسېدلې وای."

**د حکومتي چارواکو له خوا ضمانتونه**

د بلال صدیقي په وینا، حکومتي چارواکو د ډېرو هغو سوالګرو ضمانت کړی چې کمېسیون راټول کړي وو او پر ضمانت خوشي شوو سوالګرو بېرته سوالګرۍ ته مخه کړې ده. صدیقي چې د دغه پروګرام له څارونکو څخه و، زیاتوي: "کوم سوالګر چې را ټولېدل له نورو کسانو سره یې اړیکه درلوده او کولای یې شوای چې د لوړ پوړو دولتي چارواکو قناعت حاصل کړي؛ داسې کسان وو چې د خوشې کولو لپاره یې یوه معتبر ضمانت ته اړتیا وه او دوی ټولو کولی شول چې همدا معتبر ضمانتونه په نیمه ورځ کې چمتو کړي. تاسې ته یې نوم نه شم اخیستی، خو دومره وایم، داسې کسان وو چې د جنرالۍ او ډګروالۍ رتبې یې درلودې، د ښاروالۍ او نورو بنسټونو لوړ پوړي کسان وو چې راتلل او ضمانت یې کاوه. حتی په سوالګرو کې داسې کسان هم وو چې څلور ځلې نیول شوي او بیا یې ضمانت شوی."

**حقوقي ستونزه**

د کابل د مرستونونو امر محمدظاهر کوشان د دې پروسې حقوقي ستونزې ته اشاره وکړه او ویې ویل: "ډېر هغه کسان چې ضمانت یې کېده، بېرته یې سوالګرۍ ته مخه کوله؛ له ستونزې سره زموږ د کار د مخ کېدو لامل د قانون نشتوالی دی؛ خو په دې وروستیو کې پر قانون په چټکۍ سره کار روان دی او د کار او ټولنیزو چارو وزارت د دغه قانون پر طرحه کار کوي. هیله من یو چې د دې طرحې په وروستۍ کولو سره وکولی شو خپلې ټولنې ته خدمت وکړو." د ده په خبره، په هغه صورت کې چې د قانون له مخې سوالګري جرم وګڼل شي، کېدای شي په دې اړه په جدیت عمل وشي.

واصل نور مهمند وایي چې د ولسمشر د یاد فرمان پر بنسټ د "ټولنیز ملاتړ" د قانون جوړول چې د سوالګرۍ منع کول یې هم یوه برخه ده، د کار او ټولنیزو چارو وزارت له مکلفیتونو څخه دي. هغه زیاته کړه چې دغه وزارت د دغه قانون پر طرحه کار کړی او مسوده یې یو نیم کال وړاندې عدلیې وزارت ته استولې ده. مهمند په سوالګرۍ کې له ماشومانو د ګټې اخیستنې په اړه وویل، له دې امله چې افغان حکومت په یوازې توګه نه شي کولای سوالګر راټول او د بېوزلو کورنیو اقتصادي ستونزې لرې کړي، د قانون په طرحه کې راغلي چې ټولې نا دولتي ادارې چې د ماشومانو په برخه کې کار کوي، په دې پروسه کې شاملې شي. هغه په ټینګار سره غوښتنه وکړه چې د یاد قانون د طرحې پړاوونه ژر ووهل وشي؛ ځکه چې په دې طرحه کې د هغو سوالګرو لپاره چې بیا بیا سوالګرۍ ته مخه کوي، جزا په پام کې نیول شوې او له مخې یې د سوالګرو د مخنیوي لپاره په جدیت عمل کېدای شي.

د عدلیې وزارت مسلکي مرستیال محمد یوسف حلیم د دې طرحې په اړه وویل: "د ټولنیز ملاتړ قانون پړاوونه د عدلیې وزارت له خوا ترسره شوي، د قوانینو کمېټې تایید کړې، وزیرانو شورا ته یې استولې، هلته د ځینو هغو مالي کتنو له امله چې مالیې وزارت درلودې، کار یې ځنډولی او ویلي یې دي چې باید مالي ستونزې یې حل او بیا کابینې ته وړاندې شي، اوس هم په دې اړه بحث روان دی، څو ستونزې یې حل شي."

**په مسوولو بنسټونو کې فساد**

په ملي شورا کې د خلکو ځیني استازي، په مسوولو ادارو کې د فساد شتون، د مدیریت بحران او د چارواکو د مسوولیت نه احساس یادو ستونزو ته د حل نه موندلو له عمده دلایلو ګڼي. په ولسي جرګه کې د روغتیا، کار او بدني روزنې کمېسیون رییس نقیب الله فایق وویل: "پر هغو تدابیرو چې سنجول شوي یا هغه امکانات چې د کار او ټولنیزو چارو وزارت یې لري، ډېره ګرانه ده چې پر دې ستونزې لاسبري شو. له بلې خوا په کار او ټولنیزو چارو وزارت کې د مدیریت بحران هم یو له هغو مواردو څخه دی چې د دې ستونزو د حل مخه یې ډپ کړې، همدا اوسنی مدیریت هم کمزوری دی او نه شي کولی چې دا موضوع په نظر کې ونیسي."

همدارنګه په ولسي جرګه کې د کندوز د خلکو استازې شکریې پیکان هم وویل: "که چېرې مسوول ارګانونه د کار زمینه مساعده او سوالګر له واټونو راټول کړي او هغه کورنۍ تر جدي پوښتنو ګروپړونو لاندې ونیسي چې له خپلو ماشومانو په سوالګرۍ کې کار اخلي، نو فکر نه کوم چې نور دې څوک دغه کار ته مخه کړي، خو د مسوولیت د نه احساس له امله دغه کار نه کوي او پاملرنه ورته نه لري." پیکان په هېواد کې د بهرنیو سوالګرو د شتون په اړه د اندېښنې په څرګندولو وویل چې په مسوولو ارګانونو کې شته فساد دې معضلې ته د نه پاملرنې لامل دی. هغه زیاته کړه: "د مسوولو ارګانونو بې کفایتي ده، که چېرې دوی دا موضوع څېړلې وای، ان په یوه ساعت کې د بهرنیو سوالګرو هویت او باندونه پېژندل کېدای شوای. د هغوی ډېری یې پاکستانیان دي او له شتون یې معلومېږي چې هرو مرو دلته کوم فساد شته او ځیني کسان په کې شریک دي. له همدې امله ده چې له بازارونو سوالګر نه ټولېږي." خو د کار او ټولنیزو چارو وزارت ویاند علي افتخاري د یادو نیوکو په اړه وویل: "نیوکې اسانه دي، کله چې یو کس د یوې ادارې له پروګرامونو خبر ونه لري، نو څرنګه کولای شي چې نیوکه وکړي." ده د ټولنیز ملاتړ قانون طرحې ته په اشارې وویل چې په دې برخه کې کارونه شوي دي. هغه هیله څرګنده کړه چې د یاد قانون د طرحې په وروستۍ کېدو او عملي کېدو سره به سوالګر له ښارونو را ټول او د سوالګرۍ پالنې فرهنګ به هم له منځه یووړل شي.

## ۱۸ - د بدن د غړو ایستنه

د مالي ګټې اخیستنې په موخه په زور له یوه شخص څخه د هغه د غړو ایستل هم یو ډول انساني قاچاق بلل کېږي. ځیني کسان د اړتیا له مخې خو ځیني نور بیا اړ ایستل کیږي څو د پور او یا هم د کوم خلاف کار په بدل کې خپل د بدن ځیني غړي مطلوبو اشخاصو ته ورکړي. له بلې خوا ځیني ماشومان تښتول کېږي او بیا د بدن غړو د پلورونکو قاچاقچیانو لاسونو ته لوېږي؛ قاچاق کوونکي د ماشومانو د بدن غړي وباسي او بیا یې په تور بازار کې پلوري، دغه راز جنایتکارې ډلې د ماشومانو ینې هم قاچاق کوي.

په هېواد کې یو شمېر افغانان چې له بېلابېلو سیاسي، اقتصادي او امنیتي ستونزو ځورېږي، له همدې امله یې د خپل بدن غړو پلور او قاچاق ته مخه کړې ده. یوازې اقتصادي ستونزه نه ده چې له امله یې خلک د بدن غړو پلورلو ته اړ کېږي، بلکې د پښتورګي پیوند د انسانانو د بدن غړو د سوداګرۍ نوې بڼه ده چې په دې وروستو کې د کابل او هرات په روغتونونو کې یې دود موندلی.

د بدن د غړو ایستلو په اړه د پژواک راپور:

### د انساني قاچاق یوه موخه هم د بدن غړو ایستل دي




*ستوری کریمي او نفیسه — Apr 17, 2017*

هرات (پژواک، ۲۸ وری ۹۶): یوې افغان مېرمنې د خپل مېړه ستونزې د حل په موخه چې په ایران کې ورسره لاس او ګرېوان شوې وه، خپل پښتورګی پلورلی او مېړه یې پرې له ستونزې ژغورلی دی. دا په داسې حال کې ده چې په هېواد کې یو شمېر افغانان له بېلابېلو سیاسي، اقتصادي او امنیتي ستونزو ځورېږي او دغه راز په دې وروستیو کې د انسانانو د بدن غړو پلور او قاچاق یوه بله ستونزه ده چې افغانان ورسره لاس او ګرېوان دي.

د هرات ولایت اوسېدونکې ۳۵ کلنه حمیده د هغو کسانو له ډلې شمېرل کېږي چې د خپلې کورنۍ ستونزو د هواري په موخه یې د بدن یو غړی پلورلی دی. هغې پژواک خبري اژانس ته وویل چې مېړه یې په افغانستان کې له خلکو پوروړی او بې روزګاره و چې له هغه وروسته د قاچاق وړونکو له خوا ایران ته تللی و. حمیدې چې د څېرې رنګ یې تښتېدلی و زیاته کړه، مېړه یې یو مهال په ایران کې د یوې شخړې پر مهال له ستونزې سره مخ

شوی و، یوه ورځ ورته پر ټیلیفون زنګ راغی، ویل یې چې که چېرې غواړې مېړه دې خوشې شي نو باید پنځوس میلیونه ایراني ریال (سل زره افغانۍ) ور ولېږې. خو هغې زیاته کړه: "ما د خوړو لپاره ډوډۍ نه درلوده، څرنګه به مې دا پیسې پیدا کړې وای؟"

حمیدې زیاته کړه، کوم چا چې ترې د پیسو غوښتنه کړې وه، دې یو ځل بیا ورسره اړیکه ونیوه او ورته یې وویل چې دومره اندازه پیسې نه شي چمتو کولی. نوموړې وویل: "هغوی راته وویل چې پښتورګی دې خرڅ کړه او بیا موږ ته پیسې را ولېږه، څو مېړه دې ازاده کړو." حمیده چې د څلورو بچیانو مور ده او د هرات ولایت په یوه کرایې کور کې ژوند کوي، وویل: "خپل چپ پښتورګی مې خرڅ کړ، نیمې پیسې مې د مېړه د ازادولو لپاره ور ولېږلې او نیمې نورې مې پوروړو ته ورکړې." یادې مېرمنې خپل پښتورګی د دوه سوه زره افغانیو په بدل کې د هرات په لقمان حکیم روغتون کې پلورلی دی.

حمیده لومړۍ مېرمن نه ده چې په افغانستان کې په جبري توګه د بدن د یوه غړي پلورل کېدو ته اړ ایستل شوې، بلکې نور هېوادوال هم له دې ډول ستونزو سره لاس او ګرېوان شوي دي. د هرات ولایت یوه بل اوسېدونکي سید اصغر هم د اقتصادي ستونزې د حل په موخه خپل یو پښتورګی پلورلی دی. اصغر له پژواک سره د یوې مرکې په ترڅ کې ویلي: "د کورنۍ غړي مې له لوږې مړه کېدل، له مجبورۍ مې پښتورګی وپلوره."

سید علي چې د اصغر پښتورګی یې پېرلی، وایي: "د تره زوی مې له څو کلونو راهیسې په ایران کې د پښتورګي له ناروغۍ رنځېده او په هرات ولایت کې مو د یوه پښتورګي د پېرلو لپاره هڅې پیل کړې." د هغه په وینا، د سید اصغر پښتورګی یې په ۱۷۰ زره افغانۍ پېرلی او له هغه وروسته یې بیا د تره زوی ته ایران ته ورلېږلی دی. دغه راز ۲۳ کلن محمد امین چې د بامیانو ولایت اصلي اوسېدونکی دی او د پښتورګي د درملنې په موخه اوسمهال د لقمان حکیم روغتون کې بستري دی، پژواک ته وویل: "له یوه سړي مو چې هېڅ خپلوي ورسره نه لرو، یو پښتورګی په ٤٨٠ زره افغانۍ وپېره او اوسمهال د وینې کمښت له امله بستر یم چې ډېر ژر به پښتورګی هم راته پیوند کړي."

د محمد امین ورور پژواک ته وویل، ورور یې د کابل پولیسو په لیکو کې دنده ترسره کوي او دغه ناروغي ورته د دندې پر مهال پیدا شوې وه. هغه زیاته کړه: "زموږ اقتصادي وضعیت ښه نه دی او پښتورګی هم قیمته دی، یوه پر شپږ لکه افغانۍ پلوره، موږ یې د پېرلو وس نه درلود، خو بالاخره یو هېوادوال چې له یو چا پوروړی و او اقتصادي ستونزه یې لرله، پر موږ خپل پښتورګی د ٤٨٠ زره افغانیو په بدل کې وپلوره چې له هغه وروسته د پښتورګي ستونزې د درملنې په موخه هرات ته راغلو." ۲۵ کلن محمد سالک په داسې حال کې چې د هرات په لقمان حکیم روغتون کې بستر و، پژواک ته وویل، د پښتورګي پیوند لپاره پاکستان ته هم تللی و، خو هلته د پښتورګي پیوند ونه شو. هغه زیاته کړه: "ښځه مې خپل پښتورګی راته راکوي."

یوازې اقتصادي ستونزه نه ده چې له امله یې خلک د بدن غړو پلورلو ته اړ کېږي، بلکې د پښتورګي پیوند د انسانانو د بدن غړو د سوداګرۍ نوی اړخ دی چې د دغه راپور په خپرېدو سره په افغانستان کې په ثبوت رسېږي. بلخوا هېواد کې اړونده بنسټونه هم دغه موضوع مني.

**د بشري حقونو کمېسیون: د انسانانو د بدن غړي په تور بازار کې پلورل کېږي**

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون کمېشنرې ثریا صبحرنګ وویل، ځینې ماشومان تښتول کېږي او بیا د قاچاقبرو لاس ته لوېږي، قاچاق کوونکي د ماشومانو د بدن غړي وباسي او بیا یې په تور بازار کې پلوري. هغې زیاته کړه: "د تښتول شوو ماشومانو د بدن داخلي غړي د قاچاقچیانو له لوري پر نورو د پلور لپاره ایستل کېږي."

هغې زیاته کړه، دا ډول جنایتکارې ډلې د ماشومانو ینې هم قاچاق کوي چې دا د ټولو لپاره د اندېښنې وړ موضوع ده.

**د لقمان حکیم روغتون مسوولین: تر سلو ډېر پښتورګي مو پیوند کړي**

د لقمان حکیم روغتون د هرات ولایت په مرکز کې دی او د افغانستان په کچه لومړنی روغتون دی چې د پښتورګو پیوند په کې ترسره کېږي. د هرات د لقمان حکیم روغتون مشر او د پښتورګو د پیوند متخصص ډاکتر فرید اعجاز له پژواک سره د یوې ځانګړې مرکې په ترڅ کې وویل، د پښتورګي لومړنی پیوند یې د ۱۳۹۵ کال په غویي میاشت کې ترسره کړی دی. هغه زیاته کړه، د یاد روغتون ۱۲ ډاکتران د شپږو میاشتو لپاره د ایران هېواد د مشهد په منتسري روغتون کې روزنه لیدلې ده چې د یاد هېواد په کچه د بدن غړو د پیوند ستر روغتون دی.

د نوموړي د څرګندونو له مخې، په تېر یوه کال کې یې د ۵۵ ښځو او ٤٥ سړیو پښتورګي پیوند کړي چې له ډلې یې یوازې یوه کس د عملیاتو پر مهال ژوند له لاسه ورکړی دی. ډاکتر اعجاز دغه راز وویل، د پښتورګي د لومړي پیوند عملیات یې پر یوې ۱۱ کلنې نجلۍ ترسره کړل. د لقمان حکیم روغتون مشر د خبرو په دوام وویل، د پښتورګو ډېری پیوندونه د کورنیو د غړو د بدن له غړو ترسره شوي چې له دې ډلې یې ډېرو کمو کسانو خپل پښتورګي د پیسو په بدل کې پلورلي دي. هغه زیاته کړه، د پښتورګو د اهدا او ورکړې فرهنګ باید په هېواد کې عملي شي، څو د هغو کسانو ژوند وژغورل شي چې د پښتورګو له امله ژوند له لاسه ورکوي.

ډاکتر اعجاز وویل: "چا چې خپل قانوني عمر نه وي بشپړ کړی، ناروغ کس ته پښتورګی نه شي ورکولی، د عدلیې وزارت د مقررې او کړنلارې پر بنسټ، له هغه چا باید پښتورګی واخیستل شي چې له ۲۲ کلونو زیات عمر ولري." نوموړي زیاته کړه چې د پښتورګي هر پیوند په دغه روغتون کې له پنځو تر لسو زرو ډالرو پورې لګښت لري. له بلې خوا د انسان له قاچاق او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون په ۱۲مه ماده کې راغلي: "کوم کس چې د مجني علیه د بدن غړی او یا نسجونه پرې کړي وي او یاد عمل د هغه د مړینې لامل نه وي شوی، پر اوږده بند محکومېږي." خو دا ماده په ډاګه کوي: "که چېرې دغه عمل د مجني علیه د مړینې سبب شي، پر اعدام محکومېږي."

**په افغانستان کې د انسان د بدن غړو د قاچاقچیانو باندونه**

د انسان له قاچاق او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون د عالي کمېسیون غړي عبدالوحید هدایت پژواک ته وویل، په یقیني ډول په کوم هېواد کې چې د انسان قاچاق شتون ولري، په هغه صورت کې باندونه او شبکې هم فعالیت کوي او اړیکې یې له هېواده بهر وي. هغه زیاته کړه چې هر کال له لسو تر دوولسو پورې د انساني قاچاق وړونکو شبکې د کورنیو چارو وزارت او ملي امنیت عمومي ریاست له لوري د عملیاتو په ترڅ کې پېژندل او نیول کېږي.

هدایت زیاته کړه: "کله چې د قاچاق خبرې کېږي، اړخونه یې هم پراخ دي، کوم تعریف چې په قانون کې یې د انسان د قاچاق په اړه لرو، په کې راغلي: هغه عمل چې یو کس یې له بل کس څخه د ګټې اخیستنې په موخه ترسره کوي." هغه زیاته کړه، له بده مرغه چې په هېواد کې ځینې شبکې او باندونه شته چې د انسان د بدن غړي قاچاق کوي. د هغه په خبره، عدلیې وزارت د انساني قاچاق د ناوړه پایلو په تړاو د عامه پوهاوي په برخه کې پروګرامونه لري. هغه زیاته کړه چې په دغو پروګرامونو کې د جوماتونو د ملا امامانو له لوري د جمعې په خطبو او د ښوونځیو د استادانو له لارې تبلیغ کېږي، څو خلک په ځانګړي ډول ماشومان د ناوړه پایلو او قاچاق وړونکو له دسیسو څخه خبر شي. هغه د خپلو خبرو په پای کې څرګنده کړه چې د افغانستان په قوانینو کې سربېره پر دې چې د انسان قاچاق جرم دی، د مرتکبینو لپاره یې هم د بېلابېلو جزاګانو وړاندیز شوی دی.

**د عامې روغتيا وزارت: په ننګرهار کې د پښتورګو درملنې روغتون جوړېږي**

د عامې روغتيا وزارت وياند وحيد مجروح تاييد کړه چې اوسمهال د هېواد په کچه زرګونه کسان د پښتورګو ناروغي لري. هغه زياته کړه چې پخوا د يادې ناروغۍ د درملنې لپاره کوم اختصاصي روغتون نه و، خو د وزارت مشرتابه تصميم نيولی چې په ننګرهار ولايت کې د پښتورګو د درملنې ملي مرکز جوړ کړي. د نوموړي په خبره، د ياد مرکز د ودانۍ، تجهيزاتو او کارکوونکو د روزنې کار پای ته رسېدلی او تر راتلونکې يوې مياشتې پورې به پرانيستل شي. هغه زياته کړه چې د عامې روغتيا وزارت د کورنۍ د غړو د پيوند پر مقرره کار کوي او هغه يې د عدليې له وزارت سره شريکه کړې ده.

مجروح زياته کړه: "خو د لنډ مهال لپاره مو يوه کړنلاره چمتو کړې ده، څو د بدن د غړو پيوند ترسره شي." د عامې روغتيا وزارت د وياند په خبره، د هرات ولايت يو خصوصي روغتون د پښتورګو د پيوند پروسه پيل کړې ده او دغه جراحي عمليات په برياليتوب سره پای ته رسوي. د سرچينې په خبره، که چېرې کوم شرعي خنډ شتون ونه لري، يو شخص بل شخص ته که يې د کورنۍ غړی هم نه وي، د بدن غړو د ورکړې په برخه کې همکاري کولی شي.

د ملګرو ملتونو د پالرمو پروتوکول ۲۰۰۰ کنوانسيون سازمان کې هم د بدن د غړو ايستلو لپاره د انسان د قاچاق يادونه شوې ده. په دغه پرتوکول کې راغلي چې د ځان پلورنې، غلامۍ، جبري خدمتونو، جنسي ناوړه استفادې او يا د بدن د غړو پرې کولو په موخه د افرادو استخدام، لېږد را لېږد او پناه ورکول د انساني قاچاق يوه بڼه ده.

د يادونې ده، بېوزلي او تنګ لاسي هغه ستونزې دي چې د افغانانو ژوند يې له ګواښ سره مخ کړی او ځيني هم د يوې مړۍ ډوډۍ پيدا کولو او نورو ستونزو د حل په موخه د خپل بدن د غړو پلورلو ته اړ کېږي.

## ۱۹- اجباري کار

ټولو هغو کارونو یا خدمتونو ته ویل کیږي چې د مجازاتو د ګواښ له لارې له شخص څخه ترلاسه کیږي چې یاد شخص په خپله خوښه ورته حاضر شوی نه وي یا په بل عبارت، یوه کار ته د زور له لارې د بېلابېل عمر لرونکو نارینه او ښځو اړ ایستل، انساني قاچاق دی. ځیني کسان دي چې پر یو شمېر نورو کسانو په زور او اجباري ډول په خپلو کورونو، فابریکو، هټیو او بټیو کې کار کوي او د مرګ تر شېبې یې په خپلواک ډول ژوند کولو ته نه پرېږدي؛ د بېلګې په ډول یحیی ۱۱ کلن ماشوم و چې څو کاله مخکې د یوې قاچاقبرې ډلې له خوا تښتول شوی و او هغه یې مجبور کړی و چې په ډېرو سختو شرایطو کې اجباري کارونه وکړي. پر انسانانو اجباري (زور) کار کول د اوسنۍ زمانې د مرییتوب او غلام جوړولو نوې بڼه ده چې دغه ناوړه کار اوسمهال په ټوله نړۍ کې شته او د یادې ناوړه پدیدې د له منځه وړو لپاره باید په ګډه کار وشي.

د کار د نړیوالې موسسې (ILO) د اټکل له مخې، د نړۍ په کچه شاوخوا ۲۱ میلیونه کسان په اجباري توګه کارونو ته اړ ایستل کیږي. په دغه اټکل کې هغه کسان هم شامل دي چې د کار لپاره قاچاق او جنسي ګټه ترې اخیستل کیږي. له دغه شمېر کسانو ۱۴/۲ میلیونه (۶۸ سلنه) د کاري ځواک په توګه استثمار شوي او ۴/۵ میلیونه (۱۰سلنه) یې په تحمیلي ډول اجباري کار ته نیول شوي دي. د کار نړیوال سازمان د راپور له مخې، یوازې د انساني قاچاق د اجباري کار ځانګې په ۲۰۱۴ زېږدیز کال کې د قاچاقبرو لپاره نږدې ۱۵۰ میلیارده ډالره ګټه لرله.

د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منعې قانون د ۳۶مې مادې له مخې، هغه شخص چې ښځه اجباري کار ته اړ باسي، د زیان پر جبران سربېره له احوالو سره سم پر قصیر حبس چې له شپږو میاشتو څخه زیات نه وي، محکومیږي.

### په کورونو کې اجباري مزدوري:

هغه کسان چې په کورونو کې کار کوي، کېدای شي د زور او جبر په وسیله یا د فزیکي، جنسي یا احساسي استثمار له لارې مزدورۍ ته اړ ایستل شي. ماشومان په ځانګړې توګه له دغه حالت څخه زیان ویني. د کور دننه د مزدورۍ کشف کول، په ځانګړې توګه ستونزمن کار دی؛ ځکه چې دغه جریانونه د کورونو دننه پیښیږي چې د خصوصي حریم له امله د دولت تر څارنې لاندې نه وي؛ د بېلګې په توګه په اسیا او منځني ختیځ کې بډایه کورنۍ مستخدمین نیسي خو په ځینو مواردو کې له دغو مستخدمینو په جبري توګه د مزدور په توګه کار اخیستل کیږي.

په افغانستان کې له ډېر پخوا څخه هغه کسان چې د عسکري خدمت ته سوق کېدل، ځیني به یې د امنیتي ځواکونو د جنرالانو او نورو صاحب منصبانو د کور د خدمت لپاره استخدامېدل چې دوی به د جنرال د کور هر ډول کارونه ترسره کول او له هغه څخه به د یو مزدور په شکل کار اخیستل کېده. دغه لړۍ له هغه وخته چې د عسکري خدمت دوره ځنډېدلې ده، له عسکرو څخه دغه کار نه اخلي خو یاد جنرالان، وزیران، والیان، د ملي شورا غړي او نور لوړ پوړي دولتي چارواکي له خپلو ساتونکو چې حکومت د دوی د امنیت لپاره ګومارلي، اجباري کارونه کوي.

د اجباري کار په اړه د پژواک راپور:

## ډاکتر خسرو د قاچاقبرو په دام کې په لوېدو سره روږدی شوی او خپله کورنۍ یې پرېښې ده




*May 10, 2018 محمد حلیم کریمي*

کابل (پژواک، ۲۰ غویی ۹۷): د یوناني درملو یو طبیب د انساني قاچاقبرو په دام کې له لوېدو وروسته پر نشه يي توکو روږدی شوی او د کورنۍ له مسوولیته له تېښتې وروسته شپه ورځ د ښار په کوڅو کې تېروي. دغه د خیرنو وېښتانو او شلېدلو جامو لرونکی شخص د ژمي په سړه هوا کې د کابل ښار دویمې ناحیې په یوه ګوښه کوڅه کې د نورو له خوا ورته په کنبل شوې خیالي نړۍ کې ډوب و. نوموړی چې له دوولسم ټولګي فارغ دی، په تور مارکر او لړزانده لاسونو یې په یوه چټله ورځپاڼه چې باد یې مخې ته ور وړې وه، په ښکلي او روښانه لیک ولیکل: "من و مجنون هم سبق بودیم در دیوان عشق — او به صحرا رفت و من در کوچه ها معتاد شدم."

دغه شخص خسرو نومېږي، د حاجي عبدالمنان پیکار زوی او د کابل د شکردرې ولسوالۍ اصلي اوسېدونکی دی چې ۱٤ کاله وړاندې په یوه نسبتاً سوکاله کورنۍ کې زېږېدلی دی. خسرو نه غوښتل خبرې وکړي، خو کله چې پوه شو له یوه خبریال سره مخ دی، په غربو نیولي اندازه يې وویل: "له بدبختۍ سره مخ شوم، پنځه کاله مخکې د تاج محمد په نوم یوه چلباز تېر ایستم، ایران ته ولاړم او د انساني قاچاق قرباني شوم." هغه زیاته کړه چې پلار يې په بلغاریا کې د یوناني طب په برخه کې لوړې زده کړې کړې او ده هم په دې برخه کې له خپل پلاره زده کړې دي؛ ځکه چې د کابل ښار په چوک ساحه کې يې له پلار سره کار کاوه. خسرو چې شاوخوا یو کال يې له خپلې کورنۍ لرې د ښار په کوڅو کې تېر کړی او په بیا بیا يې د کورنۍ او پر خپل دغه وضعیت اوښکې تويې کړې، وویل چې د تاج محمد په نوم یوه شخص وهڅاوه چې د ډېر عاید ترلاسه کولو لپاره د ایران د یوناني درملو د تولید په یوه مرکز کې کار وکړي. هغه زیاته کړه چې د دغه شخص له ډېر تاکید وروسته يې د ۱۳۹۰ لمریز کال په وروستیو کې ایران ته د تګ هوډ وکړ او ټول لګښت يې تاج محمد ورکړ.

خسرو وویل چې له تاج محمد سره په کابل ښار کې بلد شو، خو نه پوهېږي چې هغه به اوس چېرته ژوند کوي. هغه زیاته کړه: "کله چې ایران ته ورسېدم، په زاهدان کې مې د یوناني درملو د تولید یوه مرکز کې په یو میلیون میاشتنۍ تنخوا سره کار پیل کړ. دا يې هم راته ویل چې تنخوا به يې د وخت په تېرېدو سره زیاته شي، خو را زیاته يې نه کړه." دغه کس چې د طبي بوټو په اړه د معلوماتو لرلو ته په پام سره د نورو په پرتله د نشه يي توکو پر زیانونو ښه پوهېده، وویل چې د کار مالک به ورته په خوړو کې په پټه یوه اندازه نشه يي توکي ورکول، څو په تدریجي ډول پر نشه يي توکو روږدی شي. خسرو زیاته کړه: "په اول کې نه پوهېدم چې دغه مواد کاروم، خو وروسته داسې وخت پوه شوم چې اوبه له ورخه تېرې وې، د کار مالک راته وویل چې ته مې د پیسو بدل کې اخیستی يې، اوس مې روږدی هم کړې، مجبور يې چې له ما سره کار وکړې."

د هغه په خبره، د کار مالک راته ویل: "کومې پیسې چې مې له افغانستانه ستا د راوستو په موخه لګولې دي، هغه باید ستا د مزدورۍ له پیسو ترلاسه کړم." خسرو ته د دې پیسو اندازه نه وه معلومه او ویې ویل: "دغه پیسې زما د ساتلو او زما له مهارتونو د استفادې لپاره یوه پلمه وه." نوموړي زیاته کړه چې د کار مالک راته دومره پیسې راکولې چې یوازې ورځنۍ لګښتونه مې پوره کړي. د خسرو سترګې یو ځل بیا له اوښکو ډکې شوې او ویې ویل: "د یوه ظالم انسان له لاسه بدبخته شوم." یوه شېبه غلی و، لاسونه یې لړزېدل، خو بیا یې خبرې پیل کړې: "غوښتل مې چې له هغه ځایه وتښتم، خو پوه شوم چې تر ښارونې لاندې یم او دغه کار نه شم کولی.

خو هغه زیاته کړه: "کله مې چې د کار د مالک اعتماد ترلاسه کړ او ډاډه شو چې نور نه ترې ځم، نو زما تعقیب یې پرېښود، ما هم له دغه فرصت څخه ګټه واخیسته، وتښتېدم او بېرته افغانستان ته را ستون شوم." هغه وویل چې پخوا به یې د یونانې درملو په مرسته د نورو درملنه کوله، خو اوس له خپلې درملنې عاجز دی، په ایران کې یې د دغو درملو جوړولو په برخه کې کار کاوه، خو په دې فابریکه کې لسګونه نورو کسانو د نشه یي توکو د تولید او بسته بندۍ په برخه کې کار کاوه، دغه توکي یې په ډېر مهارت سره په یونانې درملو کې ځای پر ځای کول او بیا عربي هېوادونو ته په قاچاق وړل کېدل.

خسرو زیاته کړه چې په ایران کې له شاوخوا یوه کال تېرولو وروسته کابل ته راستون شو، تر یو کال مخکې مودې پورې له خپلې کورنۍ سره و، خو د پلار له مرګه وروسته یې کور پرېښود، د ښار مسافر شو، د ښار په تشو کوڅو کې له یو عالم سختیو سره شپې ورځې تېروي. هغه چې د نشه یي توکو د چرسو، تریاکو، پوډرو او ښیښې ډولونه کاروي، کله به یې ویل چې د غوره ژوند کولو هیله یې له لاسه نه ده ورکړې، خو کله به بیا ډېر ناهیلی ښکارېده او ویل به یې چې نور د ښه ژوند چانس نه لري. خسرو په لومړۍ ورځ له پژواک خبري اژانس سره په خبرو کې چې نشه هم و، وویل: "سمه ده چې ما د ژوند کولو یو چانس له لاسه ورکړی، خو نور نه غواړم چې داسې بدبخته ژوند ولرم، غواړم چې بل چانس له لاسه ورنه کړم."

خسرو زیاته کړه چې له نشه یي توکو نه کرکه او له دې ناوړې ناروغۍ د خلاصون لپاره پرېکنده اراده د اعتیاد پرېښودو غوره لار ده. خو بله ورځ چې خمار حالت یې درلود، وویل: "د نشه یي توکو کارول یو طرفه لار ده، بېرته را ستنېدل نه لري، پای یې مرګ، بدبختي او د ژوند تباهي ده، له ځوانانو غواړم چې د دې تباه کوونکو موادو په کاذبو خوښیو تېر نه وځي." د هغه په خبره، د درملنې هغه لارې چارې چې اوس یې د عامې روغتیا وزارت کاروي، مناسبې نه دي؛ ځکه چې روږدي په تړلې فضا کې په زور او جبر سره هېڅکله نه تداوي کېږي. نوموړي وویل چې څو ځلې یې په دې طریقه درملنه شوې، خو څرنګه چې د درملنې له مرکزه رخصت شوی، نو لومړی کار یې بیا هم د نشه یي توکو کارونه وه. هغه د ژړا په حالت کې وویل: "د دې ناروغۍ ډېرې بدبختۍ مې ګاللې، کله چې روغ شم، نو په خپلو شخصي پیسو به د هغو کسانو درملنه وکړم چې د درملنې توان نه لري." هغه زیاته کړه چې د تېر ایستونکو او انساني قاچاقبرو منګولو ته لوېدنه یې د دې لامل شوه چې پر نشه یي توکو روږدي شي، پر نشه یي توکو روږدېدنې اړ کړ چې د نشه یي توکو ترلاسه کولو لپاره لسګونه ځله غلا وکړي. هغه په ژړا وویل: "بدبختي او مجبوریت د دې لامل ګرځي چې روږدي غلا ته مخه کړي، روږدي هغومره هم بد نه دي، څومره چې خلک ترې کرکه کوي... لطفاً له روږدو سر د یوه ناروغ په څېر چلند وکړئ."

خسرو له روږدو سره د پولیسو له نا سم چلنده هم شکایت وکړ او ادعا یې وکړه چې پولیس روږدو ته د نشه یي توکو په رسولو کې لاس لري. خو د کورنیو چارو وزارت ویاند نجیب دانش د خسرو د ادعا په اړه وویل چې که چېرې د پولیسو له لوري د نشه یي توکو له روږدو سره کوم بد چلند کړی وي، نو د کورنیو چارو وزارت ښښنه غواړي او دا موضوع به تعقیب کړي. هغه وایي، تر اوسه پورې داسې کوم رسمي مورد نشته چې روږدو ته دې د نشه یي توکو په رسولو کې د پولیسو همکاري څرګنده کړي.

پژواک تر بیا بیا لیدنو وروسته خسرو دې ته وهڅاوه چې بېرته د خپلې کورنۍ غېږې ته ورشي. خسرو خپلو خیرنو او شکېدلو جامو ته وکتل، له سترګو یې اوښکې وبهېدې او ویې ویل: "کور ته ځم، خو اجازه راکړئ چې خپلې جامې ومینځم، نه غواړم چې کورنۍ مې په دغه حالت وګوري." هغه زیاته کړه چې مور، مېرمن، ورور، درې زامن او دوې لونې لرم، مور مې متقاعده ښوونکې ده، مېرمن او مشره لور مې چې د ادارې او مدیریت پوهنځي څخه فارغ دي، د ښوونکې په توګه دنده اجرا کوي او نور اولادونه یې د ښوونځي زده کوونکي دي.

دوه ورځې وروسته د پژواک خبري اژانس خبري ډله د کابل په خواجه بغرا کې د هغه کرايي کور ته ولاړه؛ د انګړ د دروازې په خلاصېدو سره د خسرو مور چې له سترګو يې اوښکې روانې وې، د خپل زوی هرکلي ته راغله، هغه يې په غېږ کې ټينګ کړ، د خسرو په ليدو د هغه مېرمن او مشره لور هم په ژړا شوې، کوچني اولادونه يې غېږې ته ورغلل. د خسرو مور مهتاب پيکار وويل، يو وخت يې کور، موټر او ژوند درلود، خو ټول يې د خسرو له روږدېدو سره له لاسه ورکړل، اوس په يوه کرايي کور کې ژوند کوي. هغه د خسرو روږدېدنه د کورنۍ لپاره شرم وباله او ويې ويل چې د خپل زوی د درملنې توان نه لري، هغې زياته کړه: "تر دې وړاندې يې هم څو ځلې د خسرو درملنه کړې، هر ځل چې روغ شي، له څه وخت وروسته بېرته نشه يي توکو ته مخه کوي."

د خسرو مېرمنې زاهدې پيکار وويل: "د خپل خاوند له نشتوالي سخته ځورېږم، اولادونه مې پلار غواړي، هره دقيقه خبرې يې ما ځوروي، د افغانستان اوسنيو شرايطو کې يوې مور ته د پنځو اولادونو روزنه اسان کار نه دی." هغې وويل چې د کابل ښار يوه ښوونځي کې د ښوونکې په توګه دنده اجرا کوي، خو له ګڼو اقتصادي ستونزو سره مخ ده. زاهدې زياته کړه: "په خپل پنځه وخته لمانځه کې دعا کوم چې خدای پاک مې ژوند ته پخوانۍ خوښۍ بېرته را ستنې کړي، پر دې ټولو ستونزو سربېره له خسرو سره له زړه مينه لرم، هيله ده چې جوړ او بېرته زما د اولادونو پلار شي."

پژواک د عامې روغتيا له وزارت څخه وغوښتل چې له دې کورنۍ سره په درملنه کې مرسته وکړي؛ د عامې روغتيا وزير ډاکتر فيروز الدين فيروز دغه غوښتنې ته لبيک ووايه، خو زياته يې کړه چې د روږدو د درملنې يو بنسټيز شرط دا دی چې هغوی بايد خپله له درملنې سره لېوالتيا ولري؛ ځکه چې دغه درملنه په زور نه کېږي. فيروز زياته کړه: "که چېرې دغه شخص[خسرو] په خپله خوښه حاضر شي، نو چمتو يو چې له نشه يي توکو سره د مبارزې مرکزونو کې يې د درېيو مياشتو لپاره تر درملنې لاندې ونيسو." خو خسرو وويل چې د اوس لپاره چمتو نه دی چې د درملنې لپاره روغتيايي مرکز ته ولاړ شي؛ ځکه چې هره ورځ درې ګرامه نشه يي توکي کاروي او بايد د درملنې مرکز ته له تګ وړاندې دغه کچه را ټيټه کړي. پژواک ونه توانېد چې د تاج محمد پته پيدا کړي؛ هغه شخص چې خسرو يې قاچاقبر بولي او وايي چې دغه شخص ده او کورنۍ ته يې دا ټول ستونزې ور پېښې کړې او ممکن د انساني قاچاق له لارې يې د ګڼ شمېر خلکو ژوند ور تباه کړی وي. له بلې خوا ايراني چارواکو هم تر اوسه په دې اړه څه نه دي ويلي.

اوسمهال په ټول افغانستان کې څه باندې درې ميليونه کسان پر نشه يي توکو روږدي دي.

د اجباري کار په اړه د پژواک دويم راپور:

## پر يو چا د پور په بدل کې کار کول انساني قاچاق دی



*Mar 16, 2017 — موسی زی*

کابل (پژواک، ۲۶ کب ۹۵): د ځینو کسانو له لوري یو شمېر کورنیو ته پیسې په پور ورکول کېږي او بیا وروسته پرې شاقه کارونه کېږي چې دغه کار د قانون له مخې انساني قاچاق بلل کېږي. د کابل په ګډون په یو شمېر ولایتونو کې ځینو بېوزله کورنیو ته د یو شمېر کسانو له لوري پور ورکړل شوی څو په باغونو، کورونو، دوکانونو، د خښتو په بټیو او نورو سیمو کې په لږه مزدورۍ شاقه کارونه ورسره وکړي. پوروړي کسان او کورنۍ له پور ورکوونکي سره ګرو وي او د وخت په تېرېدو سره یې د پور کچه نوره هم لوړېږي.

د کار په غیر منظمو او یا هم غیر قانوني ساحو کې له کارګرو ګټه اخیستنه انساني قاچاق دی چې ځیني افغانان هم له دې ستونزې مخ دي. په هېواد نا مناسب امنیتي شرایط، د کار نه شتون او بېوزلي د دې لامل شوي چې ځیني کسان پور واخلي او د پور ورکوونکو په لومه کې ولوېږي او په مقابل کې بیا لږ مزد د دې لامل کېږي چې کارکوونکي ونه شي کولای چې پور ورکړي نو له همدې امله پوروړې او کورنۍ یې اړ کېږي چې د همېش لپاره د پور ورکوونکو په چوپړ کې و اوسي. په دې ډله زیانمنو کسانو کې یو هم د کابل ولایت د قره باغ ولسوالۍ اوسېدونکی غلام صدیق دی؛ هغه نهه اولادونه لري او مشر زوی یې ۱۴ کاله عمر لري چې ټوله ورځ له پلار سره په بڼ کې په شاقه کارونو بوخت وي.

**د غلام صدیق د ژوند کیسه او ستونزې:**

غلام صدیق چې ٤٠ کاله عمر لري، خو پر مخ یې ګونځې له ورایه ښکاري، ډېر کار یې د لاسونو، پښو او مخ رنګ هم تور کړی دی. نوموړی وړاندې تر دې چې افغانستان ته راشي په پاکستان کې یې له خپلې کورنۍ سره ژوند کاوه چې د یوې مړۍ ډوډۍ پیدا کولو په موخه یې په ساختماني برخو کې کار کاوه. یواځې غلام صدیق نه دی چې له دې ډول ستونزې سره مخ دی، ډېرې کورنۍ چې له ایران او پاکستان څخه را ستنې شوې دي له ورته ستونزې سره مخ دي.

غلام صدیق چې بېلچه یې په لاس کې او د ویالې څنګ ته ولاړ و، پژواک خبري اژانس ته د خپل ژوند ناخوالې داسې بیان کړې: "دوه کاله مخکې په کور نه غوړي وو، نه بوره وه، نه اوړه، مریضان مې هم درلودل، حیران وم چې څه وکړم، د دغه باغ خاوند ته راغلم او پور مې ترې وغوښت." غلام صدیق لږ غلی شو او پر خپل ماضي یې ځغلنده نظر وکړ، زیاته یې کړه: "ما لږې پیسې غوښتې خو د باغ خاوند راته پنځوس زره افغانۍ قرض راکړې او شرط یې راباندې کېښود چې زه او ماشومان به مې په باغ کې ورسره کار کوو." د هغه د معلوماتو له مخې، په دې موده کې دوی نه دي توانېدلي چې د بڼ د څښتن پور خلاص کړي؛ نو ځکه ټوله ورځ دی او ماشومان یې په د‌ې٤٠ جریبه بڼ کې کار کوي. په دغه بڼ کې د انګورو تر څنګ د مڼو، زردالو، الوچو، شفتالو او نورو مېوو ونې ولاړې دي. غلام صدیق وایي: "ډېر اقتصادي مشکل لرم، پر دې هم نه پوهیږم چې کله به له دغه قرضه خلاص شم." د هغه په وینا، په دغه باغ کې د کار کولو په بدل کې ورته په کال کې یو څلورمه برخه د باغ د حاصلاتو ورکول کېږي. هغه وایي چې په دې عاید سره یوازې دوی کولای شي خپلې ورځنۍ چارې پر مخ بوځي. ده وویل چې د ده په څېر یو شمېر خلک هم په باغونو کې له ورته برخلیک سره مخ دي.

**۱٤ کلن ابراهیم: موږ هم خدای لرو**

ابراهیم چې نوی زلمی دی، سهار له پلار څخه مخکې بڼ ته راځي او ماښام په تیاره کې کور ته ځي. هغه چې د ژمي په سړه هوا کې نرۍ او زړې جامې پر تن وې، پژواک ته وویل: "نه مکتب ته ځم او نه هم کومه لوبه کوم، هره ورځ له سهاره تر ماښامه له خپل پلار سره په دې باغ کې کار کوم." د ابراهیم چې د مخ رنګ ژېړ، وزن یې کم او سترګې یې له عادي حالت څخه ننوتې ښکارېدې، زیاته کړه: "سهار شین چای او وچه ډوډۍ خورم، غرمه کله ګلپي، کچالو او یا هم شکنه وي."

هغه د يوې پوښتنې په ځواب کې وويل چې دوه مياشتې مخکې يې يو ځل د بل چا په خيرات کې غوښه خوړلې ده. هغه زياته کړه: "کاش موږ پيسه داره وای، زه به هم مکتب ته تللم، خويندې او وروڼه به مې هم مکتب ته تلل او دومره به مو مشکلات ډېر نه وو." هغه چې له سهار راهيسې کار کړی و او ستړی هم ښکارېده وويل: "زما هم زړه کېږي چې لوبې وکړم، ښه کالي واغوندم، خو ماښام چې کور ته ولاړ شم ډېر ستړی وم، يوه مړی ډوډۍ خورم او ويده کېږم." ابراهيم نه غوښتل نورې خبرې وکړي، خو يوازې دومره يې وويل: "موږ هم خدای لرو."په د يادونې ده، په دغه راپور کې ذکر شوي دواړه پورتني نومونه غلام صديق او ابراهيم مستعار نومونه دي.

**ښوال: ما له دې کورنۍ سره زياتی نه، بلکې مرسته کړې ده**

حاجي جلال د هغه باغ څښتن دی چې غلام صديق او ابراهيم په کې د پور پوره کولو په موخه ټوله ورځ کار کوي. هغه وايي: "دغه کورنۍ دوه کاله وړاندې چې په ډېر مشکل کې وه، ماته راغله او راته يې وويل چې داسې يو کار موږ ته راکړه چې خپل کور ته نفقه پيدا کړو، ما هم پيسې ورکړې او هم مې په باغ کې استخدام کړل." ده زياته کړه چې په کمو پيسو د دې کورنۍ ستونزه نه هوارېده، نو پنځوس زره افغانۍ مې ورکړې او دې کورنۍ يې هم په بدل کې په بڼ کې د کار کولو ژمنه کړې ده. حاجي جلال وايي: "ما له دې کورنۍ سره زياتی نه، بلکې مرسته کړې ده، که ما پيسې نه وای ورکړې، له ډېرو مشکلاتو سره به اوس مخ وه." د هغه په وينا، هر وخت چې دغه کورنۍ وتوانېده د ده پيسې ورکړي، نو دی حاضر دی چې د دوی کډه په خپل موټر کې هر ځای ته چې غواړي انتقال کړي.

**د بشري حقونو کمېسيون: د دې ستونزې د حل لپاره يوې بشپړې او عملي ستراتيژۍ ته اړتيا ده**

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون د ماشومانو څانګې عمومي مسوول نجيب الله ببرکزي پژواک ته وويل چې د کابل په ګډون د هېواد په ډېرو سيمو کې ماشومان په شاقه کارونو بوخت دي. هغه وايي چې په ډېرو سيمو کې دوی ناظرين لري او هغوی ورته راپور ورکړی چې د خښتو په بټيو، روغتونونو، ورکشاپونو، هټيو او نورو ځايونو کې ماشومان شاقه کارونه کوي. خو ده زياته کړه: "تر اوسه موږ ته داسې کوم راپور نه دی راغلی چې ځيني کورنۍ او ماشومان په باغونو کې د پور په بدل کې په شاقه کارونو بوخت دي، خو موږ به په دې اړه هم پلټنې وکړو." ببرکزی وايي چې د ماشومانو د شاقه کارونو په اړه يې د کار او ټولنيزو چارو وزارت تر څنګ اړوندو نورو مسوولينو ته هم خبر ورکړی دی. ده له حکومت څخه غوښتنه وکړه چې د ماشومانو د شاقه کارونو د مخنيوي لپاره يوه بشپړه او عملي ستراتيژي جوړه کړي.

**يونيسېف: شاقه کارونو ماشومان له زده کړو بې برخې کړي**

د ملګرو ملتونو د ماشومانو د خونديتوب اداري (يونيسېف) وياند عزيز الله فروتن پژواک ته وويل، ډېری ماشومان خو په ځانګړي ډول هغه ماشومان چې په باغونو کې کار کوي، له زده کړو محروم دي. ده وويل چې د دغه ډول ماشومانو لپاره يونيسېف په کليو او بانډو کې د زده کړو اسانتياوې برابرې کړې دي. هغه وايي: "موږ دغه پروګرام تر اوسه په ۱۸ ولايتونو کې لرو، خو په پام کې ده چې په راتلونکي کال کې يې ۲۰ ته وغځوو."

د هغه د معلوماتو له مخې، تر اوسه په دغه پروګرام کې شاوخوا ۱۳۰زره ماشومان چې ۷۰زره يې نجونې دي، شامل شوي دي. فروتن د يوې پوښتنې په ځواب کې وويل چې د کابل په ډېرو سيمو کې ښوونځي شته نو د يونيسېف دغه پروګرام په کابل کې ولې نشته؟ هغه وويل که د پوهنې وزارت له دوی څخه غوښتنه وکړي، نو په کابل کې به هم ورته پروګرام پيل شي.

**عدليې وزارت: اجبار د قانون له مخې جرم دی**

د عدليې وزارت ویاند امان رياضت پژواک ته وويل چې په دوولسو تقنيني سندونو کې د ماشومانو د شاقه کارونو پر مخنيوي ټينګار شوی دی. ده وويل چې د همدغو اسنادو له مخې، کوم کسان چې ماشومان شاقه کارونو ته اړ باسي، بايد تر عدلي تعقيب لاندې راشي. خو ده ونه ويل چې تر اوسه څوک تر عدلي تعقيب لاندې راغلي او که نه.

د جزا قانون له مخې، که يو کس په اجبار سره کار کولو ته اړ شي دغه کار جرم ګڼل کېږي. د رياضت د معلوماتو له مخې، د ماشومانو د حقونو خونديتوب په موخه د ټولنيز ملاتړ په نوم يو قانون هم تر کار لاندې دی.

**د انساني قاچاق د مخنيوي عالي کمېسيون: د پور په بدل کې کار انساني قاچاق دی**

د انساني قاچاق د مخنيوي عالي کمېسيون غړې مريم زرمتۍ پژواک ته وويل چې د پور په بدل کې پر يوې کورنۍ په باغونو او نورو سيمو کې کار کول انساني قاچاق بلل کېږي. د هغې په وينا، د افغانستان په ټولو نافذه قوانينو کې انساني قاچاق جرم بلل شوی او ترسره کوونکي ته يې بايد سزا ورکړل شي. زرمتۍ زياته کړه: "که څوک يوه کورنۍ په باغ او يا نورو ځايونو کې له رضايت پرته د پور په بدل کې استخدام کړي، دا د انساني قاچاق ښکاره نښه ده." دې وويل چې ډېری کورنۍ د بېوزلۍ او د کار د نشتوالي له امله ورته کارونو ته غاړه ږدي او دې ته انساني قاچاق وايي.

هغې ټينګار وکړ چې اړوند ارګانونه بايد په دې برخه کې خلکو ته عامه پوهاوی ورکړي، څو په پوهاوي او نا پوهاوي کې د انساني قاچاق ښکار نه شي. زرمتۍ په دې برخه کې کومه شمېره وړاندې نه کړه چې څومره کورنۍ په افغانستان کې له انساني قاچاق سره مخ دي. د يادونې ده، په دې وروستيو کې په افغانستان کې د انساني قاچاق کچه لوړه شوې او پژواک خبري اژانس هڅه کوي څو يې بېلګې خلکو ته وړاندې کړي.

دا په داسې حال کې ده چې يواځې افغانان دننه په افغانستان کې نه، بلکې په نورو هېوادونو کې هم له ورته ستونزو سره مخ دي او په مقابل کې يې بيا لږې پيسې لاسته راوړي، کله نا کله وهل کېږي او ځيني وختونه له جنسي ځورونو سره هم مخ کېږي. ځيني افغانان چې د پور ورکوونکو په لومه کې لوېدلي، اړ کېږي چې خپل بچيان ان نوي ځوانان د کار کولو لپاره ګاونډيو هېوادونو پاکستان او ايران ته واستوي چې هلته بيا له ګڼو ستونزو سره مخ کېږي. دغه راپور په همدې ځای کې پای ته رسېږي خو د ابراهيم هغه خبره چې ويلي وو، "موږ هم خدای لرو" د خلکو لپاره زړه بوږنوونکې ده او په دې برخه کې خلک د حکومتي مسوولينو جدي غبرګون ته په تمه دي.

## ۲۰- بېګار (له مزد پرته کار ته اړ ایستل)

پر یو چا په زورکار کول او یو څوک په زورکار کولو ته مجبورول بېګار بلل کېږي. ډېری کسان دي چې په شکل د اشکالو یو شمېر کسان پرته له مزده کار کولو ته اړ کوي چې په عامه اصطلاح ورته بېګار ویل کېږي. په ډېرو هغو پېښو کې چې په افغانستان کې پر خلکو د بېګار په بڼه له کومې اجورې پرته کار کېږي، هغه شخص ګرو شوی او په خپل واک کې راوستل شوی وي. د جنس یا پیسو په بدل کې د یو چا له مجبوریته ناوړه استفادې ته په ګرو کې نیولو ته وایي.

بېګار له مزد پرته اجباري کار ته ویل کېږي، بېګار ښايي د ګواښ، وېرولو، تاوتریخوالي او یا د کسانو د اړ ایستلو له لارې رامنځته شي. د بېګارتیا مفهوم د مریيتوب یو ډول دی لکه د پور په بدل کې مریيتوب ته اړ ایستل، د اجباري کار مرکز او داسې نور. له غلامۍ یا مریيتوب سره د بېګار توپیر دا دی چې په مریيتوب کې انسان خپله د پېرلو د یوه توکي په توګه ګڼل کېږي، خو په بېګارۍ کې دغه کار لازمي نه دی.

د یادونې وړ ده چې د کار نړیوال سازمان د تعریف پر بنسټ چې په ۱۹۳۰ زېږدیز کال کې یې رسمیت پیدا کړ، د عسکري خدمت او بند په وختونو کې کار کولو ته بېګار نه ویل کېږي.

د افغانستان په ګوټ ګوټ کې خلک پرته له مزده کار کولو ته اړ ایستل کېږي؛ د بېلګې په ډول د ننګرهار د کار او ټولنیزو چارو ریاست د معلوماتو له مخې، په دغه ولایت کې نږدې درې زره ماشومان د کرنې برخې په سختو کارونو بوخت دي او د مجبوریت له مخې له زده کړو بې برخې دي. د سره رود ولسوالۍ د خښتو په بټیو کې لسګونه کورنۍ په ګرو نیول شوې، ماشومان یې پر سختو کارونو بوخت او له زده کړو بې برخې دي.

دمګړۍ د ننګرهار په سره رود ولسوالۍ کې د خښتو ۶۴ بټۍ شته چې د ډېرو یې کارګر ګرو شوي او په لږو پیسو کار کوي. د خښتو بټیو مسوولینو یو شمېر کورنۍ په لوی لاس د ځان پوروړې کړې او په خپل ګرو کې یې ساتلې دي. ګرو شوي دغه کسان تر هغو پورې باید په دغو بټیو کې کار وکړي څو یې پور نه وي خلاص کړی. په ختیځ کې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون اندېښمن دی چې که دغه ماشومان همداسې له زده کړو، روغتیا او تفریح محروم را لوی شي، نو په راتلونکي کې به له ډېرو ستونزو سره مخ شي.

د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال په نازي المان کې په ډېر شمېر خلک بېګار ته اړ کړل شول؛ دغه کار د جرمني دولت د دې لپاره کاوه چې هلته ډېری ځوانان د جګړو لیکو ته لېږل کېدل او د کاري ځواک له کمښت سره مخ و. دغه راز د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال په جاپان کې هم په کانونو او کارخونو کې د کار لپاره سلګونه زره کوریایان بېګار ته اړ کړل شول.

د بېګار په اړه د پژواک راپور:

### فراه کې ځیني پولیس پر معتادینو اجباري کارونه کوي



*بنیامین بارز– Oct 28, 2017*

فراه (پژواک، ٦ لړم ٩٦): په فراه کې پر نشه یي توکو یو شمېر روږدي کسان وایي، د دغه ولایت پولیس پر دوی باندې په تشه ګېډه مورچې جوړوي او نور درانه کارونه پرې کوي او کله چې پیسې ترې غواړي سپکې سپورې ورته وایي. پر نشه یي توکو یاد روږدي کسان د فراه د مرکز اړوند تاریخي کلا کې د دوی له لوري په جوړو شوو سمڅو کې ژوند کوي. سربېره پر دې د پولیسو له لوري دا ډول تاوتریخوالي د دوی ژوند لا پسې سخت کړی دی. د یادې سیمې د معتادینو شمېر چې د فراه ښار د پولیسو څلورمې حوزې اړوند د فریدو کلا تر دېوالونو لاندې یې ځانونو ته د اوسېدو لپاره سمڅې جوړې کړې دي، سلګونه کسانو ته رسېږي. دغه راز پر نشه یي توکو روږدي یو شمېر نور کسان د یادې کلا اړوند یوې سیمې ته چې "باغ کافي" نومېږي، سره راټولېږي. د فراه ښار د مرکز یو اوسېدونکی ۳۵ کلن عبدالکریم چې په تریاکو او شیشې روږدی دی، په فریدون کلا کې له تېرو څلورو کلونو راهیسې له خپلې څلورکسیزې کورنۍ (مېرمن، دوو لوڼو او زوی) سره جلا ژوند کوي.
هغه له یوې تیارې او دود ډکې سمڅې راووت، پر زړو جامو پرتې خاورې او ګرد یې ټک واهه او خپل څادر یې په سر وتاړه او له پولیسو یې شکایتونه پیل کړل. د هغه چې کله کمرې ته پام شو او پر دې وپوهېد چې فلم یې ثبتېږي، خپلې پایڅې یې پورته کړې او په خپله پښه کې یې ټپ ته په اشارې سره وویل: "پولیس دي، ظلم کوي، تاسو ووینئ چې زه یې څومره ډبولی او وهلی یم، دولت ورته پیسې ورکړې چې په هغو باندې ځان ته مورچې جوړې کړي، خو پیسې جېبونو ته اچوي او پر موږ باندې په زور کار کوي."
د هغه په وینا، پولیس د معتادینو ځای ته همېشه ورځي چې بیا یو شمېر پر نشې روږدي کسان په زور رینجرو ته پورته کوي، دفترونه پرې پاکوي، مورچې پرې جوړوي او د اوبو څاګانې پرې باسي او دغه راز نور کارونه. عبدالکریم وایي، پولیس روږدو ته د کار په بدل کې پیسې نه ورکوي او معتادین هم د پولیسو له دغه ډول چلنده تر پزې راغلي دي. نوموړي چې د خپل بدن له کمزورۍ یې شکایت کاوه، وویل چې دی په دغه ځان درانه کارونه نه شي کولی او زیاته یې کړه چې دی هم څو ځلې پولیسو درنو کارونو ته په زور بیول دی او د سلطان امیر سیمې په پوستو کې یې مورچې پرې جوړې کړې دي.
هغه زیاته کړه: "پولیس معتادین وهي او ډبوي، زموږ حق نه راکوي، تر ماښام پورې مو وږي ساتي، که کومه خبره کوو، نو په ناموس مو ښکنځي، که چېرې مرګ د چا په وس کې وای، هماغه وخت به یې ځان وژلی و، خو دا دی چې زموږ په وس کې نه دی." دغه روږدی چې له دغه وضعیته تر پزې راغلی، د مرستې غوښتنه کوي او وایي: "موږ هم د ټولنې غړي یو، انسانان یو، ناروغان یو او د دولت له لوري درملو او درملنې ته اړتیا لرو، له موږ سره ظلم کېږي، له تاسو رسنیو غواړم څو زموږ غږ د چارواکو تر غوږونو ورسوئ."
عبدالکریم د خپلې کورنۍ د بېوزلۍ په اړه هم خبرې وکړې او زیاته یې کړه، په دغه ځای کې د هغه پاتې کېدل، د نوموړي د ځوانۍ او کورنۍ په حق کې ظلم دی، خو له دغه حالته د وتو په لاره نه پوهېږي. هغه وویل، د نوموړي پلار د هغه د کورنۍ د ساتلو مسوولیت پر غاړه اخیستی، خو نوموړی هم پیسو ته اړتیا لري چې پولیس باید هغه او نور معتادین په وړیا توګه درنو کارونو ته اړ نه باسي. د سمیع الله په نوم یوه بل معتاد وویل: "پولیس موږ په زور کار ته مجبوروي، پیسې نه راکوي، موږ غلا کولو ته اړ کېږو، پیسو ته ضرورت لرو؛ ځکه نشه یي توکي پرې اخلو."
یو بل معتاد ۲۸ کلن عبدالمنان چې تورې زړې جامې یې اغوستې وې او د فریدون کلا یوې څنډې ته یې تکیه کړې وه، د عبدالکریم خبرې تایید کړې. هغه وایي: "پولیس موږ بیایي، پر موږ مفت کار کوي، درې ساعته، څلور ساعته او ان تر مازدیګره پورې مو له ځان سره ساتي او هره ورځ یو ځلې راځي او له ځان سره له څلورو تر لسو کسانو پورې له ځان سره بیایي او په بدل کې یې موږ ته هېڅ هم نه راکوي او له دې سره سره مو وهي هم."
عبدالمنان وایي، پولیس له پخوا راهیسې پر معتادینو دا ډول ظلمونه کوي. هغه د جزئیاتو له وړاندې کولو پرته ادعا وکړه او زیاته یې کړه، تېر کال پولیسو یو شمېر معتادین له دې امله چې له هغوی سره کار کولو ته نه تلل، دومره ووهل چې له څو ورځو وروسته یې ژوند له لاسه ورکړ. خلیل یو بل ۳۰ معتاد چې د یادې سیمې د نورو معتادینو په پرتله یې منظمې جامې درلودې، له پولیسو یې پر دوی د کار کولو په اړه ډېر شکایتونه وکړل.

هغه زیاتوي: "پر دې سربېره چې پولیس موږ ته د کار په بدل کې پیسې نه راکوي، خوراک هم نه راکوي، ډېرې وخت موږ په خپلو بوجیو کې وچه ډوډۍ لرو، خو د کار په وخت کې که چېرې وچې ډوډۍ ته هم لاس کړو، نو موږ په لرګیو او لغتو وهي." له یاد معتاد سره د خبرو پر مهال د سید احمد په نوم یوه بل معتاد له خاورو ډکې څېرې سره له مغارې سر را و ایست او ویې ویل: "وګورئ ملي پولیسو موږ څو ورځې وړاندې کار ته بیولو، وضعیت مې لږ خراب و، ورته مې ویل چې نه یې شم کولی، بیا یې زه سخت ووهلم او له سر مې وینې بهېدل شروع شول، ضعف مې وکړ او بیا پر ځمکې ولوېدم." د "باغ کافي" یو بل معتاد نعمت الله وایي: "اردو او ملي امنیت له موږ سره کار نه لري، یواځې پولیس، پولیس چې هر اجاره یې او شخصي کار ولري، موږ له ځان سره په زور بیایي، وهي مو، زموږ حقونه تر پښو لاندې شوي او که خپل غږ پورته کړو، بیا مو وهي، هېڅوک هم زموږ غږ نه اوري." د سیمې یو شمېر اوسېدونکي هم له معتادینو سره د پولیسو دغه ناوړه چلند تاییدوي؛ د باغ کافي سیمې یو اوسېدونکی عبدالله تاییدوي، هره ورځ د ورته صحنو شاهد وي او پولیس له رینجر موټرو په ګټې اخیستو معتادین په زور له ځان سره د کار کولو په موخه بیایي. نوموړي هم د پولیسو دغه کار وغانده او ویې ویل، په یوه اسلامي ټولنه کې له معتادینو سره باید دا ډول چلند ونه شي. د یاد ولایت یو مدني فعال بریالی غفاري هم په دې اړه وایي: "موږ د سیمې د خلکو له خولو اورو او په خپله مو هم لیدلي چې د حوزې پولیس ځیني معتادین په بې‌لابېلو پلمو نیسي، بیا یې وهي او له ځانونونو سره حوزې ته بیایي چې بیا پرې خپله حوزه پاکوي او داسې نور کارونه."

**له روږدو سره د تاوتریخوالي په اړه د چارواکو نه خبرتیا:**

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د خپرونو ریاست یوه کارکوونکي احمد ضیاء لنګري وویل، یاد کمېسیون په فراه کې خپله دفتري څانګه نه لري او تر اوسه پورې یې دا ډول راپور نه دی ترلاسه کړی. خو هغه زیاته کړه: "روږدي هم د نورو کسانو په څېر بشري حقونه لري، دوی ناروغان دي، باید داسې چلند ورسره ونه شي، که چېرې پولیسو ربښتیا هم داسې چلند ورسره کړی وي، له بشري حقونو یې سرغړونه کړې، پولیس د دې پر ځای هغوی باید د درملنې مرکز ته ولېږدوي." هغه وایي، دا موضوع د بشري حقونو کمېسیون د دفتر له لارې په هرات کې تعقیبوي. له انساني قاچاق سره د مبارزې عالي کمېسیون استازي عبدالوحید هدایت پژواک ته وویل، تر اوسه پورې یې په دې اړه کوم شکایت نه دی ترلاسه کړی. خو هغه زیاته کړه: "که چېرې داسې کومه موضوع وي، له بشري حقونو سرغړونه ده، موږ دا موضوع له کورنیو چارو وزارت سره شریکوو، څو دا موضوع په جدیت سره وڅېړي." پژواک خبري اژانس د فراه د روږدو شکایتونه او دردونه د دغه ولایت له امنیې قوماندانۍ سره چې دواړو سیمو ته نږدې موقعیت لري، شریک کړل. د قوماندانۍ د امنیت امر سمونمل ګلبهار مجاهد هم وایي چې تر اوسه پورې یې داسې شکایتونه نه دي ترلاسه کړي او زیاتوي چې د قوماندانۍ اړوند پوستو د ټینګښت او ودانۍ جوړولو کارګر د مزد په بدل کې کار کوي. خو هغه وویل، د روږدو شکایتونه به تعقیب کړي: "پولیسو ته له همدغه ځایه اخطار ورکوم چې که چېرې یو څوک زیانمن شوی وي، د دې پر ځای چې موږ پرې زړه وسوځوو، نور ظلم او زیاتی ورسره کوو؟ که چېرته همداسې وي، نو پولیس جفا کوي." د هغه په خبره، که چېرې روږدي کار ته حاضر شي، باید مزدوري ورکړل شي. د ګلبهار مجاهد او ځینو نورو سرچینو دا خبرې چې روږدي د پولیسو له لوري درنو کارونو ته بېګار کېږي، په داسې حال کې مطرح کېږي چې پژواک خبري اژانس هم په ۱۳۹۳ کال کې له دغه ولایت څخه ورته راپور درلود او هغه مهال هم امنیې قوماندانۍ ویلي وو چې داسې کوم شکایت یې نه دی ورته شوی، موضوع به وڅېړي. د فراه امنیتي قوماندانۍ د امنیت امر د معلوماتو له مخې، په فریدون کلا او باغ کافي کې شاوخوا ۴۳۰ معتادین شته چې د هلمند، نیمروز او کندهار ولایت اوسېدونکي په کې دي. له نشه یي توکو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې ادارې (UNODC) د ۲۰۱۳ زېږدیز کال سروې څرګندوي چې په دغه ولایت کې پر نشه یي توکو د روږدو شمېر تر ٤٥زره کسانو پورې رسېږي. دغه روږدي د فراه د نفوس شاوخوا لس سلنه تشکیلوي؛ ځکه چې د مرکزي احصایې ادارې د دغه ولایت د وګړو شمېر ٤٥٠زره اټکل کړی دی. د راپورونو پر بنسټ، په افغانستان کې څه باندې درې میلیونه کسان پر نشه یي توکو روږدي دي.

## ۲۱- د پور په بدل کې کار ته اړ ایستل

د پور په بدل کې کار، هغه کار ته ویل کېږي چې کارکوونکی یې د یوه داسې تړون له مخې ترسره کوي چې له اقتصادي ملاحظاتو رامنځته شوی وي، په تېره بیا کله چې کارکوونکي پور یا پیشکي پیسې اخیستې وي، په داسې حال کې چې پور د دغه ډول کار، اصلي لامل دی. د دغه تړون پایلې یې دا دي چې کارکوونکی (یا د هغه متعلقین او وارثان) مکلف وي چې تر یوې ټاکلې یا نا ټاکلې مودې پورې، څو چې پور بېرته ورکوي، د پور ورکوونکي لپاره کار وکړي.

په افغاني ټولنه کې یو شمېر کسان شته چې په مشروط ډول نورو کسانو ته پور ورکوي؛ د بېلګې په ډول ورته وایي چې سل زره افغانۍ په دغه شرط ورکوي چې تر یوې مودې پورې به پور اخیستونکی او د هغه کورنۍ له دوی (پور ورکوونکي) سره په کور، باغ، دوکان او.... کې کار کوي.

د ځینو کسانو له لوري یو شمېر کورنیو ته پیسې په پور ورکول کېږي او بیا وروسته پرې درانه کارونه کېږي چې دغه کار د قانون له مخې انساني قاچاق بلل کېږي؛ د بېلګې په ډول د کابل په ګډون په یو شمېر ولایتونو کې ځینو بېوزله کورنیو ته د یو شمېر کسانو له لوري پور ورکړل شوی، څو په باغونو، کورونو، دوکانونو، د خښتو په بټیو او نورو سیمو کې درانه کارونه له وجورې پرته او یا په لږ مزد ترسره کړي. پوروړي کسان او کورنۍ یې له پور ورکوونکي سره ګرو وي او د وخت په تېرېدو سره یې د پور کچه نوره هم لوړېږي. که څوک یوه کورنۍ په باغ او یا نورو ځایونو کې له رضایت پرته د پور په بدل کې استخدام کړي، دا د انساني قاچاق ښکاره نښه ده او ډېری کورنۍ د بېوزلۍ او د کار د نشتوالي له امله ورته کارونو ته غاړه ږدي چې دا بیا انساني قاچاق دی.

د کار په غیر منظم او یا هم غیر قانوني ساحو کې له کارګرو څخه ګټه اخیستنه انساني قاچاق دی چې ځیني افغانان هم له دې ستونزې سره مخ دي. د هېواد نا مناسب امنیتي شرایط، د کار نه شتون او بېوزلي د دې لامل شوي چې ځیني کسان پور واخلي او د پور ورکوونکو په لومه کې ولوېږي او په مقابل کې بیا لږ مزد د دې لامل کېږي چې کارکوونکي ونه شي کولای بېرته پور ورکړي، نو له همدې امله پوروړی او کورنۍ یې اړ کېږي چې د پور ورکوونکي په چوپړ کې و اوسي چې ځیني وختونه دغه لړۍ له نیکه بیا ان تر لمسي پورې هم غځېږي.

دا په داسې حال کې ده چې یواځې افغانان دننه په افغانستان کې نه، بلکې په نورو هېوادونو کې هم له ورته ستونزو سره مخ دي او په مقابل کې یې بیا لږې پیسې لاسته راوړي، کله نا کله وهل کېږي او ځیني وختونه له جنسي ځورونو سره هم مخ کېږي. ځیني افغانان چې د پور ورکوونکو په لومه کې لوېدلي، اړ کېږي چې خپل بچیان ان نوي ځوانان د کار کولو لپاره ګاونډیو هېوادونو لکه پاکستان او ایران ته واستوي چې هلته بیا له ګڼو ستونزو سره مخ کېږي.

د پور په بدل کې کار ته د اړ ایستلو په اړه د پژواک راپور:

## د تخار په نمک اب کې یو شمېر ماشومان د پور په بدل کې کار ته اړ ایستل کېږي




*زلمی عزیز– Dec 27, 2017*

تالقان (پژواک، ٦ مرغومی ٩٦): د تخار په نمک اب ولسوالۍ کې یو شمېر ماشومان د خپلو مشرانو د پورونو تر خلاصېدو پورې اړ دي چې د مالګې په کان کې له سهاره تر ماښامه کار وکړي. د دغو ماشومانو له ډلې یو هم محراب الدین (مستعار نوم) دی؛ نوموړی ۱۲ کاله عمر لري او د نمک اب ولسوالۍ اصلي اوسېدونکی دی. هغه هر سهار له لمر ختلو وړاندې له دوو خرو سره د مالګې کان ته ځي او تر مازدیګره بیا پر خرو مالګه وړي.

**قانون په دې برخه کې څه وايي؟**

د انسان او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون د دریېمې مادې په لومړۍ فقره کې راغلي چې د ناوړه ګټې اخیستنې په منظور د شخص استخدامول، حمل، نقل او ساتل انساني قاچاق ګڼل کېږي. د همدې مادې په بله برخه کې راغلي چې د ناوړه ګټې اخیستنې په موخه د ماشوم تر واک لاندې راوستو ته هم انساني قاچاق ویل کېږي. د یاد قانون په لسمه ماده کې راغلي، که چېرې د انساني قاچاق په پېښه کې مجني علیه ښځه یا ماشوم وي، د جرم مرتکب پر اته کاله بند محکومېږي. په همدې منظور د پژواک خبري اژانس خبریال له تالقانو ښار څخه نمک اب ولسوالۍ ته څو ځلې سفرونه وکړل، څو وکولای شي د مالګې په کان کې د قاچاق شوي ماشومانو په اړه معلومات ترلاسه کړي. خبریال وایي: "په کان کې سلګونه ماشومان کار کوي، د ټولو عمرونه له ۱۵ کلونو کم دي، ډېری یې د اقتصادي ستونزو له امله دغه کار کوي، خو ځینو نورو ته بیا دغه کار له پلار او نیکه ور پاتې دی. " دی زیاتوي چې له ډېرو ماشومانو سره تر خبرو کولو وروسته وتوانېد چې محراب الدین پیدا کړي؛ ځکه نوموړی یو قاچاق شوی شخص دی.

**محراب الدین: پلار مې د مور د درملنې لپاره پیسې قرض کړې**

محراب الدین پژواک ته وویل: "دوه کاله وړاندې مې یوه ورځ مور سخته ناروغه وه، ببخي مرګ ته نږدې وه، پلار مې لاړ د مالګې له یو سوداګر څخه یې پنځوس زره افغانۍ قرض کړې." هغه د دغه سوداګر نوم یاد نه کړ خو زیاته یې کړه: "زما پر پلار یې شرط ایښې تر هغه چې پیسې خلاصوي، نو هره ورځ به دې زوی، زما لپاره د مالګې له کان څخه مالګه راوړي." ده وویل چې پلار یې ختګر دی، نور مشران ورونه نه لري؛ نو ځکه پلار یې یواځې په ختګرۍ باندې نه شي کولای یاد پور خلاص کړي. ده زیاته کړه: "پلار ته مې هم یوه ورځ کار پیدا کېږي، یوه ورځ نه پیدا کېږي، نو زه نه پوهېږم چې کله به دغه قرض خلاص شي خو د سوداګر د قرض تر خلاصېدو پورې باید زه ورسره کار وکړم."محراب الدین د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل چې تر اوسه یې د ښوونځي دروازه هم نه ده لیدلې.

په دغه کان کې یو شمېر نور ماشومان هم له ورته برخلیک سره مخ دي، خو د مرکې کولو لپاره نه حاضرېږي. دغه راز د محراب الدین پلار ٤٠ کلن فضل الحق (مستعار نوم) پژواک ته وویل چې په تېرو دوو کلونو کې یې ډېر کوښښ کړی

چې د مالګې د سوداګر پور خلاص کړي، خو نه يې شي کولای. هغه وايي: "يوه ورځ راته کار پيدا کېږي، يوه ورځ نه پيدا کېږي، څو روپۍ په مشکلاتو برابرې کړم چې سوداګر ته يې ورکړم، څو محراب الدين يې له منګولو خلاص کړم، خو بيا مې کور کې مريضي پيدا شي، يوه بله خبره وشي نو هېڅ نه کېږي چې د دغه کس پيسې ورکړم." فضل الحق د يوې پوښتنې په ځواب کې وويل: "د دغه کس ادرس او نوم نه شم درته درکولای، ډېرې پيسې لري، څه مشکل موږ ته جوړ نه کړي." ده وويل چې د محراب الدين په څېر لسګونه نور ماشومان هم شته چې د خپلو پلرونو د پورونو خلاصېدو په موخه د مالګې په کان کې کار کوي. نوموړی له حکومتي مسوولينو غوښتنه وکړه چې د پور په خلاصولو کې يې ورسره مرسته وکړي.

**روغتيايي کارکوونکي: په کان کې کارګر ماشومان له ګڼو روغتيايي ستونزو سره مخ کېږي**

د نمک اب ولسوالۍ د تاقچه خانې کلينک مسوول الهام پژواک ته وويل چې د دې ولسوالۍ ډېری ماشومان د مالګې په کان کې کار کوي. هغه وايي چې په دغه کان کې د مالګې ايستنه، مسلکي او پر ماشينونو نه ده نو ځکه هره ورځ تر لسو ډېر ماشومان ژوبلېږي. ده وويل: "دغو ماشومانو ته مکلفه ډوډۍ هم نه رسېږي او بله دا چې هلته مکمل اکسېجن هم نه وي؛ ځکه د مالګې ګرد او غبار وي، نو دوی د نفس تنګۍ تر څنګ له نورو ناروغيو سره هم مخ کېږي. "

الهام وايي چې په دغه کار کې پر ماشومانو د کار فشار هم ډېر وي؛ ځکه ډېری يې له رواني ناورغي سره هم مخ کېږي.

**د پوهنې چارواکي: د نمک اب ولسوالۍ تر ۹۰ سلنې ډېر ماشومان د مالګې په کان کې کار کوي**

د دې ولسوالۍ د پوهنې مديريت يوه څارونکي بصير احمد ابراهيمي پژواک ته وويل چې ډېری ماشومان ښوونځي ته د تګ پر ځای د مالګې په کان کې کار کوي. هغه وايي چې د مالګې کان په شاوخوا کې پنځه ښوونځي تاشبلاق، خم خيران، سرکان، تاقچه خانه او اکابير شهيد شتون لري خو په هر ښوونځي کې يواځې د سلو په شاخوا کې زده کوونکي زده کړې کوي.

ده وويل: "زموږ دغه هر ښوونځی له درې تر ۱۵ سوو کسانو لپاره جوړ شوی، خو له ۹۰ سلنې ډېر ماشومان د مالګې په کان کې کار کوي څوک نشته چې ښوونځي ته ولاړ شي." ده له کورنيو غوښتنه وکړه چې خپل ماشومان د مالګې د کان پر ځای ښوونځي ته واستوي او د ماشومانو راتلونکې دې له ګواښ سره نه مخ کوي. د اړوندې موضوع په اړه په شمال ختيځ زون کې د بشري حقونو خپلواک کمېسيون د ماشومانو برخې مسوول بسم الله وزيري پژواک ته وويل چې د نمک اب ولسوالۍ د مالګې په کان کې د ماشومانو له کورنيو سره يې خبرې کړې دي.

هغه وايي: "موږ يې له کورنيو سره وکتل، خبرې مو ورسره وکړې، له هغوی مو غوښتنه وکړه چې دغه ماشومان نور د مالګې کان ته وانه استوي او درس پرې و وايي." د هغه په وينا، د يادو ماشومانو له کورنيو يې ژمنه اخيستې چې دوه مياشتې وروسته به نور خپل ماشومان د مالګې کان ته نه استوي.

**له قاچاق سره د مبارزې عالي کمېسيون: ماشومان په کان کې کار ته اړ ايستل انساني قاچاق دی**

د انسان او کډوالو د قاچاق پر وړاندې د مبارزې عالي کمېسيون غړي محمد حسن سليمي پژواک ته وويل چې دغه ډول کړنې په ښکاره د انسان قاچاق او جرم دی. ده وويل چې دغه کمېسيون په دې برخه کې عامه پوهاوی ورکړی او نور د امنيتي ارګانونو دنده ده چې پر وړاندې يې اقدام وکړي.

دغه راز د تخار د کار او ټولنيزو چارو رييس سيد کاظم صادق پژواک ته وويل چې د نمک اب او کلفګان ولسواليو د مالګې په کان کې او د چال ولسوالۍ د ډېرو سکرو په کان کې سلګونه ماشومان په کار کولو بوخت دي. نوموړی وايي: "په دغو کانونو کې د لږو پيسو په بدل کې پر ماشومانو ډېر کار کېږي او د دغه کار اصلي لامل بېوزلي ده."

صادق وويل چې له سيمه ييزو چارواکو سره يې په ګډه پلان جوړ کړی څو په نوي ميلادي کال کې په کان کې د ماشومانو د کار کولو جدي مخنيوی وکړي. په پژواک کې د خپرو شوو راپورونو پر بنسټ، دا مهال په ټول هېواد کې نږدې دوه ميليونه ماشومان پر درنو کارونو بوخت دي.

## ۲۲- د یو شخص له مجبوریته ناوړه ګټه اخیستنه

د اسلام له نظره، له انسان څخه هر ډول ناوړه ګټه اخیستنه، لکه د هرې موخې لپاره انساني قاچاق، اجباري کار، اقتصادي تبعیض، په زور او له وخت څخه مخکې ودونو په ګډون جنسي ګټه اخیستنه ناروا کړنې دي. د انساني قاچاق او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون د دریېمې مادې په لومړۍ فقره کې راغلي چې د زیان منې او یا مجبوریت له حالت څخه ناوړه ګټې اخیستنې ته انساني قاچاق ویل کېږي.

ګټه اخیستنه یا استثمار (Exploitation of labour) د بل شخص د کار له حاصل څخه د ګټې اخیستو معنا لري. ګټه اخیستنه په بېلابېلو ټولنیزو او سیاسي نظامونو کې بېلابېلې بڼې خپلوي؛ د بېلګې په ډول د فیوډالېزم په دوران کې استثمار دې ته ویل کېده، دهقانانو به په ځمکو کې کار کاوه، خو ګټه به یې اربابانو ترلاسه کوله. دغه راز په پانګه والي نظام کې بیا ګټه اخیستنه د اضافي ارزښت د استخراج په بڼه وه چې ګټه به صنعتي پانګه والې طبقې د کاګرانو له طبقې اخیسته.

داسې پېښې ډېرې دي چې پر نشه روږدي کسان خپلې مېرمنې په زور کار کولو ته اړ کړې او ډېرې داسې پېښې پټې پاتې دي. ان داسې هم شوي چې ډېری پر نشه یي توکو روږدي کسان د دې لپاره چې مېرمن یې شکایت ونه کړي او یا طلاق ور څخه وا نه خلي، هغوی یې هم پر نشه یي توکو روږدې کړې دي. ډېرې مېرمنې بیا له خپلو دغه راز خاوندانو د طلاق اخیستو هڅه کوي او د دې ډول طلاق پېښې ډېرې شوې هم دي.

په افغانستان کې که له یوې خوا ورځ تر بلې پر نشه یي توکو د روږدو شمېر ډېرېږي، بلخوا پر نشه یي توکو له روږدو خاوندانو د مېرمنو د طلاق اخیستل هم زیات شوي دي. هغه مېرمنې سخت ژوند لري چې مېړونه یې پر نشه یي توکو روږدي دي، ان په ډېرو مواردو کې لیدل شوي چې روږدو کسانو د پیسو ترلاسه کولو لپاره خپلې مېرمنې په زور او جبر فحشا ته هم اړې کړې دي. په ټولنه کې لویه ستونزه دا ده چې ډېرې مېرمنې له دغه حالت څخه د خلاصون په موخه له وېرې یا د نورو دلایلو له امله د شکایت او غبر پورته کولو جرئت نه لري.

د مجبوریت له حالت څخه د ناوړه ګټې اخیستنې په اړه د پژواک راپور:

**نسیمه: خاوند مې د نشه یي توکو ترلاسه کولو لپاره په زور کار کولو ته اړه کړې یم**



*بشیر احمد نادم— Apr 21, 2018*

کندهار (پژواک، د غويي لومړۍ نېټه ۹۷): د کندهار ښار یوه اوسېدونکې وایي، خاوند یې پر نشه یي توکو روږدی دی او د دغو توکو ترلاسه کولو لپاره نه یوازې دا وهي او ټکوي یې، بلکې په زور یې کار کولو ته مجبوره کړې ده. نسیمې (مستعار نوم) چې شاوخوا ۳۸ کاله عمر لري پژواک خبري اژانس ته وویل، هره ورځ مجبوره

ده له سهاره تر ماښامه کار وکړي څو هم خپلو اولادونو ته نفقه پیدا کړي او هم د خاوند د نشه یي توکو پیسې ورکړي. هغه چې د پنځو اولادونو مور ده، زیاتوي که دغه کار ونه کړي نو هره ورځ د خاوند له خوا وهل کېږي او سپکې سپورې ورته ویل کېږي.
دا وایي، د خاوند د جبر داستان یې یوازې پر همدې ځای پای ته نه رسېږي، بلکې د دې وړه لور یې هم د نشه یي توکو ترلاسه کولو په موخه په ۹۰زره پاکستانۍ کلدارو پلورلې چې دا یې د بېرته خلاصون هڅه کوي. نسیمه چې د خپل خاوند او کورنۍ له وېرې په ډېر کړاو مرکې ته حاضره شوه، د خپل تریخ ژوند کیسه یې په دې ټکو پیل کړه: "پوره اتلس کاله مخکې د شلو کلونو وم چې کورنۍ مې یوه ځوان ته واده کړم، همدا زما د ژوند د بدمرغیو پیل و، خاوند مې له لومړیو شپو راسره ښه نه و، د شپې به تر ناوخته ورک و او کرار کرار خبرېدم چې پر نشه یي توکو روږدی دی." دا وایي، له وېرې یې چا ته شکایت هم نه شو کولای او دغه حالت یې تر کلونو وزغامه. د دې په خبره، یو وخت داسې هم راغی چې خسرګنۍ دوی په داسې حالت کې جلا کړل چې د درېیو-څلورو اولادونو مور شوې وه او خاوند یې هم داسې حالت ته رسېدلی و چې د کار او روزګار نه و. دا وایي، له ناکامه یې په یو کنډواله کور کې واړول او همدلته یې د ترخه ژوند یو بل پړاو پیل شو. نسیمې وویل: "خاوند مې هره ورځ له کوره توکي پټول او پلورل او بیا یې پرې نشه یي توکو رانیول، ما یې مخنیوی کاوه خو هغه به وهلم او ټکولم، اولادونو ته په کتو ور څخه جلا کېدای هم نه شوای او د هغوی په خاطر مې هر څه زغمل." دا وایي، د وخت په تېرېدو یې خاوند د کور ټول قیمتي توکي وپلورل او چې د پټولو لپاره یې څه نه شو موندلای نو دا یې په زور مجبوره کړه چې کار وکړي او د هغه د نشه یي توکو پیسې ورکړي.
دغه مېرمن زیاتوي، خاوند یې د دې تر څنګ دوولس کلن زوی هم د دې پر ځای چې ښوونځي ته ولېږي، له یوه مستري سره شاګرد کړ او له مستري یې ژمنه اخیستې ده چې د زوی پر ځای به پیسې ده ته ورکوي. نوموړې وویل، اوس دا او زوی یې دواړه له سهاره تر ماښامه له کوره ورک وي چې د خاوند د نشه یي توکو لپاره پیسې پیدا کړي. دا وایي، سهار ډېر وختي له کوره وځي او د شپې تر ناوخته په یوه شخصي روغتون کې د اشپزې او صفاکارۍ په توګه کار کوي چې په بدل کې یې د میاشتې ۷زره افغانۍ اخلي.
د دې په خبره، خاوند یې د دې د تنخوا تر نیمایي ډېرې پیسې د نشه یي توکو لپاره اخلي او دا په ډېرو کمو پیسو د اولادونو د خېټې او جامو غم خوري. نسیمه وایي، خاوند یې د دې په نا خبرۍ کې د دې ۶ کلنه لور هم په ۹۰زره پاکستانۍ کلدارو پلورلې خو دا ډېره وروسته پرې خبره شوه. دې وویل، خاوند یې اخیستې پیسې پر خپلو نشو لګولې او هغه کس ته یې ویلي چې کله یې لور غټه شوه نو د هغه زوی ته به یې واده کوي.
دې زیاته کړه: "که زه پیسې پیدا نه کړم، هم وهل خورم او هم خاوند راته د مرګ ګواښ کړي، له همدې وېرېږم او که کار ونه کړم کېدای شي خاوند مې بل اولاد هم خرڅ کړي." خو دا زیاتوي چې غواړي شپه او ورځ پر ځان یوه کړي څو پیسې پیدا کړي او هغه کس ته یې ورکړي او خپله لور ترې را وګرځوي. نسیمه وایي، له وېرې یې کله هم د خپل خاوند په اړه چا ته شکایت نه دی کړی او ټول کړاوونه په یوازې ځان زغمي. دا وایي، له دغه دردناک حالت څخه د وتلو لپاره تل د خپل خاوند د مرګ غوښتنه کوي؛ ځکه هغه ټوله کورنۍ په زور او جبر یرغمل کړې ده. د انساني قاچاق او کډوالو له قاچاق سره د مبازرې قانون د درېیمې مادې په لومړۍ فقره کې راغلي چې د زیان منني او یا مجبوریت له حالت څخه ناوړه ګټې اخیستنې ته انساني قاچاق ویل کېږي.
د کندهار د ښځو چارو رییسه رقیه اڅکزۍ وایي، په دغه ولایت کې داسې پېښې ډېرې دي چې پر نشه یي توکو روږدو خپلې مېرمنې په زور کار کولو ته اړې کړې دي. هغې پژواک اژانس ته وویل، ډېرې داسې پېښې مخفي او پټې پاتې دي. دا وایي، ان داسې هم شوي چې ډېری پر نشه یي توکو روږدي د دې لپاره چې مېرمنې یې شکایت ونه کړي او یا طلاق ور څخه وا نه خلي، هغوی یې هم پر نشه یي توکو روږدې کړې دي. خو د دې په خبره، ډېرې مېرمنې بیا له خپلو دغه راز خاوندانو د طلاق اخیستو هڅه کوي او دغه پېښې ډېرې شوې دي. دې وویل، په

کندهار کې که له یوې خوا ورځ تر بلې پر نشه یي توکو د روږدو شمېر ډېرېږي، نو بلخوا پر نشه یي توکو له روږدو خاوندانو د مېرمنو د طلاق اخیستل هم زیات شوي دي. هغې که څه هم په دې برخه کې کره شمېرې وړاندې نه کړې، خو ویې ویل، له تېر کال راهیسې ګڼو مېرمنو له خپلو خاوندانو چې پر نشه یي توکو روږدي وو، طلاق اخیستی دی. د دې په خبره، پر نشه یي توکو له روږدو خاوندانو د مېرمنو د طلاق اخیستو پېښې ځکه ډېرې شوې چې مجبورې دي هم خپلو اولادونو ته نفقه پیدا کړي او هم خپل خاوند ته د نشه یي توکو پېرلو پیسې ورکړي.

دا وایي، ډېر مهال پر نشه یي توکو روږدي نارینه له خپلو مېرمنو په زور پیسې اخلي، یا د کور سامان الات پلوري چې په داسې حالاتو کې مېرمنې د خپلو روږدو خاوندانو له خوا له تشدد او زور زیاتي سره هم مخ کېږي. خو د دې په باور، دغسې مېرمنې له طلاق اخیستو وروسته هم ښه ژوند نه شي کولای؛ ځکه ډېرې مېرمنې داسې دي چې اولادونه یې واړه وي او مجبورې وي چې د هغوی لپاره د نفقې پیدا کولو په موخه شپه او ورځ کار وکړي.

نوموړې د نسیمې په اړه وویل چې تر اوسه داسې کومې ښځې دوی ته مراجعه نه ده کړې. د کندهار د ښځو چارو رییسه د نشه یي توکو د کېنبت، قاچاق او پر دغو توکو د روږدېدو د مخنیوي په موخه د جدي هڅو غوښتنه کوي او وایي که په اړه یې جدي مبارزه ونه شي نو دغه ناورین به د وخت په تېرېدو نور هم ستر شي. د کندهار د بشري حقونو ادارې سرپرست فخرالدین فایض وایي، په دغه ولایت کې هغه مېرمنې سخت ژوند لري چې مېړونه یې پر نشه یي توکو روږدي دي.

نوموړي پژواک ته وویل، ان په ډېرو مواردو کې لیدل شوي چې پر نشه یي توکو روږدو د پیسو ترلاسه کولو لپاره خپلې مېرمنې په زور او جبر فحشا ته هم اړې کړې دي. خو دی وایي، په ټولنه کې لویه ستونزه دا ده چې ډېرې مېرمنې له دغه حالت څخه د خلاصون په موخه له وېرې او یا د نورو دلایلو له امله د شکایت او غږ پورته کولو جرئت نه لري. ده وویل چې په دې برخه کې یې له ځینو ادارو سره غونډې جوړې کړې دي څو د خلکو لپاره عامه پوهاوی وکړي.

د کندهار ولایت له نشه یي توکو سره د مبارزې ریاست رییس ګل محمد شکران پژواک اژانس ته وویل، د عامې روغتیا ریاست له لوري د شوې یوې سروې له مخې، په کندهار کې پر نشه یي توکو د روږدو شمېر تر ۱۰۰ زره اوړي چې ۱۰ سلنه یې مېرمنې دي. دی زیاتوي، پر نشه یي توکو روږدې ډېرې مېرمنې هغه دي چې د خپلو خاوندانو له خوا په زور نشو کولو ته اړې شوې دي.

په کندهار کې د انساني قاچاق او کډوالو قاچاق د عالي کمېسیون د ولایتي کمېټې مسوول او د عدلیې رییس نېک محمد احمدي پژواک ته وویل، تر اوسه له دوی سره دغه ډول قضیې نه دي ثبت شوې. خو ده زیاته کړه، په دغه ولایت کې ډېر دغسې موارد شته چې د مېرمنو له خوا پټ ساتل کېږي. د ده په خبره، له دې وروسته به دغسې موضوعات تعقیب کړي او وڅېړي څو په ټولنه کې د دغه ډول انساني قاچاق پېښې کمې شي. په دې اړه د انساني قاچاق او کډوالو قاچاق پر وړاندې د مبارزې قانون په دریمه ماده کې راغلي چې د ناوړې ګټې اخیستنې په موخه د شخص تر واک لاندې راوستل، لېږد، حمل او نقل، ساتل او یا هم د ګواښ، قوې یا د اجبار له نورو ډولونو څخه ګټه او د زور یا ځواک له بېلابېلو لارو کار اخیستل، تښتول، تېر ایستل او چل د انساني قاچاق موارد ګڼل کېږي.

## ۲۳- تېر ایستنه یا فریب ورکول

په دې وروستیو کې د افغانستان په ګڼون د نړۍ په ګڼو برخو کې د چل او دوکې موضوع زیاته شوې او اکثره قربانیان یې هم نجونې او ماشومان دي. ډېرې نجونې شته چې د مبایل اړیکو او یا د ټولنیزو شبکو له لارې تېر ایستل کېږي او وروسته له ډېرو ستونزو سره مخ کېږي؛ د بېلګې په توګه یوه نجلۍ د ټیلېفون له لارې له هلک سره اشنا کېږي، بالاخره د مینې داستان یې پیلېږي. هلک نجلۍ دې ته هڅوي څو له ده سره وتښتي، نجلۍ چې کله دغه کار کوي او بیا له دغه هلک سره بل ولایت یا هم بل هېواد ته تښتي نو د ژوند واګې یې په بشپړ ډول د دغه هلک په واک کې وي چې ډېری مهال دغه ډول نجونې بیا د کورني تاوتریخوالي تر څنګ فحشا ته هم اړ ایستل کېږي چې انساني قاچاق بلل کېږي.

فریب او دوکه ورکول د اسلامي او انساني اصولو خلاف عمل دی او له شرعي پلوه ښځو ته دوکه ورکول یو ډېر بد او د انساني اخلاقو خلاف کار دی. د شریعت له مخې که یو نارینه یوې ښځې ته دروغ وایي او وروسته روښانه شي چې ښځه او بچیان لري، ښځه کولای شي چې په محکمه کې د طلاق غوښتنه وکړي. د انساني قاچاق او کډوالو قاچاق پر وړاندې د مبارزې قانون په دربیمه ماده کې راغلي چې د ګټې اخیستنې په موخه د شخص استخدام (تر واک لاندې راوستل)، لېږد، حمل او نقل، ساتنه او یا هم د ګواښ له لارې د کارولو لپاره د شخص ترلاسه کول، په همدې ډول د زور یا ځواک له بېلابېلو لارو کار اخیستل، تښتول، تېر ایستل چل او حیله د انساني قاچاق موارد ګڼل کېږي.

د تېر ایستنې په اړه د پژواک لومړی راپور:

**"له درد او غوسې پرته مې بل څه نه دي لیدلي"**



ناهید بشردوست — *Dec 10, 2017*

کابل (پژواک، ۱۹ لیندۍ ۹۶): یوه نجلۍ چې د موبایل له لارې غولول شوې وه، له واده وروسته یې غوښتل بېرته له خپل خاونده بېله شي، خو د دغه کار اجازه نه ورکول کېده او هره ورځ له وهلو- ډبولو سره هم مخ وه.
په دې اړه د انساني قاچاق او کډوالو قاچاق پر وړاندې د مبارزې قانون په دربیمه ماده کې راغلي چې د ناوړې ګټې اخیستنې په موخه د شخص تر واک لاندې راوستل، لېږد، حمل او نقل، ساتل او یا هم د ګواښ، قوې یا د

اجبار له نورو ډولونو څخه ګڼه او د زور یا ځواک له بېلابېلو لارو کار اخیستل، تښتول، تېر ایستل او چل د انساني قاچاق موارد ګڼل کېږي.

په دې وروستیو کې د افغانستان په ګډون د نړۍ په ګڼو برخو کې د چل او دوکې موضوع زیاته شوې او اکثره قربانیان یې هم نجونې او ماشومان دي. له دې ډلې یوه هم د فاریاب ولایت اصلي اوسېدونکې ۲۱ کلنه نیلاب (مستعار نوم) ده.

**نیلاب: که د امن خونه نه وای، اړه وم د سړک پر سر شپې ورځې تېرې کړم**

هغې وویل چې د تاوتریخوالي له امله د خپل پلار کور ته وتښتېدم، خو د یوه دوکه کوونکي کس په دام کې پرېوتم چې د کورنۍ غړو یې شپه ورځ د مرګ تر بریده وهلم، له همدې امله اړه شوم چې د ژوندۍ پاتې کېدو لپاره امن خونې ته پناه یوسم. هغې زیاته کړه، له کومې ورځې یې چې خپل ښی او چپ لاس پېژندلي، له درد او غوسې پرته یې بل څه نه دي لیدلي. دغه ځوانه ښځه له یوه کال راهیسې د کابل په امن خونو کې ساتل کېږي او ماشوم یې چې اوس دوه کلن دی، په همدې ملاتړي مرکز کې نړۍ ته سترګې غړولې دي. نیلاب چې خپله کوچنۍ لور یې د ویده کولو په موخه په غېږ کې نیولې وه، پژواک خبري اژانس ته وویل: "که امن خونه نه وای، اړه وم شپې ورځې په ډېرو بدو حالاتو کې د سړک پر سر تېرې کړم."

نوموړې د خپل ژوند کیسه داسې پیل کړه: "درې خویندې او څلور وروڼه لرم، پلار مې ملا امام دی، له خپلو ټولو خپلوانو او دوستانو سره مو اړیکه پرې شوې وه، هره ورځ مو مور زموږ په مخکې وهل کېده، کله په څپېړه، کله په سوک او لغتو او حتی په چاقو یې هم وهله، تر دې چې تر اوسه پورې هم زما د بوډۍ مور پر اوږو د چاقو ښې ښکاري." نیلاب زیاته کړه: "دغه وضعیت مې تر درې کاله وړاندې مودې پورې چې ۱۸ کلنه وم، وزغامه، بالاخره مې یوې ملګرې د یوه نارینه شمېره راکړه، ډېرې ورځې مې د خپلې ملګرې په ملاتړ له دغه کس سره ټیلېفوني اړیکه درلوده، تر دې چې د خپل کور کیسه مې ورته وکړه چې پلار مې په کور کې له موږ سره له تاوتریخوالي کار اخلي."

نیلاب وایي چې څه موده وروسته هغه کس راته وویل چې له ما سره زما د خور کور ته کابل ته ولاړه شه. هغې زیاته کړه: "کابل ته راغلم او له دغه کس سره مې ډېرې شپې او ورځې تېرې کړې، تر دې چې د ښځې او اولادونو د لرلو یې راته وویل، د دې موضوع له اورېدو وروسته مې سخت وژړل، له ځان سره مې وویل چې که بېرته کور ته ولاړه شم، پلار مې ژوندۍ نه پرېږدي، تر دې چې اړه شوم له هغه سره یې کور ته ولاړه شم او نکاح ورسره وتړم." نیلاب سوړ اسوېلی وکړ او ویې ویل: "د دغه سړي په کور کې د هغه له دوو مېرمنو او ګڼو اولادونو سره مخ شوم، ګډ ژوند مې ورسره پیل کړ. "خو هغې زیاته کړه چې خوښي یې ډېره ونه غځېده، خاوند یې له څه مودې وروسته ورسره ناوړه چلند پیل کړ. هغې وویل: "شپه ورځ په کور کې د تاوتریخوالي له بېلابېلو بڼو سره مخ وم، فزیکي او لفظي تاوتریخوالی، کله مې چې له کړکۍ نه بهر کتل، نو خاوند مې وهلم او ویل یې چې څوک ګورې؟ کله به مې چې پاکې جامې واغوستې، ویل به یې چې د چا لپاره یې اغوندې؟"

نیلاب څرګنده کړه چې خاوند یې موټروان و، خو عاید یې نه معلومېدل، ډېری وخت به یې پیسې له نورو ښځو سره په اړیکو لګولې. هغې زیاته کړه: "دغه حالت راته نور د زغم وړ نه و، کله مې چې غوښتل له خپل خاوند څخه جلا شم، له وهلو ډبولو سره به مخ وم، له کوره یې د وتلو اجازه نه راکوله، ډېر وخت یې په خپل کور کې بندي کړې وم." هغې وویل چې په ډېرو سختو ستونزو وتوانېدم چې د خپل خاوند د تره کور ته چې مدافع وکیل و، ځان ورسوم، له هغه مې وغوښتل چې له خپل خاوند څخه طلاق غواړم. هغې وویل: "کله مې چې طلاق واخیست، پر ځان نه پوهېدم چې د دوو میاشتو امیدواره یم، هغه وخت چې دا ماشوم د امن خونه کې وزېږېد، خاوند ته مې احوال ورکړ چې راشه او کوچنی ماشوم دې واخله، خو هغه وویل، باور نه کوي چې دا ماشوم دې له

ده نه وي؛ ځکه چې په خبره یې د امن خونو نوم بد دی." هغې په ډاګه کړه چې له دې وروسته یې خاوند احوال وانه خیست، د وخت په تېرېدو سره یې په امن خونه کې خیاطي زده کړه، څو وکولی شي چې پر خپلو پښو ودرېږي او خپل ژوند خپله مخکې بوځي.
دغه راز نیلاب چې د خپل خاوند له چلند څخه سخته ځورېدلې وه، وویل: "هغه ښځې چې په امن خونه کې ژوند کوي، ګنهګارې نه دي، ټولې یې د تاوتریخوالي قرباني دي او له بلې خوا هغه نارینه چې له ښځو سره خیانت کوي، باید د حکومت له لوري مجازات شي، څو د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی کم شي. هغې زیاته کړه، پېغلو نجونو ته سپارښتنه کوي چې په خپل ژوند کې دې ډېرې محتاطې وي، څو د نرانو د دوکې او ناوړه استفادې ښکار نه شي، هڅه دې وکړي چې خپل راتلونکی خاوند ښه وپېژني.
**شیما: قرباني شوو ښځو ته اړین خدمتونه وړاندې کوو**
له بلې خوا شیما د هغې امن خونې مسوولې چې نیلاب په کې ژوند کوي، پژواک ته وویل چې په دغه مرکز کې ۵۷ تنه ساتل کېږي چې ۳۷ یې بې سرپرسته دي او پاتې نور د هغوی ماشومان دي. هغې زیاته کړه چې دا ښځې د بشري حقونو کمېسیون، ښځو چارو وزارت او امنیې قوماندانۍ له لوري دغه مرکز ته ور پېژندل کېږي او باید په ۲٤ ساعتونو کې په ښځو چارو وزارت کې هم ثبت شي.
شیما څرګنده کړه، کوم کسان چې په دغه مرکز کې خوندي دي، وړیا ډوډۍ او جامې ورکول کېږي او تر څنګ یې د لومړنیو روغتیایي مرستو تر څنګ رواني سلا مشوره هم ورکول کېږي. نوموړې زیاته کړه: "له دې ښځو سره تر هغه پورې د هغوی د ژوند پر شرایطو خبرې نه کېږي چې خپله نه وي چمتو شوې، د وخت په تېرېدو سره دوی ته مدافع وکیل ټاکل کېږي او قضیې یې د عدلي او قضایي ارګانونو له خوا څېړل کېږي." د مېرمن شیما په خبره، دغو ښځو ته بېلابېل روزنیز خدمتونه لکه د لیک لوست زده کړه، د قران کریم زده کړه، پخلی، خامک دوزي او خیاطي هم وړاندې کېږي او حتی په اوونۍ کې درې ورځې ورزش کوي. د امن خونې د دغه چارواکي د معلوماتو له مخې، هغه مېرمنې د دې کور تر پوښښ لاندې دي چې په بدو کې ورکړل شوې، له قانوني سن څخه په ټیټ عمر کې واده شوې او یا په زور واده شوې دي او د کورني تاوتریخوالي د نورو بڼو ښکار شوې دي. شیما وویل، په کار ده چې حکومت د مېرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي مسئله د ښوونځیو او پوهنتونونو په ښوونیز نصاب کې شامله کړي، څو ماشومان د ژوند له هماغه لومړي پړاو څخه پوه شي چې له خپلې خور، مور، مېرمنې او لوڼو سره څه ډول چلند وکړي. له بلې خوا د ښځو مدافع وکیلې اقدس هاشمي چې د امن کورونو تر پوښښ لاندې یې د ښځو ځینې قضیې تعقیب کړې دي، پژواک ته وویل: "په ډېرو قضیو کې یې ورکړو ښو سلا مشورو ښه پایله درلودلې ده، هره ورځ یو نیم ساعت کېږو، موکلینو ته مشوره ورکوو او ان هغوی ته د بیا ځلي ګډ ژوند پیلېدو مشوره ورکول کېږي او که یې قضیې حل نه شي، بېرته د امن خونه کې پاتې کېږي."
**سلیمي: د قربانیانو ملاتړ باید وشي**
د انساني قاچاق او کډوالو د قاچاق پر وړاندې د مبارزې عالي کمېسیون یوه چارواکي محمد حسن سلیمي پژواک ته د امن خونو تر پوښښ لاندې ښځو ستونزو ته په اشارې سره وویل: "قرباني شوی شخص په قانون کې له ورکړل شوو ټولو حقونو ګټه پورته کولای شي او ملاتړ یې کېږي." هغه زیاته کړه: "موږ د انساني قاچاق قربانیان پیدا کوو چې په کومه برخه کې ځای لري او له هغه مسوولیت سره سم چې کمېسیون یې د قرباني شوي انسان پر وړاندې لري، قرباني د کار او ټولنیزو او ښځو چارو وزارتونو ته ور استوي چې د ښځو لپاره په کابل کې د ملاتړ ۲۹ مرکزونه لري."
سلیمي وویل: "د ماشومانو په اړه هم همداسې کوو، خو د هغو سړو لپاره چې قرباني شوي دي، تر اوسه ځانګړی ځای نه لرو او هڅه کوو چې د کار او ټولنیزو چارو وزارت په همکارۍ د قرباني شوو سړو لپاره هم مناسب ځای برابر کړو."

**د بشري حقونو کمېسیون: د قربانیانو د حقونو لپاره مبارزه کوو**

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون ویاند محمد بلال صدیقي د انساني قاچاق او تاوتریخوالي د قربانیانو پر وړاندې د دغه کمېسیون د کړچار په اړه وویل چې د خلکو د پوهاوي کچې لوړولو لپاره د عدلي، قضایي او امنیتي ارګانونو په مرستې سره ښوونیز مرکزونه جوړېږي. هغه زیاته کړه چې د بشري حقونو کمېسیون له قانون سره سمه دنده لري چې د امن کورونو تر پوښښ لاندې کسانو په ګډون د قربانیانو قضیې تعقیب کړي، څو عاملینو ته یې جزا ورکړل شي او په ورته وخت کې د ځانګړو کمېټو او مدني ټولنې ارګانونو له لارې پر عدالت غوښتنه کار وکړي، څو د انساني قاچاق له قربانیانو که ښځې وي یا نارینه، ملاتړ وشي.

**د کورنیو چارو وزارت: د انساني قاچاق قضیې دې وڅېړل شي**

په کورنیو چارو وزارت کې د انسان او اجناسو له قاچاق سره د مبارزې مدیر ډګروال محمد حامد پژواک ته وویل: "دا ډول قضیې درې اړخونه لري، هغه کسان چې له کوره تښتي او جرم کوي (زنا کوي، د واده په نیت له کوره تېښتي)، د ښځو یا نجونو یو ډول قاچاق دی چې د جنسي استفادې او یا د هغوی د بدن د غړو پلورلو لپاره ترسره کېږي." هغه زیاته کړه: "موږ د عدلي او قضایي ارګانونو په همکارۍ سره درې واړو مواردو قضیو ته رسېدنه کوو، د قضیې فاعل امن کور ته استوو چې ساتنه یې وشي."

**د پوهنتون استاد: ګډ ژون لوبې نه دي**

د کابل پوهنتون استادې او مدني فعالې شهلا فرید وویل، په اسلامي فقه کې ویل شوي چې که چېرې سړی غواړي دویم یا درېیم واده ولري، باید د دواړو لورو هم د پخوانۍ مېرمنې او هم د هغې مېرمنې چې نوی واده ورسره کوي، رضایت شتون ولري. نوموړې هغه نجونې چې له واده لرونکو سړو سره واده کوي، وغندلې او ویې ویل چې که دولت په مدني قانون کې تعدیل راولي او د ښځو د ډېرېدو لپاره قضیې سختې کړي، سړي نه شي کولای چې دویم واده وکړي.

**دیني عالم: تېر ایستنه په اسلام کې نا سم عمل دی**

یو دیني عالم مفتي حجت الله هم له ښځو سره د انساني چلند د اړتیا په اړه د اسلام مبارک دین صراحت ته په اشارې سره وویل چې له شرعي پلوه ښځو ته دوکه ورکول یو ډېر بد او د انساني اخلاقو خلاف کار دی. هغه زیاته کړه: "د شریعت له مخې که یو نارینه یوې ښځې ته دروغ وایي او وروسته روښانه شي چې ښځه او بچیان لري، ښځه کولای شي چې په محکمه کې د طلاق غوښتنه وکړي." د یادونې ده، دا یوازې نیلاب نه ده چې له داسې برخلیک سره مخ شوې ده، ډېرې نجونې شته چې د مبایل اړیکو له لارې یې دوکه خوري او وروسته له ډېرو ستونزو سره مخ کېږي.

د تېر ایستنې په اړه د پژواک دویم راپور:

**پاکستانۍ ډاکتره انیسه: عدالت ته د لاسرسي په موخه له مجبوریته زندان کې یم**




*زین الله ستانکزی— Mar 06, 2018*

لښکرګاه (پژواک، ۱۵ کب۹۶): یوه پاکستانۍ ډاکتره د دې لپاره چې د ښځو ناروغانو برخه کې یوه کلینیک کې کار وکړي، هلمند ولایت ته راوستل شوې وه، خو د هغې د راوستونکي کلیوال ډاکتر له خوا ورسره تر تاوتریخوالي وروسته اوس په زندان کې ده.

**انیسه افغانستان ته څرنګه راوستل شوه؟**

دغه ډاکتره انیسه (مستعارنوم) نومېږي، یو کال مخکې د یو هلمندي کلیوال ډاکتر په بلنه په غیر قانوني توګه له خپل خاوند سره هلمند ته راوستل شوه او دوی پرېکړه کړې وه چې په لرو پرتو سیمو کې به په ګډه د ناروغو ښځو درملنه کوي او له دې لارې به پیسې ترلاسه کوي. تر دریبو میاشتو وروسته انیسه له خپل خاوند سره بېرته پاکستان ته ولاړه او بیا رانغله خو دغه کلیوال ډاکتر یو ځل بیا انیسې پسې پاکستان ته ولاړ او دغه ځل یې له خاوند پرته افغانستان ته راوسته. دغه کلیوال ډاکتر له انیسې سره ژمنه کړې وه چې د هرې میاشتې په پای کې به اویا زره پاکستانۍ کلدارې ورکوي خو دا هر څه یواځې چل او فریب وو.

**انیسه په زندان کې:**

نوموړې دا مهال د هلمند په مرکزي زندان کې شپې ورځې تېروي خو محکمې ته د تګ پر مهال یې پژواک خبري اژانس ته د خپل ژوند کیسه کړې ده. هغې وویل چې اووه کلنه لور او خاوند یې په پاکستان دي خو دا د خپل مسلک له لارې د پیسو پیدا کولو او خلکو ته د خدمت کولو په موخه افغانستان ته راغلې ده. انیسې وویل چې یاد کلیوال ډاکتر له غیر قانوني لارو په غیر قانوني اسنادو د افغانستان هلمند ولایت ته راوستلې ده. دې زیاته کړه: "ما ته یې ویلي وو چې هره میاشت به اویا زره کلدارې درکوم، خو کله یې چې زه له خپلې کورنۍ جلا کړم، افغانستان ته یې راوستم دا هر څه دروغ وو، هم یې پر ما پیسې پیدا کولې او هم یې خپل نور جنسي خواهشات پوره کول." نوموړې د یاد کلیوال ډاکتر کور ته څېرمه د هغه په شخصي کلینیک کې اووه میاشتې تېرې کړې دي. د انیسې په وینا، دغه ډاکتر ترې څو ځلې غوښتنه کړې وه چې نکاح ورسره وتړي خو دې انکار کړی دی.

دې وویل: "زه په روغتون کې اوسېدم، د روغتون مالک د نکاح غوښتنه را څخه وکړه، خو دا چې ما خاوند درلود، انکار مې وکړ، خو له دې سره سره یې اووه میاشتې ټیلیفون را څخه قید او معاش یې را باندې بند کړ او هر څه چې یې زړه غوښتل هغه یې راسره کول او د هېڅ کار اجازه یې نه راکوله، زه یې د ځان لپاره ساتلې وم." انیسه زیاتوي چې په دې موده کې د ځورونې له بېلابېلو ډولونو سره مخ شوې او تل یې هڅه دا کوله چې د ځان لپاره د حل یوه لار پیدا کړي. نوموړې وایي: "ډېره هڅه مې کوله چې په یو ډول ځان پولیسو ته ورسوم او له دغه مشکل څخه ځان خلاص کړم، بالاخره د کلي یوې نجلۍ راته موټر وښوده، په هغه کې سپره شوم او ځان مې پولیسو ته ورساوه."

د انیسې په وینا، کله چې پولیسو ته ورسېده نو خپله ټوله کیسه یې ورته وکړه خو په هماغه ورځ کلیوال ډاکتر هم ور رسېدلی دی او پر دې یې عریضه کړې چې ښځه یې ده او له کوره تښتېدلې ده. انیسه وایي چې په هلمند کې د امن خونه نشته، نو ځکه عدالت ته د لاسرسي په موخه په زندان کې شپې ورځې تېروي. دې له اړوندو ارګانونو غوښتنه وکړه چې هر څه ژر یې ستونزه هواره کړي، څو بېرته په پاکستان کې له خپلې کورنۍ سره یو ځای شي.

**یو کلیوال: انیسې له ډاکتر سره نکاح کړې ده**

د سیمې یوه اوسېدونکي د نوم نه اخیستو په شرط پژواک ته وویل چې دې پاکستانۍ ښځې له ډاکتر سره نکاح تړلې ده. هغه وویل: "دې پاکستانۍ ښځې ډاکتر ته ویل چې ما خو درسره نکاح وکړه نو اوس دې هغې بلې ښځې ته طلاق ورکړه چې بیا ډاکتر ورسره ونه منله او جنجال یې پیدا شو." بل لور ته د اړوندې موضوع په اړه د

هلمند د استیناف څارنوال عیسی خان عمرخېل پژواک ته وویل چې د دې ښځې دوسیه د زنا په وصف جوړه شوې وه، خو محکمې رد کړې او ویلي دي چې په دې قضیه کې د انسان قاچاق شوی دی.

څارنوال وایي چې اوسمهال یې د دغو کسانو دوسیه د ملي امنیت څارنوالۍ ته راجع کړې، څو یې په اړه پلټنې وکړي. دغه راز د استیناف څارنوالۍ یوې سرچینې پژواک ته وویل چې کلیوال ډاکتر هم نیول شوی او بندي دی. دې سرچینې وویل: "چې دغه کلیوال ډاکتر تېښګار کوي چې دغه ډاکتره یې ښځه او نکاح یې ورسره تړلې ده. خو دغه ښځه بیا وایي چې زنا ورسره شوې او نکاح یې نه ده تړلې." سرچینې زیاته کړه چې دغه قضیه به تر څېړنې وروسته روښانه شي خو عدلي طب هم ویلي چې پر دې ښځې هر څه په زور شوي او هېڅ ډول رضایت په کې شتون نه درلود.

**د عدلیې رییس: دغه قضیه تر اوسه موږ ته نه ده راغلې**

په هلمند کې د انساني قاچاق او کډوالو قاچاق د عالي کمېسیون د ولایتي کمېټې مسوول او د عدلیې رییس محمد طیب اتل پژواک ته وویل چې د یادې پاکستانۍ ډاکترې قضیه تر اوسه دوی ته نه ده رسېدلې. خو ده وویل چې له دې وروسته به دغه قضیه جدي تعقیب کړي. بل لور ته د اړوندې موضوع په اړه په هلمند کې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د ولایتي کمېټې د ښځو چارو مسوولې فاطمې عابدي پژواک ته وویل چې یاده قضیه یې له سره تر پایه تعقیب کړې ده.

هغې وویل: "له پاکستانۍ ډاکترې سره چل او فریب شوی، ټیلېفون ترې اخیستل شوی، معاش نه دی ورکول شوی او ساتل شوې ده." خو عابدي زیاته کړه چې د ښځې له څرګندونو او نورو څېړنو داسې ښکاري چې دغه ښځه هم ډېره رښتیا نه وایي او اصلي ستونزه له کلیوال ډاکتر سره د پیسو پر سر پیدا شوې ده.

**اخترمحمد: تر اوسه موږ په دې اړه معلومات نه لرو**

په سوېل کې د پاکستان د کونسلګرۍ مرستیال اخترمحمد پژواک وویل چې د یادې قضیې په اړه دوی ته چا شکایت نه دی کړی او نه یې هم دوی په اړه معلومات لري. خو ده وویل چې یاده قضیه به له دې وروسته تعقیب کړي.

**دیني عالم: تېر ایستنه په اسلام کې ناسم عمل دی**

دیني عالم مفتي حجت الله پژواک ته وویل چې چل، فریب او دوکه ورکول د اسلامي او انساني اصولو خلاف عمل دی. ده تېښګار وکړ چې په ژوند د ښېرازۍ او بریا په موخه هېڅوک باید یو له بل سره چل او فریب ونه کړي.

د کلیوال ډاکتر او پاکستانۍ ډاکترې په قضیه کې حمل و نقل، ساتنه، چل او فریب شوی چې دغه ټولې مسئلې د انساني قاچاق ښکاره بېلګې دي. په دې اړه د انساني قاچاق او کډوالو قاچاق پر وړاندې د مبارزې قانون په دربیمه ماده کې راغلي چې د ناوړې ګټې اخیستنې په موخه د شخص تر واک لاندې راوستل، لېږد، حمل او نقل، ساتل او یا هم د ګواښ، قوې یا د اجبار له نورو ډولونو څخه ګټه او د زور یا ځواک له بېلابېلو لارو کار اخیستل، تښتول، تېر ایستل او چل د انساني قاچاق موارد ګڼل کېږي.

په دې وروستیو کې د افغانستان په ګډون د نړۍ په ګڼو برخو کې د چل او دوکې موضوع زیاته شوې او اکثره قربانیان یې هم نجونې او ماشومان دي.

د تېر ایستنې په اړه د پژواک تعقیبي راپور:

## قاچاق شوې پاکستانۍ ډاکټره خپلې کورنۍ ته سپارل شوې



*زین الله ستانکزی او ناهید بشردوست - Aug 06, 2018*

کابل (پژواک، ۱۵ زمری ۹۷): د یوې قاچاق شوې پاکستانۍ ډاکترې په اړه د پژواک خبري اژانس د راپور له خپرېدو وروسته حکومت یاده ډاکتره د قاچاق کوونکي له منګولو وژغورله چې په پایله کې یاد قاچاق کوونکی زنداني شو. شاوخوا څلور میاشتې مخکې پژواک خبري اژانس د یوې پاکستانۍ ډاکترې په اړه چې په هلمند کې د یو کلیوال ډاکتر له لوري انساني قاچاق شوې وه، راپور خپور کړ؛ دغې ډاکترې پژواک ته ویلي وو چې هلمندي کلیوال ډاکتر په چل، فریب او جعلي اسنادو له پاکستان څخه هلمند ته راوستلې ده، هغې دا هم ویلي وو چې دغه کلیوال ډاکتر هم پرې پیسې ګټي او هم یې په دې موده کې څو ځلې پرې جنسي تېری کړی دی.
د دغه راپور له خپرېدو وروسته ولسمشر د یادې موضوع تعقیبولو لپاره یو پلاوی وټاکه، بیا یې دغه ښځه له هلمنده کابل ته را انتقال کړه چې د څه مودې لپاره د امن په خونه کې اوسېده. په دې اړه په هلمند کې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د ولایتي کمېټې مشرې عفیفې معروف د زمري په ۱۵مه پژواک خبري اژانس ته وویل: "زه همېشه د هلمند له زندانه لیدنه کوم، خو له ډېرې مودې دغه ښځه په کې نه وینم، نو کېدای شي بل ځای انتقال شوې وي." دغه راز د هلمند د زندان مرستیال مدیر رازمحمد هم پژواک ته وویل چې پاکستانۍ ډاکتره پخوا له دغه ځایه تللې ده. ده زیاته کړه: "کېدای شي دغه ډاکتره اوس له پولې اړول شوې وي او خپلې کورنۍ ته سپارل شوې وي."
همدارنګه د لویې څارنوالۍ ویاند جمشید رسولي پژواک ته وویل چې دغه قضیه د څېړنې په موخه څارنوالۍ ته سپارل شوې وه. هغه وایي چې تر څېړنو وروسته دوسیه محکمې ته وسپارل شوه چې لومړۍ محکمې یاد هلمندی کلیوال ډاکتر د انساني قاچاق د جرم ترسره کولو په تور پر ۱۵ کاله بند محکوم کړ، خو د استیناف محکمې بیا دغه سزا له ۱۵ کلونو څخه درېیو کلونو او دوو میاشتو ته راټیټه کړه او دغه قضیه یې انساني قاچاق نه، بلکې د مهاجرانو قاچاق وباله. د هغه په وینا، دا چې د دغه کس لپاره د دوو محکمو له خوا بېلابېلې سزاګانې وټاکل شوې نو د څارنوالۍ قناعت یې حاصل نه کړ؛ ځکه یې دوسیه د سترې محکمې د پرېکړې لپاره واستول شوه. رسولي د نورو جزئیاتو له ورکولو پرته وویل چې پاکستانۍ ډاکتره بېرته خپلې کورنۍ ته سپارل شوې او دا مهال په پاکستان کې ده.
بل لور ته په دې اړه په کابل کې د پاکستان سفارت مطبوعاتي دفتر پژواک ته وویل چې له دې قضیې په جریان کې نه دي. د هغوی په وینا، دوه ځلې یې په دې اړه د افغانستان د بهرنیو چارو له وزارت څخه پوښتلي خو په اړه یې معلومات نه دي ورکړي. په دې اړه د انساني قاچاق او کډوالو قاچاق پر وړاندې د مبارزې قانون په درېیمه ماده کې راغلي چې د ګټې اخیستنې په موخه د شخص استخدام (تر واک لاندې راوستل)، لېږد، حمل او نقل، ساتنه او یا هم د ګواښ له لارې د کارولو لپاره د شخص ترلاسه کول، په همدې ډول د زور یا ځواک له بېلابېلو لارو کار اخیستل، تښتول، تېر ایستل او چل د انساني قاچاق موارد ګڼل کېږي.

د تېر ایستنې په اړه د پژواک درېیم راپور:

## د پژواک موندنې: د مشرانو جرګې دویم مرستیال له یوې مېړوښې سره د واده کولو هڅه کړې




***پژواک– Mar 06, 2018***

کابل (پژواک، ۱۵ کب ۹٤): د لوګر ولایت یو اوسېدونکی ادعا کوي چې د مشرانو جرګې دویم مرستیال محمد اصف صدیقي یې ښځه دوکه کړې، جنسي اړیکې یې ورسره ټینګې کړې او دوی یې پر مرګ ګواښلي چې دا موضوع دې نه افشا کوي. دغه کس انجنیر فریدون نومېږي، د لوګر د مرکز پل علم ښار د جویک سیمې اوسېدونکی دی چې اوس مهال د کابل ښار په کارته نو سیمه کې ژوند کوي او د هلمند په کجکي ولسوالۍ کې د انجنیر په توګه دنده ترسره کوي.

فریدون چې پرون له ګڼ شمېر اسنادو سره د پژواک مرکزي دفتر ته راغلی و، ادعا یې کوله چې د روان لمریز کال د سلواغې میاشتې په ۲۳مه د مشرانو جرګې دویم مرستیال محمد اصف صدیقي د ده ښځه شکیلا او لور د کابل ښار د کارته نو له درېیم سړک څخه تښتولې دي. فریدون وایي چې اصف صدیقي ۱٤ ورځې د ده ښځه او لور د خوشحال خان په یو کور کې برمته کړې وو او د ده له ښځې سره یې نامشروع اړیکې هم ساتلې دي. د هغه په وینا، کله چې دوی خبر شول؛ نو صدیقي د ده مېرمن او لور د امن خونې ته سپارلې او د ده ښځې ته یې ویلي، که چېرې خپلې کورنۍ ته ولاړه شي؛ نو د کورنۍ غړي به یې ووژل شي. **فریدون زیاتوي:** "صدیقي زما پر ښځې فشار راوړی، څو له ما څخه طلاق واخلي او له ده سره نکاح وتړي." دی وایي چې څو ځلې دی، خسر او د کورنۍ نور غړي یې د صدیقي له خوا ګواښل شوي څو دغه موضوع له حکومت او رسنیو سره شریکه نه کړي.

هغه په دې اړه چې د صدیقي او ښځې تر منځ یې اړیکې څرنګه پیدا شوې؟ وایي: "زما ښځه محصله وه، په رابعه بلخي روغتون کې یې عملي کار کاوه، یوه ورځ د صدیقي ښځه مریضه وه، رابعه بلخي ته یې راوستې وه، بیا همدلته اول د صدیقي او زما د ښځو تر منځ اړیکي پیدا کېږي، بیا وروسته صدیقي زما ښځې ته وایي چې ته د لوګر څخه راغلې یې، زه پر تا افتخار کوم، زه د مشرانو جرګې معاون یم، جرګې ته راشه زه به درته یوه ښه وظیفه درکړم."

فریدون وایي چې له دې اړیکې وروسته د دوی او صدیقي د کورنۍ تر منځ تګ راتګ پیدا کېږي. ده وویل، څه موده وروسته صدیقي د ده ښځې ته وایي چې په مشرانو جرګه کې به یې پر دنده وګوماري او په څو میاشتو کې دې یو ځل راځي او خپله تنخوا دې ترلاسه کوي. ده زیاته کړه: "بیا صدیقي زما ښځه په مشرانو جرګه کې مقرروي، څه موده وروسته بیا زما ښځې ته وایي چې هره ورځ باید راشي او یوه نوې دنده به ورکړي." هغه وویل چې له څه مودې راهیسې یې ښځې په مشرانو جرګه کې د اصف صدیقي د سکرترې په توګه دنده ترسره کوله. فریدون زیاته کړه: "له لومړۍ ورځې څخه صدیقي زما ښځې ته سترګې پټې کړې وې، کله چې زه خبر شوم چې ښځه مې کور کې نشته، ولاړم او صدیقي ته مې وویل چې داسې قضیه شوې، هغه راته وویل چې ته هېڅ غم مه کوه، زه دا هر څه هواروم."

د نوموړي په وینا، په دې موده کې صدیقي غوښتل چې دوی په تورتم کې وساتي او د ښځې لپاره یې د کورني تاوتریخوالي قضیه جوړه کړي او امن خونې ته یې واستوي. نوموړی وایي: "د دې لپاره چې د امن په خونه کې وساتل شي، صدیقي ورته د کورني تاوتریخوالي قضیه جوړه کړې ده." ده وویل، صدیقي له بېلابېلو لارو په بېلابېلو نومونو دوی ګواښلي دي، تر دې پورې چې د ده ورور احمد جاوېد یې د څه مودې لپاره په لوګر کې زنداني کړی و، څو له دې قضیې تېر شي. فریدون پژواک ته یوه لنډه ویډیو، یو غږیز کلیپ او د څو لیکلو پیغامونو کاپیانې هم ورکړي او ویې ویل: "دا ټول هغه اسناد دي چې د صدیقي په اړه زما څرګندونې ثابتوي."

په **ویډیو کې مخامخ اصف صدیقي** ښکاري خو له مقابل لوري څخه د ښځې غږ راځي چې داسې وایي:

ښځه- جان مان جور اس

صدیقي- بلی

ښځه- چرا گپ نه میزنی هاهاها

صدیقي- گپ میزنم

ښځه- بیخی دو دله معلوم میشی

په دغه ځای کې ویډیو پرې شوې او بیا ورپسې جوخت صدیقي وایي: "به خدا قسم میخورم، تعهد میکنم، تا اخر عمره از تو مواظبت میکنم و در کنارت استم، ولو که به قیمت جان مه هم تمام شود، فقط از تو استم."

ښځه: تنها مواظبت؟

صدیقي- مواظبت، خانم مه بودي میباشي، استي تا اخره عمره.

ښځه- تو در هر حالت استی با مه؟

صدیقي- به خدا قسم خوردیم که ده هر حالت ده می رابطه با تو استم.

ښځه- باز خو موضوع انتخابات پیش نه میاید؟

صدیقي- اگر به قیمت جان مه هم تمام شود از چوکی تیر استم خو از تو تیر نیستم.

ښځه- مه مطمین استم دیگه، خیر انشاالله صبح به خیر اخرین کارهای خوده شروع میکنیم.

صدیقي- انشاالله

ښځه: با هم یکجا

صدیقي- وعده است

ښځه- خوب اولین قرباني راکه تو به مه دادی همین است فقط، دیگه تمام کارها را مه کدیم؟

صدیقي- تا که زنده استم به تو قرباني میتم.

ښځه- خوب صحیح است، فیصله شد، قبول قبول، خیر بگو قبول قبول قبول، نکاح قبول هی؟ هاهاها

صدیقي: قبول، قبول، قبول دارمت.

ښځه- افرین هاهاها

دغه راز فریدون چې کوم غبریز کلیپ پژواک ته ورکړی په اړه یې وایي چې په دې کې د هغه د خسر ډګروال سردار حمید او اصف صدیقي تر منځ خبرې شوې دي، **دغه غبریز کلیپ ۳۹ دقیقې او ٤٤ ثانیې دی.**

د خبرو پیل پر دې کېږي چې صدیقي وایي: "محترم ډګروال صاحب، دغه ښځه له هغه کور څخه مایوسه شوې، د دې لپاره چې کوم بل چا سره ولاړه نه شي، ډېر خراب خلک شته دي، فریدون ونه شو کولای چې دغه ښځه په اته، نهه کلونو کې راضي کړي او دغه ښځه نه غواړي چې نور هغه کور ته ولاړه شي، په دې قضیه کې چې هر څومره لاس ووهل شي، خبره نوره هم خرابېږي، زه ۳۰ او ٤۰ کسه ساتونکي لرم، ټول ستا دي، خپل ټول واک ستا لپاره کاروم، پوه شوې ډګروال صاحب!"

صدیقي وایي چې دغه قضیه زموږ او ستاسو تر منځ ده، بل څوک نه شي کولای حل یې کړي، خپله یې باید حل کړو. په بله برخه کې بیا صدیقي وایي: "ستا ابرو عزت زما ابرو عزت دي... دغه مسئله باید حل کړو، زه د شورا مرستیال یم، هره ورځ د هېواد په کچه سلګونه قضیې حل کوم، دا خبره هم ډېره وړه او هم ډېره لویه ده، باید حل یې کړو."

صدیقي زیاتوي: "فریدون په اته- نهه کلونو کې ونه شو کولی چې خپله ښځه وساتي، اوس پر ما ادعا کوي، ته ما ته یو کس په افغانستان کې وښایه، تر مازدیګره یې غمه خورم، که دغه کار مې ونه کړ، ستا بنده به یم." دی وایي: "دغه ښځه اوس زما کور ته راغلې، قران شریف یې راوړی، ته ولاړ شه له فریدون څخه خپل د لور خط واخله، لور دې کور ته یوسه زه راځم دا خبره حل کوو."

صدیقي زیاتوي: "زه د سنا مرستیال یم، که زه پوه شوم چې څوک زما عزت خرابوي، په یوه شېبه کې یې له منځه وړم." په دغه غبریز کلیپ کې دې ورته نورې خبرې هم څو څو ځلې تکرار شوې دي او د فریدون خسر یواځې له بلې صاحب، بلې صاحب پرته نور څه نه وایي. دغه راز صدیقي وایي: "کومو خلکو چې دویمه ښځه درلوده، ما له هغو څخه نفرت کاوه، خو اوس چې دا غواړي زما ښځه شي، نو زه ورته موټر ورکوم، ساتونکي ورکوم او خارج ته که هم وغواړي ولاړه شي استوم یې."

د فریدون خسر سردارمحمد وایي: "موږ یې له موضوع نه یو په جریان کې کړي، دغسې کار یې کړی، په قوم کې یې وشرمولو، زما زړه یې ټوټې ټوټې کړ." ورپسې صدیقي وایي: "څلور کاله کېږي چې ما واده کړی، تر اوسه که ما د خپلې دویمې خوابنې کور لیدلی وي، زه دې کافر شم. خو دا زما کور ته راغلې، پر ما یې غبر کړی، زه د خپل او ستاسو د ابرو لپاره دغه کار کوم."


صدیقي زیاتوي: "که تاسو ما ته اجازه راکړئ، زه فریدون تر مازدیګره ژوندی نه پرېږدم، زه به مرده ګاو یم که دغه کار مې ونه کړ، دا ټول مشکل په فریدون کې دی." صدیقي ګواښ کوي او وایي: "فریدون ته ووایه که چا ته ووایې

چې زه په دې قضیه کې دخیل یم، نو په خدای چرګ دې هم ژوندی نه پرېږدم، همدومره فریدون ته وایه څو چې ژوندي یو او څوک خبر شول چې ستا ښځه صدیقي کره تللې ده، چرګ دې هم ژوندی نه پرېږدم."


د صدیقي وروستۍ خبره دا ده: "زه نور زغم نه لرم چې دغه ښځه دې څارنوالۍ او محکمې ته ولاړه شي، له دې وروسته اړیکه نه پرې کېږي خو خبرې بندیږي."

دغه راز فریدون ځیني لیکلي پیغامونه هم پژواک ته ورکړي او ویلي یې دي، دا هغه پیغامونه دي چې د صدیقي له خوا د ده ښځې ته استول شوي دي. په پیغامونو کې راغلي:

۱- تمام زندگی ام از تو است و تمام خوشی های زندگی ام را بریت قربان میکنم. ۲- کجا استی جانم، زنم مه خانی ایزدیار استم چی خریدي. ۳- انشاالله که خیرتي است، حالی دیگه تا مرگ از یک دیگه خود شدیم. ٤- یک قسم جیگر خون بودی خانم شرین مه، خیریت خو بود، سرم. زندگی ام از تو است، ٦ خو نکنی تا ده دقیقه بعد میروم دفتر، فقط ارامی است انشاالله؟



فریدون د هغې پاڼې کاپي هم پژواک ته ورکړه چې په سر کې یې د ده ښځې شکیلا ویلي چې له دې وروسته په صدیقي پورې اړوند ده او د پاڼې په وروستۍ برخه کې صدیقي دغه خبره تایید کړې او لاسلیک یې هم کړی دی.



فریدون دا هم وویل چې په دې اړه یې د کابل امنیې قوماندانۍ ته عریضه کړې او موضوع اوسمهال څارنوالۍ کې ده، په اړه یې پلټنې روانې دي. کومه عریضه چې فریدون قوماندانۍ ته کړې، په کې راغلي چې اصف صدیقي د ده ښځه غولولې او ښځې یې له کوره د تګ پر مهال اته زره ډالر، د درې سوه زره افغانیو په اندازه سره زر، یو لپ ټاپ کمپیوټر او دوه کلګسي موبایلونه هم له ځان سره وړي دي.

څو ځلې مو په دې اړه له اصف صدیقي سره اړیکه ونیوه خو یو کس چې ځان د صدیقي سکرتر معرفي کوي، وایي چې صدیقي په غونډه کې دی، صدیقي په روغتون کې دی، لس دقیقې وروسته زنګ ووهه. کله چې لس دقیقې وروسته بیا اړیکه ونیول شي، وایي چې مصروف دی، لس دقیقې وروسته بیا زنګ ووهه.

پژواک څو ځلې دغه کس ته وویل که صدیقي ځواب ورنه کړي راپور چمتو دی، نشرېږي، خو دی بیا هم وایي چې لس دقیقې وروسته اړیکه ونیسئ. همدارنګه کله چې پژواک پرون له صدیقي سره د خبرو هڅه وکړه؛ له هغې وروسته نوموړي له بېلابېلو لارو پر پژواک د خبر نه خپرولو فشار راووړو او تر لسو ډېرو مراجعو او کسانو له خوا د دغه خبر د نه خپرولو لپاره پژواک ته سپارښتنې وشوې. خو بل لور ته د اړوندې موضوع په اړه په ولسي جرګه کې د لوګر یوه استازي د نوم نه اخیستو په شرط پژواک ته وویل چې څه موده وړاندې په دې اړه په مرکز پل علم کې جرګه جوړه شوې وه.

هغه وايي چې اصف صديقي په لومړي سر کې حاضر شوی و چې د فريدون کورنۍ ته درې ميليونه افغانۍ ورکړي، خو دغه قضيه پټه کړي، خو دغو خلکو ورسره ونه منله، وروسته بيا صديقي د پيسو کچه سل زره ډالرو ته لوړه کړه خو بيا هم دې کورنۍ قبوله نه کړه. خو بل لور ته د شکيلا مدافع وکيلې الهې ناصري پژواک ته وويل چې د دې موکلې په اړه ټول خپاره شوي اسناد حقيقت نه لري. هغې وويل: "شکيلا دې ته ورغلې او د پيسو په مقابل کې يې دا د مدافع وکيلې په توګه غوره کړې ده." ناصري وايي چې شکيلا يوازې له کورني تاوتريخوالي سره مخ ده، بل هيڅ ډول قضيه چې له چا سره اړيکې يا بل څه ولري، نشته. دې وويل چې شکيلا دا مهال د امن په خونه کې ده او دا هم نه شي کولای چې په مستقيمه توګه له هغې سره خبرې وکړي.

ناصري زياته کړه: "شکيلا يو ځل د امن له خونې څخه د شلو ورځو لپاره ورکه شوه، کله چې مو پوښتنه وکړه، خاوند يې لوګر ته په زور بيولې وه او د شکيلا خاوند کله نا کله ما ته د مرګ ګواښ کوي چې دغه قضيه بايد تعقيب نه کړم." دغه راز د لويې څارنوالۍ ویاند جمشېد رسولي وايي، څو ورځې مخکې ياده مېرمن (شکيلا) څارنوالۍ ته عارضه شوې وه او په کې يې له خپل خاوند څخه د تاوتريخوالي په اړه شکايت کړی و. په ورته وخت کې تر دې څو ورځې وروسته د دې مېرمن خاوند (فريدون) هم پر خپلې مېرمن عريضه کړې ده او د دې ښځې په اړه يې په کې پر ځينو مواردو ادعا کړې چې بايد وڅېړل شي. دغه دواړه عريضې اوسمهال په لويه څارنوالۍ کې تر څېړنې دي، موضوع به په هر اړخيزه او جدي ډول وڅېړل شي او پايلې به يې وروسته په ډاګه شي.

د دې موضوع په اړه ديني عالم محمد حسن حقيار وايي چې د شريعت له مخې که چېرې نا محرم واده شوي جنسي اړيکې ټينګې کړي او پرې ثبوت شي، نو بيا د سنګسار سزا ورکول کېږي.

د انساني قاچاق د قانون له مخې، په دې قضيه کې د صديقي او شکيلا له لوري فريدون قاچاق شوی، ګواښل شوی او چل او فريب هم ورسره شوی دی. د اړوندې موضوع په اړه د انسان او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون په ۱۱مه ماده کې راغلي، په هغه صورت کې چې د انسان د قاچاق د جرم مرتکب د مجني عليه ښځه، والدين، قانوني سرپرست يا د عامه خدمتونو موظف شخص وي، پر اوږده حبس چې له لسو کلونو څخه لږ نه وي، محکومېږي.

## ۲۴- مرييتوب
جنسي مرييتوب د مرييتوب يا اجباري کار ځانګړی ډول دی. جنسي مرييان د عادي غلامانو په څېر دي، خو ښايي هغوی فحشا او جنسي عمل ترسره کېدو ته اړ کړل شوي وي، که څه هم ښايي له مرييانو سره کله کله جنسي اړيکې حقيقت ونه لري او يوه اوازه وي. ښايي مرييان يوازې د کار له خاوند سره جنسي غلامۍ ته اړ وي. دغه اصطلاح دغه راز د ويانا په اعلاميه کې د نړيوال انسان دوستانه قانون په نوم د ښځو د حقونو لپاره کارول کېږي.

د مرييتوب په دې نوې بڼه کې اجباري واده، په اجاره يې رحم کې د تخمې کرل، د بدن د غړو ايستل، لېږد، ترلاسه کول او د تن پلورنې لپاره د انسانانو استخداموول، يا په کار خانو، رستورانتونو، کروندو، مالداريو او ودانيزو پروژو کې سختو کارونو ترسره کولو ته اړ ايستل، شامل دي.

**اجاره يي رحم:** اجاره يي رحم يا ځای ناستې مور هغه روش دی چې يوه ښځه (ځای ناستې مور) په کې زوجي اولاد چې په معمولو روشونو سره يې د حامله کېدو امکان نشته، په خپل رحم کې حمل کوي (معمولاً له دې امله چې له زوجينو يې يو بارداره نه دی.) دغه روشونه په دوديز ډول داسې ترسره کېږي چې لومړی د واقعي مور د تخم سلول او د پلار سپرم د مصنوعي القاع په وسيله بارداره کوي او وروسته يې د لومړنۍ دورې شکل د ځای ناستې مور په رحم کې دننه په مصنوعي ډول ږدي؛ يعنې په رحم کې يې کري. په دغه روش کې ځايناستې مور يوازې نوي زېږېدونکي ته د پالونکې رول لري او له زېږون وروسته ټول حقوق او د ماشوم سرپرستي اصلي والدينو ته سپارل کېږي، خو دغه کار قانوني اقداماتو ته اړتيا لري. پرتګالي فوټبال لوبغاړی رونالډو او مېرمن يې جورجينا هم په دې ډول د اولاد لرونکي شوي دي. که دغه د اجاره يي رحم کړنه پرته له هر ډول فشاره او په رضايت سره وي نو بيا انساني قاچاق نه شمېرل کېږي.

د Global Slavery Index په نوم د ۲۰۱۸ زېږديز کال راپور له مخې چې د کار نړيوال سازمان (ILO)، د کډوالۍ نړيوال سازمان (IOM) او دWalk Free Foundation  په نامه بنسټ له خوا په ګډه خپور شوی، په ۲۰۱۶ زېږديز کال کې په ټوله نړۍ کې د ماشومانو او ښځو په ګډون ۴۰،۳ ميليونه انسانان له "عصري مرييتوب" سره مخ شوي وو چې ۷۱ سلنه يې ښځې وې. د عصري مرييتوب په يادو کسانو کې ۲۴،۹ ميليونه انسانان په زور کار او ۱۵،۴ ميليونه نور په زور ودونو ته اړ شوي دي.

د راپور له مخې، د اسيايي هېوادونو له ډلې شمالي کوريا، افغانستان او پاکستان له هغو هېوادونو څخه دي چې د "عصري مرييتوب" په پورتنۍ کچه کې ځای لري او افغانستان د عصري مرييتوب هېوادونو په لېست کې دويم ځای خپل کړی دی.

د عصري مرييتوب د راپور په جدول کې راغلي چې د اسيايي او ارام سمندر حوزې هېوادونو له ډلې په منځنۍ توګه له هرو ۱۰۰۰ کسانو څخه ۴ يې د زور له کار سره مخ دي او په منځنۍ توګه له هرو ۱۰۰۰ ودونو څخه دوه ودونه په اجباري ډول کېږي. دغه راز په اسيايي او د ارام سمندر حوزې په ۳۶ هېوادونو کې له هرو ۱۰۰۰ کسانو څخه څه باندې ٦ يې له عصري مرييتوب څخه رنځېږي. هند، چين او پاکستان له هغو هېوادونو څخه ګڼل کېږي چې زيات شمېر وګړي يې يعنې د سيمې ٦٠ سلنه خلک د عصري مرييتوب قربانيان دي.

عصري مريتوب د سياسي، اقتصادي، فرهنګي او مذهبي نابرابريو يو افراطي ډول دی چې په پېچلې توګه په بېلابېلو ټولنو کې شته، په ځانګړې توګه په جنګ ځپلو او د استبدادي رژيمونو لرونکو هېوادونو کې وي. د ډسمبر دويمه د مرييتوب د له منځه وړو نړيوالې ورځې په نوم نومول شوې او د دې ورځې له نمانځلو موخه د هر ډول مرييتوب، انسانانو د قاچاق، جنسي ناوړه ګټې اخيستنې، پر ماشومانو کار کول او په زور ودونو مخنيوی شامل دي. د دې ورځې د نمانځلو موخه په نړۍ کې د نوې يا عصري بڼې مرييتوب له منځه وړل دي چې د انسانانو قاچاق، جنسي ناوړه ګټه اخيستنې او پر ماشومانو کار کول په کې شامل دي.

## ۲۵- پر ماشومانو درانه کارونه

له قانوني عمر مخکې پر ماشومانو د هر ډول درووند کار کول د قانون خلاف عمل دی. د افغانستان د مدني قانون له مخې د هلکانو لپاره قانوني عمر ۱۸ او د نجونو لپاره ۱۶ ټاکل شوی دی.

پر ماشوم درووند کار هر هغه کار ته ویل کېږي چې ماشوم یې ترسره کوي خو د هغه روغتیا، زده کړې او فزیکي، رواني، عقلي، اخلاقي او ټولنیزې ودې ته زیان رسوي. دغه راز په درنو کارونو کې پر ماشومانو د کار فشار هم ډېر وي؛ ځکه ډېری یې له رواني ناورغی سره هم مخ کېږي.

پر ماشوم د درنو کارونو تر ټولو ناوړه ډولونه عبارت دي له مریيتوب یا مریيتوب ته ورته هر ډول کړنې، لکه د ماشومانو خرڅلاو، د پور په مقابل کې کار، اجباري کار، د وسله والې جګړې لپاره په زور یا اجبار د ماشومانو استخدام؛ د فحشا، د غیر اخلاقي فلمونو ډکولو یا په دغو فلمونو کې د کار کولو په موخه د ماشومانو کارول، پېرودل یا وړاندې کول؛ د غیر قانوني فعالیتونو لپاره د ماشومانو وړاندې کول او پېرودل، په تېره بیا د نشه یي توکو د تولید او قاچاق لپاره څرنګه چې په اړوندو نړیوالو معاهدو کې ذکر شوي دي یا هر بل داسې کار چې د خپل ماهیت له مخې د هغو شرایطو له امله چې په کې سر ته رسېږي، د ماشومانو روغتیا، خوندیتوب یا اخلاقو ته تاوان ورسوي.

کله چې ماشومان یا ښځې له دې وېرې چې وړې پاتې نه شي، درانه کارونه کوي، په انساني قاچاق کې نه راځي؛ ځکه هغوی د مجبوریت له امله سختو کارونو ته مخه کوي خو کله چې کوم بل کس بیا د هغوی له دغه مجبوریته ناوړه ګټه پورته کوي، نو بیا هغه ته انساني قاچاق وايي. په افغانستان کې شاوخوا ۲۵ سلنه ماشومان په یو ډول نه یو ډول په درنو کارونو بوخت دي. دغه مهال په ټول هېواد کې نږدې دوه میلیونه ماشومان په درنو کارونو بوخت دي؛ ان شپږ کلن ماشومان لیدل کېږي چې درانه کارونه کوي؛ د بېلګې په ډول د ننګرهار د کار او ټولنیزو چارو ریاست د معلوماتو له مخې، د دغه ولایت ماشومان له ۱۸ ډوله درنو کارونو سره مخ دي؛ د دغه ولایت درې نقطې (د جلال اباد ښار، د سره رود د خښتو بټۍ او د تورخم سرحدي ښارګوټی) د ماشومانو د درنو کارونو ستر مرکزونه دي چې ماشومان په کې تر جدي ګواښونو لاندې دي. په دغو کارونو کې د خښتو په بټیو کې کار کول، کراچۍ چلول، پر شا د درنو پېټیو وړل، د اهنګرۍ په بټۍ او نانوایۍ کې کار او ځیني نور کارونه شامل دي.

په افغانستان کې د ماشومانو د کار په اړه د بشري حقونو د څارونکې اداري د «ټول رنځ همدوی ګالي» په نوم راپور له مخې، لږ تر لږه څلورمه برخه افغان ماشومان چې له پنځو څخه تر ۱۴ کلونو عمرونه لري، د معیشت یا له خپلو کورنیو سره د مرستې لپاره کار کوي. ډېری هغوی په داسې کارونو کې بوخت دي چې کېدای شي د خطرناکو شرایطو او د خوندیتوب او روغتیایي معیارونو د نه مراعاتولو له امله د ناروغۍ، ټپي توب یا ان د مړینې لامل وګرځي.

په افغانستان کې ماشومان معمولاً ډېر ساعتونه کار کوي چې په بدل کې یې لږ یا هم هېڅ مزد نه ورکول کېږي. هغوی په کورنیو د غالیو اوبدلو کارګاه وو، د پور په بدل کې د خښتو په داشونو، د خوراکي توکو د تولید په کارخونو، د حلبي سازانو او ولډینګ کارانو په توګه، په کانونو، په کرنه او د پلورونکو، بوټ رنګوونکو او ګدایانو په توګه په واټونو کې کار کوي. ماشومان اړ کېږي څو د کار او زده کړې فشار یو ځای پر غاړه واخلي او یا یې هم ښوونځي ته له تګه په بشپړ ډول وګرځوي. کار د دې لامل ګرځي چې ځیني ماشومان ښوونځی تر پای ته رسولو مخکې پرېږدي. په افغانستان کې یواځې نیمایي کارکوونکي ماشومان ښوونځي ته ځي.

دا چې په افغانستان کې ډېرې کورنۍ له ډېرې بېوزلۍ سره مخ دي، نو ماشومان يې اړ کېږي چې کار وکړي. د ځمکې نه لرل، بېسوادي، وزګارتيا، د هېواد په ډېرو برخو کې پرله پسې جګړه او له دې امله د خلکو معيوبوالی تر ټولو مهم هغه لاملونه دي چې د مزمنې بېوزلۍ او له امله يې کار ته د ماشومانو د مخې کولو لامل ګرځېدلي دي.

د افغانستان د کار قانون له مخې، د کار تر ټولو ټيټ عمر ۱۸ کاله ټاکل شوی دی. له ۱۵ څخه تر ۱۷ کلونو لرونکي ماشومان يوازې په هغه صورت کې د کار اجازه لري چې د هغوی د زيانمنېدو لامل نه شي، په اوونۍ کې له ۳۵ ساعتونو څخه د لږ وخت لپاره وي او يو ډول حرفوي زده کړه په کې نغښتې وي. د دغه قانون د حکم پر بنسټ، ۱۴ کلن او تر دې کوچني ماشومان د کار اجازه نه لري. د ۲۰۱۰ زېږديز کال په اپرېل مياشت کې افغانستان د ماشوم د کار اړوند دواړه کنوانسيونونه لاسليک کړل چې يو يې د ماشومانو د کار د تر ټولو ناوړه ډولونو په اړه د کار د نړيوال سازمان ۱۸۲مه شمېره او بل يې د کار د تر ټولو ټيټ عمر په اړه ۱۳۸مه شمېره کنوانسيونونه دي. له دغو ملي قوانينو او نړيوالو مکلفيتونو سره سره ماشومان د هېواد په ګوټ ګوټ کې په کار بوخت دي چې ځيني کارونه يې له خطره ډک هم دي.

حکومتي چارواکي ادعا کوي چې بودجوي محدوديتونه او د ظرفيت نشتوالی د کار د قوانينو د نه تنفيذ لاملونه دي. د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت وياند وايي: "په خواشينۍ سره موږ د ټولنيز ملاتړ د پروګرامونو لپاره هېڅ بودجه نه ده لرلې؛ د دې لامل تر ډېره بريده دا دی چې د حکومت د بودجې ډېره برخه پر امنيتي چارو لګول کېږي او لږه برخه يې ټولنيزو مسايلو، په تېره بيا زيانمنونکو ماشومانو لپاره ځانګړې کېږي."

د کارګرو ماشومانو اوسنۍ کره شمېره معلومه نه ده، د افغان حکومت د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ زېږديزو کلونو د ګڼ شمېر شاخصونو لرونکې د کلستر سروې وښووده چې ۲۵ سلنه هغه ماشومان چې له پنځو تر ۱۴ کلونو پورې عمرونه لري، په کار کې اخته دي چې له دې ډلې ۲۷ سلنه يې له پنځو څخه تر ۱۱ کلونو پورې عمرونه لري او ۲۲ سلنه يې د ۱۲ کلونو او ۱۴ کلونو تر منځ عمرونه لري. هغې سروې چې په ۲۰۱۳ زېږديز کال کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون له خوا ترسره شوه، وښووده چې په افغانستان کې ۵۲ سلنه ماشومان په يو يا بل ډول کار باندې بوخت دي.

هغه ماشومان چې د خښتو په پټيو کې کار کوي، د دې ستونزې ښکاره بېلګه ده. رحيم الله چې ۱۵ کلن دی، پنځه کاله کېږي چې له خپل پلار، ۱۸ کلن مشر ورور او نورو خويندو او وروڼو سره چې تر هغه ځوانان دي، خښتې وهي. هغوی د سهار څلور بجې خپل کار پيلوي او تر شپې پورې کار کوي. د هغه د کورنۍ ټول غړي کار کوي. رحيم الله د بشري حقونو څارونکې ادارې ته وويل: "زما کوچني وروڼه او خويندې هم کار کوي. هغوی کله چې پنځه کلن شي، په کار پيل کوي. هو په همدغه عمر کې درانه کار ته مخه کوي. زموږ يوازې يو کار نه دی؛ بلکې ډېر کارونه کوو؛ لکه راته ويل کېږي ورشه ځمکه پاکه کړه، بېل را واخله، کولنګ راوړه، دا وکړه، هغه وکړه، ډولچه راوړه... معنا دا چې ټول کار کوي."

د رحيم الله په څېر ډېری افغان ماشومان ډېر ساعتونه سخت فزيکي کارونه کوي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون په ۲۰۱۳ زېږديز کال کې جوته کړه چې ۲۹ سلنه ماشومانو ته داسې ښکارېده چې هغه کار يې چې کاوه روغتيا ته يې تاوان رساوه. کارګر ماشومان ډېری وختونه له داسې کارونو سره مخ کېږي چې د ټپي کېدو، د تدريجي ودې د خنډ او د رواني ستونزو لامل ګرځي.

په کابل کې د يوه ښوونځي مدير د يوه زده کوونکي حال داسې بيان کړ: "دوه کاله مخکې مو يو زده کوونکی درلود چې په لسم ټولګي کې و؛ هغه په اسمايي واټ کې د خپلې کورنۍ په هټۍ کې کار کاوه او د اکسېجن بالونونه يې پلورل. يو ځل يوې ګازډبې په هټۍ کې چاودنه وکړه، زموږ د زده کوونکي يو لاس او يوه پښه پرې شول، ان مخ

يې هم وسوځېد، ډېره غټه صدمه يې وليده. د نړيوال سره صليب په روغتون کې تر څلورو مياشتو درملنې وروسته هغه ښوونځي ته له يوه ساختګي لاس او پښې سره را ستون شو."

هغه زياته کړه: "دا ډول پېښې په کابل او نورو ولايتونو کې ډېرې رامنځته کېږي؛ ځکه چې خلک بېوزله دي، ماشومان او زده کوونکي مجبورېږي چې هر ډول سخت کارونه وکړي، څو له خپلو کورنيو، مور او پلار سره مرسته وکړي. د دغو زده کوونکي په ليدو خورا خواشينی شوم. موږ ډېر داسې زده کوونکي لرو چې کازدېږې خرڅوي، په واټونو کې کار کوي او يا هم په ورکشاپونو کې د مستري شاګردان دي."

د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت وياند وايي، د ستونزې يوه برخه دا ده چې کورنۍ د ماشومانو له حقونو خبرې نه دي: "دا چې ځيني خلک د ماشومانو له حقونو خبر نه دي، يوه لويه ستونزه ده. دا د زيانمنونکو ماشومانو، په تېره بيا هغه ماشومان چې کار کوي [د رامنځ ته کېدو يو] ستر لامل دی. په بل عبارت، کورنۍ په ندرت سره [د ماشومانو په اړه] داسې پرېکړې کوي چې د ماشومانو له حقونو د پوهېدو پر بنسټ ولاړې وي." سره له دې، تر هغه مهاله چې په افغانستان کې د بېوزلۍ کچه همدومره لوړه پاتې وي، د ماشومانو د کار د ټولو ډولونو له منځه وړل که ناشونی کار نه وي، قطعاً ستونزمن کار دی، خو حکومت بايد د ماشومانو د خطرناکه کارونو د مخنيوي لپاره رغنده ګامونه واخلي؛ دا د کورنيو او نړيوالو قوانينو غوښتنه ده. افغان حکومت او ډونرانو ته په کار ده چې په دې اړه بېړني ګامونه اوچت کړي څو ماشومان د خطرناک او روغتيا ته د زيان رسوونکو کارونو له ضررونو وژغورل شي.

د افغانستان په دوولسو تقنيني سندونو کې د ماشومانو د درنو يا شاقه کارونو پر مخنيوي ټينګار شوی او د همدغو اسنادو له مخې، کوم کسان چې ماشومان درنو کارونو ته اړ باسي، بايد تر عدلي تعقيب لاندې راشي. دغه راز د جزا قانون له مخې، که يو کس چېرې په اجبار سره کار کولو ته اړ شي، دغه کار جرم ګڼل کېږي؛ د بېلګې په ډول، د تخار ولايت د نمک اب او کلفګان ولسواليو د مالګې په کان کې او د چال ولسوالۍ د ډبرو سکرو په کان کې سلګونه ماشومان په کار کولو بوخت دي؛ د دوی عمرونه له ۱۵ کلونو کم دي، ډېری يې د اقتصادي ستونزو له امله دغه کار کوي. په دغو کانونو کې د لږو پيسو په بدل کې پر ماشومانو ډېر کار کېږي او د دغه کار اصلي لامل بېوزلي ده، دغه راز لسګونه نور ماشومان هم شته چې د خپلو پلرونو د پورونو خلاصېدو لپاره په همدې کانونو کې درانه کارونه کوي.

پر ماشومانو د درنو کارونو په اړه د پژواک راپور:

## واحد: ارمانونه مې د خښتو په بټۍ کې د کار له امله خاورې شول



*يوسف ظريفي— Dec 28, 2016*

جلال اباد (پژواک، ۸ مرغومی ۹۵): په ننګرهار کې يو ماشوم د خپلې کورنۍ د پورونو خلاصولو په موخه هره ورځ د خښتو په بټۍ کې نهه ساعته کار کوي او له زده کړو محروم دی. دغه هلک ۱۳ کلن واحد دی چې سهار

شپږ بجې له خوبه پاڅېږي او د دې پر ځای چې ښوونځي ته چمتووالی ونيسي، مجبور دی چې مستقيم د ختو پر لور ولاړ شي او د سهار په يخه هوا کې خټه لنده کړي او کار وکړي. واحد يواځې نه دی، بلکې د ننګرهار د کار او ټولنيزو چارو رياست د معلوماتو له مخې، د واحد په څېر نږدې درې زره ماشومان په همدې بټيو کې پر سختو کارونو بوخت دي او له مجبوريته يې زده کړې هم پرېښې دي.

د سره رود ولسوالۍ په احمدزيو کلي کې د خښتو بټۍ تر څنګ د خامو خښتو اچولو يو لوی ميدان دی چې په کې ګڼ شمېر ماشومان، ځوانان او سپين ږيري تر سترګو کېږي چې د خښتو په وهلو بوخت وي. په دغو کسانو کې يو هم ګل احمد نومېږي چې دی، مېرمنه او پنځه اولادونه يې د ۶۰زره افغانيو په بدل کې ګرو دي. هغه وايي، څلور کاله مخکې کله چې له پېښوره راغلل او پور ورکوونکو ډېر په تنګ کړل، د بټۍ له مالکه يې پور واخيست او له هماغې ورځې ورسره ګرو پاتې شوي دي.

دا چې ګل احمد تر اوسه نه دی توانېدلی خپل پور خلاص کړي، په اړه يې وايي: "د زرو خښتو په بدل کې موږ ته شپږ سوه کلدارې راکوي، زه او دوه واړه زامن مې چې د ورځې دوه نيم زره يا درې زره خښتې ووهو، نو هغه اېله زموږ د کور لګښت شي، نو قرض هماغسې پاتې دی او موږ په ګرو کې لګيا يو." له ګل احمد سره يې کوچنی زوی ۱۳کلن واحد هم د خښتو په اچولو بوخت دی. واحد په خپلو وړو لاسونو سهار اووه بجې خټه لندوي او بيا ټوله ورځ له پلار سره د خښتو په وهلو کې بوخت وي. د نوموړي ورځنی خوراک لکه د عامو افغانانو درې وخته دی، خو فرق يې دا دی چې سهار شين چای او وچه ډوډۍ، غرمه کچالو او يا سابه خوري او ماښام همدا خوراک بيا تکرار خوري. واحد وايي، له لوی اختر وروسته يې يواځې يو ځل په يو واده کې غوښه خوړلې او نور يې ښځې ليدلې هم نه ده.

نوموړي له پژواک سره په مرکه کې وويل چې ښوونځي ته يواځې څو ورځې تللی او نور يې ټول ژوند همداسې په سختو کارونو کې تېر کړی دی. واحد ډېر ځوريږي چې نور همزولي يې په ښکلو جامو کې ښوونځيو ته ځي او دی د خښتو په بټۍ کې کار کوي. هغه وايي: "ما ته مې ارمانونه خاورې شوي ښکاري؛ ځکه زه مکتب ته د مجبوريتونو له لاسه نه شم تللی، کنه زه غواړم چې ډاکټر يا انجنير شم." هغه اوس هره ورځ په خپل کمزوري بدن تر نهو ساعتو هم ډېر کار کوي او وايي، مازديګري کې وزګارېږي، دومره ستړی وي چې د لوبو کولو او يا هم درس ويلو توان نه لري. واحد له تېرو څلور کلونو راهيسې د خښتو په دې بټۍ کې کار کوي او وايي تر هغه وخته به دغه کار ته دوام ورکوي، څو د بټۍ د څښتن شپېته زره کلدارې قرض خلاص کړي او هم دومره پيسې ټولې کړي چې پلار يې پرې بل څه کاروبار وکړي. د واحد پلار په ډېر مايوس غږ وويل: "بله هېڅ چاره مې نه وه، نو ځکه مې د شپېتو زرو روپيو په بدل کې هم ځان او هم خپله کورنۍ ګرو کړه." ګل احمد او واحد دواړه مستعار نومونه دي.

بل لور ته د خښتو د بټيو مسوولين وايي چې دوی دغه کورنۍ ګرو کړې نه دي، بلکې ورته يې د اوسېدو او کار زمينه برابره کړې ده. د مليار د خښتو بټۍ مسوول حاجي مليار پژواک ته وويل، هر کله چې ورته کاريګر ورغلي، په هماغه وخت يې ورته د پيسو او نوره اړتيا پوره کړې چې دغه شپېته زره کلدارې يې هم د هغوی د ستونزې د حل په خاطر ورکړې دي. خو دی په خپلو خبرو کې تاييدوي، که ياده کورنۍ ورته پيسې ورکړي؛ نو هېڅکله به يې د تګ ممانعت ونه کړي.

د ننګرهار د کار او ټولنيزو چارو رييس عبدالحکيم شېرزاد هم مني چې د سره رود ولسوالۍ د خښتو په بټيو کې لسګونه کورنۍ ګرو شوې او ماشومان يې په سختو کارونو بوخت او له زده کړو محروم دي. د شېرزاد د معلوماتو له مخې، هره مياشت د سي پن يا د ماشومانو د محافظت پروګرام په غونډو کې په دې اړه بحثونه کوي چې

څرنګه کولی شي د دغو ماشومانو د کار او پر هغوی د جبر مخنیوی وکړي. د کار او ټولنیزو چارو رییس وایي چې د خښتو د بټیو مسوولینو یو شمېر کورنۍ په لوی لاس پوروړې کړې او ګرو کړې دي، کله چې هغوی د خښتو بټۍ پرېږدي، نو لومړی باید پور ورکړي او بیا ولاړې شي. دی وایي، د خښتو بټیو مسوولینو په کارګرو دوه نور جبرونه هم کړي چې یو یې د کار په بدل کې پیسې کمې ورکول کېږي او بل یې د اوسېدو د ځای پر سر دا پرې جبري کړي چې د ورځې به له زرو خښتو کمې نه وهي.

نوموړي د دغو ماشومانو د شمېر په اړه وویل چې په اوړي کې کمېږي او په ژمي کې یې شمېر زیاتېږي: "موږ دوه ځلې سروې ترسره کړې، یو ځل یې شمېر ۱۸۰۰ تنه و او بل ځل یې ۲۲۰۰ تنو ته پورته شوی و، دا چې وختونه یې مختلف وو، نو شمېر یې هم مختلف و." د شېرزاد په وینا، پخوا یې دغو کورنیو ته د روغتیا او عامه پوهاوي په برخه کې روزنه ورکړې او دغه راز یې هڅې پیل کړې څو کورنۍ دې ته وهڅوي چې پر ماشومانو باندې د کار تر څنګ زده کړې هم وکړي. بلخوا په ختیځ کې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون اندېښمن دی چې که دغه ماشومان همداسې له زده کړو، روغتیا او لوبو څخه محروم را لوی شي، نو په راتلونکي کې به له ډېرو ستونزو سره مخ شي. په دغه کمېسیون کې د ماشومانو برخې مسوول غلام حسین بېوس پژواک ته وویل چې دوی د دغو ماشومانو د حقونو خویندیتوب په خاطر په ۱۵ بټیو کې د دغو ماشومانو لپاره د لوبو او زده کړو ځایونه او کورسونه جوړ کړي چې ځانونه محروم ونه ګڼي.

د ننګرهار ولایتي اداره هم وایي چې په سره رود ولسوالۍ کې د ماشومانو او د هغوی د کورنیو له ګرو کېدو خبر دي او په دې برخه کې یې د کار او ټولنیزو چارو ریاست ته د ستونزې د حل سپارښتنه کړې ده. د ننګرهار د والي ویاند عطاء الله خوږیاڼي پژواک ته وویل چې په دغو کورنیو کې ځینې یې داسې هم شته چې خپله یې ځانونه ګرو کړي څو خلک مرستې ورسره وکړي. خو هغه وایي چې د دغو ټولو کورنیو په اړه د والي په لارښوونه کشفي مامورین کار کوي او سروې یې پیل کړې ده چې اړمنې کورنۍ په نښه کړي او ورسره لازمې مرستې ترسره شي.

د ننګرهار د پوهنې ریاست چارواکي هم وایي چې په سره رود ولسوالۍ کې د خښتو بټیو کارګر ماشومان له زده کړو محروم دي. د دغه ریاست مطبوعاتي مسوول محمد اصف شینواري پژواک ته وویل چې پخوا دغه ستونزه ډېره زیاته وه، خو اوس دوی شاوخوا ۳۰ کلیوالي ښوونځي جوړ کړي چې دغه ماشومان د خپل کار تر څنګ لیک لوست هم زده کړي. دی وایي، دغه پروګرام درې کلن دی او کله چې یې دغه موده پوره کېږي، نو بیا به په نورو ښوونځیو کې شاملېږي.

د یادولو ده چې اوسمهال د ننګرهار په سره رود ولسوالۍ کې د خښتو ۶۴ بټۍ موجودې دي چې تر ډېره کارګر ګرو دي او په لږو پیسو کار کوي.

## ۲۶- ماشوم تر واک لاندې راوستل

د اقتصادي ستونزو او مجبوریت له مخې د پور ورکولو او یا هم د نورو لارو چارو په کارولو سره د ماشوم په واک کې راوستل او ساتل چې د ماشوم رضایت تر لاسه کړي او یا یې هم سرپرستي په لاس کې ولري په انساني قاچاق کې شمېرل کېږي.

له انساني قاچاق او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون په لومړۍ ماده کې راغلي چې د ناوړه استفادې په موخه د ماشوم په واک کې راوستل انساني قاچاق گڼل کېږي. له ماشومانو په بېلابېلو برخو کې ناوړه ګټه اخیستنه انساني قاچاق دی. په خوست ښار کې یو شمېر ماشومان چې له نورو ځایونو بیول شوي، د دې لپاره ګومارل شوي چې نشه یي توکو وپلوري. ماشومانو ته نشه یي توکي قاچاقبران ورکوي او بیا یې د ښار په ځانګړو ځایونو کې پر دندو ګوماري، څو یاد نشه یي توکي پر روږدو وپلوري. دغو ماشومانو ته بېرته کورته د تګ او یا هم په بل ځای کې د کار کولو اجازه نه ورکول کېږي او په نورو سیمو کې یې بیا بل ډول بېلګې دي.

د ماشوم واک لاندې راستو په اړه د پژواک راپور:

**له مجبوریته د خان نوکري کوم**



*عبدالمقصود عزیزي-Nov 25, 2017*

پل علم (پژواک، ۴ لیندۍ ۹۶): په لوګر کې یو ۱۵ کلن ماشوم له یو خان سره د کال په دوه نیم خرواره غنمو نوکر دی او په بل ځای کې د کار کولو اجازه هم نه ورکوي. "له سهاره د ماښام تر اذانه سخت کار کوم، خو که ډېر ضرور کار مې نه وي، رخصت هم نه راکوي او کله ناکله وهل هم خورم." دا د ۱۵ کلن جمال (مستعار نوم) د څرګندونو یوه برخه ده چې لوګر کې له یو خان سره پر غنمو نوکر دی.

دا مهال په لوګر ولایت کې د یو خروار (۸۰ منه) غنمو بیه ۱۵۰۰۰ افغانۍ ده او مزدورکار په اتو ساعتونو کې ٤۰۰ افغانۍ مزد اخلي.

جمال د کورنۍ اقتصادي ستونزو له امله اړ شوی چې د یو خان په کور کې کار وکړي خو هغه خان پر ده هر ډول درانه کارونه کوي او په ټول کال کې بیا د نورو مزدورانو د دریو میاشتو تنخوا ورکوي.

**قانون په دې برخه کې څه وايي؟**

د انسان قاچاق او د کډوالو د قاچاق د قانون د دریېمې مادې په لومړۍ فقره کې راغلي چې د ناوړه ګټې اخیستنې په منظور د شخص استخداموڵ او یا هم د زیان منني یا مجبوریت له حالت څخه ناوړه ګټه اخیستل د انسان قاچاق ګڼل کېږي. د همدې مادې په بله برخه کې راغلي چې د ناوړه ګټې اخیستنې په موخه د ماشوم تر واک لاندې راوستو ته هم انساني قاچاق ویل کېږي.

د یاد قانون په لسمه ماده کې راغلي، که چېرې د انساني قاچاق په پېښه کې مجني علیه ښځه یا ماشوم وي، د جرم مرتکب پر اته کاله بند محکومېږي. همدې مادو ته په کتو سره جمال هم د انساني قاچاق د یوې پېښې ښکار شوی. نوموړی د لوګر ولایت د مرکز پل علم د هارون خېلو کلي اوسېدونکی دی، پنځه ورونه او دوه خویندې لري، پلار یې مړ دی.

**جمال: زه مې مور له خان سره نوکر کړی یم**

هغه پژواک خبري اژانس ته په ځانګړې مرکه کې وویل چې د کور سرپرستي کوي، نو اړ دی چې د خوراک او څښاک لپاره هم یو څه پیدا کړي. جمال غواګانې د څرولو لپاره پټیو ته بیولې وې، هغه د پټیو په منځ کې ناست و او د پژواک له خبریال سره یې د زړه خواله کوله. هغه زیاته کړه: "د کور او له کوره بهر کار کولو مسوولیت یې ما ته راکړی او څو چې ډېر ضرورت نه وي، ما ته د رخصت اجازه هم نه راکوي." دی وایي چې عمر یې کم دی، څوک یې مزدورۍ ته نه بیایي نو له دې امله اړ شوی چې د خان په کور کې په غنمو نوکري وکړي. هغه خپلې دندې دغه شان حساب کړې: "د څارویو ځای پاکوم، اوبه ورکوم، پټیو ته یې بیایم، پټي اوبه کوم، له دوکان څخه سودا راوړم، په ژمي کې له بامونو واورې پاکوم، د کلي ملا او په حجره کې مېلمنو ته ډوډۍ وړم، د باغ او د ځنګلونو ساتنه یې کوم او نور هر څه چې وي هغه ورته کوم، خو کله خان، کله یې مېرمن او کله یې د کورنۍ نور غړي ښکنځل راته کوي او یا مې وهي. "

جمال ژړغونی شو او ویې ویل: "څلور کاله کېږي، له دغه خان سره کار کوم، کله مې زړه کېږي چې کار یې پرېږدم، خو خپل ورونه او خویندې مې چې ویادېږي نو نه غواړم چې کار یې پرېږدم." ده وویل چې مور یې له دغه خان سره د کال پر دوه سوه منه غنمو نوکر کړی. نوموړي زیاته کړه: "په دې غنمو زموږ د ټول کال ګوزاره نه کېږي، مور مې دوه غواګانې ساتلې چې شیدې او مستې یې خرڅوو." د هغه په وینا، د جمعې تر څنګ په نورو رخصت ورځو کې هم کار ته ورځي څو له کوم ناوړه حرکت سره مخ نه شي. جمال د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل: "تر څلورم پورې مې مکتب ویلی، خو پلار مې چې مړ شو، مکتب را څخه پاتې شو." هغه وویل چې لویه هیله یې د نورو کسانو په څېر له کمو ستونزو سره ژوند کول دي.

**ساره: لویه هیله مې دا ده چې جمال مکتب و وایي**

پنځوس کلنه ساره (مستعار نوم) د جمال مور ده، زړې جامې یې پر ځان وې او د ژوند ستونزو یې د مخ د پوست رنګ هم تور کړی دی. هغې پژواک ته په مرکه کې وویل، له کومې ورځې یې چې خاوند وفات شوی، نور یې ښه ورځ نه ده لیدلې. دې زیاته کړه: "زه دعا کوم چې الله ج دې هېڅ مسلمان بنده په دومره مشکلاتو کې نه را ګیروي."

ساره وایي چې د ژوند پر ټولو چارو ښه پوهېږي خو د اقتصادي ستونزو له امله یې خپل کوچنی زوی د خان په کور کې نوکر کړی دی. دې وویل: "جمال باید په دې عمر کې مکتب ته تلای خو څه وکړم، د غریبۍ له امله په غنمو باندې مو له یو خان سره نوکر کړی دی." ساره وایي که جمال کار ونه کړي نور بچیان به یې له ولږې مړه شي. نوموړې د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل: "جمال ډېر کوچنی و چې دغه خان له ځان سره نوکر کړی، اوس غټ شوی نو خوښه هم د خان ده چې جمال پرېږدي بل ځای کار وکړي او کنه."

ساره وایي، تر ټولو لویه هیله یې دا ده چې جمال او نور ماشومان یې زده کړې وکړي او یوه ورځ یې اقتصادي ستونزې هوارې شي. بل لور ته بیا د جمال تره احمدالله (مستعار نوم) پژواک ته وویل چې وررور یې پنځه کاله

مخکې د سرطان ناروغۍ له امله مړ شوی دی. هغه وايي: "له ورور څخه مې اووه ماشومان پاتې شول، زه خپله هم دهقان یم، نه شم کولی چې له هغوی سره کومک وکړم، مور یې جمال له یو خان سره نوکر کړی او بس همدا جمال دی چې خپل کور ته ډوډۍ پیدا کوي." ده پر حکومت نیوکه وکړه چې له بېوزلو کورنیو سره مرستې نه کوي، نو له دې امله اړې کېږي چې خپل ماشومان د درنو کارونو لپاره وګوماري.

**د کلي خان: جمال مې د هغه د کورنۍ له ژمنې سره سم په کار ګومارلی**

بل لور ته میراحمد خان (مستعار نو) هم دا تاییدوي چې جمال له تېرو څلورو کلونو راهیسې ورسره د کور په کارونو کې مرسته کوي. ده وویل چې ځمکې یې ډېرې دي، نو دی په یواځې ځان ټولو کارونو ته رسېدنه نه شي کولی. هغه وايي: "جمال وړوکی و چې ما ځان سره نوکر کړ، په هېڅ شي نه پوهېده، اوس غټ شوی او کار یې هم زده کړی دی، نو کورنۍ یې له ما سره وعده کړې وه چې دی به تا سره کار کوي، نو دی اوس بل ځای ته د کار لپاره نه شي تللی." خان وايي چې پر خپلو مزدورانو ظلم نه کوي؛ ځکه هر یوه ته یې په اوله د هغې دندې ویلي. د هغه په وینا، جمال ته د کال دوه نیم خرواره غنم ورکوي، په اخترونو کې جامې ورته کوي او دوه وخته په مره کېږه ډوډۍ ورکوي.

**ولايتي شورا: د بېوزلۍ له امله ډېر ماشومان په کورونو کې کار کوي**

دغه راز د لوګر ولايتي شورا غړي حسیب الله ستانکزي پژواک ته وویل چې په هېواد کې د پرله پسې جګړو له امله یو شمېر کورنۍ بې سرپرسته شوې دي او اوس پر خپلو ماشومانو درانه کارونه کوي. هغه وايي: "په دغه ولايت کې ډېر داسې ماشومان شته چې په کورونو کې سرپرستان نه لري، خو اړ شوي چې د یو او بل په کور کې کار وکړي څو یوه مړۍ ډوډۍ پیدا کړي." ده وویل چې ولايتي شورا څو ځلې د ماشومانو د درنو کارونو په اړه له حکومتي چارواکو سره خبرې کړې، خو تر اوسه یې کوم مثبت ځواب نه دی ترلاسه کړی.

**د بشري حقونو کمېسیون: د ماشونو حقونو ته باید درناوی وشي**

د اړوندې موضوع په اړه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون ویاند محمد بلال صدیقي پژواک ته وویل چې پر ماشومانو د درنو کارونو ترسره کول، د هغوی له حقونو سرغړونه ده. ده وویل: "موږ د لوګر په ګډون د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د ماشومانو د حقونو په برخه کې د عامه پوهاوي برنامې ترسره کړې دي." ده له کورنیو او نورو خلکو غوښتنه وکړه چې د ماشومانو د ښې راتلونکې په موخه پر هغوی درانه کارونه ترسره نه کړي.

**له قاچاق سره د مبارزې عالي کمېسیون: دغه شان کړنې په ښکاره ډول د انسان قاچاق دی**

د انسان او کډوالو د قاچاق پر وړاندې د مبارزې عالي کمېسیون غړي محمد حسن سلیمي پژواک ته وویل چې دغه ډول کړنې په ښکاره ډول د انسان قاچاق او جرم دی. ده زیاته کړه چې دغه کمېسیون په دې برخه کې عامه پوهاوی ورکړی او نور د امنیتي ارګانونو دنده ده چې پر وړاندې یې اقدام وکړي.

**امنیتي چارواکي: په دې برخه کې تر اوسه چا شکایت نه دی کړی**

د لوګر د امنیې قوماندانۍ ویاند محمد شاپور احمدزي پژواک ته وویل چې په ډېرو کورونو کې ماشومان د کال په مزدورۍ ګومارل شوي دي، خو ده وویل: "تر اوسه چا موږ ته شکایت نه دی کړی چې زموږ ماشوم چا په زور نیولی دی، کار پرې کوي او یا هم په بل ځای کې د کار کولو اجازه نه ورکوي."

احمدزی وايي، که څوک په دې برخه کې دوی ته شکایت وکړي، نو دوی به یې پر وړاندې له قانون سره سم چلند وکړي. دا یواځې لوګر نه دی چې ماشومان په کې په دغه ډول درنو کارونو ګومارل شوي، د افغانستان په نورو ولایتونو کې هم د دې ډول کړنو بېلګې لیدل کېږي.

## ۲۷- د ماشومانو تښتول

د نا امنۍ او بېوزلۍ تر څنګ انسان، په ځانګړي ډول د ماشومانو تښتول هغه ستونزه ده چې ګڼ شمېر افغانان ورسره مخ دي او په دې وروستیو کې په هېواد کې د ماشومانو تښتول ډېر شوي دي. د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د یو راپور له مخې، له ۲۰۱٤ زېږدیز کاله وروسته په افغانستان کې د ماشومانو تښتولو پېښې ډېرې شوې دي. په دغه راپور کې راغلي چې له تښتول شوو ماشومانو ناوړه ګټه اخیستنه په هره سیمه کې په ځانګړې بڼه ترسره کېږي.

د ماشومانو تښتونې د بېلابېلو موخو لکه د پیسو ترلاسه کولو، جنسي تېري او یا هم د شخصي دښمنیو له امله رامنځته کېږي. تر تښتولو وروسته ځیني ماشومان له جنسي تېري سره هم مخ کېږي او دغه ډول کړنه انساني قاچاق بلل کېږي. د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په راپور کې د بېلګې په توګه ویل شوي، کوم ماشومان چې ایران او پاکستان ته نږدې د افغانستان په سرحدونو کې تښتول شوي، معمولاً د نشه یې توکو د قاچاق وړونکو له لوري اړ ایستل کېږي څو د هیروینو کپسول وخوري او له پولې بلې غاړې ته یې تېر کړي. دا په داسې حال کې ده چې د ځینو تښتول شوو ماشومانو د بدن غړي هم د خرڅلاو په موخه غوڅېږي او ځیني نور ماشومان بیا په پټیو کې د درنو کارونو لپاره ګومارل کېږي او له جنسي ځورونې سره هم مخ کېږي.

مور، پلار، نیکه او رسمي ولي د ماشومانو د غوښتنو او ملاحظاتو قانوني مراقبت کوونکي دي، هر بل څوک چې د زور یا له بلې لارې ماشوم اختطاف کوي، په حقیقت کې د ماشومانو ګټو ته صدمه رسوي، په داسې حال کې چې دغه عمل منعه شوی دی. اختطاف اکثراً د جنسي ګټې اخیستنې، د ماشومانو د قاچاق، د بدن غړو د پلور، د ماشوم له کورنۍ د پیسو ترلاسه کولو او همدارنګه له وسله والو ډلو سره د ماشوم د استخدام، استفاده کولو او ارتباط درلودو په موخه ترسره کېږي. اسلامي شریعت بل ته د ضرر نه رسولو د اصل پر استناد، په هر ډول شرایطو کې هر ډول انسان تښتونه او ناوړه ګټه اخیستنه منعه ګرځوي، نو له دې امله انسان تښتونه د اسلام په قوانینو کې څرګنده سرغړونه ګڼل کېږي او ایجابوي چې مرتکبین یې د عدالت منګولو ته وسپارل شي.

دې په پام سره چې اسلامي قوانین د کورنیو او ماشومانو پر ساتنه او ملاتړ ټینګار کوي، د ماشومانو نیول او تښتول د هغوی د خپلې خوښې او یا هم د هغوی د ولي له رضایت پرته، د یوې لنډې یا هم اوږدې مودې لپاره پرته له کوم موجه دلیل څخه یو غیر قانوني او د انساني کرامت او کورنۍ مخالف عمل دی. دغه عمل د بشري حقونو د نړیوال قانون او د جنوا د کنوانسیونونو له مخې یوه څرګنده او ښکاره تخطي ده او د بشریت پر وړاندې د جنګي جنایتونو او د بشر پر وړاندې له جنایت څخه شمېرل کېږي.

خدای ج د سورت انفال په ۲۶ ایت کې فرمایلي دي: وَ اذْكُرُوا إِذْ أَنْتُمْ قَلِيلٌ مُسْتَضْعَفُونَ فِي الْأَرْضِ تَخافُونَ أَنْ يَتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ

ژباړه: هغه وخت در په زړه کړئ چې کله تاسې لږ وئ، په ځمکه کې تاسو کمزوري ګڼل کېدئ، تاسو وېرېدلئ چې خلک مو له منځه یو نه سي.

د صحیح بخاري په ۷ جز او ۴۷۱ یم مخکې راغلی حدیث شریف کې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ أَنَا خَصْمُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ كُنْتُ خَصْمَهُ خَصَمْتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَجُلٌ أَعْطَى بِي ثُمَّ غَدَرَ وَرَجُلٌ بَاعَ حُرًّا فَأَكَلَ ثَمَنَهُ وَرَجُلٌ اسْتَأْجَرَ أَجِيرًا فَاسْتَوْفَى مِنْهُ وَلَمْ يُوفِهِ أَجْرَهُ.

ژباړه: له ابو هریره (رض) څخه روایت دی چې پیغمبر ص وفرمایل: درې کسان دي چې زه به یې د قیامت په ورځ دښمن وم؛ لومړی هغه کس چې زما په نوم ژمنه کوي او وروسته هغه ماتوي، دویم هغه کس چې یو ازاد انسان پلوري او قیمت یې خوري او درېیم هغه کس چې له یو چاکار اخلي او مزدوري یې نه ورکوي.

د افغانستان د اساسي قانون د ازدۍ پر حق ټینګار کوي او څرګندوي چې انساني کرامت او ازادي له تېري خوندي ده. ازادي یوه الهي تحفه ده چې په خاصو شرایطو کې محدودېږي. د افغانستان د جزا قانون د ازادۍ په اړه ځانګړی ټینګار کړی او په صریح ډول وایي، هغه مامورین چې له قانون سره سم د ازادۍ محدودولو صلاحیت لري، هغوی هم تر خاصو شرایطو لاندې د ازادۍ حق محدودولو واک لري. دغه ځانګړي شرایط د قانون له مخې تعریف شوي دي. د افغانستان د اساسي او جزا له قوانینو سره سم د ماشومانو اختطاف په واضح ډول له قانون څخه سرغړونه ګڼل شوې ده او یو جرمي عمل تشکیلوي.

د افغانستان د اساسي قانون په ۲۴مه ماده کې راغلي، "ازادي د انسان طبیعي حق دی، دغه حق د نورو له ازادۍ او عامه مصالحو پرته چې د قانون له لارې تنظیمېږي، حدود نه لري. د انسان ازادي او کرامت له تېري خوندي دي. دولت د انسان ازادي او کرامت پر ساتنه او درناوي مکلف دی."

د افغانستان د جزا قانون په ۴۱۴مه ماده کې راغلي: که شخص په غیر قانوني تصریح شوو حالاتو یا د صلاحیت لرونکو مقامونو له امر څخه پرته بل شخص ونیسي، توقیف یې کړي، یا یې له کار څخه منعه کړي، له حالتونو سره سم پر متوسط حبس محکومېږي. د جنوا د کنوانسیونونو ۳ مشترکه ماده د ملکي وګړو پر وړاندې د چلند په اړه په وضاحت سره بیان کړې او د ماشومانو تښتول یې په ښکاره او صریح ډول منعه کړي ده.

د ملکي وګړو په زور بېځایه کول او ایستل د جنوا په دواړو کنوانسیونونو کې منع شوي او په دې کې د ماشومانو تښتونې نمونې هم شاملې دي. په انسان تښتونه کې په اجباري شکل ورکېدل هم شامل دي چې د څو نړیوالو سندونو له مخې منعه شوي دي. پر دې سربېره په زور له ازادۍ محرومول د نړیوال عرفي مقرراتو له مخې چې د ټولو دولتي او غیر دولتي ښکېلو ډلو له خوا د تطبیق وړ دي، منعه شوي دي.

د ماشومانو د تښتونې په اړه د پژواک راپور:

**د ماشومانو تښتول د انساني قاچاق بله بڼه ده**




*اجمل کاکړ-May 29, 2017*

کابل (پژواک، ۸ غبرګولی ۹۶): په دې وروستیو کې په هېواد کې د ماشومانو تېښتولو پېښې ډېرې شوې دي او تر تېښتولو وروسته ځیني ماشومان له جنسي تېري سره هم مخ کېږي چې دا ډول پېښې د انساني قاچاق یو ډول بلل کېږي. د نا امنۍ او بېوزلۍ تر څنګ انسان تښتونه او په ځانګړي ډول د ماشومانو تښتونه هغه ستونزه ده چې ګڼ شمېر افغانان ورسره مخ دي. ماشومان تر ډېره د پیسو ترلاسه کولو، جنسي تېري او یا هم د شخصي دښمنیو په موخه تښتول کېږي.

له دغو زیانمنو یو هم د کندوز ولایت اصلي اوسېدونکی ۱۷ کلن امید دی چې په هرات کې ولایت کې تښتول شوی و. امید پژواک خبري اژانس ته د یوې ځانګړې مرکې په ترڅ کې وویل چې په ۲۰۱۱ زېږدیز کال کې یې کورنۍ د ځینو ستونزو له امله له کندوز ولایت څخه هرات ولایت ته بېځایه شوه. هغه وایي چې په هرات ښار کې یې د کسب زده کولو په موخه د موټرو په یو ورکشاپ کې کار پیل کړ. نوموړی وایي: "یو ورځ ماښام کور ته روان وم چې په لاره کې یو موټر ودرېد او دوه کسان ترې راښکته شول، په زور یې موټر ته پورته کړم."

هغه وایي کله چې موټر ته پورته کړای شو، نور پر ځان نه دی پوه شوی، له څو ساعته وروسته بېرته په هوښ راغی چې ګوري په یوه کور کې دی. ده وویل چې دوه اوونۍ په یو پټ ځای کې ساتل کېده او په دې موده کې انسان تښتوونکي د ده له کورنۍ سره اړیکه نیوه چې د خوشې کېدو په بدل کې یې باید پنځوس زره ډالر ورکړي. هغه وایي: "مور خپله د یوې نمړې ډوډۍ پیدا کولو لپاره له کندوزه هرات ته ولاړو نو پنځوس زره ډالر به مو له کومه پیدا کړي وای." امید زیاته کړه چې په دوو اونیو کې څو ځلې انسان تښتوونکو ورباندې جنسي تېری هم کړی دی. هغه د دې پوښتنې په ځواب کې چې د جنسي تېري ښکار شوی او کنه؟ یوازې یې د سر په خوځولو مثبت ځواب ورکړ او له نور څه ویلو یې ډډه وکړه.

**امید پاکستان ته څرنګه ولېږدول شو؟**

هغه وایي: "کله چې اختطافچیان پر دې پوه شول چې مور او پلار مې پیسې نه ورکوي، نو یوه شپه یې زما سترګې وتړلې او په موټر کې یې کېنولم، درې څلور ساعته چې موټر مزل وکړ، له هغه څخه یې بیا ښکته کړم، بیا لږ پیاده لاړو، وروسته یې بل موټر ته پورته کړم." ده وویل چې موټر بیا څو ساعته مزل وکړ، بیا دوی یو ځای ته ورسېدل او هلته یې د ده سترګې خلاصې کړې، نو چې ګوري چې نوی سهار دی. امید وایي چې انسان تښتوونکو دی په دې سیمه کې یوه بل کس ته وسپاره او هغوی تر چای څښلو وروسته بېرته ولاړل.

د هغه په وینا، څو ورځې وروسته پوه شو چې دی پاکستان ته انتقال شوی او هلته پر یوه مالداره کس پلورل شوی دی. دی وایي چې څلور کاله یې د دغه کس په کور کې د مزدور په څېر دنده ترسره کوله او په دې موده کې هم له جنسي ځورونې سره مخ و. ده ونه غوښتل چې د یاد کس او په کور کې یې د کار کولو په اړه نور جزئیات ورکړي، خو زیاته یې کړه: "څلور کاله وروسته پر دې وتوانېدم چې د ځینو نورو افغانانو په مرسته له یاد کوره وتښتم او تورخم بندر ته ځان ورسوم." د امید په خبره چې له تورخم څخه کابل ته راغی، له ډېرو ستونزو وروسته یې له خپلې کورنۍ سره اړیکه ونیوه او اوسمهال بېرته په کندوز کې له خپلې کورنۍ سره ژوند کوي. دا یوازې امید نه دی چې له دغه ډول برخلیک سره مخ شوی، لسګونه نور افغانان هم له ورته برخلیک سره مخ شوي او ځیني اوس هم د انسان تښتوونکو په بند کې دي. امید په دغه راپور کې مستعار نوم دی.

**د بشري حقونو کمېسیون: په افغانستان کې د ماشومانو تښتولو پېښې ډېرې شوې دي**

په دې وروستیو کې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د یو راپور په خپرولو سره ویلي چې له ۲۰۱٤ زېږدیز کاله وروسته په افغانستان کې د ماشومانو تښتولو پېښې ډېرې شوې دي. په دغه راپور کې راغلي چې له تښتول شوو ماشومانو ناوړه ګټه اخیستنه په هره سیمه کې په ځانګړې بڼه ترسره کېږي. په راپور کې د بېلګې په توګه ویل شوي:

"کوم ماشومان چې ایران او پاکستان ته نږدې د افغانستان په سرحدونو کې تښتول شوي، معمولاً د نشه یې توکو د قاچاق وړونکو له لوري اړ ایستل کېږي څو د هیروینو کپسول وخوري او له پولې بلې غاړې ته یې تېر کړي." دا په داسې حال کې ده چې د ځینو تښتول شوو ماشومانو د بدن غړي هم د خرڅلاو په موخه غوڅېږي او ځیني نور بیا په بټیو کې د شاقه کارونو لپاره ګومارل کېږي چې بیا له جنسي ځوروني سره هم مخ کېږي.

**په افغانستان کې د انساني قاچاق لپاره د ځینو شبکو فعالیت**

د یاد کمېسیون غړي عبدالوحید هدایت پژواک ته وویل، په هغو هېوادونو کې چې انساني قاچاق شتون لري، هلته ځیني باندونه او شبکې د همدې موخې لپاره کار کوي. د هغه په وینا، د افغانستان په قوانینو کې انساني قاچاق جرم ګڼل کېږي او ترسره کوونکو ته یې سزا هم په پام کې نیول شوې ده. هغه زیاته کړه: "د انساني قاچاق ترسره کوونکو ته تر ۱۲ کلونو پورې د بند سزا په پام کې نیول شوې ده."

**د کورنیو چارو وزارت: د انسان تښتوونکو ډلو د نیولو لړۍ مو چټکه کړې**

د دغه وزارت سرپرست ویاند نجیب الله دانش پژواک ته وویل چې تر اوسه پولیسو ګڼ شمېر د انسان تښتونې ډلې نیولې دي. ده وویل چې اوسمهال ځیني باندونه په دې برخه کې فعالیت کوي چې پولیسو یې د نیولو لپاره جدي هلې ځلې پیل کړې دي. هغه د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل: "ما ته دقیق ارقام نه دي معلوم چې څومره د انسان تښتونې ډلې به په هېواد کې شتون ولري خو دغه شمېر بیا له کشفي او استخباراتي ارګانونو سره شته."

د دانش د معلوماتو له مخې، څه موده وړاندې په هرات ولایت کې د انسان تښتوونکو یوه ډله د پولیسو له لوري ونیول شوه. د هغه په وینا، د ښارونو تر څنګ پولیس په سرحدونو کې هم هڅې کوي څو د انسان تښتونې مخه ونیسي.

د انساني قاچاق او غیر قانوني کډوالۍ پر وړاندې د مبارزې قانون په درېیمه ماده کې راغلي چې په زور د یو کس له لوري د بل کس ساتل، د ګټې اخیستنې په موخه د یو کس انتقالول او یا هم ساتل، انسان تښتونه، له واک څخه ناوړه ګټه اخیستنه او د امتیازاتو د لاسته راوړو لپاره یوه بېوزله کس ته پور ورکول انساني قاچاق ګڼل کېږي. د همدې مادې پر بنسټ امید هم یو له هغو کسانو دی چې له انساني قاچاق سره مخ شوی.

## ۲۸- د جنسي سوداګرۍ لپاره د ماشومانو استثمار

هر کال په نړۍ کې څه باندې دوه میلیونه ماشومان د جنسي سوداګرۍ ښکار ګرځي. ډېر شمېر دغه ماشومان د فحشا مرکزونو په دام کې لوېږي. د سوداګرۍ لپاره د ماشومانو جنسي استثمار، په هر ډول شرایطو کې چې وي، اجباري قاچاق ګڼل کېږي. په نړیوالو کنوانسیونونو او پروتوکولونو کې د ماشومانو جنسي استثمار جرم بلل شوی او له دولتونو غوښتل شوي چې عاملینو ته یې سزا ورکړي.

دغه راز د انساني قاچاق په اړه د امریکا متحده ایالتونو په قانون او د ملګرو ملتونو د سازمان په پروتوکول کې هم د جنسي سوداګرۍ په موخه د ماشومانو کارول منع شوي دي. دا چې ماشومان باید له سوداګریز جنسي استثمار څخه وژغورل شي، یوه لازمي خبره ده او هېڅ استثنا یا فرهنګي، ټولنیز یا اقتصادي عذر په کې د منلو وړ نه دی.

ماشومان د بېلابېلو مواردو له امله د قاچاق وړونکو منګولو ته لوېږي؛ یو دلیل یې ماشومانو ته د کاري زمینې نه برابرېدل او یو بل مورد یې هم د قاچاق وړونکو له لوري د دغو ماشومانو کورنیو ته د لېږد په موخه هڅوونکې او تېر ایستونکې خبرې کول دي. ماشوم په ښوونځي کې له جنسي ځورونې سره مخ کېږي او یا هم په دې اړه که کومه پوښتنه لري یا خپل شکایت حتی د کورنۍ له غړو سره یې نه شي شریکولای؛ ځکه خو دا ډول پېښې ډېر کله پټېږي او د کورنۍ له خوا له ماشوم سره د ګناه‌کار په څېر چلند کېږي، له ښوونځیو ور ها خوا کورنۍ هم په دې اړه پټه خوله دي او له خپلو ماشومانو سره پر جنسي مسایلو او پوښتنو خبرې کول له وخته مخکې د ماشوم سترګې پرانیستل او بې شرمي ګڼي.

په ټوله کې په افغاني ټولنه کې د جنسي مسایلو په تړاو ان غبرېدل یو ډول شرم او سپین سترګي بلل کېږي، لامل یې دا دی چې څوک یې په اړه نه پوهېږي او نه غبرېدلای شي. د ماشوم روزنې مشاورین وایي چې ماشوم ته د هغوی د عمر په لومړنیو کلونو کې د نارینه او ښځینه ځانګړونو په اړه د لومړنیو معلوماتو د ورکړې پیل اړین دی. وروسته بیا ښایي ورو ورو د ماشوم له عمر سره سم د هغوی پوښتنو ته د قناعت وړ ځوابونو ورکړل شي او کومې پوښتنې چې لازمې نه دي، ځواب شي نو ځواب دې یې راتلونکي ته پرېښودل شي؛ ځکه که په دې اړه د ماشومانو پوښتنې ناځوابه پاتې شي، د هغوی تجسس ښایي هغوی خپله پلټنو ته اړ کړي چې ورسره به په ناسالمو لارو سر شي او خدای مه‌کړه د هغوی د بې لارۍ سبب به وګرځي.

په نړیواله کچه د ماشوم ساتنې د ټولنو او ادارو له لوري چمتو شوو لارښودنو کې چې د ماشوم خوندیتوب لپاره رامنځته شوې، دا په ډاګه ویل شوي چې باید یو مسلکي کس د ماشومانو د جنسي ځورونې ستونزو ته رسېدنه وکړي چې ماشومان وکولای شي په ښوونځي کې پرته له کومې وېرې خپلې ستونزې ووایي او دا ډاډ ترلاسه کړي چې خبرې یې محرمې دي او ستونزه یې حل کېږي. که دا ممکنه نه وي چې په هر ښوونځي کې مسلکي کسان شتون ولري، نو اړینه ده چې د رسنیو او د عامه پوهاوي له نورو شته لارو ښوونکو، میندو او پلرونو ته په دې اړه لازمي لارښوونې وشي چې د داسې پېښو او پوښتنو په اړه له ماشومانو سره د یوه مناسب چلند په لړ کې هغوی له ور پېښو زیانونو وژغوري او یا زیان تر ټولو ټیټې کچې ته راوړل شي.

په افغانستان کې زده کوونکي په روزنتونونو کې هم له جنسي ځورونې سره مخ کېږي، خو په دې ځایونو کې وېره او ډار حاکم دي، ټول د حقیقت له ویلو ډډه کوي، پر دوی چې کوم جنسي تېری کېږي، د هغه په اړه هېڅ نه وایي. په هغه راپور کې چې په ۲۰۱۶ کال کې د امریکا متحده ایالتونو له لوري خپور شوی، څرګندوي چې افغان ماشومان په روزنتونونو کې زیانمن شوي او کله‌کله هم له انساني قاچاق سره مخ کېږي.

دغه راز د ملګرو ملتونو د ماشومانو صندوق یا یونیسف په راپور کې هم راغلي چې افغان ماشومان د افغانستان په دارالایتامونو کې له ذهني، جسمي او جنسي ځورونو سره مخ دي او کله کله له انساني قاچاق سره هم مخ کېږي. د پکتیا ولایت یو شمېر استادان له ښکلیو زده کوونکو د نومرو د ورکړې په بدل کې جنسي غوښتنې کوي، دغه کار د دې لامل شوی څو یو شمېر ماشومان ښوونځی پرېږدي. د ماشومانو د حقونو په اړه د ملګرو ملتونو د کنوانسیون په ۳۴مه ماده کې راغلي چې د تړون غړي حکومتونه مکلف دي چې له ماشومانو د سکس او ناوړه جنسي استفادې د هر ډول استثمار په مقابل کې ملاتړ وکړي، حکومتونه په دې موخه په هېواد کې دننه او بهر پر هر ډول اقداماتو لاس پورې کوي، څو ماشومان په زور جنسي اړیکو ته اړ نه ایستل شي او له ماشومانو باید په سکسي پورنوګرافۍ کې استفاده ونه شي.

پر ماشومانو باندې جنسي تېري د ناوړو او بدو دودونو او له تاوتریخوالي ځخه د سترګو د پټولو په پایله کې صورت مومي او د تبعیضي باورونو او نظریاتو اساس ګڼل کېږي چې له اسلامي شریعت سره په ټکر کې راځي او د ماشومانو د حقونو د نقض یا ماتېدو لامل ګرځي. په دې اړه اسلامي پوهان او مذهبي مشران چې د برابرۍ او ترحم دستور ورکوي، د اسلامي قوانینو په توضیح کې مهم رول لري. اسلام پر ځوانانو او زیان منونکو باندې تېری حرام ګرځولی، عدالت او د قانون منګولو ته د مجرمینو پر سپارلو ټینګار کوي.

پر ښځو سربېره کوچني هلکان هم تر جنسي استثمار لاندې راځي؛ د بېلګې په توګه بچه بازي او پر ماشومانو جنسي تېری د هغو لویانو د زور په نتیجه کې ترسره کېږي چې د دغو هلکانو د ساتنې او پاملرنې لپاره ګومارل شوي دي. د جنسي تېري په حالت کې ښایي چې یو ماشوم خپل ژوند له لاسه ورکړي او یا وروسته ښایي د خپلې کورنۍ د غړو له لوري ووژل شي، په ځانګړې توګه د ماشومو نجونو د قضیو په اړه د یو غیر عادلانه منطق له مخې د دې پر ځای چې له قرباني سره مرسته او د هغه ملاتړ وشي، هغه ملامت ګڼل کېږي نو همدا لامل دی چې دلته ډېری دغه ډول مسایل پټ ساتل کېږي او عاملین یې هم خپله سزا نه ویني.

له یو ماشوم څخه ناوړه ګټه اخیستنه نه یوازې هغه ته رواني ستونزه او روحي فشار پیدا کوي، بلکې د هغه یا هغې پر روحي او فزیکي وده باندې هم ناوړه اغېز کوي او ډېری وخت په ټولنه کې ځان کم احساسوي، نو همدا لامل کېږي چې بیا په راتلونکي کې د ټولنې د اوږدو بار وي. د ارواپوهانو له نظره، هغه کسان چې په ماشومتوب کې د جنسي ځورونې قرباني کېږي، نو ډېری یې د عمر په زیاتېدو سره پر ځانوژنه لاس پورې کوي، پر خپل ځان د باور نه شتون له امله سخت ځورېږي او یا همجنسپالنې ته مخه کوي. دغه راز کوم کسان چې په ماشومتوب کې له نشه یي توکو ګټه اخلي، روحي او جسمي ناروغي ورته پیدا کېږي او دغه ناروغي بیا تر نورو هغو خطرناکه ده. په ورته وخت کې ارواپوهان وایي چې جنسي تېری تر ټولو بد تاوتریخوالی او ناوړه جرم دی؛ د دغه ډول جرمونو پر قربانیانو د دې اغېزې تر کلونو پاتې کېږي او هېڅکله یې له یاده نه وځي. هغه ماشومان چې جنسي تېری پرې کېږي، لومړنۍ پایله یې وېره او ډار دی؛ ځکه چې د دغو ماشومانو عمر کم دی، ټول احساسات یې له ځان سره ساتي او دغه کار ډېر سخت زیانونه پېښوي.

دغه راز جنسي تېری د ماشومانو پر شخصیتي ودې بده اغېزه کوي او هغوی کې ګوښې توب، بد خویي، پر نفس د باور کمزورتیا رامنځته کوي، د نړۍ او خلکو په اړه یې لیدلوری تیاره کوي."

قران او سنت په ځرګند ډول هر هغه عمل او کړنه چې د ماشومانو پر تربیت او پالنه منفي اغېزه کوي یا د ماشوم جسمي، ذهني او رواني برخو ته زیان رسوي او د سالم چاپېریال د له منځه وړو لامل یې کېږي، حرام ګرځولي او مرتکب یې ملعون دی. جنسي تېری او زور زیاتی د ماشومانو پر حقونو لوی تېری بلل کېږي. اسلامي قانون د

ماشومانو د لوړو ګټو پر خوندیتوب ټینګار کړی. د یادونې ده، ماشومان د ټولنې زیانمنونکی قشر دی او ملاتړ یې د هر ډول تیري په مقابل کې اړین دی.

پر نارینه ماشومانو تیري ته لواطت ویل کیږي او د اسلام له نظره پر لویانو او ماشومانو جنسي تیری حرام دی. د لواطت په اړه فقها متفاوت لیدلوري لري؛ ځیني وایي چې تیري کوونکی کس دې له لوړ ځایه را وغورځول شي او ځیني فقها بیا وایي چې دا ډول کسان دې تر دېوال لاندې شي، خو ډېری فقها پر دې نظر دي چې لوطي شخص باید اعدام شي.

الله تعالی د انعام سورت په ۱۵۱ ایت کې فرمایلي:

وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ۖ وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَاللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ ۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ.

ژباړه: او مه نږدې کیږئ فواحشو (بې حیایی، ناکارو کارونو) ته هغه چې ښکاره وي له دې (فواحشو) او هغه چې پټ وي. او مه وژنئ تاسې هغه نفس چې حرام کړي دي الله (وژل یې) مګر (وژنئ یې) په حق سره. دا (څلور نهي او امر) حکم کړی دی الله تعالی تاسې ته په دې سره، لپاره د دې چې عقل وچلوئ.

د هغو کسانو له خوا جنسي تیری چې د ماشومانو د ساتنې او روزنې دنده پر غاړه لري، د هغه باور له امله چې پر ده کیږي له ماشومانو سره لوی خیانت دی.

الله تعالی د سورت انفال په ۲۷ ایت کې فرمایي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَخُونُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ وَتَخُونُوا أَمَانَاتِكُمْ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ.

ژباړه: اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی، د الله او د هغه له رسول سره خیانت مه کوئ، همدا ډول په هغو شیانو کې چې تاسو ته د امانت په ډول سپارل شوي، خیانت مه کوئ او خپله پوهیږئ چې باید خیانت ونه شي.

پر هغو ماشومانو جنسي تیری چې د ښو او بدو تر منځ توپیر نه شي کولی او پوهیږي چې پر څه مجبور شوي دي، د یو انسان پر وړاندې د جسمي او رواني تاوتریخوالي یوه مهمه بېلګه ده. اسلام هم دغه عمل یوه لویه ګناه بللې او د اسلام په جزایي حقوقو کې یو لوی جنایت ګڼل شوی دی.

تجاوز او د جنسي تاوتریخوالي نور ډولونه د افغانستان د جزا په قانون کې په ښکاره منعه ګرځول شوي دي. د افغانستان د جزا قانون د ۴۲۷مې مادې له مخې چې زنا او لواطت یې جرم پېژندلي، د جنګي شرایطو په ګډون په ټولو وختونو کې د تطبیق وړ دي.

جنسي تاوتریخوالی په هغه صورت کې مشدده حالت غوره کوي چې تر اتلس له کم عمره ماشوم سره وشي او یا هم کله چې مرتکب پر قرباني شوي کس نفوذ او واک ولري. په دې ډول د جزا قانون ۴۲۹مه ماده هم د جنسي تاوتریخوالي جرم ته مشدد حالت ورکوي؛ کله چې دغه عمل تر اتلس کلونو د کم عمر پر هلک یا نجلۍ ترسره شوی وي.

د افغانستان د جزا قانون د ۴۲۷مې مادې په لومړۍ فقره کې راغلي،که شخص له مونث سره زنا یا لواطت یا له نر سره لواطت وکړي، له حالاتو سره سم پر اوږده حبس محکومیږي. د دې فقرې فعل په یوه راتلونکي حالت کې له مشدده حالتونو څخه شمېرل کیږي:

۱- په هغه حالت کې چې مجني علیه د اتلس کلنۍ عمر نه وي پوره کړی؛

۲- په هغه حالت کې چې ارتکاب کوونکي تر درېیمې درجې پورې د مجني علیه له خپلوانو څخه وي؛

۳- په هغه حالت کې چې ارتکاب کوونکي د مجني علیه تربیه کوونکي، ښوونکي، مستخدم او یا په یو قسم د اقسامو پر هغه نفوذ او اختیار ولري.

۴- په هغه حالت کې چې مجني علیه مېړوښه (خاوند لرونکي) ښځه وي.

۵- په هغه حالت کې چې د مجني علیها بکارت د فعل د ارتکاب له امله زایل شوی وي.

۶- په هغه حالت کې چې دوه کسان یا له هغې څخه ډېرو پر مجني علیه د غلبې پیداکولو لپاره یو له بل سره مرسته کړې وي یا د فعل یو په بل پسې مرتکب شوي وي.

۷- په هغه صورت کې مجني علیه ته د فعل د ارتکاب له امله تناسلي ناروغي پیدا شوې وي.

۸- په هغه صورت کې چې مجني علیها حامله شوې وي.

دغه راز د جزا قانون په ۴۲۹مه ماده کې راغلي، که شخص په عنف، تهدید یا حیله د چا پر ناموس که مذکر وي یا مونث، تېری وکړي او یا پرې شروع وکړي، پر اوږده حبس چې له اوو کلونو زیات نه وي، محکومېږي، خو که مجني علیه د اتلس کلنۍ عمر ته نه وي رسېدلی یا د جرم ارتکاب کوونکی د دغه قانون د (۴۲۷) مادې د (۲) فقرې د درج شوو اشخاصو له جملې څخه وي، پر اږده حبس چې له لسو کلونو څخه ډېر نه وي، محکومېږي.

د ماشومانو پر وړاندې جنسي تېری او یا هم د تاوتریخوالي نور ډولونه په ښکاره ډول د بشري حقونو نقض او ماتېدنه ده او د بشرپالنې نړیوال قانون له مخې څرګنده سرغړونه شمېرل کېږي.

د جنسي تاوتریخوالي د ملاحظې وړ ځیني عملونه ممکن یو جنګي او یا هم د بشریت پر وړاندې یو جنایت وبلل شي. د وسله والې جګړې په شرایطو کې تېری او د جنسي تاوتریخوالي نور ډولونه د جینوا کنوانسیون او الحاقي پروتوکولونو له مخې منعه شوي دي.

دغه راز د کنوانسیونونو هغه موارد چې په ماشومانو پورې اړه لري، په ښکاره ډول پر ماشومانو جنسي تېری منعه کوي. د انساني چلند مکلفیت چې د جینوا کنوانسیونونو په ۳مه مشترکه ماده کې ذکر شوي دي، په ضمني ډول د ښځو او ماشومانو پر وړاندې جنسي تېري او نور جنسي تاوتریخوالي منعه کړي دي.

د جینوا څلورم کنوانسیون ۲۷مه ماده په ښکاره ډول لاندې اعمال منعه ګرځوي او داسې وایي: "د نجونو په ګډون ښځې باید له هر ډول تېري په ځانګړي ډول جنسي تېري، د زور له لارې فحشا ته له مجبورولو او د عنف له مقاربت څخه وژغورل شي، عزت او وقار یې باید خوندي شي." د ماشوم د حقونو په کنوانسیون کې چې افغانستان ورسره د ۱۹۹۴ زېږدیز کال د مارچ په میاشت کې د ځان الحاق کول اعلان کړي دي، په ۳۵مه ماده کې راغلي: "غړي هېوادونه باید ملي، دوه اړخیز او څو اړخیز اقدامات په لار واچوي، څو د ماشومانو له هر ډول تښتونې، پلورنې او قاچاق څخه مخنیوی وکړي."

دغه راز د دغه کنوانسیون په ۳۷مه ماده کې راغلي، غړي هېوادونه باید تضمین ورکړي چې هېڅ یو ماشوم باید شکنجه او په غیر انساني توګه مجازات او تحقیر نه شي. دغه راز په جګړه کې ښکېلو ماشومانو د حقونو د کنوانسیون د اختیاري پروتوکول د درېیمې مادې له مخې، د جنسي استثمار او جبري کار لپاره د ماشوم عرضه کول، سپارل او قبلول منعه دي.

د روم نړیوالې جنایي محکمې د اساسنامې په ۸مه ماده کې په کورنیو وسله والو جګړو کې له پلي کېدونکو قوانینو او رواجونو څخه سرغړونه "جنګي جنایتونه" ګڼل شوي دي. د دې مادې د دویم بند لـه مخې، جنسي تېری، د جنسي موخې لپاره مرییتوب، د زور له لارې فحشا او حامله کولو ته اړ ایستل، د زور له لارې شنډول او یا هم هر ډول جنسي تاوتریخوالی چې د جینوا له څلورو کنوانسیونونو سره په ټکر کې دي؛ له بشري حقونو څخه روښانه سرغړونه، ممکن جنګي جنایت او د بشر پر ضد جنایت وبلل شي.

د جنسي سوداګرۍ لپاره د ماشومانو استثمار په اړه د پژواک لومړی راپور:

## په هرات کې روږدې نجونې ځان پلورنې ته اړ ایستل کېږي




*ستوری کریمي - Oct 31, 2017*

هرات (پژواک، ۹ لړم ۹۶): په هرات کې یو شمېر کم عمره نجونې وایي چې د کورنۍ غړي په ځانګړي ډول میندې یې دوی ځان پلورنې ته اړ باسي، څو له دې لارې خپلو نشه يي توکو ته پیسې پیدا کړي. په دې اړه د انسان له قاچاق او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون په ۱۱مه ماده کې راغلي، په هغه صورت کې چې د انسان د قاچاق د جرم مرتکب د مجنی علیه ښځه، مور او پلار یا قانوني سرپرست یا د عامه خدمتونو موظف وي، پر اوږده حبس چې له لسو کلونو څخه لږ نه وي، محکومېږي.

۱۵ کلنه زرمینه (مستعار نوم) چې مور یې پر نشه يي توکو روږدې ده، وایي چې مور یې هر وخت د نشه يي توکو لپاره پیسې ونه لري، نو د پیسو په بدل کې دا ځان پلورنې ته مجبوروي. دغه نجلۍ چې دود وهلې ژېړه څېره، جړ او خیرن وېښتان لري، له پژواک خبري اژانس سره په خبرو کې وویل چې څو میاشتې مخکې د خپلې روږدې مور له لوري د ۶۰۰ افغانیو په بدل کې یوه ځوان سړي ته د جنسي اړیکې لپاره وسپارل شوه او وایي چې دا یې مور تر اوسه څو ځلې د جنسي اړیکو لپاره افرادو ته سپارلې ده.

زرمینه چې څېره یې د سرپناه د نه شتون، مجبوریت او تن پلورنې کیسه کوي، د خپل ناڅرګند راتلونکي او برخلیک په اړه وایي: "کله چې ځوانان را نږدې کېږي، ترې ډارېږم او حتی زه یې وهلې ډبولې هم یم، څو له

غالغمان پرته خپل ټول وجود د هغوی په واک کې ورکړم." هغې زياته کړه: "کله چې د نارينه لاس راباندې لګېږي، ټول وجود مې له وېرې لړزه اخلي، په وجود کې مې سخت درد پيدا کېږي."

دا يوازې زرمينه نه ده چې تن پلورنې ته اړه کړل شوې ده؛ ۱۲ کلنه مرجان (مستعار نوم) هم يوه له هغو ماشومانو ده چې نشه يي توکو اړه کړې، څو د دې وړونکو زهرو (نشه يي توکو) ترلاسه کولو لپاره ځان پلورنه وکړي. مور يې دا هم روږدې کړې او حتی کله کله يې په زور د نارينه وو په واک کې ورکوي. د نوموړې معصومه څېره او ژېړبخونې سترګې د جنسي ځور او تن پلورنې کيسه کوي او وايي: "کله چې د لومړي ځل لپاره يوه نارينه بوتلم، لومړی يې خوله په يوه دستمال را وتړله، وروسته يې لاسونه او پښې هم را وتړلې، درد مې ټول وجود ونيوه او بې هوښه شوم، کله چې په هوښ راغلم نو دومره کمزورې وم چې په لاره هم نه شوم تللی".

د هرات له نشه يي توکو سره د مبارزې رياست د معلوماتو له مخې، هرات يو له هغو ولايتونو دی چې د نشه يي توکو د روږدو شمېر يې له ۵۰ تر ٦۰ زرو تنو پورې رسېږي چې نږدې ۱۳ سلنه يې ښځې جوړوي. دغه ښځې د نشه يي توکو ترلاسه کولو لپاره هر کار ته مخه کوي. پري جان (مستعار نوم) يوه له روږدو ښځو ده چې د هرات ښار په سلطان اغا زيارت کې د نورو روږدو تر څنګ شپې ورځې تېروي. هغې وويل چې خپله ۱۳ کلنه لور يې د لس زره افغانيو په بدل کې د درېيو ساعتونو لپاره يوه سړي ته وسپارله، خو دوې ورځې کېږي چې تر اوسه پورې يې له لور نه احوال نه لري، خو نوموړې ونه غوښتل چې په دې اړه ډېر څه ووايي.

د هرات د ځوانانو ټولنيزې شورا سلاکار عبدالله عزيز چې له يوه نيم کال راهيسې د روږدو د ټولنې په برخه کې فعاليت کوي، وايي چې په هرات کې د روږدو ورځ تر بلې زياتېدونکی شمېر پر يوه ناورين او خاموش سونامي بدل شوی دی. هغه زياته کړه چې څو ورځې وړاندې يې د هرات ښار په کچه روږدي ټولول، د دوی له منځه يوې ښځې ورته وويل چې لور يې د څو ساعتونو لپاره يوه نارينه ته ورکړې، خو دوې شپې ورځې کېږي چې بېرته يې نه ده راوستلې، د دغه ناورين مخنيوی دې وشي.

داسې روږدې ښځې هم شته چې د نشه يي توکو ترلاسه کولو لپاره خپل کوچني ماشومان پلوري؛ پنځه دېرش کلنه مېرمن عسل بېګم (مستعار نوم) چې د هرات ښار د يوه واټ تر څنګ له درېيو نارينه وو سره تر يوه وراسته او چټل څادر لاندې نشه يي توکي څکل، د پژواک خبري اژانس خبريال ته يې وويل چې لس کاله وړاندې په ايران کې روږدې شوه او په دې موده کې يې څلور نجونې د هرات په ښار کې پلورلې او پر پيسو يې خپل ځان او خاوند ته نشه يي توکو پېرلي دي. نوموړې په داسې حال کې چې اوښکې يې توبېدې، وويل: "له همداسې يوې روږدې مې واورېدل چې يوه کورنۍ غواړي ماشوم وپېري او د همدې روږدي له لارې له داسې ښځې سره اشنا شوم چې ماته يې زما د لور پېرلو وړانديز وکړ." مېرمن بېګم د نشه يي توکو لپاره د پيسو پيدا کولو لپاره سوال کوي، خو وايي چې که چېرې له دې لارې پيسې ترلاسه نه کړي، نو ځان پلورنه هم کوي.

ديني عالمان هم په کرايه د نجونو ورکړه د اسلام له نظره حرامه بولي او د ورته کړنو د مخنيوي لپاره د حکومت پر اقدام ټينګار کوي. د هرات د ارشاد، حج او اوقافو رياست مشر او ديني عالم سيد عبدالواحد اثمي په کرايه د نجونو ورکړه او پلور مردود بولي او وايي: "د اسلامي شريعت له نظره دغه عمل حرام او زنا ګڼل کېږي." نوموړي زياته کړه چې د حکومت تر څنګ ديني عالمان هم دنده لري چې د نشه يي توکو زيانونه جدي وبولي، څو د اسلامي شرعت خلاف اعمالو، لکه د ماشومانو پلور او ځان پلورنې مخنيوی وشي.

په هرات کې د بشري حقونو ساحوي کمېسيون مشر عبدالقادر رحيمي هم تاييدوي چې په دغه ولايت کې يو شمېر روږدي د ماشومانو پلورنې ته مخه کوي او يا هم خپلې ځوانې نجونې ځان پلورنې ته اړ باسي. نوموړي په

دې برخه کې د حکومت پر نه پاملرنه نیوکه وکړه او ویې ویل: "حکومت تر اوسه پورې په دې اړه هېڅ اقدام نه دی کړی، څو د دې ټولنیزې سونزې مخنیوی وکړي، د بشري حقونو کمېسیون یوه اندېښنه هم په همدې اړه ده."

د اړوندې موضوع په اړه د انسان له قاچاق او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې د عالي کمېسیون غړي عبدالوحید هدایت پژواک ته وویل: "زموږ کمېسیونونه په ولایتونو کې کار کوي، په هره ربع کې موږ ته راپور راکول کېږي، خو په ځانګړي ډول د دې موضوع په اړه موږ ته تر اوسه راپور نه دی راکړل شوی. " خو ده وویل که د دوی د کمېسیون غړي له دغه شان پېښو سره مخ شي نو د پولیسو او ملي امنیت ادارو له لارې ورته رسېدنه کوي. د هغه د معلوماتو له مخې، دوی هره میاشت تخنیکي غونډې لري، په هرو دوو درېیو میاشتو کې د عالي کمېسیون غونډه جوړېږي او دغه شان ټولو مواردو ته رسېدنه کېږي. خو د هرات د والي ویاند جیلاني فرهاد وویل چې د اعتیاد زیاتوالي ښکارنده د ځايي ادارې لپاره یوه جدي اندېښنه ده او د هرات اوسېدونکو ته یې ننګونې رامنځته کړې دي. روږدي غلاوې کوي او حتی په امنیتي برخه کې یې هم نا مطلوبې اغېزې کړې دي.

هغه زیاته کړه چې د روږدو شتون له بده مرغه چې یوه جدي ټولنیزه ستونزه رامنځته کړې، خو تر اوسه پورې د ولایت مقام ته د ماشوم پلورنې او ځان پلورنې په اړه کوم موارد نه دي رسېدلي، که چېرې داسې موارد وجود ولري، سیمه ییزه اداره یې د مخنیوي په برخه کې اقدام کوي.

د جنسي سوداګرۍ لپاره د ماشومانو استثمار په اړه د پژواک دویم راپور:

## افغان ماشومان ایران ته د کاري فرصتونو موندلو په موخه قاچاق کېږي



*ستورۍ کریمي— Jan 21, 2017*

هرات (پژواک، ۲ مرغومی ۹۵): د جګړې د دوام، نا امنۍ او اقتصادي بېوزلۍ له امله د وخت په تېرېدو د هغو یو شمېر ماشومانو چې په هېواد کې یې ماشومانه هیلې له منځه تللې دي، د کاري فرصتونو موندلو لپاره ګاونډیو هېوادونو، په ځانګړې توګه ایران ته یې د تګ کچه لوړه شوې ده. هرات چې د هېواد په لوېدیځ کې له ستر او پرمختللو ولایتونو شمېر کېږي، د انسان د قاچاق په ځانګړي ډول ایران ته د تللو په موخه د ماشومانو د تګ لاره

ده. په دغه ولایت کې د نورو ولایتونو هغه اوسېدونکي له ورایه ښکاري چې له ایران څخه راستانه شوي او یا هم ایران ته نه دي پرېښودل شوي.

د نورو ولایتونو ډېر شمېر خلک په هرات کې یوه یا څو ورځې تېروي، له هغه وروسته بیا د اوسېدو خپل ټاټوبي ته روانېږي او یا ځیني یې د بېلابېلو دلیلونو په ځانګړي ډول د اقتصادي بېوزلۍ له امله په دغه ولایت کې پاتې کېږي، څو ایران ته یو ځل بیا د خپل تګ چانس و ازمایي.

**د ماشومانو د قاچاق یوه ترخه کیسه**

شپاړس کلن صفت الله د کندوز ښار د نهمې ناحیې اړوند د چلچینې سیمې اوسېدونکی دی. هغه چې په دې وروستیو کې له ایران څخه راشړل شوی او اوسمهال په هرات ښار کې اوسېږي، پژواک خبري اژانس ته وویل چې نهه میاشتې مخکې د قاچاق وړونکو په مرسته له هرات څخه نیمروز او له هغه وروسته ایران ته ولاړ. نوموړي د کورنۍ پرېښودو او ایران ته د غیر قانوني کډوالۍ خطرونو د منلو په اړه وویل: "زموږ په سیمه کې طالبان دي او جګړه ده، کرنه نه کېده، پلار مې راته وویل چې که دلته و اوسې او طالبانو ته ولاړ شې؛ د حکومت له خوا وژل کېږې او که حکومت ته ورشې، د طالبانو له لوري نو دا غوره ده چې ایران ته ولاړ شې."

صفت الله زیاته کړه چې له خپلو نورو ۱۵ همځولو سره یې دا پرېکړه وکړه چې کابل او له هغه ځایه نیمروز ته ولاړ شي چې له نیمروز څخه بیا د پاکستاني قاچاق وړونکو له خوا ایران ته ولېږدول شول. هغه وویل چې له یوه بل همځولي سره یو ځای د کرمان ښار په یوه هوټل کې اوسېدل او ټاکل شوې وه چې له هغه ځایه یوې بلې سیمې ته ولاړ شي. نوموړي زیاته کړه: "موږ یې یوې بلې کوټې ته بوتلو، هلته درې ورځې وږي تږي پاتې شوو، موږ به یې وهلو او راته ویل به یې که چېرې په افغانستان کې خپلو کورنیو ته د پیسو رالېږلو په اړه ونه وایې نو ستاسو نوکان به وباسو."

هغه څرګنده کړه چې ماما یې ١٤ کاله مخکې د قاچاق وړونکو په وسیله ایران ته ولاړ چې تر اوسه پورې یې برخلیک نه دی معلوم شوی. له ایران څخه دغه را اړول شوي ماشوم وویل چې د ستړیا او روحي فشارونو له امله پر نشه یې توکو روږدی شوی دی. صفت الله وویل: "ډېرې دردېدونکې کیسې لرم، ایران ته د قاچاقي سفر په ترڅ کې یوه بلوڅ د موټر شا ته پر یوه دوولس کلن هلک تېری کاوه او چا یې هم د مخنیوي هڅه نه شوه کولی، دغه مسایل مې په ایران کې هم ولیدل." هغه زیاته کړه: "په ایران کې مې دومره رنځ او دردونه ولیدل چې کله مې هم را یاد شي، بدن مې په لړزه شي، کار مې ډېر دروند و او د ډېرې بې خوبۍ له امله به مې سګرټ او چرس څکول، تریاک به مې خوړل، خو زه یوازې نه وم نورو ماشومانو به هم دا کار کاوه."

یوه بل تنکي ځوان پنځلس کلن امین چې له ایران څخه تر را اړول کېدو وروسته په هرات کې اوسېږي، ایران ته د قاچاقي سفر په اړه یې خپلې ترخې خاطرې شریکې کړې. نوموړي د دې خبرې په څرګندولو سره چې څو ځلې د جنسي تېري قرباني شوی، وویل: "نهه میاشتې په ایران کې وم، زه به یې ډېر ځورولم، په دغو نهو میاشتو کې مې داسې فکر وکړ چې نوي کاله راباندې تېر شوي، زه به یې وهلم ټکولم."

امین زیاته کړه: "کورنۍ چې کله خپل ماشومان د کار کولو په موخه د قاچاق وړونکو په اختیار کې ورکوي، باید پر دې پوه شي چې خپل ماشومان په خپلو لاسونو وژني." یاد را اړول شوي ماشوم د خپلو خبرو په دوام د خپلو کاري شرایطو په اړه وویل: "له درنو کارونو دومره ستړی کېدم، هره شپه به مې دا هیله درلوده، څو که خپله کورنۍ مې په دا ډول وضعیت کې ووینې چې بیا به مې هېڅکله هم د کار کولو په موخه بهر ونه لېږي."

امین وویل چې د افغانستان له حکومته غواړي څو د امنیت ټینګښت او کاري زمینې برابرولو په موخه د ټولو په ځانګړې ډول ماشومانو ته د ژوند غوره چاپېریال برابر کړي چې بیا ماشومان نورو هېوادونو ته د کارونو په موخه له قاچاقي لارو ولاړ نه شي. ۱۲ کلن عبدالحمید یو بل هغه تنکی ځوان دی چې له ایران هېواد څخه را اړول شوی، نوموړي هم د خپل سفر ترخې خاطرې لري او د خپلې کورنۍ له خبرولو پرته چې اوسمهال په ایران کې اوسېږي، افغانستان ته را اړول شوی دی. هغه وویل: "په کار کې وم چې د ایران پولیسو له وهلو ټکولو وروسته په موټر کې واچولم او زندان ته یې یووړم او هلته له اتو ورځو تېرولو وروسته یې افغانستان ته را ولېږم."

**ماشومان د کار په موخه بهرنیو هېوادونو ته لېږل کېږي**

مصطفی علي زاده چې خپل ۱۲ کلن زوی یې د کار کولو په موخه ایران ته لېږلی او یاد هېواد ته د خپل زوی د لېږلو یو لامل یې اقتصادي ستونزې او د کار نه شتون په ګوته کړ. هغه وویل: "زه په یوې پښې معلوله یم او د کورنۍ ۸ غړي راپسې دي، زه په خپله د کار کولو وس نه لرم، قاچاق وړونکي ته مې ۱۵۰ میلیونه تومان ورکړل او خپل بچی مې هم ورته وسپاره، دوه ځلې را وشړل شو او اوس یو کال کېږي چې په ایران کې د ودانیو په برخه کې کار کوي او مور ته پسې رالېږي." صبریه اعتمادي هم هغه مور ده چې د خپل ځیګر دوه ټوټې یې ایران ته لېږلې دي. هغې وویل: "کونډه یم او د نفقې پیدا کولو څوک نه لرم، دوه ۱٤ او ۱۵ کلن زامن مې ایران ته ولېږل او زه په خپله هم په هرات کې د خلکو په کورونو کې کالي مینځم."

**د مسوولو بنسټونو نظرونه**

په هرات کې د را اړول شوو ماشومانو په برخه کې د یونیسېف پروژې یوه چارواکي غلام رسول عمري د قاچاق شوو ماشومانو څرګندونې ومنلې او زیاته یې کړه چې دوی د قاچاق شوو ماشومانو ډېرې دردناکې قضیې لري. هغه زیاته کړه: "تر دې چې په یوه ورځ کې ۱۲ ماشومان هم چې د یو شمېر کورنۍ یې په ایران کې دي، له دغه هېواده را اړول شوي چې دا بیا مور ته د اندېښنې وړ موضوع ده." هغه زیاته کړه، کله چې ماشومان را اړول کېږي، خپله ټوله کیسه په فورم کې لیکي او بیا د یاد دفتر له لوري یې مهمې قضیې څېړل کېږي.

عمري وویل: "ټولې هغه ستونزې چې یادو ماشومانو څرګندې کړې، ربښتیا دي، مور دا ډول پېښې څېړو چې د چا له لوري چېرته وړل شوي او بیا چا ته سپارل شوي او له هغه وروسته یې بیا خپلو کورنیو ته سپارو." عمري زیاته کړه چې ډېری افغان ماشومان د درنو کارونو او یا امنیتي مسایلو په موخه قاچاق کېږي. نوموړي د خپلو خبرو په دوام زیاته کړه: "په دغو ماشومانو کې یو داسې ماشوم هم شامل و چې له دغه ځای څخه یې پاکستان ته د ځانمرګي برید په موخه بېولی و، تر دې چې د یاد ماشوم په بدن کې د هغې پېچکارۍ نښه چې هغه یې ځان وژنې ته چمتو کاوه، هم لیدل کېده؛ یاد ماشوم بیا په پاکستان کې له طالبانو تښتېدلی او بیا ایران ته تللی خو له هغه ځایه بېرته را اړول شوی دی."

نوموړي د انساني قاچاق قانون او د ماشومانو د حقونو کنوانسیون خلاف عمل وباله او له حکومته یې وغوښتل څو د دیني عالمانو، د جوماتونو د ملا امامانو او رسنیو له لارې د ماشومانو ساتلو او د هغوی د حقونو په اړه معلومات وړاندې کړي، څو د دغه ډول قاچاق مخه ونیول شي. د کار او ټولنیزو چارو وزارت د ټولنیز خوندیتوب برخې ستر سلاکار فضل الهي ابراهیمي وویل چې یاد وزارت د هېواد په څلورو زونونو کې په ۱۳۹۲ او ۱۳۹۳ لمریز کلونو کې داسې مرکزونه جوړ کړل، څو قاچاق او تښتول شوي ماشومان په کې وساتل شي.

خو د هغه په وینا، د ملاتړ کوونکو موسسو د مرستې له نه کولو وروسته اوس یوازې له دې جملې په کابل کې یو مرکز فعالیت کوي او له ۱۳۹۱ کال تر ۱۳۹٤ لمریز کال پورې دا ډول ماشومانو ته د کار وزارت له لوري خدمتونه شوي دي. د هرات ولایت د کډوالو او راستنېدونکو چارو مشر جاوېد نادم وویل چې ماشومان د بېلابېلو

مواردو په موخه د انسان قاچاق وړونکو له لوري بېلابېلو هېوادونو ته لېږدول کېږي. نوموړي په داسې حال کې چې په دې اړه کره شمېره په ډاګه نه کړه، خو زیاته یې کړه چې هېڅ کوم داسې بنسټ هم د هغو ماشومانو کره شمېر چې د افغانستان له سرحده بېلابېلو هېوادونو ته قاچاق شوي، په واک کې نه لري.

نادم وويل: "هره ورځ له ایران څخه له ۲۰ تر ۳۰ ماشومان چې عمرونه یې له ۱۲ تر ۱۵ کلونو پورې دي، را اړول کېږي چې د کال له پیل څخه د لینډۍ تر میاشتې پورې یې شمېر ۳۳۵۰ ماشومانو ته رسېږي، له دغو ماشومانو سره مو د بېلابېلو موسسو په همکارۍ مرسته کړې او بېرته مو خپلو کورنیو ته سپارلي دي." د هرات یاد استازي وویل چې ماشومان د بېلابېلو مواردو له امله د قاچاق وړونکو لاس ته غورځي او زیاته یې کړه چې یو دلیل یې هم دوی ته د کاري زمینې نه برابرول دي چې یو بل مورد یې هم د قاچاق وړونکو له لوري د دغو ماشومانو کورنیو ته د لېږد په موخه هڅوونکې او تېر ایستونکې خبرې کول دي. دا په داسې حال کې ده چې د سوېلي اسیا د سیمې هېوادونو د همکارۍ سازمان (سارک) غړو هېوادونو په څلورمه ناسته کې پرېکړه وکړه چې د افغانستان په ګډون د دغه سازمان اته هېوادونه د انسان په ځانګړې ډول د ماشومانو د قاچاق منع کنوانسیون پر عملي کولو مکلف دي، خو پر دې سربېره د هرات د بشري حقونو خپلواک کمېسیون له افغان دولت څخه د انسان له قاچاق څخه د مخنیوي په برخه کې خوښ او راضي نه ښکاري.

### د بشري حقونو تر پښنو لاندې کول

په هرات کې د بشري حقونو سیمه ییز کمېسیون مشر عبدالقادر رحیمي پژواک ته وویل، په تېرو نهو میاشتو کې ډېر ماشومان را اړول شوي چې له دې ډلې یې یادې ادارې له ۵۸۳ ماشومانو سره چې د هرات د اسلام کلا له لارې را اړول شوي، مرکې کړې دي. هغه زیاته کړه، قاچاق وړونکي تر ډېره کورنۍ تېر باسي او ماشومان یې په بېلابېلو پلمو سره ایران هېواد ته قاچاق کوي. یادې سیمه ییزې ادارې له ټولو کورنیو وغوښتل، څو له انساني قاچاق کوونکو څخه د خپلو ماشومانو د ژغورنې په موخه ډېر محتاط و اوسي.

### د ماشومانو د قاچاق زیانونه

د کابل پوهنتون د ارواپوهنې پوهنځي استاد شرف الدین عظیمي د ماشومانو ځورولو او تنګولو د زیانونو په اړه وویل، هغه کسان چې په ماشومتوب کې د جنسي ځورونې قرباني کېږي، ډېری یې د عمر په زیاتېدو سره پر ځان وژنې لاس پورې کوي او پر خپل ځان د باور نه شتون له امله سخت ځورېږي چې له هغه وروسته همجنسپالنې ته مخه کوي. نوموړي دغه راز زیاته کړه، کوم کسان چې په ماشومتوب کې له نشه یي توکو ګټه اخلي، پر روحي او جسمي ډول ناروغېږي او دغه ناروغي بیا له نورو هغو خطرناکه ده. د دغه استاد د څرګندونو پر بنسټ، د انسان قاچاق چې په اوسني عصر کې د غلامۍ نوې بڼه بلل کېږي او د غیر قانوني سوداګرۍ له لارې د ډېرو پیسو ترلاسه کولو لامل شوی دی.

### د لسګونو انساني قاچاق کوونکو نیول کېدل:

په هرات کې د پنځمې مېشتې سرحدي لوا رییس ارکان سمونوال ګلبدین الکوزي وویل چې د روان کال له پیله راهیسې یې د انسانانو ٦٠ قاچاق وړونکي نیولي او بیا یې عدلي او قضایي ارګانونو ته سپارلي دي. الکوزي زیاته کړه، دغو قاچاق وړونکو به د یوه کس د لېږد په بدل کې له دوه تر درې میلیون تومان ترلاسه کول او ډېر کسان به د نیمروز له لارې ایران ته قاچاق کېدل. نوموړي پژواک ته وویل: "له ایران څخه هره ورځ له ٥٠٠ تر ٦٠٠ کسانو پورې را اړول کېږي چې له دې ډلې یې له ٥٠ تر ٦٠ پورې ماشومان وي.

د افغانستان د جزا قانون او د کډوالو قاچاق پر وړاندې د مبارزې قانون پر بنسټ، د انسان قاچاق جرم دی. د کډوالو د قاچاق پر وړاندې د مبارزې په قانون کې راغلي چې د کډوالو قاچاق، نورو هېوادونو ته له رسمي اسنادو او مدارکو پرته د افغان کډوال لپاره د سفر د وسیلې برابرول دي. د یاد قانون په ۱٤مه ماده کې راغلي، قاچاق وړونکی باید لږ تر لږه درې کاله زنداني شي، خو د زنا، لواطت او یا بل جرم په صورت کې باید له شریعت سره سم پر ۱۲ کاله زندان محکوم شي.

د جنسي سوداګرۍ لپاره د ماشومانو استثمار په اړه د پژواک درېیم راپور:

## جواد: په چل او دوکه یې کور ته بوتلم او بیا یې جنسي تېری راباندې وکړ



*ستوری کریمي — Jan 25, 2018*

هرات (پژواک،٥ سلواغه ٩٦): یوه سړي زه هره ورځ تعقیبولم او راته ویل یې چې که هر شي ته اړتیا لرې، درکوم یې، تر دې چې زه یې په چل او دوکې سره خپل کور ته بوتلم او تېری یې راباندې وکړ. د انساني قاچاق او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې د قانون په لومړۍ ماده کې راغلي چې د ناوړه استفادې په موخه د ماشوم په واک کې راوستل، انساني قاچاق ګڼل کېږي. دغه راز د انساني قاچاق او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون په دریمه ماده کې راغلي چې په زور، چل، دوکې، اختطاف، ګواښ او ځواک یا د زور له نورو لارو، د ګټې اخیستنې په موخه د شخص استخدام، لېږدول، یا ساتل (تر واک لاندې راوستل) انساني قاچاق ګڼل کېږي.

۱۲ کلن جواد (مستعار نوم) چې د هرات ولایت اصلي اوسېدونکی دی، یو له هغو ماشومانو دی چې د خپل ځان او کورنۍ د اړتیاوو پوره کولو لپاره یې له کثافاتو د توکو راټولولو ته مخه کړې ده. د پژواک خبریال په ډېرو هڅو سره وتوانېد چې جواد مرکې کولو ته راضي کړي. جواد چې زړې او چټلې جامې یې پر تن وې، په خپلو چټلو لاسونو یې د کثافاتو شلېدلې او پیوند شوې بوجۍ نیولې وه، پژواک خبري اژانس ته یې وویل چې د خراب اقتصادي وضعیت له امله یې د کورنۍ له خوا اړ شوی چې د پیسو ترلاسه کولو لپاره له پارکونو او واټونو کثافات راټول کړي.

نوموړی د نوشابې او معدني اوبو، غیر الکولي څښاکو بوتلونه، د رُب قطي او پلاستیکونه راټولوي او وروسته یې د هرات د سپینې اډې په سیمه کې هر څلور کیلو په ٥٠ افغانۍ پلوري. جواد خپله کیسه پیل کړه او ویې ویل: "سهار وختي له کثافاتو څخه د توکو راټولولو لپاره د باندې ځم، یوه سړي له څو ورځو را په دېخوا تعقیب کړی وم، نږدې راته او راته ویل چې که هر څه ته اړتیا لرې زه یې درکوم، جامې وغواړې، ډوډۍ یا پیسې، هر څه چې وغواړې زه دې په خدمت کې یم."

هغه زیاته کړه: "درې میاشتې مخکې یوه ورځ ډېر وږی وم او د همدې سړي دروازه مې وټکوله او د دروازې شا ته یې وویل څوک یې؟ ما وویل وږی یم، لږ ډوډۍ غواړم. دغه سړي دروازه راته خلاصه کړه او زما په لیدو ډېر خوشاله شو، ویې ویل راځه ډوډۍ درکوم، زه یې د کور دننه بوتلم او وریجې او غوښه یې راکړل او ویې ویل، هر وخت چې وږی شوې، دلته راځه. د ډوډۍ له خوړلو وروسته مې غوښتل چې ولاړ شم، خو دغه کس اجازه را نه کړه، زه یې په زور یوې تاکاوۍ ته بوتلم، هر څومره عذر او زارۍ مې چې وکړې، وا یې نه ورېدې او پر ما یې تېری وکړ."

جواد په خپله ماشومانه ژبه دغه خبرې په داسې حال کې بیانولې چې په څېره کې یې د هغه تېري کوونکي سړي څخه ډار او کرکه لیدل کېده. هغه زیاته کړه: "ده سړي راته وویل که چاته دې وویل چې دې ما سره دا بد کار کړی، حتمن دې وژنم." جواد وویل چې پر ده د جنسي تېري په اړه یې له کورنۍ پرته بل څوک نه دي خبر او پولیسو ته یې هم شکایت نه دی کړی. نوموړي د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل: "که پولیسو ته شکایت وکړم، ښايي ستونزې مې لا ډېرې شي." خو نوموړی هیله لري چې درس ووايي او په راتلونکې کې پولیس شي او د ماشومانو د ځورولو مخه ونیسي. هغه نور نه غوښتل خبرې وکړي او د خپل کور او د هغه تېري کوونکي شخص د کور پتې له ورکولو یې ډډه وکړه. جواد د جنسي تېري یوازېنی قرباني ماشوم نه دی، ډېر داسې ماشومان شته په خپلو وړو زړونو کې یې د تېري ستر رازونه پټ ساتلي دي او د یوې مړۍ ډوډۍ پیدا کولو لپاره پر واټونو سرګردانه ګرځي. پر ماشومانو د درنو کارونو ترسره کول او اوس جنسي تېري او ځورول، د هرات د کار او ټولنیزو چارو ریاست د چارواکو پر جدي اندېښنې بدل شوي دي. د هرات ولایت د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو مشر عبدالقیوم افغان وویل چې په یاد ولایت کې د ماشومانو د جنسي ځورونې پېښې شته او دې موضوع دوی سخت اندېښمن کړي دي. هغه زیاته کړه: "پولیس موږ ته د جنسي ناوړه ګټه اخیستنې په اړه خبر راکوي، باید ووایم چې دغه ښکارنده شتون لري او موږ د دې پېښې په اړه اندېښمن یو." له بلې خوا د هرات د پولیسو ویاند عبدالاحد ولي زاده وویل چې له دوی سره د روان کال له پیله تر اوسه پورې پر ماشومانو د جنسي تېري او جنسي تېريو د تورونو ۹ موارد ثبت شوي چې په تړاو یې ۱۰ کسان نیول شوي دي. نوموړي زیاته کړه چې د دغو کسانو دوسیې د لا ډېر تعقیب په موخه څارنوالۍ ته سپارل شوې دي، خو د هرات د استیناف څارنوالۍ مشر عبدالحق احمد وویل چې د روان کال له پیله تر اوسه پورې په دې اداره کې پر نارینه ماشومانو د جنسي تېري تر لس ډېرې پېښې ثبت او دوسیې یې محاکمو ته سپارل شوې دي.

په هرات کې د ماشومانو له حقونو د ملاتړ پروژې دفتر یوې مسوولې سوسن رحماني وویل چې د بچه بازۍ او پر ماشومانو د جنسي تېري موضوعات د دوی د فعالیت لومړیتوب دی، خو نوموړې زیاته کړه چې په دغه ولایت کې پر ماشومانو د جنسي تېري پېښو دقیق شمېر نه دی معلوم، خو دوی په تېر یو کال کې پر ماشومانو د جنسي تېري له ۵۰ تر ۶۰ قضیې ثبت کړې دي، چې ډېری دغه پېښې د ښار په چاپېر، پارکونو، هوټلونو او له مسافر خانو سره نږدې رامنځته شوې دي. مېرمن رحماني وویل، ډېری جنسي تېري له ۱۲ تر ۱۵ کلنو پر هغو ماشومانو ترسره شوي چې په واټونو کې کار کوي.

په ورته وخت کې د هرات د بشري حقونو د سیمه ییز کمېسیون مشر عبدالقادر رحیمي وویل: "تر ډېره هڅه کېږي چې د جنسي تېري پېښې پټې وساتل شي، خو له بده مرغه دا زموږ د ټولنې شته واقعیت دی." په هرات کې د کډوالو د قاچاق او انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې کمېسیون سکرتر او راپور ورکولو مسوول او عدلیې مشر غلام محمد رحماني وویل چې په یاده اداره کې پر ماشومانو د شوو جنسي تېریو په اړه مشخص شمېر او راپور نه دی ثبت شوی. هغه زیاته کړه: "شک نشته چې د جنسي تېري څو پېښې رامنځته شوې او کسان څارنوالۍ او عامه محاکمو ته معرفي شوي او د یادې موضوع په اړه بندیان شوي او دغه مسئله شتون لري."

د هرات د عدليې رييس دغه راز وويل: "له ماشومانو هر ډول ګټه اخيستنه چې اوس په بېلابېلو ډولونو ترسره کېږي، که په موضوع کې د ګټې اخيستنې عنصر شامل وي، انساني قاچاق دی." په ورته وخت کې په هرات کې ارواپوهان وايي چې جنسي تېری تر ټولو بد تاوتريخوالی او ناوړه جرم دی چې د دې ډول جرمونو پر قربانيانو د دې اغېزې تر کلونو پاتې کېږي او هېڅکله يې له ياده نه وځي.

په هرات کې د محمد تقي محمدي په نوم يوه ارواپوه وويل، هغه ماشومان چې جنسي تېری پرې کېږي، لومړنۍ پايله يې وېره او ډار دی؛ ځکه چې دغو ماشومانو عمر کم دی، ټول احساسات يې له ځان سره ساتي او دغه کار ډېر سخت زيانونه لري. هغه زياته کړه: "جنسي تېری د ماشومانو پر شخصيتي ودې بده اغېزه کوي او هغوی کې ګوښيتوب، بد خويي، پر نفس د باور کمزورتيا رامنځته کوي او پر نړۍ او خلکو د دوی ليدلوری تياره کوي".

هرات پوهنتون د شرعياتو پوهنځي استاد عبدالمجيد صميم د اسلام له نظره پر ماشومانو د تېري په اړه وايي چې پر لويانو او ماشومانو جنسي تېری حرام دی. نوموړي زياته کړه: "پر نارينه ماشومانو تېري ته لواطت ويل کېږي چې فقها يې په اړه متفاوت ليد لوري لري. ځيني وايي چې تېري کوونکی کس دې له لوړ ځايه را وغورځول شي او ځيني فقها وايي چې دا ډول کسان دې تر دېوال لاندې شي، خو ډېری فقها پر دې نظر دي چې لوطي شخص بايد اعدام شي."

له بلې خوا ډېر ملي قوانين او کنوانسيونونه شته چې د دولت له خوا له ماشومانو څخه پر ملاتړ ټينګار کوي، خو پر ماشومانو د جنسي تېري پېښې نه يوازې په هرات، بلکې د هېواد په ډېری ولايتونو کې شتون لري. د ماشومانو د حقونو په اړه د ملګرو ملتونو د کنوانسيون په ۳۴مه ماده کې راغلي چې د ټرون غړي حکومتونه مکلف دي چې له ماشومانو څخه د سکس او ناوړه جنسي استفادې د هر ډول استثمار په مقابل کې ملاتړ وکړي، حکومتونه په دې موخه په هېواد کې دننه او بهر پر هر ډول اقداماتو لاس پورې کوي، څو ماشومان په زور يا نا قانونه جنسي اړيکو ته ونه کاږل شي او له ماشومانو بايد په سکسي پورنوګرافۍ کې استفاده ونه شي.

پر دې ټولو سربېره بيا کارپوهان پر ماشومانو جنسي تېري د اندېښنې وړ ګڼي او له حکومته په ځانګړې توګه عدلي او قضايي بنسټونو څخه غواړي چې پر ماشومانو له جنسي تېري کوونکو سره جدي چلند وکړي.

## ۲۹- بچه بازي

د هېواد په تاریخ کې ځینو ناوړه رواجونو خپل سیوری داسې غوړولی چې له امله یې ټولنې ته د نه لیکل شوو قوانینو پر بنسټ لارښوونه کېږي چې ځیني دغه رواجونه یې له دیني او اخلاقي ارزښتونو سره هم په ټکر کې دي، خو په کومه ټولنه کې چې د "جنسیتي انډول" کلمې یادولو پر ځای په عمل کې څه تر سترګو نه شي، یو څوک چې په دې برخه کې د ګام پورته کولو جرئت وکړي نو له ټولنیزو بندیزونو سره مخ کېږي. د ۲۰۱٦ زېږدیز کال د انسان د اجباري قاچاق د راپور پر بنسټ، په افغانستان کې ډېر قربانیان ښځې او ماشومان دي چې له بېلابېل ډول ظلم او ستم سره مخ کېږي. ماشومان او تنکي ځوانان هغه کسان دي چې په زور جنسي قاچاق، په ځانګړې توګه بچه بازۍ ته اړ ایستل کېږي چې بیا ترې ځینې کسان په محفلونو کې جنسي او نوره ګټه پورته کوي.

بچه بازي پر دې سربېره چې یوه منفوره پدیده ده، حساسیت پاروونکې هم ده او په دې برخه کې خصوصي شکایت کوونکي نشته. د بچه بازۍ ډېری اعمال پټېږي او هېڅوک هم نه غواړي چې په دې اړه شکایت وکړي، خو د بشري حقونو خپلواک کمېسیون راپورونه ښیي چې دغه پدیده په ټول افغانستان کې له کومې استثنا پرته شتون لري. د امنیت نه شتون، د قانون کمزوری حاکمیت، له مجازاتو د معافیت او پراخ اداري فساد موجودیت، د یادې پدیدې د پراختیا لپاره زمینه برابره کړې ده. کومې سیمې چې نا امنه دي، هلته بیا پیسې او ټوپک حاکم دي، بچه بازان هم د هغو کسانو له ډلې دي چې پیسې او واک لري او یو شمېر نور بیا په ټیټه دولتي کچه هم په دې اړه له خپل دولتي واکه ګټه اخلي او ډېری هغه کسان چې پر بچه بازي بوخت دي، د دولت تر کنټرول لاندې سیمو کې ژوند نه کوي؛ ځکه پیسې، زور او ټوپک لري او هېڅوک یې هم پر وړاندې شکایت نه شي کولی.

بچه بازي د یو شمېر کسانو لپاره پر عادت بدل شوی او کومه څېړنه چې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون ترسره کړې ښیي، ډېری هغه کسان چې مخکې پرې بچه بازي کېده، اوس بچه بازان شوي؛ ځکه هغه مهال یې غرور او انساني کرامت له منځه تللی او د غلامانو په څېر ژوند یې کړی، نه یې ازادي، نه یې تحصیل او نه هم کار درلود، له همدې امله عقده یې شوي او په یو نه یو ډول له ماشومانو او تنکیو ځوانانو انتقام اخلي. د دیني عالمانو له نظره بچه بازي یو ناوړه او له بې غیرتۍ ډک عمل دی چې د اسلام سپېڅلي دین له نظره تر دې حده حرام او غندل شوی چې یو شمېر عالمانو تر زنا بدتر عمل ښودلی دی.

بچه بازي د دې تر څنګ چې اسلام حرام او ناوړه عمل بللی، په قانون کې هم جرم پېژندل شوی او مرتکبینو ته یې باید د قانون له مخې سزا ورکړل شي. د بچه بازۍ شومه پدیده اوس په قانون کې د جرم په توګه پېژندل شوې او له همدې امله پولیس او څارنوالي قانوني واک لري، څو د بچه بازۍ مخنیوی وکړي. دغه راز د نورو قوانینو پر بنسټ، لواطت یو جرمي عمل دی او کوم کسان چې دغه ډول عمل ترسره کوي، باید قانوني سزا ورکړل شي. د هلک ګډول او ساتل، د بچه بازۍ محفلونه جوړول، د بچه بازۍ په ناستو کې ګډون او له هغوی سره استراحت ځینې هغه موارد دي چې له ماشوم څخه د ملاتړ په قانون او جزایي کوډ کې ځای پر ځای شوي چې هر یوه ته یې جلا جلا سزاوې په پام کې نیول شوې دي.

ماشومان باید د بچه بازۍ له ناوړه کړنې وساتل شي؛ ځکه دغه کار په پایله کې د جنسي استثمار او جنسي ځورونې لامل کېږي. بچه بازي د انسانانو د قاچاق یو ډول ګڼل کېږي چې باید مخنیوی یې وشي. ښوونځي او ښایست د بچه بازۍ د ډېرېدو او رامنځته کېدو په برخه کې تر ټولو عمده لاملونه بلل کېږي؛ د بچه بازۍ ډېری قربانیان له بېوزلو کورنیو څخه دي او د ژوند تېرولو او پیسو ترلاسه کولو لپاره خپل ماشومان د داسې چا په واک کې ورکوي چې بیا د دغو کسانو له لوري ترې جنسي ګټه اخیستل کېږي خو ډېرې کورنۍ بیا پر دې نه پوهېږي چې ماشومان یې د ژوند له څه ډول ګواښ سره مخ دي.

تر څو کلونو وړاندې پورې د افغانستان په قوانینو کې بچه بازي جرم نه و خو د بشري حقونو کمېسیون په هلو ځلو بچه بازي د افغانستان د جزا کوډ له مخې جرم وپېژندل شو. بچه بازي په ټول افغانستان خو په ځانګړې ډول په شمال او سوېل لوېدیځو ولایتونو کې ډېره ده، د بچه بازۍ په فعل کې ډېری وخت مفعول داسې کس وي چې قاچاق شوی وي؛ یعنې یا یې د کورنۍ له خوا د پور په بدل کې ورکول شوی وي او یا هم د کوم بل شخص له لوري پلورل شوی وي؛ د بېلګې په توګه ښوونکی احمد جان (مستعار نوم) د ۲۰۱۵ زېږدیز کال په نومبر کې په جګړې کې د ملکي وګړو له مرکز (CIVIC) سره په مرکه کې د کندهار په ارغستان ولسوالۍ کې د سیمه ییزو پولیسو یو قوماندان پر تښتونې تورن کړ.

هغه وویل، اکبر د سیمه ییزو پولیسو قوماندان، ۱۳ یا ۱۴ کلن محمد جان وتښتاوه چې ورباندې بچه بازي وکړي. هغه د سید اغا جان زوی و، هغه موبایل نه درلود چې له خپلې مور سره اړیکه ونیسي، وروسته له هغه چې د هغه مور دی وموند، د خپل زوی د خوشې کولو لپاره د قوماندان کور ته له قران کریم سره ورغله. د هغې زوی د درېیو میاشتو لپاره له یاد قوماندان سره و چې بیا وروسته د اڅکزیو قوم د سیمه ییزو پولیس د یوه بل قوماندان په مداخلې خوشې شو.

هغه شخص چې مذکر یا مخنث ماشوم د جنسي خوند اخیستنې یا په عام یا خصوصي محفل کې د نڅولو په منظور وساتي، د بچه بازۍ د جرم مرتکب پېژندل کېږي او د جزا کوډ د ۶۵۴مې مادې له مخې، مرتکب یې تر درېیو کلونو پورې پر منځني حبس محکومېږي. دغه راز هغه شخص چې مذکر یا مخنث ماشوم ته د بچه بازۍ په منظور د نڅا زده کړه ورکړي، تر دوو کلونو پورې پر منځني حبس محکومېږي او هغه شخص چې مذکر یا مخنث ماشوم د استثمار په قصد په عامو یا خصوصي محفلونو کې ونڅوي، له درېیو کلونو څخه زیات پر منځني حبس محکومېږي او د یاد جرم متکرر د ممنځني حبس پر اکثر حد محکومېږي.

هغه شخص چې د بچه بازۍ په منظور محفل جوړ کړي یا اګاهانه د دغه عمل د ارتکاب لپاره زمینه برابره کړي، د درېیو میاشتو پر قصیر حبس او د تکرار په صورت کې د قصیر حبس پر اکثر حد محکومېږي. دغه راز هغه شخص چې اګاهانه په هغه محفل کې چې د بچه بازۍ په منظور ځانګړی شوی وي، ګډون وکړي، له پنځه زرو څخه تر دېرشو زرو افغانیو پورې پر نغدي جریمه، محکومېږي خو د یاد جرم متکرر مرتکب پر قصیر حبس محکومېږي.

د بچه بازۍ په اړه د پژواک لومړی راپور:

### بریالی: پر یوه قوماندان تر پلورل کېدو وروسته جنسي تېري راباندې وشول




*زلمی عزیز — May 15, 2018*

تالقان (پژواک، ۲۵ غویی ۹۷): یو هلمندی ماشوم چې له پاکستانه د دیني زده کړو په موخه کندوز ولایت ته تللی و او بیا تخار ولایت ته بیول شوی، وایي چې هلته پر یوه قوماندان تر پلورل کېدو وروسته پرې جنسي تېري شوي، نشه یې توکي ورکړل شوي او ګډول شوی دی. دغه هلمندی ماشوم بریالی (مستعار نوم) نومېږي، ۱۲ کاله عمر لري او اوسمهال په تخار کې د ماشومانو د روزنې په مرکز کې اوسېږي.

د تخار یو شمېر امنیتي چارواکو د پژواک خبري اژانس له خبریال سره همکاري وکړه، څو دغه ماشوم پیدا کړي او مرکه ورسره وکړي. بریالی چې کله د مرکې ځای ته راوستل شو، نو په ډېرې حیرانتیا سره یې د پژواک خبریال، مایک، کامرې او نورو وسایلو ته کتل او له وېرې رېږدېده. د بریالي پلار د هلمند دی او مور یې د پېښور اصلي اوسېدونکې ده، مور او پلار یې دا مهال په هلمند کې ژوند کوي خو نوموړی له خپل نیکه سره د پېښور په یوسف اباد کې اوسېده.

**بریالی: کله به چې نشه شوم، بیا به یې راباندې جنسي تېری کاوه**

نوموړی خپله کیسه زړه نا زړه داسې پیلوي: "زه اته کلن وم چې مور او پلار مې هلمند ته راغلل، زه له خپل نیکه سره ځکه پېښور کې پاتې شوم، څو دیني زده کړې وکړم." هغه وویل چې د پېښور په مدرسه کې د کندوز ولایت یو شمېر اوسېدونکو هم له ده سره زده کړې کولې. ده زیاته کړه: "هلته مې درس خلاص شو، دستار بندي هم وشوه، همصنفیانو مې راته وویل چې نور درس به د کندوز په امام صاحب ولسوالۍ کې ووایو، نو څه وخت وروسته کله چې دوی راتلل، زه هم ورسره کندوز ولایت ته راغلم."

د بریالي په وینا، د کندوز د امام صاحب ولسوالۍ په مکي مدرسه کې یې زده کړې پیل کړې خو له یوې میاشتې زده کړو وروسته یې د اسحاق په نوم له یوه کس سره اشنایي پیدا شوه. ده وویل: "اسحاق راته وویل چې کندوز کې وضعیت خراب دی، تخار ته به ولاړ شو، هلته ډېرې ښې مدرسې دي، زه د هغه په خبرو وغولېدم او دواړه تخار ولایت ته راغلو." بریالی وایي، کله چې له اسحاق سره د تخار دشت کلا ولسوالۍ ته ورسېد، نو درې شپې یې له اسحاق سره په یو کور کې تېرې کړې. بریالی غلی شو، بیا یې په ژړغوني غږ وویل: "اسحاق له یو چا سره په ټیلیفون کې خبرې کولې او ورته ویل یې چې یو هلک مې راوستی، خرڅوم یې درباندې، ډېر ښایسته دی، ما چې کله دغه خبرې واورېدې، سخت وډار شوم، خو هېڅ مې هم نه شول کولای."

د هغه په وینا، د شپې شاوخوا ۱۱ بجې وې چې یو شمېر وسله وال راغلل او دی یې په زور موټر ته پورته کړ، ورته یې وویل چې ته یې پر قوماندان عنایت پلورلی یې. ده زیاته کړه: "ما چې دا وارېدل په ژړا شوم، خو دغو کسانو زه ووهلم او په زور یې موټر کې واچولم، څو ساعته مو مزل وکړ، بیا یو کور ته ورسېدو، هلته په کور کې دننه ډېر وسله وال کسان وو، زه یې یوې کوټې ته بوتلم، هلته درې کسان ناست وو چې یو ته یې قوماندان عنایت ویل." بریالی وایي چې قوماندان له یو شمېر نورو کسانو سره د شرابو پر څښلو بوخت و او ده ته یې هم په زور شراب ورکړل. ده وویل: "ښه ډېر شراب یې راکړل، نور پر ځان نه پوهېدم، سهار چې کله په هوښ شوم، نو له قوماندان عنایت سره په بستره کې پروت وم او ځان مې هم ډېر په درد و، نو پوه شوم چې جنسي تېری راباندې شوی دی." د بریالي د معلوماتو له مخې، پنځه میاشتې یې له قوماندان عنایت سره تېرې کړې دي او په دې موده کې یې څو ځلې د نجونو جامې ور اغوستې، په محفلونو کې یې ګډولی او هره شپه یې څو ځلې جنسي تېری پرې کړی دی.

د بریالي پر دواړو لاسونو د ټپونو نښې ښکارېدې، هغه په دې اړه وویل: "کله چې به مې له ګډا او یا هم د شرابو له څښلو انکار کاوه نو لګېدلی سګرټ او یا هم چرس به یې زما په لاس کېښوده او په زور به یې ګډولم او شراب به یې راکول." د هغه په وینا، یوه ورځ قوماندان عنایت خپل کور ته بوت او هلته یې پر ښځو ټینګار وکړ چې دغه

هلک ته له کوره د وتلو اجازه مه ورکوئ. بريالي وايي: "ما ښځو ته ډېر عذر وکړ چې تر سړکه ځم بېرته ژر راځم، کله چې سړک ته ورسېدم، يو موټر راغی، لاس مې ورکړ، ور پورته شوم، په لار کې ډریور را څخه ځيني پوښتنې وکړې، بيا يې خواجه بهاءالدين ولسوالۍ ته بوتلم." ده وويل چې موټر چلوونکي د ده له خبرو په ګټې اخيستنې سره، دی په خواجه بهاوالدين ولسوالۍ کې قوماندان حکيم ته وسپاره، خو بيا هغه هم د فريدون په نوم يوه بل کس ته وسپاره. د هغه په وينا، فريدون ورباندې جنسي تېری ونه کړ خو د نجونو په جامو کې يې ډېر وګډاوه. ده وويل چې يوه موده يې له فريدون سره هم تېره کړه خو يوه ورځ امنيتي ځواکونو د فريدون پر کور چاپه ووهله او دی يې له ځان سره راوست. بريالی دا مهال د تخار په مرکز تالقانو ښار کې د ماشومانو په يوه روزنتون کې له يو شمېر نورو ماشومانو سره يو ځای اوسېږي.

**د عدليې رييس: د بريالي موضوع سل په سلو کې انساني قاچاق دی**

د اړوندې موضوع په اړه د تخار د عدليې رييس او د دغه ولايت د انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې د عالي کمېسيون د ولايتي کمېټې مشر حشمت الله حشم پژواک ته وويل چې د روان کال په اوږدو کې له دوی سره تر اوسه ١٦ د انساني قاچاق پېښې ثبت شوې دي. ده وويل چې په دې پېښو کې يوه يې هم د بريالي موضوع ده چې بايد عاملين يې ونيول شي او د قانون منګولو ته وسپارل شي. حشم وايي چې د انساني قاچاق د مخنيوي په اړه ځو ځلې دوی د عامه پوهاوي پروګرامونه ترسره کړي خو په دغه ولايت کې دغه ډول پېښې د زورواکو او قوماندانانو له لوري ترسره کېږي.

**امنيه قومانداني: د بريالي د پېښې په اړه معلومات نه لرو**

د تخار د امنيې قوماندانۍ د امنيت امر سمونوال نظام الدين غوري پژواک ته وويل چې په رسمي ډول د بريالي موضوع تر اوسه له دوی سره نه ده شريکه شوې. غوري وويل چې په دې اړه به څېړنې وکړي او عاملين به يې ډېر ژر د قانون منګولو ته وسپاري. خو بل لور ته کوم مکتوب چې شاوخوا دوه اوونۍ وړاندې د تخار څارنوالۍ له لوري امنيې قوماندانۍ ته لېږل شوی او يوه کاپي يې پژواک هم ترلاسه کړې، په کې راغلي چې د بريالي د پېښې په اړه دې قوماندان عنايت، قوماندان حکيم او فريدون ډېر ژر جلب شي. هڅه مو وکړه چې په دې اړه له يادو کسانو سره هم خبرې وکړو خو هغوی په دې اړه له څه ويلو ډډه وکړه.

بل لور ته په شمال ختيځ زون کې د بشري حقونو خپلواک کمېسيون د ماشومانو څانګې مسوول بسم الله وزيري پژواک ته وويل چې له بريالي سره هر ډول ظلم شوی، بايد عاملين يې ډېر ژر ونيول شي او د خپلو اعمالو پر سزا ورسول شي. هغه زياته کړه: "بريالی معتاد شوی، جنسي تېری پرې شوی او ګډول شوی هم دی؛ يعنې هر ډول ظلم ورسره شوی دی چې دا ډېره بده او خواشينوونکې پېښه ده." د وزيري په وينا، په دې قضيه کې ټول هغه کسان شامل دي چې په شکل د اشکالو له يو شمېر دولتي چارواکو سره په کابل او ولايتونو کې نږدې اړيکې لري.

**ديني عالم: قران کريم دغه ډول اعمال حرام بللي دي**

په دې اړه د تخار د مرکزي دارالعلوم استاد مولوي محبوب الله حنيف پژواک ته وويل چې په قران کريم کې لواطت، زنا او ورته نورې کړنې حرامې او کبيره ګناه بلل شوې دي. د هغه په وينا، هغه کسان چې دغه ډول کړنې ترسره کوي، بايد شرعي حدود پرې جاري شي. دغه راز د انسان قاچاق او د کډوالو قاچاق قانون د دريېمې مادې په لومړۍ فقره کې راغلي چې د ناوړه ګټې اخيستنې په منظور د شخص استخدامول او يا هم د زيان منني يا مجبوريت له حالت څخه ناوړه ګټه اخيستل، انساني قاچاق ګڼل کېږي.

د همدې مادې په بله برخه کې راغلي چې د ناوړه ګټې اخیستنې په موخه د ماشوم تر واک لاندې راوستو ته هم انساني قاچاق ویل کېږي. د یاد قانون په لسمه ماده کې راغلي، که چېرې د انساني قاچاق په پېښه کې مجني علیه ښځه یا ماشوم وي، د جرم مرتکب پر اته کاله بند محکومېږي. د یادونې ده، همدا مهال د بریالي په څېر ګڼ شمېر ماشومان د افغانستان په شمالي ولایتونو کې د یو شمېر زورواکو له خوا له ورته برخلیک سره مخ دي، خو تر اوسه یې پېښې نه دي په ډاګه شوې.

د بچه بازۍ په اړه د پژواک دویم راپور:

**بُشرا د یوه ناوړه فرهنګ ربښه له منځه یووړه**




*محمد حلیم کریمی — Feb 21, 2017*

کابل (پژواک، ۲ کب ۹۵): یوې افغان مېرمنې پر بېلابېلو ټولنیزو فشارونو سربېره په ټولنه کې د دودیز او د ناوړه فرهنګ پر وړاندې په درېدو سره د عدالت غوښتنې غبر پورته کړی چې د هغې دغه کار د مظلوم د ژغورنې او ظالم د رانسکورېدو لامل شوی دی. بُشرا (مستعار نوم) شاوخوا ۳۲ کاله مخکې د بلخ ولایت په مرکز مزارشریف ښار کې زېږېدلې ده، هغه چې له یوه خصوصي پوهنتون څخه د قضا او څارنوالۍ په برخه کې د لیسانس سند لري، اوسمهال د یوې کورنۍ موسسې له لارې افغانانو ته حقوقي مرستې برابروي. نوموړې له هغو افغان مېرمنو شمېرل کېږي چې د ظلم او ستم پر وړاندې یې چوپتیا غوره کړه، خو د هغه څه پر وړاندې چې د ماشومانو د جنسي ځورونې لامل ګرځي، خپل غبر پورته کړ او دغه ظالمانه چلند یې هېڅکله هم ونه زغملی شو. یادې ځوانې مېرمنې پر دې سربېره چې شاوخوا څلور کاله یې پر ځان او د یوه ماشوم په اړه د ظلم پر وړاندې مبارزه وکړه، بېلابېل ټولنیز فشارونه یې پر ځان وزغمل او تر دې پورې چې ښایي دغه کار د هغې د ژوند د له منځه تلو لامل شوی وای، له دغه کار لاس وانه خیست، تل یې د خپل زړه اواز ته غوږ ونیو، خو خپل دغه اواز یې چوپ نه کړ چې په پایله کې یې په خپل یاد کار کې بریالۍ را ووته.

بشرا وویل: "هغه مهال ما له ځان سره دوه لارې درلودې؛ یوه دا چې باید ځان وژنه وکړم او بله دا چې د بې عدالتۍ پر وړاندې خپل غبر پورته کړم، ما نو دویمه لاره غوره کړه." نوموړې د خپلو خبرو په دوام کې وویل چې په ښوونځي کې د زده کړو له پای ته رسولو وروسته مې د نورو افغان نجونو په څېر هیلې او د تحصیل لپاره پروګرامونه درلودل، خو د کورنۍ له لوري ورته له وخته مخکې د واده وړاندیز د دې ژوند ته بدلون ورکړ. د هغې په وینا، د مېړه یې تر ډېره له بچه بازۍ سره جوړه وه او دې ته له یاد وضعیته ژغورنه ناممکنه وه.

د هېواد په تاریخ کې ځینو ناوړه رواجونو خپل سیوری داسې غوړولی چې له امله یې ټولنې ته د نه لیکل شوو قوانینو پر بنسټ لارښوونه کېږي چې ځینې دغه رواجونه یې له دیني او اخلاقي ارزښتونو سره هم په ټکر کې دي،

خو په کومه ټولنه کې چې د "جنسيتي انډول" کلمې يادولو پر ځای په عمل کې څه تر سترګو نه شي، يو څوک چې په دې برخه کې د ګام پورته کولو جرئت وکړي نو له ټولنيزو بنديزونو سره مخ کېږي.
د ۲۰۱٦ زېږديز کال د انسان د اجباري قاچاق راپور پر بنسټ، په افغانستان کې ډېر قربانيان ښځې او ماشومان دي چې له بېلابېل ډول ظلم او کړاو سره مخ کېږي. ماشومان او تنکي ځوانان هغه کسان دي چې اجباري جنسي قاچاق، په ځانګړې توګه بچه بازۍ ته اړ ايستل کېږي چې بيا ترې ځيني کسان په محفلونو کې د ګډولو او نوره جنسي ګټه پورته کوي.
**د کوژدې پړاوونه:**
د بشرا په وينا، کله چې د ښوونځي د لسم ټولګي زده کوونکې وه، يوه کورنۍ د دې په مرکه راغله او هغه مهال يې خپل واک کورنۍ ته ورکړی و، په پايله کې له يوه داسې سړي سره چې بېسواد و او هېڅ پېژندګلوي يې نه ورسره درلوده کوژده شوه، خو د کوژدې پر مهال يې مېړه دروغجن را ووت او له نوموړې يې غوښتي وو چې نوره بايد ښوونځي ته ولاړه نه شي؛ ځکه په ښوونځيو کې د نجونو له درس ويلو سره مخالف دی. په ورته مهال يادې مېرمنې د کوژدې پر مهال داسې معلومات هم ترلاسه کړي وو چې کوژدن يې له ماشومانو سره ناوړه کړنې ترسره کوي چې هغه مهال يې څو ځلې د اړيکې د پرېکون غوښتنه کړې وه، خو کورنۍ يې بيا په ټولنه کې د ناوړه رواجونو له امله چې ګڼي د کورنۍ عزت به يې له خاورو سره خاورې شي، د هغې پر خبرو غوږ نه وګرولی.
يادې مېرمنې په ژړغوني اواز سره وويل: "هغه درناوی مې چې پلار ته درلود، ومې نه شوای کولی چې د هغه د پرېکړې پر وړاندې ودرېږم او دغه کار ته مې غاړه کېښوده."
**د واده چمتووالی:**
بشرا وويل، پر دې ټولو جنجالونو سربېره د واده وخت را ورسېد او دغه مراسم هم په نه زړه پيل شول چې د واده په شپه هم د خپل مېړه له سختو، ناوړه او عقده يي خبرو او چلند سره مخ شوه. هغې زياته کړه: "هغه شپه مې مېړه برچه راته مخ ته کېښوده او راته يې وويل چې يوه اوونۍ مخکې دې څرنګه چلند کاوه، اوس نو د ويلو لپاره څه لرې؟!...ما ورته کړه، نه هېڅ هم نه لرم؛ ځکه يوه اوونۍ مخکې زه د يو چا لور وم او اوس ستاسو مېرمن. اوس که څه وايم نو خپل شخصيت او کورنۍ ته مې زيان اوړي نو له دې امله هېڅ غږ پورته کول نه غواړم، اوس مې واده کړی او هېڅ هم بدلون نه کوي." بشرا د خپلو خبرو په پای ته رسولو سره د ويلو لپاره نور څه نه درلودل چې هغه شپه نور څه رامنځته شول، خو يو سوړ اسوېلی يې و ايست او ويې ويل: "هغه شپه يې را سره سخت وحشيانه چلند وکړ."
**د يوې ترخې کيسې پيل:**
بشرا زياته کړه، د واده په اتمه ورځ يې مېړه د کور د ترتيب او تنظيم لپاره د خپل دوکان دوه شاګردان چې عمرونه يې له ۱۳ تر ۱٤ کلونو پورې وو، راوستل، خو نوموړې څرګنده کړه، بله ورځ چې د ډوډۍ د ور وړلو په حال کې وه، نو مېړه يې له هغه ماشوم سره يو ځای لوڅ پروت و. بُشرا په داسې حالت کې چې هغه وخت يې يو ځل بيا سترګو ته ودرېد، وويل: "د خپلې خوب کوټې د تخت په کونج کې ناسته وم او ځان مې له دغه وحشته لړزېده، چې مېړه مې کوټې ته راغی او ويې ويل، کار دې درلود؟، ما ورته ويل، نه کار مې نه درلود، يوازې مې ډوډۍ در وړه، خو له داسې حالت سره مخ شوم چې هېڅ تصور مې نه کاوه."
د هغې په وينا، مېړه يې ورته وويل: "ډېرې خبرې مه کوه، ګني داسې څپېړه به دې ووهم چې په خپله به هم ووايې افرين، خو ما ورته وويل، په دې ډول ناوړه عمل سره څرنګه زما لورې ته ګورې او په څه ګناه مې وهې." بُشرا زياته کړه، مېړه يې د خبرو په دوام کې ورته وويل: "له ما څه غواړې او څه کوې؟ ځکه زه به هېڅکله هم له دغه هلک څخه تېر نه شم او ستا په شان سل نجونې هم د ياد هلک د سر له يوه تار سره هم نه برابروم."
**د اړيکو پيکه کېدل:**

بشرا وويل: "د دغه حالت په ليدو سره حيرانه وم چې څه وکړم، له هغه وروسته مو اړيکې بېخي سړې او وشلېدې." هغې وويل، ياده موضوع يې په غير مستقيمه توګه خپلې کورنۍ ته ورسوله، خو کورنۍ يې د دې دغو خبرو ته پام ونه کړ او له دې يې وغوښتل چې خپل ژوند ته ادامه ورکړي. هغې زياته کړه: "مور مې هم باور نه کاوه چې ګني زوم دې داسې ناوړه کار کړی وي او تر دې چې يوه ورځ له دې امله پر هغې د اعصابو حمله راغلې وه چې زه ولې له خپل مېړه سره ښه چلند نه کوم، هغه مهال مو له واده يو نيم کال تېرېده، پرېکړه مې وکړه چې د مور د خوشحالۍ لپاره هر څه يوه لوري ته کړم او له مېړه سره عاطفي او ښې اړيکې غوره کړم."

هغې د خپلو خبرو په دوام وويل: "د اختر شپه وه، د خپل مېړه له ټولو ګناهونو تېره شوم او پرېکړه مې وکړه چې له دې وروسته به له هغه سره د مينې ډک ژوند غوره کوم او بچيان به لرم، هغه شپه مې يو پاک احساس درلود او داسې فکر مې کاوه چې دغه سړی مې له دې وروسته ټوله دنيا ده او د نړۍ بهترين کس دی." بُشرا په داسې حال کې چې د خپل مېړه د مينې انتظار يې ايست، خو برعکس يو ځل بيا يې داسې صحنه وليده چې مېړه يې بيا له هغه کس سره پروت دی. د هغې په وينا، هغه داسې يوه شپه وه چې خدای (ج) نه غوښتل چې نوموړې دې له خپل مېړه سره بيا ژوند پيل کړي، په داسې حال کې چې د بُشرا لپاره دغه خبر ډېره سخته تمامېده، خو له دې امله چې زړه يې خپه شوی و، په ډېرې ستونزې سره يې وويل: "دغه حالت مې اوښکې تويې کړې او ستونی مې خپګان ونيو، ډوډۍ مې هم ونه خوړه، خو مېړه مې په ډېرې راحتۍ سره ولاړ او غسل يې وکړ او له ډوډۍ خوړلو وروسته بسترې ته ولاړ."

د هغې په وينا، اوس نو کور ته د ياد هلک موضوع بېخي يوه عادي خبره ګرځېدلې وه؛ ځکه هر کار به يې چې زړه غوښته کاوه يې. بشرا زياته کړه، مېړه يې په ياده موده کې تر دې حده سپين سترګی شوی و چې ان د کورنۍ په سفرونو کې به يې هم له ماشومانو سره دغه ناوړه عمل کاوه. د هغې په وينا، د مېړه ياد عمل يې يوازې په کم عمره ماشومانو پورې نه محدودېده، بلکې کله ناکله به يې نجونې هم ځورولې.

**سپارښتنه:**

يادې ځوانې مېرمنې زياته کړه، څو ځلې يې خپل مېړه ته ويلي، کوم اعمال چې ترسره کوي، هغه د اسلام سپېڅلي دين او ديني عقايدو خلاف دي او بايد ترې تېر شي، خو د هغه لپاره دا ډول کارونه يو عادت ګرځېدلی و چې تېښته ترې ناممکنه وه. نوموړې زياته کړه، له دې مخکې چې د طلاق موضوع قومي جرګې ته ورسېږي، پلار يې د خپلې کورنۍ د ابرو ساتلو لپاره د مېړه له پلار او ورونو سره دغه موضوع شريکه کړه او دوی ته يې وويل چې خپل زوی او ورور له دې ناوړه اعمالو منعه کړي؛ ځکه هېڅکله هم د دوو کسانو د بېلتون غوښتونکی نه دی.

بشرا وويل، د مېړه کورنۍ يې پر دې سربېره چې د خپل زوی پر ګناه ښه پوهېده خو بيا يې هم هغه بېګناه معرفي کاوه او ويل يې چې ستاسو لور ژوند ته سر نه ټيټوي. هغې زياته کړه، له هغه وروسته چې د دې دوه زلمي ورونه يې په ۱۳۸۹ لمريز کال کې له سړکه د موټر اوښتو په پېښه کې مړه شوي وو، د هغوی د وير په مراسمو کې يې هم مېړه په يوه څنډه کې يوه کم عمره ماشومه ځوروله. هغې وويل: "کله چې هغه ماشومه راته راغله او راته يې وويل، تروري مېړه دې زه په تشناب کې په غېږ کې ونيولم او په تنګ يې کړم، نو د بدن ويښته مې پورته شول او له هغه د بېلېدو او يا هم خپل ګډ ژوند ته د پای ټکي ايښودو پرېکړه مې وکړه."

بشرا زياته کړه، د ورځې په پای کې په داسې حال کې چې د کورنۍ ټول غړي هم موجود وو، ياده موضوع مې له هغوی سره شريکه کړه او په سبا يې پلار پرېکړه وکړه، څو ياده موضوع په سوله ييز ډول د قومي جرګې له لارې حل کړي.

**قومي جرګه:**

بشرا زياته کړه، پلار يې د هغې د جلاتوب موضوع له يوه قاضي سره شريکه کړه چې له هغه وروسته د دواړو کورنيو غړو، مشرانو، ملا امامانو او د کلي د وکيلانو په ګډون جرګه وکړه او دواړو لورو دا پرېکړه وکړه چې

يادې ستونزې ته د پای ټکي ايښودو لپاره طلاق مهمه لار ده. د هغې په وينا، له طلاق وروسته هم ياد کس ځينو کسانو ته ويلي وو چې د دې پر مخ به تېزاب توی کړي، پر چاقو به يې ووهي او يا به يې هم بې عزته کړي.
بشرا وويل: "که څه هم ډېره وګواښل شوم، خو هېڅکله هم ونه ډاره شوم او پر وړاندې مې مبارزه وکړه، مقاومت مې وکړ او په خدای مې توکل کړ." نوموړې څرګنده کړه، د هغې دغه ګام د هغو کسانو لپاره چې د بچه بازۍ او جنسي تېري قرباني کېږي، ډېره مرسته کوي؛ ځکه څوک چې بچه بازي کوي، ژوند يې له منځه ځي، د يوه ماشوم ژوند له منځه وړي او د کورنۍ ابرو هم له خاورو سره خاورې کوي. د هغې په باور، دا يو ستر درس دی چې هېڅوک هم بايد په غير اسلامي، غير انساني او غير اخلاقي کړنو لاس پورې نه کړي. دغې مېرمنې د خپلو خبرو په دوام کې وويل: "ما په خپل دغه کار سره وغوښتل څو هغه ناوړه او حاکم فرهنګ چې هره ورځ قرباني اخلي او لسګونه کسان د نابودۍ کندې ته کشوي، مات کړم؛ که څه هم دا حرکت مې وړوکی و، خو بيا مې هم خپله ټولنه او کورنۍ پر دې پوه کړه چې له لواطت کاره او دروغجن کس سره راته ژوند کول د زغم وړ نه دی او پرېکړه مې وکړه څو د خپل ژوند لوری مشخص کړم؛ ځکه ما ځان کمزوری احساس نه کړ او د کورنۍ په ملاتړ پر ظلم غالبه شوم او ښايي په دغه کار سره مې د هغو ماشومانو ژوند هم ژغورلی وي چې د دې ډول کسانو له لوري ځورول کېږي."
بشرا وويل: "نن پر دې سربېره چې ځان ډېر ارام احساسوم او دا چې له داسې يوه کس څخه ژغورل شوې يم، وجداناً ارامه يم؛ ځکه نن مې ژوند بدلون کړی، په يوه ګټور شخص بدله شوې يم او څوک چې زما تر څنګ دي، پر ما وياړي." نوموړې زياته کړه، په ټولنه کې په کار کولو سره کوښښ کوي، څو له ديني احکامو او اصولو، له قران او شريعت نه په ګټې له هغو کسانو سره مرسته وکړي چې ظلم ورباندې شوی، څو هغوی هم په خپل ژوند کې پر برياليو انسانانو بدل شي او خپلو مشخصو موخو ته ورسېږي. د هغې په وينا، کله چې هم له ښځو سره ظلم او تاوتريخوالی کېږي، په لومړي سر کې بايد ورته حل لاره وموندل شي، کله چې کومې پايلې ته نه رسېږي نو حقوقي بنسټونو ته په مراجعه کولو سره بايد خپله ستونزه حل کړي. بشرا د دې پوښتنې په ځواب کې چې په افغانستان کې تر ډېره هغه مېرمنې، څو له ظلم خلاصې شي نو ځان وژنې ته مخه کوي، ايا د هغې په ذهن کې هم کومه داسې کار رامنځته شوی؟ زياته کړه: "عاقل انسان هېڅکله هم ځان نه وژني؛ ځکه له هرې ستونزې د وتلو لپاره يوه حل لاره شته او زما د ژغورنې حل لاره هم له ظالم څخه جلا کېدل و...که چېرې مې ځان وژنه کړې وای، له دنيا به حرامه تللې وم، نه مې دنيا په خپل لاس کې اخيستی شوه او نه هم اخرت، ما داسې يو کار وکړ، څو خلکو ته ثابته کړم چې له يوه لواطت کار انسان سره ژوند نه کوم؛ ځکه که چېرې څوک پوهېږي، پوه دې شي، ګنې خدای خو پوهېږي."

**د افغانستان د بشري حقونو کمېسيون څرګندونې:**

د بشري حقونو خپلواک کمېسيون د ښځو برخې کمېشنرې ثريا صبحرنګ وويل، بچه بازي پر دې سربېره چې يوه منفوره پديده ده، حساسيت پاروونکې هم ده او په دې برخه کې خصوصي شکايت کوونکې نشته، د بچه بازۍ ډېری اعمال پټېږي او هېڅوک هم نه غواړي چې په دې اړه شکايت وکړي، خو د ياد کمېسيون راپورونه ښيي چې دغه پديده په ټول افغانستان کې له کومې استثنا پرته شتون لري. خو دې وويل، د موضوع د حساسوالي له امله نه شي کولی چې دغه موضوع له رسنيو سره شريکه کړي.
هغې زياته کړه، د امنيت نه شتون، د قانون کمزوری حاکميت، له مجازاتو د معافيت او پراخ اداري فساد موجوديت د يادې پديدې د پراختيا لپاره زمينه برابره کړې ده. د نوموړې په وينا، کومې سيمې چې نا امنه دي، هلته بيا پيسې او ټوپک حاکم دي، بچه بازان هم د هغو کسانو له ډلې دي چې پيسې او واک لري او يو شمېر نور بيا په ټيټه دولتي کچه هم په دې اړه له خپل دولتي واکه ګټه اخلي. صحبرنګ وويل، ۹۹،۹ سلنه هغه کسان چې

په بچه بازۍ بوخت دي، د دولت تر کنټرول لاندې سيمو کې ژوند نه کوي؛ ځکه پيسې، زور او ټوپک لري او هېڅوک يې هم پر وړاندې شکايت نه شي کولی.
هغې زياته کړه: "بچه بازي د يو شمېر کسانو لپاره پر عادت بدله شوې او کومه څېړنه مې چې ترسره کړه، نو دې پايلې ته ورسېدم ډېری هغه کسان چې مخکې پرې بچه بازي کېده، نن هغوی بچه بازان شوي؛ ځکه هغه مهال يې غرور او انساني کرامت له منځه تللی او د غلامانو په څېر ژوند يې کړی، نه يې ازادي، نه يې تحصيل او نه هم کار درلود، له همدې امله عقده يي شوي او په يو نه يو ډول له ماشومانو او تنکيو ځوانانو انتقام اخلي." نوموړې د مېرمن بشرا کيسې له اورېدو وروسته د نارينه د حاکميت تاوتريخوالي قرباني وبلله او زياته يې کړه، په لومړيو کې د يادې مېرمنې واده په جبري توګه له داسې يوه کس سره شوی چې له ټولنيزه اړخه له يوه بل سره ډېر توپير لري.
د صبحرنګ په وينا، که څېړې د يادې مېرمنې کورنۍ د کوژدې پر مهال د هغو نيمګړتياوو له امله چې د هغې مېړه درلودې، ياده اړيکه له منځه وړې وای؛ په ډېرې اسانۍ سره يې دغه کار ترسره کولی شو؛ ځکه مهر نه و ټاکل شوی او نکاح هم نه وه شوې. صبحرنګ مېرمن بشرا يوه تکړه او باجرئته مېرمن وبلله، له مېړه يې د هغې د جلا کېدو عمل وستايه او د خپلو خبرو په دوام يې وويل، د يادې مېرمن ژوند بايد په يوې رسالې کې وکښل شي، تصويري شي او فلم پرې جوړ شي؛ ځکه يوه ډېره کم پيدا سوژه ده چې د يوې پياوړې افغان مېرمنې دريځ ښيي او نورو ځوانانو ته يو لوی درس ګرځي چې هغه د ظلم پر وړاندې درېدلې او نن پر يوې پياوړې مېرمنې بدله شوې ده.

**ديني عالمان: د مېرمن بشرا کړنه د ستايلو وړ ده**

د افغانستان د عالمانو شورا غړي شمس الرحمن فروتن وويل چې بچه بازي يو ناوړه او له شرمه ډک عمل دی چې د اسلام سپېڅلي دين له نظره تر دې حده حرام او غندل شوی چې يو شمېر عالمانو تر زنا بدتره ښودلی دی. نوموړي زياته کړه: "دغه ناوړه عمل له لوط قومه پاتې دی چې خدای پاک د لوط قوم د همدغه ناوړه او بد عمل له امله تباه او برباد کړ." فروتن د مېرمن بشرا په اړه وويل، د اسلام له اړخه د يادې مېرمنې ګام ډېر پر ځای او د ستايلو وړ دی؛ ځکه د مېړه هغه اخلاق چې مېرمنې ته هم د زيان رسولو لامل کېږي، نو ښځه ترې د خلع او جلا کېدو غوښتنه کولی شي. نوموړي وويل چې د هغې دغه کار نورو هغو کسانو ته هم يوه بېلګه ده چې په دې ډول اعمالو لاس پورې کوي.

**په قوانينو کې د بچه بازۍ منعه او مخنيوی**

د بشري حقونو خپلواک کمېسيون د ښځو برخې کمېشنرې صبحرنګ وويل: "هغه ملي څېړنه چې د بچه بازۍ د مخنيوي لپاره مو په ټول افغانستان کې ترسره کړې، دې پايلې ته رسېدلي يو چې دغه پديده تر اوسه په قانون کې د جرم په توګه نه ده پېژندل شوې او له همدې امله د پوليس او څارنوال لاس تړلی دی او قانوني واک نه لري، څو د بچه بازۍ مخنيوی وکړي." خو هغې څرګنده کړه، د اوسنيو قوانينو پر بنسټ، لواطت يو جرم دی او کوم کسان چې دغه ډول عمل ترسره کوي، بايد قانوني سزا ورکړل شي.
صبحرنګ څرګنده کړه چې د بشري حقونو خپلواک کمېسيون شاوخوا اته مياشتې وړاندې له بېلابېلو بنسټونو د جوړې شوې کمېټې پر بنسټ د بچه بازۍ د مخنيوي يوه مسوده ترتيب کړه، وروسته يې يوه کاپي عدليې وزارت او بله يې د ولسمشرۍ مانۍ د چارو ادارې ته وسپارله. نوموړې زياته کړه، کله چې ياده مسوده اړوندو بنسټونو ته وسپارل شوه، پر جزايي کوډ يې خبرې روانې وې او د مسودې ټولې جزايي برخې د جزا په کوډ کې شاملې شوې چې د ولسمشر له لوري د تقنيني فرمان د نه صادرولو او يا هم ملي شورا ته د قانوني پړاوونو د تېرولو په موخه، له سپارلو سره تر اوسه پورې د بچه بازانو پر وړاندې کوم ګام نه دی پورته شوی.
د عدليې وزارت د تقنين مشر عبدالمجيد غني زاده وويل چې تر اوسه پورې په هېواد کې د بچه بازۍ د مخنيوي په موخه کوم مشخص او نافذ قانون شتون نه لري، خو په دې وروستيو کې د قانوني پړاوونو د تېرېدو په موخه د

بشري حقونو خپلواک کمېسیون له لوري د بچه بازۍ د مخنیوي لپاره یوه قانوني طرحه رالېږل شوې ده. نوموړې زیاته کړه، د یادې طرحې په را رسېدو سره "له ماشومانو د ملاتړ قانون او د جزا کوډ" تر کار لاندې و او د بچه بازۍ عمل د مخنیوي حکمونه له ماشومه د ملاتړ قانون په مسوده کې ځای پر ځای شوي؛ ځکه د عدلیې وزارت نه غواړي چې په دې تړاو جلا قانون ولري. د عدلیې وزارت د تقنین مشر څرګنده کړه چې د هلک ګډول، د هلک ساتل، د بچه بازۍ د محفلونو ترسره کول، د بچه بازۍ په ناستو کې ګډون او له دوی سره استراحت ځیني هغه موارد دي چې له ماشوم څخه د ملاتړ په قانون او جزایي کوډ کې ځای پر ځای شوي چې هر یوه ته یې جلا زندان په پام کې نیول شوی دی.

نوموړي زیاته کړه چې له ماشوم څخه د ملاتړ قانون او جزا کوډ په برخه کې د حکومت اراده ډېره مهمه ده؛ ځکه یاد قانون نهایي شوی او د ۱۳۹۵ لمریز کال د کب میاشتې تر پنځلسمې نېټې پورې ولسمشر کولی شي چې د یوه تقنیني فرمان په صادرولو سره هغه نافذ کړي، له هغه پرته د دغه قانون مسوده به د ملي شورا له لارې په یوه عادي پروسیجر کې تصویب شي او له هغه وروسته به د ولسمشر له لوري توشېح او بیا نافذ شي.

د بچه بازۍ په اړه د پژواک د پورته راپور تعقیبي راپور:

## بشرا د ځان په څېر قربانیانو مدافع جوړه شوې



*محمد حلیم کریمي — Nov 23, 2017*

کابل (پژواک، ۲ لیندۍ ۹٦): د یوې افغان مېرمنې له غمه د ډک ژوند داستان خپرول چې د انساني قاچاق قرباني شوې وه، عدالت ته د خلکو د لاسرسي او له یادې پدیدې سره د مبارزې لپاره پرېکړه جدي کړې او اوس یې د وکالت جامې پر تن کړې دي.

پژواک خبري اژانس د ۱۳۹۵ کال د کب میاشتې په دویمه نېټه د "بشرا د یوه رایج او ناوړه فرهنګ ربېنه له منځه یووړه" تر نامه لاندې د یادې مېرمنې د ژوند په اړه راپور خپور کړ چې د ډېرو رسنیو غبرګونونه یې له ځان سره درلودل، تر دې چې ځینو بهرنیو موسسو له یادې مېرمنې سره مرکو ته ور ودانګل.

د بشرا (مستعار نوم) د ژوند داستان په ګوته کوي چې له بېلابېلو ټولنیزو فشارونو سره سره یوه ځوانه افغان مېرمن د ناوړه او مروج فرهنګ پر وړاندې د خپل غبر په پورته کولو سره له یوه ظالمه ځان ژغوري. د یادې مېرمنې مېړه له یوه ١٤ کلن هلک سره نامشروع اړیکه درلوده، له نورو ډېرو نجونو سره یې هم اړیکې درلودې، خو له ډېرو هڅو سره-سره یې خپل مېړه د دین خلاف او له ناوړه عملونو را ونه ګرځاوه. هغې په پایله کې د ۱۳۸۹ لمریز کال په وروستیو کې د قومي جرګې په منځګړتوب له خپل مېړه طلاق واخیست.

بشرا وویل، په خدای یې توکل وکړ او له مېړه څخه یې طلاق واخیست، ځان یې کمزوری ونه باله او پرېکړه یې وکړه چې د دې ډول غیر اسلامي او غیر انساني عمل پر وړاندې به مبارزه کوي. بشرا چې شاوخوا ۳۳ کاله مخکې د مزارشریف ښار کې زېږېدلې، زیاته کړه چې له طلاق اخیستو وروسته یې له هغو کسانو د دفاع لپاره ملا را ونغښتې چې له ظلم او تاوتریخوالي سره مخ دي او په همدې موخه یې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې ځان شامل کړ او د قضا او څارنوالۍ په برخه کې یې د لیسانس سند ترلاسه کړ. هغې وویل چې د پژواک له لوري

یې د ژوند په اړه له داستان خپرېدو وروسته ډېر جرئت ورکړ، څو د پخوا په پرتله څو ځلې ډېر د هغو کسانو په اړه غږ پورته کړي چې قاچاق او جنسي ګټه ترې اخیستل کېږي. بشرا له پژواک سره په خپلو وروستیو څرګندونو کې وویل: "د پژواک خبري اژانس له لارې زما د تریخ ژوند د داستان خپرولو ما ته نور ډېر ځواک راکړ، څو د خپل ځان په څېر قرباني شوو مېرمنو او ماشومانو د حقونو لپاره مبارزه وکړم، زما د ژوند کړاوونه ما دې ته اړ باسي چې زما په شان د قرباني شوو کسانو د له لاسه وتلو حقونو د ترلاسه کولو په موخه لکه د ځان لپاره داسې دفاع کوم."
هغې زیاته کړه: "افغانستان کې له بده مرغه، په داسې حال کې چې د نامطلوبه ګڼ ژوند پای ته رسول شرم ګڼل کېږي او له مېړو جلا شوو ښځو ته په بده سترګه کتل کېږي، خو زما په باور د ژوند یوه با عزته او ازاده ورځ؛ له کلونو ذلت لرونکي ژونده بهتر ده." هغې څرګنده کړه، د نوموړې په اړه د پژواک راپور مثبتو غبرګونونو دا ثابته کړه چې د هغې پر وړاندې د خلکو لید مثبت دی. بشرا وویل چې دغو مثبتو غبرګونونو هغې ته ډېر جرئت ور وباښه او شاوخوا پنځه میاشتې وړاندې یې د افغانستان د وکیلانو ټولنې په ازموینه کې چې په بلخ کې د حقوقو پوهنځي له ۱۵۰ فارغینو اخیستل کېده، ګډون وکړ چې په لوړو نومرو ورته بریالۍ شوه.
نوموړې د افغانستان د مدافع وکیلانو ټولنې د جواز په ترلاسه کولو سره اوسمهال د بلخ ولایت په یوه حقوقي-مشورتي ټولنه کې دنده ترسره کوي. بشرا وویل، که چېرې مدافع وکیل د خپل موکل د حقونو ترلاسه کولو لپاره مبارزه او استدلال وکړی شي، ځیرکتیا او مېړانه ولري او د خپل موکل د له لاسه وتلو حقونو د ثابتولو لپاره هلې ځلې وکړي؛ له شک پرته مدافع وکیل به ګټونکی وي. هغې څرګنده کړه، وکالت کې ځان ډېر ارام او ځواکمن احساسوي؛ ځکه د هغې هلې ځلې د هغو کسانو ژوند ژغوري چې له کړاوونو او بدبختیو ډک دی. د هغې په وینا، تر اوسه له پنځو میاشتو کمه موده کې ورته ۱۵ دوسیې چې "د زیان جلاوالي، د عیب جلاوالي او تاوتریخوالي" له امله رامنځته شوې؛ ورکړل شوې دي. بشرا وویل چې پر یادو دوسیو کار روان دی او نوموړې په دې برخه او له مظلومو کسانو څخه د دفاع په حالت کې د ارامۍ احساس کوي؛ ځکه یو مهال خپله هم د دې ډول پېښې قرباني وه. هغې زیاته کړه، په دې موده کې د کورني تاوتریخوالي دوه دوسیې (له کوره د یوې نجلۍ تېښته) او (د یوه سړي پر وړاندې تاوتریخوالی) د دې په منځګړتوب حل شوي دي.
بلخوا د بشرا موکلین هم د هغې هلې-ځلې ستایي؛ ۲۲ کلنې منیژې چې شاوخوا پنځه کاله مخکې په زور یوه کس ته کوژده شوې، له بشرا غوښتنه کړې چې له یاد کس سره د هغې کوژده له منځه یوسي. هغې زیاته کړه، بشرا په ډېر صمیمیت، رښتینولۍ او مهربانۍ سره د خپلو موکلینو کار ترسره کوي او دوسیه یې په ډېر صداقت سره پر مخ وړي.
په بلخ ولایت کې د یوه حقوقي- مشورتي ټولنې بنسټ ایښودونکی چې اوسمهال بشرا هم په یاد بنسټ کې کار کوي؛ وایي چې بشرا یوه ځواکمنه او ځیرکه وکیله ده او د خپل کار له پیل (شاوخوا پنځه میاشتې) راهیسې په رښتینولۍ او صداقت سره بېلابېلې جزایي او کورنۍ دوسیې مخې ته وړې دي.

## ۳۰- د جګړو په لیکو کې د ماشومانو استخدامول

د جګړې لپاره د ماشومانو استخدامول د انساني قاچاق یوه برخه ده او دغه کار له ماشومانو سره ظلم او جبر دی. که څه هم په تېرو څو کلونو کې د جګړې لپاره د ماشومانو د ګومارنې کچه ټیټه شوې ده خو اوس هم د جګړو په لیکو کې ماشومان تر سترګو کېږي چې دغه کار د انساني قاچاق بله بڼه ده. که څه هم افغان حکومتي چارواکو په وار وار ویلي چې د ماشومانو له حقونو په کلکه دفاع کوي، خو بیا هم له ۱۸ کلنۍ مخکې یو شمېر نوي ځوانان د جګړو په لیکو کې ګومارل کېږي او مافیایي کړۍ یې بیا له وژل کېدو وروسته د هغو په نوم امتیازات ترلاسه کوي. دغه راز ځیني وسله وال مخالفین مدني قوانینو او د ماشوم حقونو ته هېڅ احترام نه لري؛ نو ځکه یې په لیکو کې په ښکاره ډول ماشومان لیدل کېږي.

د افغانستان په څلور لسیزه جګړه کې له ماشومانو په جګړه کې کار اخیستل شوی او په دې وروستیو کلونو کې هم د امنیتي ځواکونو او هم د طالبانو په لیکو کې یو شمېر ماشومان لیدل شوي دي. ځیني وختونه په دغو لیکو کې هم پر ماشومانو جګړې کوي او تر څنګ یې دغه ماشومان له جنسي ځورونو سره هم مخ کېږي. یو ماشوم چې له ځواکونو او یا وسله والو ډلو سره یو ځای شوی، عبارت له هر هغه ماشوم څخه دی چې عمر یې له ۱۸ کلونو کم وي او د هر هلک او نجلۍ په ګډون چې د سرتېري، اشپز، جوالي، پیغام رسوونکي، جاسوس او یا د جنسي مقصد په موخه د وسله والو ډلو او امنیتي ځواکونو له لوري ګومارل شوی وي. دا په هغو ماشومانو پورې منحصر او تړلی نه دی چې په مستقیم ډول جګړې ته بیول شوی او یا په جګړه کې ګډون کوي.

د سرتېرو په توګه د ماشومانو پر دنده ګومارل د انساني قاچاق یو بېسیاری او افراطي مظهر دی چې ماشومان په زور او جبر یا درغلۍ سره د جګړې په سیمو کې د فزیکي کار یا جنسي خدمت لپاره ګومارل کېږي. ډېری ماشومان تښتول کېږي او وروسته بیا د جنګیالیو په توګه کارول کېږي. دغه راز ځیني په نا قانونه توګه اړ ایستل کېږي چې د جوالي، اشپز، ساتونکي، مستخدم، امر وړونکي، جاسوس او نورو په توګه کار وکړي، ډېر شمېر پېغلې نجونې هم اړ ایستل کېږي چې له جنګیالیو سره واده یا له هغو سره جنسي مقاربت وکړي چې له امله یې د نا غوښتلې حاملګۍ له ګواښ سره مخ کېږي.

نارینه او ښځینه ماشوم سرتېري ډېری وخت تر جنسي استثمار لاندې راځي او د هغو ناروغیو له ګواښ سره مخ وي چې د جنسي اړیکو له لارې لېږدي.دا د مور او پلار مسوولیت دی چې پر خپلو ماشومانو تعلیم وکړي، دغه راز هغوی نېکو او غوره کارونو ته را وبولي او له وسله والو ډلو سره د خپلو اولادونو له یو ځای کېدو یې مخنیوی وکړي. مور او پلار مکلف دي چې خپلو ماشومانو ته نفقه او د سالم تربیت لپاره ورته زمینه، وسایل او د تعلیم او تربیې محیط ورته برابر کړي، نه دا چې هغه له یو داسې محیط سره مخ شي چې هغه د دوی د صحت او سلامتیا لپاره زیان ورسوي، خو ډېری وخت کورنۍ پوه نه وي، ماشومان یې د جګړو په لیکو کې داخل شوي او ان وژل شوي چې بیا ځینې کورنۍ د خپلو ماشومانو مړي له څو ورځو او میاشتو وروسته پیدا کوي. خو ځیني کورنۍ بیا د عمر تر وروستیو له دې نه خبرېږي چې ماشوم زوی یې د جګړو په لیکه کې د سرتېري په توګه وژل شوی دی.

دغه راز په جګړو کې د ماشومانو ونډه اخیستنه او مور او پلار یې له دغه کاره په مخنیوي کې پاتې راتلل د قران کریم د اصولو او د پیغمبر له سنتو سره په مغایرت کې دي. اسلامي قوانین د شخړو د قانون د تشخیص او اصولو سره مطابقت لري، پر دې اساس د قانوني او غیر قانوني موخو تر منځ توپیر څرګندوي، په ملکي وګړو او د ملکي وګړو پر شتمنیو بریدونه د وسله والو شخړو په ټولو حالاتو کې منعه دي؛ په همدې موخه اسلامي شریعت د ښځو، ماشومانو او ملکي خلکو پر خلاف بریدونه منعه کړي؛ ځکه هغوی د ټولنې زیانمنونکی قشر دی او ان هغوی له خپل ځانه د دفاع توان نه لري.

سربېره پر دې دا هغه خلک دي چې تل يې په شخړو کې فعاله ونډه نه ده لرلې، له همدې امله په وسله والو جګړو کې د ماشومانو ونډه اخيستل د تشخيص بنيادي اصول تر پښو لاندې کوي. په جګړو کې مستقيمه ونډه اخيستونکو کسانو ته هم يو شمېر مسووليتونه ور له غاړه وي خو ماشومتوب داسې دوره ده چې په هغه کې ماشومان د دغو مسووليتونو د منلو او سرته رسولو توان نه لري. سربېره پر دې که د اسلام مبين دين ته وګورو، ماشومان يې ان پر لمانځه نه دي مکلف کړي او که دوی د کوم جرم مرتکب کېږي هغوی ته مجازات نه متوجه کېږي نو په همدې دلايلو له ديني عالمانو سره تل دا پوښتنه موجوده ده چې څرنګه توجيه کېدای شي چې ماشومانو ته په جګړو کې د برخې اخيستو اجازه ورکولای شي؟ په داسې حال کې چې دا د دوی د فزيکي، روحي او رواني تربيت او ودې ته هم زيان رسوي.

د پيغمبر صلي الله عليه وسلم د وينا په سنن ابي داود کې علي ابن طالب روايت کړی، راغلي دی: قال رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم رفع القلم عن ثلاثه، عن النائم حتى يسيقظ، و عن الصبى حتى يحتلم و عن المجنون حتى يعقل.

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: له دريو کسانو څخه مسووليت اخيستل کېږي، څوک چې په خوب ويده وي، تر هغه چې ويښ شي، ماشوم تر هغه چې بلوغ ته رسيږي او لېونی تر هغه چې جوړ شي.

د پورته حديث شريف له مخې، درې کسان چې څه کړنه ترسره کوي، مسووليت يې هغوی ته نه راجع کېږي (ماشومان، هغه څوک چې په خوب ويده وي او لېوني. د دغه تفسير پر اساس تر هغه چې يو ماشوم د خپلو کړنو پر وړاندې مسووليت نه لري، نه بايد د يو جنګيالي په توګه د جنګي ډلو له خوا وګومارل شي.

پيغمبر عليه السلام د بدر په غزا کې ماشومانو ته د ګډون اجازه ورنه کړه او د سيرت نبوي في زوايل قران د دويم ټوک په ۱۹۰ مخ کې راغلي چې پيغمبر عليه السلام پنځو ماشومانو ته د احد په غزا کې د ګډون اجازه ور نه کړه.

د افغانستان اساسي قانون فردي ازادۍ ته درناوی لري او له اساسي قانون سره سم ټول ملي قوانين چې د ماشومانو پر حقونو پورې اړوند دي، د ماشومانو پر ازادۍ او ساتنې متمرکزه دي. کم عمر چې د افغانستان د ملي اردو په ليکو کې د شاملېدو لپاره د جمهوري رياست په فرمان کې راغلي، له نړيوالو منل شوو معيارونو څخه اوچت دي، د نړيوالو معيارونو له مخې، په ملي نظامي قوتونو کې د شموليت لپاره لږ تر لږه ۱۸ کلنی عمر په پام کې نيول شوی دی.

د اساسي قانون د ۴۹ مې مادې له مخې، د اجباري کار تحميل منعه دی. د جګړې، افتونو او په نورو داسې حالاتو کې چې عامه ژوند او هوساينه وګواښي، فعاله برخه اخيستنه د هر افغان ملي وجيبه ده. پر ماشومانو د کار تحميل جواز نه لري. هغه قواعد چې ماشومان بايد په وسله والو ځواکونو او ډلو کې ونه ګومارل شي يا ماشومانو ته په جګړو کې د ګډون اجازه ورنه کړل شي، د نړيوالو عرفي قوانينو له لارې تنظيمېږي چې هغه په نړيوالو او نا نړيوالو شخړو کې پر دولتي قواو او غير دولتي ډلو باندې يو ډول د تطبيق وړ دي.

د بشري حقونو په تړونونو او مقرراتو کې په جګړو کې د برخې اخيستو لپاره لږ تر لږه اتلس کاله عمر ټاکل شوی دی. د افغانستان دولت د ماشومانو د حقونو د اختياري پروتوکول له کنوانيسون سره خپل الحاق د ۲۰۰۲ زېږديز کال د ډسمبر په مياشت کې کړی دی. سربېره پر دې اختياري پروتوکول ياغيان او نورې نادولتي وسله والې ډلې، د هر ډول شرايطو پر مهال په جګړو او د ګټې اخيستنې په نورو برخو کې له ۱۸ کلنۍ څخه د ټيټ عمر کسانو له ګومارنې منعه کړې ده. په جګړو کې د ښکېلو ماشومانو د حقونو د اختياري پروتوکول د ۲۰۰۰ زېږديز کال کنوانسيون چې افغانستان د ۲۰۰۲ کال د سپټمبر په ۱۹ مه ورسره الحاق شوی په ۳مه ماده کې يې راغلي:

۱- ټول غړي هېوادونه باید د ماشومانو لپاره په نظامي یا ملي ځواکونو کې د شمولیت عمر حد اقل د ماشومانو د حقونو تړون له ۳۸مې مادې سره برابره کړي. دغه ماده د غړو هېوادونو له حکومتونو غواړي چې باید له ۱۸ کلنۍ کم عمره ماشومانو د ساتنې لپاره اړین اجراات ترسره کړي.

د دغه پروتوکول په ۴مه ماده کې راغلي:

۱- هغه وسله والې ډلې [....] چې د دولت له وسله والو ځواکونو بېل فعالیت کوي، باید په هېڅ ډول شرایطو کې له ۱۸ کلونو څخه کم عمره ماشومان د جګړې لپاره ونه ګوماري.

۲- غړي هېوادونه مکلف دي د داسې ماشومانو د ګومارنې او استعمال په خلاف ټول ممکنه اقدامات ترسره کړي، په ځانګړې توګه د قانون وضع کولو له لارې د دې کار ممانعت وکړي او دغه ډول کړنې د یو جرم په توګه وپېژني.

۳- د دې مادې اجرا به د هغه غړي دولت پر قانوني وضعیت چې د جګړې په حال کې دی، اغېز ونه لري.

له وسله والو ځواکونو او ډلو سره د ماشومانو د ملتیا د ۲۰۰۷ زېږدیز کال د پاریس اصولو په ۲/۱مه ماده کې راغلي: "له وسله والو ځواکونو او ډلو سره د یوه ماشوم یو ځای کېدل عبارت له هغه هلک یا نجلۍ څخه دی چې عمر یې له ۱۸ کلونو څخه کم وي، د جنګېدو، اشپزۍ، جوالیتوب، پیغام رسولو، جاسوسۍ او جنسي موخو لپاره د وسله والو ځواکونو یا ډلو له خوا ګومارل شوی یا ترې ګټه اخیستل شوې وي. دا یوازې په هغو ماشومانو پورې محدود نه دي چې په جګړو کې یې مخامخ برخه اخیستې وي یا یې اخلي."

د جګړو په لیکو کې د ماشومانو د استخدام په اړه د پژواک راپور:

**ځینې کړۍ کم عمره ځوانان د پولیسو لیکو ته جذبوي او له وژل کېدو وروسته یې په نوم امتیازات اخلي**




*اباسین زهیر او احمدشاه عرفانیار — Mar 31, 2018*

کابل (پژواک، ۱۱ وری ۹۷): د پژواک موندنې ښيي چې یو شمېر مافیایي کړۍ د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې د امتیازاتو لپاره پر جعلي اسنادو تنکي ځوانان د پولیسو په لیکو کې ګوماري چې ډېری یې بیا د تجربې نه لرلو له امله ژر وژل کېږي. که څه هم افغان حکومتي چارواکو په وار وار ویلي چې د ماشومانو له حقونو په کلکه دفاع کوي، خو بیا هم له ۱۸ کلنۍ مخکې یو شمېر نوي ځوانان د جګړو په لیکو کې ګومارل کېږي او مافیایي کړۍ یې بیا له وژل کېدو وروسته په نوم امتیازات ترلاسه کوي.

د افغانستان د مدني قانون د ۳۹مې مادې له مخې، د بلوغ یا ودې عمر ۱۸ کاله ټاکل شوی او له دغه عمر مخکې کسان ماشومان ګڼل کېږي. دا په داسې حال کې ده چې افغانستان په ۲۰۱۱ زېږدیز کال کې له ملګرو ملتونو سره

یوه عملیاتي برنامه هم لاسلیک کړه چې له مخې یې افغان حکومت اړ دی چې د ماشومانو له حقونو دفاع وکړي او د جګړو په لیکو کې د شاملېدو مخه یې ونیسي. د دغو کسانو له ډلې چې په کم عمر کې د پولیسو په لیکو کې شامل شوی، یو هم د کونړ د وټه پور ولسوالۍ اوسېدونکی بلوڅ د عرفان الله زوی و. له بلوڅ سره ډېره عجیبه او دردناکه لوبه شوې وه چې په ترڅ کې یې خپل ژوند د دندې په لومړۍ ورځ له لاسه ورکړی او کورنۍ یې اوسمهال له ګڼو نورو ستونزو سره مخ ده.

د ترلاسه شوو اسنادو له مخې، یو شمېر مافیایي کړۍ د بلوڅ له پاکو احساساتو ګټه پورته کوي، دی هڅوي څو د پولیسو په لیکو کې دنده واخلي. بلوڅ د ۱۳۹٦ لمریز کال د سلواغې په لومړۍ اوونۍ کې له خپلې کورنۍ پټ د پولیسو په لیکو کې د دندې اخیستو په موخه د کونړ پولیسو ته مراجعه کوي او د قانوني عمر له پوره کېدو مخکې د یوې ورځې په اوږدو کې د پولیسو په لیکه کې پر دنده ګومارل کېږي او په همدې ورځ په غزني کې د جګړې لومړۍ کرښې ته تر استولو وروسته، په لومړۍ شپه د طالبانو په برید کې وژل کېږي.

**د پولیسو په لیکو کې د ګومارنې شرایط:**

د پولیسو د ذاتي قانون په پنځمه ماده کې د پولیسو د ګومارنې په اړه بشپړ وضاحت راغلی چې دلته یې ځینو مهمو ټکو ته اشاره شوې ده. په دې ماده کې راغلي، هغه شخص د جدید التقرر افسر یا ساتمن په توګه منل کېدای شي چې د ۱۸ کلنۍ عمر یې پوره کړی وي. د همدې مادې په څلورمه او پنځمه فقره کې راغلي چې جدیدالشمول کس باید له روحي او جسمي پلوه پیاوړی وي. دغه راز د کورنیو چارو وزارت د پولیسو ګومارنې په لایحه کې راغلي، هغه شخص د نوي ګومارل کېدونکي افسر یا ساتمن په توګه منل کېدای شي چې په هېواد کې دننه یا بهر له دوولسم ټولګي فارغ وي. د کورنیو چارو وزارت د لایحې له مخې، د پولیسو په لیکو کې د ګومارنې لپاره داوطلب کس باید د کانکور ازموینې له لارې معرفي شي، داوطلب کس باید د اوږدې مودې لپاره د پولیسو په لیکو کې د کار کولو لپاره ژمن وي او د هېواد ټول قوانین باید مراعات کړي.

**ضمانت کوونکي:**

د پولیسو په لیکو کې د ګومارنې د اصولو له مخې، کله چې یو کس د پولیسو په لیکو کې شاملېږي؛ نو دوه تنه یې باید ضمانت وکړي چې برحاله د پولیسو په لیکو کې دنده لري. د ترلاسه شوو اسنادو له مخې، د بلوڅ ضمانت، بهادر د عبدالقیوم زوی او قریش الله د محمد صادق زوی په نومونو دوو کسانو کړی و؛ په ضمانت پاڼه کې لیکل شوي چې د دویم بریدمن بهادر دنده د هلمند ولایت د ناوې ولسوالۍ د پولیسو په لیکو کې ده. خو د ناوې ولسوالۍ حکومتي چارواکو پژواک ته وویل چې دویم بریدمن بهادر له دوی سره دنده نه لري، خو دوه کاله وړاندې د ساتمن بهادر په نوم یو بل کس په دې ولسوالۍ کې دنده ترسره کوله چې د وسله والو طالبانو په برید کې ووژل شو.

د بلوڅ دویم ضمانت کوونکي ساتنمن قریش الله د دندې د ځای په اړه په فورمه کې هېڅ ډول معلومات نه دي ورکړل شوي؛ خو په دې فورمه کې د قریش الله له قوله لیکلي شوي: "زه د محترم عرفان الله ولد بلوڅ له اهلیت او شخصیت څخه ضمانت کوم." په داسې حال کې چې عرفان الله د بلوڅ زوی نه دی، بلوڅ د عرفان الله زوی دی؛ نو قریش د زوی پر ځای د پلار له اهلیت او شخصیت څخه ضمانت کړی دی.

**په تذکره کې جعل:**

کومو کسانو چې بلوڅ پر دنده ګومارلی، په تذکره کې یې لاسوهنه کړې ده او د هغه عمر یې دوه کاله ډېر لیکلی دی. بلوڅ په ۱۳۹٦ لمریز کال کې ۱۸ کلن شوی، خو په تذکره کې له ورایه ښکاري چې ۱۳۹٦ پر ۱۳۹٤ بدل شوی او پر دې اساس بلوڅ بیا ۲۰ کلن دی. خو پژواک د کونړ د وټه پور ولسوالۍ د نفوسو د احوالو د ثبت له مدیریت څخه د بلوڅ د تذکرې اصلي کاپي ترلاسه کړې ده؛ د تذکرې په وروستۍ برخه کې د اړوند مدیریت مسوول لیکلي چې بلوڅ په ۱۳۹٦ لمریز کال کې ۱۸ کلن شوی او بیا یې دغه خبره مهر او لاسلیک کړې ده.

**د بلوخ یوه ورځنۍ دنده:**
د ترلاسه شوو اسنادو له مخې، بلوخ د ۱۳۹۶ کال د سلواغې میاشتې په ۸مه په کونړ ولایت کې پر دنده ګومارل شوی او په همدې ورځ د غزني د اندړو ولسوالۍ د جمال کلا پوستې ته استول شوی و. په همدې شپه وسله وال طالبان پر یاده پوسته برید کوي چې د یو شمېر نورو سرتېرو تر څنګ بلوخ هم په کې وژل کېږي.
د اسنادو پر بنسټ، د ۱۳۹۶کال د سلواغې په اتمه کله چې بلوخ د ۱۲زره افغانیو په بدل کې پر دنده ګومارل کېږي، په همدې ورځ یې اعاشه حواله کېږي، د شپې چې وژل کېږي په سهار یې بېرته اعاشه بندیږي. په هغه مکتوب کې چې د بلوخ د وژل کېدو په اړه په کې لیکل شوي، د ځینو نورو سرتېرو نومونه هم شته چې له بلوخ څخه یوه ورځ وړاندې یا یوه ورځ وروسته وژل شوي دي. په دې کسانو کې د بدخشان اوسېدونکی مهرالدین د عبدالقادر زوی چې دنده یې د میدان وردګو په سیداباد ولسوالۍ کې وه خو وژل شوی په کابل کې دی، دغه راز د ننګرهار د اچین ولسوالۍ اوسېدونکي ادریس د ملک نازیاني زوی، د سرپل اوسېدونکي محمد اسلم او محمد عمر د سید احمد زامن او د لوګر اوسېدونکي میرحمزه د لاهور زوی د غزني په زنخان کې وژل شوي دي. د همدغه مکتوب له مخې د ننګرهار د اچین ولسوالۍ اوسېدونکي امان الله د مبین شاه زوی له بلوخ سره یو ځای په یوه پوسته کې وژل شوی دی.
**عرفان الله (د بلوخ پلار) عدالت غواړي:**
عرفان الله له بلوخ سره شوی کار داسې بیانوي: "زوی مې له کوره ورک شو، بېرته مو د هغه مړی پیدا کړ." هغه وايي: "زه په مسافرۍ کې وم، زوی مې څو ورځې ورک و، بالاخره ما ته احوال راغی، زه چې کله راغلم، نو زوی پسې مې ګرځېدل پیل کړل، یوه ورځ دوستانو راته زنګ وکړ چې ستا د زوی جسد د کابل د پولیسو په ۲۰۰ بستر روغتون کې پروت دی." دی وايي چې د زوی له مرګه یې دوه ورځې تېرې شوې وې، خو دوی پرې خبر نه وو چې مړ دی او نه هم حکومت احوال ورکړی و. عرفان زیاتوي چې د زوی د جنازې له مراسمو وروسته یې هلې ځلې پیل کړې څو ځان پوه کړي چې څرنګه یې زوی د پولیسو لیکو ته داخل شوی او څرنګه وژل شوی دی. هغه زیاتوي: "زه نه پوهېږم چې بلوخ اول چا تشویق کړ، خو زما زوی په کونړ کې اوسېده او د ننګرهار ښار یې هم نه و لیدلی، خو بیا یې سر غزني ته ووت او هلته پولیس شوی و، زه دې خبرې ښېخي حیران کړی یم."
عرفان الله وايي، له خپل ورور سره غزني ته ولاړ، څو د بلوخ د قضیې په اړه پلټنې وکړي. هغه زیاتوي: "د غزني له ټولو امنیتي چارواکو سره مو خبرې وکړې، چا راته سم ځواب نه راکاوه، ځینو راته یو شی او ځینو راته بل شی ویل، خو د امنیې قوماندانۍ مخې ته یو کس چې شخصي جامې یې پر تن وې، راته وویل چې الله ج دې د هغه شهادت قبول کړي." عرفان الله وايي: "څرنګه مې چې د دغه سړي خبرې واورېدې، نو پوه شوم چې فساد ټول په همدې کې دی، له ګرېوانه مې کلک ونیوه چې زوی مې تا وژلی، نه دې پرېږدم."
ده وویل، هغه سړي ځان له ده څخه خلاص کړ او په تلو تلو کې یې ورته وویل چې هو زوی دې ما وژلی لاس دې خلاص دی. نوموړی وايي چې د یادې موضوع په اړه یې عدلي او قضایي ارګانونو ته عریضې کړې، خو تر اوسه یې په اړه اقدام نه دی شوی. عرفان الله زیاته کړه: "د کورنیو چارو په وزارت کې مافیایي کړۍ ځای پر ځای شوې، نوي ځوانان پرته له کومې نظامي زده کړې د پولیسو په لیکو کې شاملوي، بیا د جګړې لومړۍ کرښې ته یې لېږي او هلته وژل کېږي، خو معاش او نور امتیازات بیا همدغه کسان ترلاسه کوي."
د بلوخ پلار وايي: "بلوخ خو په اووم صنف کې و، ۱٦ کلن و، نو زه حیران یم چې دا ماشوم یې څرنګه په پولیسو کې شامل کړی و." نوموړي له ولسمشر او نورو حکومتي مشرانو غوښتنه وکړه چې د کورنیو چارو په وزارت کې د دې مافیایي کړیو مخه ونیسي که نه د دېرو ځوانانو نوم او نښان به ورک شي.

دا یواځې بلوڅ نه دی چې له دې ډول قضیې سره مخ شوی، ډېر نور ځوانان هم دي چې له ورته برخلیک سره مخ شوي دي؛ له ورته پېښې سره د کابل ولایت د سروبي ولسوالۍ د جګدلګ سیمې ۱۵ ځوانان هم مخ شوي دي.

**احمد فهیم: په وړي نس یې جګړه راباندې کوله**

د دغو ځوانانو له ډلې یو کس ۱۷کلن احمد فهیم (مستعار نوم) دی چې له دوی سره د شوې پېښې په اړه یې پژواک ته معلومات ورکړي دي. احمد فهیم وایي چې شاوخوا څلور میاشتې مخکې د خان محمد (مستعار نوم) په نوم یو کس چې د دوی کلیوال دی او په کندهار کې دنده لري، ورته وویل چې د کندهار د عینو مېنې ښارګوټې د ساتنې لپاره ۱۵ کسانو ته اړتیا ده. هغه پژواک ته وویل: "موږ په کلي کې له وزګارتیا په تنګ شوي وو، دا راته ښه معلومه شوه چې ګواکې ښه کار راته پیدا شو، زما په څېر هلکان ژر ژر ولاړو او په سروبي ولسوالۍ کې مو ځان ته د ۱۸ کلنۍ تذکرې جوړې کړې او په سهار یې کابل ته راغلو."

دی وایي چې په سهار کندهار ته ولاړل او هلته د رحیم الله (مستعار نوم) په نوم د پولیسو د یوه قوماندان له ورور سره مخ شول. هغه زیاته کړه: "رحیم الله موږ ته وویل چې په دوو ورځو کې زه ستاسو کار خلاصوم، بیا د عینو مېنې د ساتونکو په توګه تاسو خپله دنده پیل کړئ." د هغه په وینا، رحیم الله دوی له دغه ځایه د شاهراه کنډک ته بوتلل او هلته یې څو ورځې په کانټېنر ډوله کوټه کې ساتلي وو.

احمدفهیم وایي: "دلته موږ ته شک پیدا شو، خپل کلیوال خان محمد ته مو زنګ وکړ چې دا موږ دې چا ته حواله کړي یو، هغه راغی، له رحیم الله څخه یې پوښتنه وکړه، رحیم الله ورته وویل چې هېڅ خبره نشته، زه یې کار خلاصوم." د هغه په وینا، لس ورځې یې په دغه ځای کې له رحیم الله سره تېرې کړې، خو ان د ټیلېفون د کارت اخیستلو لپاره هم بهر ته د تګ اجازه نه ورکول کېده. ده وویل: "په ۱۱مه ورځ یې موږ ته وویل چې تر ارغنداب پورې ځو، یوه پوسته ده هغه ګورو بېرته راځو، د ورځې یوه بجه مو حرکت وکړ، ناوخته هلته ورسېدو، طالبانو د اردو پر قرارګاه برید کړی و، موږ ۱۵ کسانو ته یې شپږ میله ولډنګ شوې وسلې، سره له یو یو شاجوره راکړې او ویل یې جنګ وکړئ، موږ چې هر څه وویل چې موږ خو کله جنګ نه دی کړی، زموږ خبره یې نه منله، د مرګ ګواښ یې راته وکړ او ویل یې چې ژر جنګ شروع کړئ، کنه موږ مو وژنو."

د هغه په وینا، د مجبورۍ له مخې یې جګړه وکړه خو له لږ ځنډ وروسته له دغه ځایه بیا د اروزګان چنارتو ولسوالۍ ته روان شول او هلته یې د یوې پوستې د ساتنې مسوولیت ورکړ. ده زیاته کړه: "کله چې پوستې ته ننوتلو، ګورو چې پوستې نوی سقوط کړی، هرې خوا ته کوپړۍ، ژامې، غوښې او هډوکي پراته دي، سخت وډار شوو، خو چاره مو نه درلوده." د هغه په وینا، له دغه حالت څخه د خلاصون په موخه پنځه کسان د اوبو په پلمه ښکته شول او وتښتېدل چې بیا هغوی یې کندهار کې ونیول او ډېر سخت یې وهلي وو چې بیا د چا لاس او د چا پښه مات وو، خو بیا یې بېرته اروزګان ته ولېږدول.

دی وایي چې د جګړې قومانده د نورالله (مستعار نوم) په نوم له یوه کس سره وه او ویل یې: "تاسو ټول پرې مړه کوم، ژوندي مو نه پرېږدم." احمد فهیم زیاتوي: "موږ په دې هڅو کې شوو چې له کور سره اړیکه ونیسو، له موږ سره څو د سلام سیمکارتونه وو، په ډېر مشکل موږ له پلار او کورنۍ سره تماس ونیو چې موږ خلاص کړي." هغه وایي، په دویمه شپه طالبانو بیا پر دوی برید وکړ چې په ترڅ کې دی او د ده ځیني نور ملګري ټپیان شول او بیا یې دی د کندهار حوزوي روغتون ته د درملنې په موخه راوست.

احمد فهیم وایي: "زما په څټ کې دغه نښه ګورې، دا زه د چنارتو په پوسته کې په مرمۍ لګېدلی یم." ده وویل: "زه نور نه پوهېږم چې زموږ مشرانو له چا سره اړیکې نیولې وې، خو ما پسې د کندهار شفاخانې ته راغلل او زه یې په پټه له هغه ځایه را و ایستم او کابل ته یې انتقال کړم." دی وایي چې د دوی له ډلې شپږ کسان بیا هم نورالله ساتلي وو او ویل یې چې دغه باید ورسره جګړې ته ولاړ شي، څو مړه شي.

**د سروبي ولسوالۍ د يوه قومي مشر څرګندونې:**
د اړوندې موضوع په اړه د سروبي ولسوالۍ يوه قومي مشر د نوم نه ښودو په شرط پژواک ته وويل چې د جګدلک سيمې ۱۵ نوي ځوانان په دوکې سره د جګړې لومړۍ کرښې ته بيول شوي وو. هغه وايي: "دغو هلکانو له ما سره اړيکې ونيوې چې په دې ډول يو جنجال کې ګير يو، ډېر يې وژړل او د وهلو کيسې يې هم کولې، نو ما ژر نور مشران پرې خبر کړل." د دغه قومي مشر په خبره چې د اړوندې موضوع په اړه يې د افغان ملت ګوند له مشر انوارلحق احدي، د کندوز له پخواني والي انور جګدلک، په ولسي جرګه کې د لوګر له استازي محمد اکبر ستانکزي، امنيت شورا او د کندهار له قومي مشرانو او نورو چارواکو سره اړيکې نيولې دي.
دی وايي: "موږ خپله يوه ډله کندهار ته ولېږله، هغوی هلته د کندهار د امنيې له قوماندان جنرال عبدالرازق او نورو سره اړيکې ونيولې او دغه هلکان چې د شاهراه له قوماندان نورالله سره وو، راخلاص مو کړل." هغه زياته کړه چې دغه نوي ځوانان دوی په داسې حال کې وموندل چې ډېر سخت وهل شوي او ځيني يې په جګړو کې ټپيان شوي هم وو.
هغه وايي: "دا د مافيايي کړيو له خوا يوه لويه دسيسه ده چې د ځوانانو لپاره يې جوړوي، څو په جګړه کې د وژل شوو سرتېرو معاش، اکراميه او ټوپک دوی ترلاسه کړي او خپل جېبونه پرې ډک کړي." دغه قومي مشر له ولسمشره غوښتنه وکړه چې د دغو مافيايي کړيو مخه ونيسي، کنه هېواد به له يو لوی بحران سره مخ شي.
**د وارث نه لرونکو هديره:**
د کندهار د سپين بولدک په سرحدي سيمه بالاحصار ته څېرمه د بې وارثانو په نوم يوه هديره ده چې ډېری خښ شوي کسان په کې امنيتي سرتېري دي؛ د دې هديرې په اړه په سپين بولدک کې يوې امنيتي سرچينې د نوم له اخيستو پرته پژواک ته وويل چې دغه هديره د بې وارثانو د هديرې په نوم يادېږي. هغه وايي: "څو کاله وړاندې چې زه دلته راغلم او وظيفه مې واخيسته، څو زاړه قبرونه وو، خو اوس تر زرو ډېر کسان په کې خښ دي." د ده په وينا، په دې هديره کې ډېری هغه کسان خښ دي چې د پوليسو په ليکو کې وو او د طالبانو له لوري وژل شوي دي خو وارثان يې نه دي پيدا شوي.
نوموړی وايي: "ځيني ځوانان غواړي چې د پاکستان له لارې ايران او يا هم نورو هېوادونو ته ولاړ شي، خو کله چې دوی پاکستان ته ولاړ شي او هلته يې پاکستاني پوليس ونيسي نو دوی بېرته رد مرز کړي، بيا د سپين بولدک له لارې افغانستان ته راځي او په هماغه سرحد کې يو شمېر پوليس دي چې دغو ځوانانو ته فورمې ډکوي او د پوليسو په ليکو کې يې داخلوي." د هغه په وينا، دغه ځوانان خو پر جګړه نه پوهېږي، نو د يوې مياشتې په اوږدو کې حتماً وژل کېږي نو بيا يې کورنۍ نه وي معلومې چې بيا په همدې هديره کې خاورو ته سپارل کېږي. خو بل لور ته د سپين بولدک ولسوالۍ اوسېدونکي، قومي مخور او امنيتي چارواکي وايي چې دغه هديره د "شهيدانو د هديرې" په نوم يادېږي او په ټوليزه توګه په کې هغه کسان خاورو ته سپارل کېږي چې په چاودنو او جګړو کې يې ژوند له لاسه ورکړی وي. د سپين بولدک يوه سپين ږيري حاجي عبدالشکور پژواک ته وويل، د شهيدانو په نوم دغه هديره د ولسوالۍ بازار ته څېرمه پرته ده او شاوخوا له ۸۰۰ تر ۹۰۰ کسان په کې خښ دي.
هغه زياته کړه، د ولسوالۍ اوسېدونکي په دې هديره کې خپل هغه کسان خاورو ته سپاري چې په جګړو او يا چاودنو کې يې ژوند له لاسه ورکړی وي. د سپين بولدک اوسېدونکی او د کندهار ولايتي شورا غړی حاجي نيازمحمد کاکوزي هم پژواک ته وويل چې دغه هديره د بې وارثو نه، بلکې د شهيدانو د هديرې په نوم يادېږي او د دې ولسوالۍ عمومي هديره ده.
په سپين بولدک کې د سرحدي پوليسو د کمېسارۍ يوه چارواکي چې نه يې غوښتل نوم يې ياد شي پژواک ته وويل، دا په بشپړه توګه ناسمې اوازې دي چې ګواکې د پاکستان له خوا د سپارل کېدونکو افغانانو له مجبوريت

دې نا سمه استفاده وشي او د پوليسو په ليکو کې وګومارل شي. هغه د پوليسو په ليکو کې د جلب او جذب پروسه رضاکارانه او دا يې يوه اوږده پروسه وګڼله چې څو پړاوونه لري.

**د جلب او جذب قوماندان: د پوليسو په ليکو کې شموليت ځان ته شرايط لري**

د پورتنيو اسنادو او څرګندونو په غبرګون کې د کورنيو چارو وزارت د جلب او جذب عمومي قوماندان پاسوال محمد شريف امين پژواک ته وويل چې يو کس له بايومتريک او استخباراتي څېړنو وروسته د پوليسو په ليکو کې شاملېږي. د هغه د معلوماتو له مخې، د پوليسو په ليکو نوی جذبېدونکی کس بايد لږ تر لږه له اتو تر ۱۲ اوونيو پورې پوځي زده کړې وکړي. هغه زياته کړه: "د پوليسو په ليکو کې له ۱۸ کلن کم عمره کسان موږ نه لرو."

امين د دې پوښتنې په ځواب کې چې د اکراميې، تنخوا او ځينو نورو امتيازاتو ترلاسه کولو په موخه يو شمېر کم عمره ځوانان د جګړې لومړۍ کرښې ته استول کېږي، وويل: "موږ خپل د شهيدانو چارو رياست له لوري اکراميه هغو کسانو ته ورکوو چې قطعه، غونډ، لوا او يا بله اړوند اداره يې د شهادت تصديق وکړي او د شهادت په اړه يې بايد ټول اسناد موجود وي." قوماندان امين مشخص د بلوڅ د قضيې په اړه وويل چې نوموړی حتماً اول زده کړې کړي، نو ځکه پوليسو ليکو ته داخل شوی دی. ده د بلوڅ د تضمين کوونکو په اړه وويل: "اړوندې ادارې د تضمين کوونکو د برحالۍ تصديق کړی نو ځکه موږ منلی دی." خو کومې ادارې چې د بلوڅ د ضمانت کوونکو د برحالۍ تصديق کړی، په اسنادو کې يې نوم نه لوستل کېږي.

د جلب او جذب عمومي قوماندان د بلوڅ د وژل کېدو په اړه وويل: "داسې سرتېري هم لرو چې د يو ساعت لپاره دنده ترسره کوي او بيا په شهادت رسېږي نو دا کومه نوې خبره نه ده." نوموړي د بلوڅ په تذکره کې د لاسوهنې په اړه وويل چې د داوطلب کس د عمر تعيين د نفوسو احوال د ثبت ادارې له لارې کېږي. پاسوال امين په دې اړه چې يو شمېر مافيايي کړۍ د بېلابېلو سيمو ځوانان د پوليسو په ليکو کې داخلوي وويل: "هېڅوک له کوڅې نه شي راوستی چې راشه او سرتېری شه؛ هغه تنخوا، اعاشه، اباته، وسلو او يونيفورم ته اړتيا لري او هېڅوک دا له خپله ځانه نه شي ورکولای." خو قوماندان وويل چې د بلوڅ او جګدلک د قضيو په اړه به اړوندې ادارې څېړنې وکړي او دوی به يې هم له نتايجو خبر شي. بل لور ته د انسان قاچاق او مهاجرو له قاچاق سره د مبارزې قانون له مخې، ياد موارد د قاچاق ښکاره بېلګې دي.

**سليمي: د جګړو په ليکو کې د ماشومانو ګومارل جرم او انساني قاچاق دی**

د انسان قاچاق او مهاجرو له قاچاق سره د مبارزې عالي کمېسيون د سکرتريت مسوول محمد حسن سليمي پژواک ته وويل چې تېر کال ولسمشر د يادې موضوع د څېړنې په موخه يو با صلاحيته پلاوی ټاکلی و. هغه وايي چې د دغه پلاوي د څېړنو له مخې، د ملي امنيت، پوليسو او په ځانګړې ډول په سيمه ييزو پوليسو کې تنکي ځوانان ليدل کېږي. سليمي وايي چې وسله وال مخالفين مدني قوانينو او د ماشوم حقونو ته هېڅ احترام نه لري؛ نو ځکه يې په ليکو کې په ښکاره ډول ماشومان ليدل کېږي. ده وويل چې امنيتي چارواکو له دوی سره ژمنې کړې دي چې له دې وروسته به ماشومان د امنيتي ځواکونو په ليکو کې نه شاملوي.

د انسان قاچاق او مهاجرو له قاچاق سره د مبارزې قانون د دريېمې مادې په لومړۍ فقره کې راغلي چې د ناوړه ګټې اخيستنې په منظور د شخص استخدامول او يا هم د زيان منني يا مجبوريت له حالت څخه ناوړه ګټه اخيستل د انسان قاچاق ګڼل کېږي. د همدې مادې په بله برخه کې راغلي چې د ناوړه ګټې اخيستنې په موخه د ماشوم تر واک لاندې راوستو ته هم انساني قاچاق ويل کېږي. د ياد قانون په لسمه ماده کې راغلي، که چېرې د انساني د قاچاق په پېښه کې مجني عليه ښځه يا ماشوم وي، د جرم مرتکب پر اته کاله بند محکومېږي.

## ۳۱- د مغزو مینځل

د نړۍ ترهګریز سازمانونه خپلو موخو ته د رسېدو لپاره له هرې حربې څخه کار اخلي چې په دې ډله کې یو هم د مغزو مینځل دي. په دې وروستیو کې په افغانستان کې د دغه کار ډېرې بېلګې لیدل شوې دي چې ښه بېلګه یې برید ته د ځانمرګي چمتو کېدل دي. د کورنیو له خبرولو پرته ځینو ماشومانو ته په هېواد دننه او ډېرو ته له هېواده بهر په ځانګړې توګه د پاکستان په مدرسو کې د ترهګرۍ زده کړې ورکول کېږي، څو د افغان دولت پر وړاندې جګړه وکړي. دغه راز په ډېرو هغو دیني مدرسو کې ماشومانو ته د دولت ضد زده کړې ورکول کېږي چې له حکومت سره ثبت او راجستر نه دي او ډېری وخت په دغو دیني مدرسو کې پر ماشومانو جنسي تېري هم کېږي چې په اړه یې راپورونه رسنیو خپاره کړي دي. په وروستیو کلونو کې انساني قاچاق وړونکو د کمزوري اقتصادي او افغان کورنیو له ناپوهۍ په ناوړه ګټې اخیستنې سره د هېواد په ګڼو ولایتونو کم عمره ماشومان او تنکي ځوانان د جګړې لپاره د هېواد دننه او بهر قاچاق کوي. په دې وروستیو کې انساني قاچاق کوونکي د نورو هېوادونو د څارګرو ادارو په همکارۍ نا بالغ ماشومان په دې پلمه چې ګواکې په دیني مدرسو کې یې شاملوي، د افراطیت ښوونیزو مرکزونو ته استوي. ډېری ماشومان د طالبانو په ارتباط پاکستان ته ځي او د خیبر پښتونخوا او بلوچستان په مدرسو کې له افغان دولت او بهرنیو ځواکونو سره د جګړې روزنه ورکول کېږي او ان ځانمرګي ترې جوړوي.

دوی ته داسې ویډیوګانې ښودل کېږي چې امریکایان پر افغان ښځو جنسي تېري کوي او نور عام افغانان حلالوي او د هغوی د ذهنیت جوړونې لپاره داسې توکي ورکول کېږي څو ځانمرګي برید ته چمتو شي. دوی ته یو ډول شیدو په څېر سپین مواد ورکول کېږي چې تر برید کولو پورې دغه مواد خوري او د دغو موادو په خوړو سره نیمه بې هوښه وي.

پښتانه له کلونو راهیسې د پاکستان د څارګرې ادارې له خوا د جګړې د یوې وسیلې په توګه کارول کېږي؛ د راپورونو له مخې د ورک شوو پښتنو یوه لویه برخه ماشومان او تنکي ځوانان جوړوي چې له قبایلي سیمو تښتول شوي او د ترهګرو په روزنځایونو کې د ترهګریزو او ځانمرګو بریدونو لپاره روزل کېږي. د افغانستان په خاوره کې د امنیتي ځواکونو له خوا له ځانمرګو بریدونو مخکې د نیول شوو ځانمرګو عمرونه له اتلسو ټیټ بلل شوي. دا خبره د هغه څه ثبوت دی چې پښتانه په لوی لاس د پاکستان پوځ له خوا په دیني مدرسو کې د افغان وژنې لپاره چمتو کېږي او د پښتنو تر منځ د بېلوالي لپاره کوښښونه کوي.

د مغزو مینځلو په اړه د پژواک راپور:

### د ځانمرګي برید لپاره د ماشوم د مغز مینځل انساني قاچاق دی




*سیف الله مفتون– Apr 30, 2017*

کابل (پژواک، ۱۰ غویی ۹٦): د کورنیو له خبرولو پرته ځینو ماشومانو ته په هېواد دننه او ډېرو ته له هېواده بهر په ځانګړې توګه د پاکستان په مدرسو کې د ترهګرۍ زده کړې ورکول کېږي څو د افغان دولت پر وړاندې جګړه وکړي. دغه راز په ډېرو هغو ديني مدارسو کې ماشومانو ته د دولت ضد زده کړې ورکول کېږي چې له حکومت سره ثبت او راجستر نه دي او ډېری وخت په دې ديني مدرسو کې پر ماشومانو جنسي تېري هم کېږي.

پژواک خبري اژانس هم په دې برخه کې له هغه ماشوم سره خبرې کړې چې د وسله والو طالبانو له لوري ځانمرګي برید ته چمتو شوی و؛ عبدالحق د غزني ولایت اوسېدونکی دی او په پاکستان هېواد کې یې د ځانمرګي برید روزنه لیدلې ده. ۱۷ کلن عبدالحق وايي: "راته ویل یې چې په داسې مرګ ځان مړ کړه چې ټول دې په یاد وساتي." هغه پژواک ته خپلې خبرې داسې پیل کړې: "مور په ده یک کې اوسېدو، هلته مې په یوه ديني مدرسه کې زده کړې شروع کړې، مکتب مې له اوله نه خوښېده او دا ډېره بده ښکارېده چې په توره تخته کې لیکل شوي شیان بیا زه په خپله کتابچه کې ولیکم." هغه وايي چې ډېری وخت به یې مدرسې ته طالبان ورتلل او دوی ته به یې تل د افغان دولت پر وړاندې د جګړې په اړه خبرې کولې. عبدالحق وايي، د دې تر څنګ لسګونو نورو کسانو هم په دې مدرسه کې زده کړې کولې او طالبانو ټولو ته ویل چې د حکومت پر وړاندې باید د جګړې لپاره ځانونه چمتو کړي. د هغه په وینا، دغه مدرسه د کلي په یوه جومات کې جوړه شوې وه.

هغه زیاته کړه: "څه وخت چې تېر شو، دې خبرو پر ما هم ډېر تاثیر وکړ، ډېره مې خوښېده چې وسله واخلم او د موټرسایکل شا ته کېنم او مخامخ جنګ وکړم، خو مور او پلار مې اجازه نه راکوله." د عبدالحق په وینا، د طالبانو خبرو دوی دومره تر اغېز لاندې راوستلي وو چې ډېری وخت به یې د هغوی وسلې ښکلولې او د طالبانو خدمت ورته تر هر څه ښه برېښېده. ده وویل: "یو نیم کال مې په دې مدرسه کې تېر شو، نور مې زړه تنګ شو، یوه ورځ مې یو طالب ته وویل چې ما ته هم وسله راکړه، غواړم چې جګړه وکړم."

دی وايي چې له یادې خبرې وروسته طالبانو ورته ټوپک او ټیلیفون ورکړل، ټیلیفون یې د دې لپاره ورکړ څو د طالبانو جذباتي ترانې په کې واوري. هغه وايي: "زما کور ته چا احوال ورکړی و چې عبدالحق وسله اخیستې ده، مشر ورور مې مدرسې ته راغی او ویې لیدل چې ما وسله اخیستې ده خو طالبانو راته ویل، کله چې دې وسله واخیسته، بیا هېڅوک ستا مخه نه شي نیولای، نو هماغه و چې خپل ورور مې بېرته کور ته ولېږه او زه ورسره نه ولاړم."

**پاکستان کې ديني مدرسې ته تلل:**

ده وویل چې په غزني کې له دوه کاله جګړې وروسته د طالبانو په ارتباط پاکستان ته ولاړ او په خیبر پښتونخوا کې یې د پنج پیر په مدرسه کې زده کړې پیل کړې. ده وویل چې په یاده مدرسه کې یې پنځه میاشتې زده کړې وکړې او د نورو زده کړو لپاره بیا د حقاني مدرسې ته واستول شو. د هغه په وینا، د حقاني په مدرسه کې د افغان حکومت او امریکایانو پر وړاندې پر جګړې ډېر ټینګار کېده او زده کوونکو ته یې ټوله ورځ په همدې اړه روزنه ورکوله. نوموړی وايي: "هره ورځ به استادانو ویل چې پر مونږ او تاسو جهاد فرض دی چې په افغانستان کې جهاد وکړو؛ ځکه هلته امریکایان دي، دولت یې کافر دی، خلک وژني ټول خلک یې تباه کړل." عبدالحق وايي چې په حقاني مدرسه کې زده کوونکو ته پوځي زده کړې ورکول کېدې او د ځانمرګو بریدونو لپاره یې چمتو کول. ده زیاته کړه: "مونږ ته به داسې ویډیوګانې ښودل کېدې چې امریکایان پر افغان ښځو جنسي تېري کوي او نور عام افغانان حلالوي، نور به زمونږ احساسات ډېر سخت را وپارېدل او ویل به مو چې همدا اوس پرې ځانمرګی وکړم."

**د ذهنیت اړوونکو درملو ورکولو له لارې برید ته چمتو کول:**

عبدالحق وايي چې د يادو فلمونو او نورو خبرو تر اورېدو وروسته دی هم چمتو شو څو ځانمرګی برید وکړي. نوموړې زياته کړه: "يوه ورځ يې يوې تيارې کوټې ته وغوښتم، هلته څو کسان ناست وو، راته يې ويل چې غواړې جنت ولاړ شې، غواړې چې خلک او کورنۍ دې پر تا فخر وکړي، نو ولاړ شه او ځانمرګی برید وکړه." عبدالحق وايي چې د برید لپاره يې چمتووالی ونيو او يادو کسانو ورته يو ډول د شيدو په څېر سپين دارو ورکړل چې تر برید کولو پورې به دغه درمل استعمالوي. ده زياته کړه: "ما ته يې ويل چې دا دوا وخوره او ولاړ شه غزني ته خپل کور ته څو ورځې کور کې تېرې کړه، بيا له هغه ځايه زنخان ولسوالۍ ته ولاړ شه، هلته يو کس د مبارز په نوم دی، هغه ته ځان ورسوه، نور هر څه بيا هغه سموي."

عبدالحق وايي چې له پلان سره سم بېرته کور ته راستون شو او د خپلې کورنۍ غړو ته يې وويل چې پاکستان ته د زده کړو لپاره تللی و. ده وويل چې هره ورځ به يې درمل استعمالول او د ځانمرګي برید جذبه به يې په وجود کې نوره هم زياتېده. نوموړي زياته کړه: "يوه ورځ مې دوا خلاصه شوه، پر ځان مې ډېر درد شو، غوښتل مې چې زنخان ولسوالۍ ته ولاړ شم او ځان مبارز ته ورسوم، خو کورنۍ مې اجازه را نه کړه." هغه وايي چې وروسته يې کورنۍ هم پر دې پوه شوې وه چې څه پلان لري؛ نو ځکه يې له کوره بهر نه پرېښود.

ده وويل چې وروسته يې ورور ورته درمل ورکړل او له يوې څه مودې وروسته يې روغتيايي حالت بېرته ښه شو.

**د طالبانو له لوري د وژلو وېره:**

هغه وايي، ډېر خوښ دی چې دغه ناوړه برید يې نه دی ترسره کړی خو زياتوي چې د طالبانو له ګواښ سره مخ دی. عبدالحق وايي چې طالبان ورپسې ګرځي، که يې پيدا کړي نو ښايي ويې وژني. هغه د يوې پوښتنې په ځواب کې وويل: "نه، پر حکومت هم باور نه لرم، کېدای شي هغوی مې هم مړ کړي، خو سپين ږيري مې څو ځلې طالبانو ته لېږلي دي، له هغوی سره يې ژمنه کړې چې څه به ورته نه وايي خو دی باوري نه دی." عبدالحق وايي چې يو ورور يې په دوبۍ کې دی او دی هم غواړي دوبۍ ته ولاړ شي او هلته مزدوري پيل کړي.

دا يوازې عبدالحق نه دی چې له دغه ډول برخليک سره مخ شوی، په تېرو ۱۵ کلونو کې زرګونه افغانان د يو شمېر کسانو له خوا غولول شوي او د ترهګريزو بريدونو لپاره يې چمتو کړي دي.

**د حج، ارشاد او اوقافو وزارت: ډېرې ديني مدرسې شته چې نه دي ثبت شوې**

د دغه وزارت مرستيال داعي الحق عابد پژواک ته ويلي چې په ټول هېواد کې ۱۶۰زره جوماتونه او ديني مدرسې فعال دي. هغه وايي چې له دې شمېرې څخه ٤٩زره يې له دوی سره ثبت دي چې ملا امامان او نور کسان يې د دوی له خوا ګومارل کېږي. هغه زياته کړه: "د ترهګرۍ يا افراطيت موضوع له بهره افغانستان ته داخلېږي، خو کېدای شي په لرو پرتو سيمو کې ځينې د دولت ضد کسان وي چې دغه کار کوي، خو هغه سيمې چې د دولت په کنټرول کې دي، دغه موضوع په کې نه ليدل کېږي." عابد وايي چې په روان کال کې دوه ادارې جوړې شوې دي څو په ديني مدارسو کې زده کوونکو ته د ترهګريزو زده کړو د مخنيوي په برخه کې کار وکړي.

هغه دا هم زياته کړه چې د ملا امامانو لپاره يو انستيټيوټ جوړ شوی چې هلته ورته ديني زده کړې ورکول کېږي او بيا وروسته د ملا امامانو په توګه ګومارل کېږي. د نوموړې په وينا: "دغه کار د ترهګريزو زده کړو او افراطيت د مخنيوي لپاره ډېره مهم دی." د حج، ارشاد او اوقافو وزارت مرستيال زياته کړه چې د اسلامي نړۍ د عالمانو د هوکړې له مخې، ځانمرګی برید کول حرام دی او په اسلام کې ځای نه لري.

**د عدليې وزارت: د جګړو په ليکو کې له ۱۸ کلونو د کم عمره کسانو ګومارل جواز نه لري**

د عدلیې وزارت د قانون جوړونې برخې مشر عبدالمجید غني زاده پژواک ته وویل چې د افسرانو او بریدملانو عمر په قانون کې مشخص شوی چې له ۱۸ کلونو کم عمره کسان باید په پوځې لیکو کې ونه ګومارل شي. هغه وایي که هر څوک دغه کار وکړي نو د همدغه قانون له مخې به شپږ میاشتې او یا هم یو کال پر بند محکوم شي. دغه راز د ماشومانو د استخدام د مخنیوي په قانون کې هم راغلي چې له ۱۸ کلونو کم عمره ماشومان باید په پوځي قطعاتو کې ونه ګومارل شي. د همدغه قانون له مخې که چېرې کوم کس پېژندل کېږي چې عمر یې له اتلسو کلونو کم دی، نو باید د یوې میاشتې په موده کې له دندې منفک شي او که چېرې مسوول کسان دغه کار ونه کړي، نو پر شپږو میاشتو او یا هم پر یو کال بند به محکوم شي.

**د کورنیو چارو وزارت: د ملي ځواکونو په لیکو کې کم عمره کسان نشته**

د کورنیو چارو وزارت وایي چې له تېرو دوو کلونو راهیسې د ملي پولیسو او ملي اردو په لیکو کې کم عمره سرتېري نشته دي. د دغه وازرت د ویاند نجیب دانش د معلوماتو له مخې، هغه کسان چې په ملي ځواکونو کې ګومارل کېږي، د عمر معلومولو لپاره یې تذکره، تحصیلي اسناد او ظاهري بڼه د متخصصو کسانو له خوا کتل کېږي. دغه راز هغه وویل: "د مغزو مینځلو پېښنو په اړه کره شمېره نه لرم چې د څومره کسانو ماغزه به مینځل شوي وي، خو دغه ډول کسان چې تر اوسه موږ نیولي، له قانون سره سم یې خپله سزا لیدلې ده."

**طالبان: زموږ په لیکو کې کم عمره کسان نشته**

د دې ډلې ویاند ذبیح الله مجاهد پژواک ته وویل چې د طالبانو د قوانینو او لایحو له مخې، هېڅوک نه شي کولای کم عمره کسان په نظامي لیکو کې داخل کړي. هغه زیاته کړه: "هېڅوک نه شي کولای ماشوم ته وسله ورکړي؛ ځکه بیا د اخلاقي فساد موضوع را پیدا کېږي او د هر هغه کس چې ږیره یې نه وي راغلې، هغه موږ په خپلو لیکو کې نه داخلوو." هغه د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل، په کومو ویډیو ګانو کې چې له طالبانو سره ماشومان ښکاري، هغه د سیمې خلک دي چې د طالبانو هرکلي ته ورغلي دي. مجاهد وایي که چېرې دوی کوم طالب پیدا کړي چې ماشومان یې استخدام کړي، نو د قانون له مخې به سخته سزا وګوري.

د یادونې ده، یادې موضوع ته د بشري حقونو د څار سازمان د ۲۰۱۶ کال په راپور کې هم اشاره شوې ده او په کې راغلي چې وسله وال طالبان د جګړو په لیکو کې ماشومان هم استخداموي. د افغانستان د قاچاق او کډوالۍ پر وړاندې د مبارزې په قانون کې هم یادې موضوع ته اشاره شوې او په کې راغلي چې په وسله والو جګړو کې د ماشومانو ګومارل جرم دی او ترسره کوونکی یې باید سخته سزا وګوري.

دغه راز د اړوندې موضوع په اړه په ۲۰۱۵ کال کې یو نړیوال بنسټ په اروزګان، کونړ، کندوز، کابل، کندهار او ننګرهار ولایتونو کې یوه څېړنه وکړه؛ په دې څېړنه کې راغلي چې د افغان امنیتي ځواکونو په ځانګړې ډول د سیمه ییزو پولیسو په لیکو کې ماشومان پر دنده ګومارل کېږي. په دې څېړنه کې زیاته شوې چې د امنیتي ځواکونو یو شمېر قوماندانان د جګړو په لیکو کې له ماشومانو څخه جنسي ګټې هم پورته کوي. دغه څېړنه وایي چې په دې برخه کې د افغان حکومت هڅې ټکنۍ دي او دا ډېر کار ته اړتیا ده.

د افغانستان په جګړه کې ښکېل لوري په خپلو لیکو کې د کم عمره کسانو شتون ردوي، خو ډېری وخت په ټولنیزو رسنیو کې داسې انځورونه او ویډیوګانې خپرېږي چې بیا دا ثابتوي چې په دواړو لورو کې کم عمره کسان پر دندو ګومارل شوي دي.

## ۳۲- د ماشومانو وژل او ټپي کول

ماشومان، په ځانګړي ډول هغه ماشومان چې په وسله والو جګړو کې ښکېل دي، د ټولنې زیانمنېدونکی قشر جوړوي. د جګړې ټولې ښکېلې خواوې باید له دوی څخه ناوړه ګټه وا نه خلي او د زیان په صورت کې ترې ساتنه وکړي. د اسلام مبین دین، نړیوال بشري حقونه او بشر دوستانه قوانین د ماشومانو د خوندیتوب پر اړتیا ټینګار کوي. دیني عالمان او کارپوهان پر دې متفق دي چې د ماشومانو حقونه خوندي او په قران او احادیثو کې څرګند دي، ډېر قراني ایتونه او احادیث د ماشوم پر حقونو ټینګار کوي. دغه راز اسلامي شریعت تل د ماشومانو غوره ګټې په پام کې نیولې دي، لکه څرنګه چې دواړه بحثونه، ولایت (د پلار د مړینې یا ورکېدو په صورت کې د پلار یا نږدې دوستانو صلاحیت) او وصیت (په مالي چارو کې سرپرستي چې د پلار د مړینې په صورت کې ماشوم ته پاتې کېږي) د ماشوم د ګټو پر اساس وضع شوي دي.

اسلام د انساني ژوند ارزښت په رسمیت پېژني، پر دې اساس یې د ژوند خوندیتوب او ساتنه یوه له پنځو موخو ټاکلې او د بې ګناه خلکو، په ځانګړي ډول ماشومانو وژل په اسلام کې منعه شوي دي. له شرعي نصوصو سره سم د انسان وژل او ټپي کول یوه لویه ګناه ګڼل کېږي او په دنیا او اخرت کې درنه سزا ورته ټاکل شوې ده او د دې لپاره چې د جرم شدت په ګوته کړي، قران کریم د یو انسان وژنه د ټول انسانیت له وژنې سره توجیه کړې ده.

د یو ماشوم قصدي وژنه د قتل له سختو ډولونو ده او په دنیا او اخرت کې د هغه لپاره درنه سزا ټاکل شوې ده؛ د النساء سورت په ۹۳ ایات کې الله جل جلا له فرمایي: وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا

ژباړه: او هر څوک چې مړ کړي کوم مومن په قصد سره (او د مسلمان دغه قتل روا هم وګڼي) نو جزا د ده دوزخ دی، (په داسې حال کې) چې تل به وي دی (دغه حلال ګڼونکی د قتل) په هغه دوزخ کې.

که یو مسلمان بل مسلمان په تېروتنې سره نه، بلکې په قصد سره او سره له دې چې ښه یې پېژني چې مسلمان دی، خو وژني یې؛ نو د ده لپاره په اخرت کې جهنم، لعنت او لوی عذاب دی.

سربېره پر دې د المایده سورت په ۳۲ ایت کې الله تعالی فرمایلي دي: مَن قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا

ژباړه: هر څوک چې ووژني یو نفس بې له (عوض، بدل د) بل نفس نه (یا بې) له فساده په ځمکه کې (چې په ملک کې یې فساد کړی وي) نو ګواکې وژلي یې دي خلک ټول او هر چا چې ژوندی کړو دغه (یو نفس چې سبب شي د ژوندون یې) نو ګواکې ژوندي کړي یې دي خلک ټول.

دغه راز الله جل جلاله د التکویر سورت په ۹ ایت کې فرمایي: بِأَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ

ژباړه: په کومه ګناه وژل شوی.

په پورتني ایت کې دا واضح شوې ده چې د قیامت په ورځ د ژوندۍ خښې شوې نجلۍ په اړه پوښتنه کېږي چې ولې ژوندۍ خښه شوې او د کومې ګناه د جرم له امله وژل شوې ده. په اسلامي شریعت کې ماشوم معصوم او بې ګناه ګڼل شوی، نو پر دغه اساس هغه ته هېڅ مسوولیت نه متوجه کېږي، دغه راز د بېګناه خلکو وژنه محکومه شوې او د اسلامي شریعت خلاف کړنه ګڼل شوې ده.

یو کس یوازې هغه وخت پر مرګ محکومېږي چې د لویې ګناه مرتکب شوی وي؛ د بېلګې په ډول، یو بل انسان یې وژلی وي، پر ځمکه یې نسل وژنه کړې وي او د سولې او بشریت خلاف جرمونه یې ترسره کړي وي. دغه راز په یو حدیث شریف کې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي:

لَا تَغُلُّوا، وَلَا تَغْدِرُوا، وَلَا تُمَثِّلُوا، وَلَا تَقْتُلُوا وَلِيدًا (رواه مالک فی موطا)

ژباړه: تجاوز مه کړئ، غدر مه کوئ، غړي مه پرې کوئ او ماشومان مه وژنئ.

په ټولو جهادي ډګرونو کې پیغمبر صلی الله علیه وسلم خپلو جنګي قوماندانانو ته لارښوونه کوله او فرمایل یې چې: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " انْطَلِقُوا بِاسْمِ اللَّهِ، وَبِاللَّهِ وَعَلَى مِلَّةِ رَسُولِ اللَّهِ، لا تَقْتُلُوا شَيْخًا

فَانِيًا، وَلا طِفْلا، وَلا صَغِيرًا، وَلا امْرَأَةً، وَلا تَغُلُّوا، وَضُمُّوا غَنَائِمَكُمْ، وَأَصْلِحُوا وَأَحْسِنُوا، إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ" . (رواه ابو داود)

ژباړه: ووځئ د الله په نوم او د الله لپاره، د رسوالله (صلی الله علیه وسلم) امته، تاسې بوډاګان، ماشومان او ښځې مه وژنئ. غلو او زیاتی مه کوئ، تاسې غنیمتونه راټول کړئ او سوله وکړئ، نیک عملونه وکړئ، په تحقیق سره الله تعالی نیکي کوونکي خوښوي.

دغه راز د پیغمبر صلی الله علیه وسلم حدیث چې نسايي روایت کړي، فرمایي: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَقَتْلُ مُؤْمِنٍ أَعْظَمُ عِنْدَ اللَّهِ مِنْ زَوَالِ الدُّنْيَا" . (رواه النسائ)

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: قسم په هغه ذات چې زما ژوند د هغه په لاس کې دی، د یو مومن وژل د دنیا له ویجاړولو هم لویه ګناه ده.

د افغانستان اساسي قانون ژوند الهي او طبیعي حق ګڼي او د سړیو، ښځو او ماشومانو په ګډون د ټولو لپاره روښانه تسجیل شوی دی، سربېره پر دې د افغانستان جزا قانون د هغو کسانو لپاره چې له خلکو د د ژوند حق اخلي، وضعي جزاګانې ټاکلې دي. د افغانستان اساسي قانون د ۲۳ مې مادې له مخې، ژوند د الله تعالی ښښنه او د انسان طبیعي حق دی، هېڅوک له قانوني مجوز پرته له دغه حقه بې برخې کېدای نه شي.

د افغانستان د جزا قانون د ۳۵۸مې مادې له مخې، که څوک په خپله یا د بل شخص په واسطه د یو شخص ژوند چې د پنځلس کلنۍ عمر یې نه وي پوره کړی، یا د هغه شخص چې د روغتیایي، رواني یا عقلي حالت له امله د خپل ځان له ساتنې عاجز وي، له ګواښ سره مخ کړي، پر منځني حبس چې له درې کلونو زیات نه وي یا په نغدي جریمه چې له شپږ دېرش زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کړي، محکومېږي. دغه راز که څوک کوچنی یا بې وسه شخص په کنډواله ځای کې خوشی کړي، پر منځني حبس محکومېږي، که څه هم ذکر شوی جرم له والدینو څخه د یوه په وسیله یا د هغه چا په وسیله چې د ساتنې یا پاملرنې متکفل وي، ارتکاب شوی وي. که د دې مادې دویمې فقرې د درج شوي جرم د ارتکاب په اثر مجني علیه معلول یا فوت شي او ارتکاب کوونکي د هغه قصد نه وي لرلی، د وهلو پر ټاکل شوې جزا چې معلولیت یا مرګ لامل کېږي له حالاتو سره سم محکومېږي.

دغه راز که ماشوم یا بې وسه شخص له داسې تغذیې یا پالنې څخه چې د هغه د حالت مقتضی ده، عمداً محروم شي او د هغې له امله د هغه ژوند له خطر سره مخ شي، ارتکاب کوونکي د دې مادې د درېیم بند پر درج شوې جزا محکومېږي.

په جګړه کې د ښکېلو ډلو له خوا باید د ژوند او فردي خپلواکۍ د حق نقضېدو په ځانګړې توګه د ملکي وګړو او ماشومانو د هر ډول وژنې، د غړو غوڅولو، بېرحمانه چلند کولو او شکنجې مخنیوی وشي. د جینوا کنوانسیونونو درېیمه مشترکه ماده د لومړنۍ حیاتي سرچینې په توګه پېژندل شوې. درېیمه مشترکه ماده په نړیواله کچه عملي کېدونکې ده او په هېڅ ډول نه اخیستل کېږي.

دغه ماده د نښتو د ټولو ښکېلو ډلو (دولتي یا غیر دولتي) اړخونو له لوري د تطبیق وړ ده. شکنجه او غیر انساني کړنې د دې مادې پر اساس یوه جدي تخطي ګڼل کېږي.

د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا د ۱۶۱۲(۲۰۰۵) شمېرې پرېکړه لیک، په ځانګړې توګه د جګړې پر ټولو ښکېلو لورو غږ کوي چې د جګړې په حالت کې د ماشومانو خلاف له شپږو څرګندو سرغړونو څخه د مخنیوي لپاره چې عبارت دي له، د ماشومانو مرګ ژوبله، د جنګیالیو په توګه د ماشومانو ګومارل او ور څخه ګټه اخیستنه، د جنګي ډلو له خوا د ماشومانو تښتونه، پر ښوونځیو، کلینیکونو او روغتونونو بریدونه، جنسي تېري او د ماشومانو پر وړاندې د زور زیاتي نور ډولونه او دغه راز بشري مرستو ته د ماشومانو د مخنیوي پر وړاندې جدي ګامونه پورته کړي.

## ۳۳- پر ښوونځيو او روغتيايي مرکزونو بريدونه

څرګنده ده چې ښوونه او روزنه د يوې ټولنې د روښانه راتلونکې لپاره اساس او بنسټ جوړوي. ښوونې او روزنې ته لاسرسی د هر انسان خو په ځانګړې توګه د ماشومانو يو اساسي او مسلم حق دی. ښوونه او روزنه د اسلام د سپېڅلي دين، ملي او نړيوالو سندونو له مخې د هر ماشوم حق دی، پرته له دې چې هغه نجلۍ وي يا هلک.

روغتيا ته د لاسرسي حق پر دې معنا دی چې ټول وګړي پرته له هر ډول تبعيض روغتيايي خدمتونو او اسانتياوو ته لاسرسی ولري؛ دغه لاسرسی څلور مشترک بعدونه لري، لکه فزيکي لاسرسی، اقتصادي لاسرسی، اطلاعاتي او له هر ډول تبعيض پرته لاسرسی. فزيکي روغتيايي خدمتونه، مواد او اسانتياوې بايد د ټولنې ټولو قشرونو ته په ځانګړې ډول زيانمنونکو ډلو ته په خوندي او په متناسبه بڼه او له مالي توان سره سم برابر شي. دغه راز خلک حق لري چې د روغتيايي مسايلو په اړه اطلاعات په لاس کې ولري څو معلومه کړي چې ټولو ته روغتيايي خدمتونه له هر ډول تبعيض پرته وړاندې شوي دي. د روغتيايي خدمتونو په اړه يوه بله مهمه موضوع دا ده چې دغه خدمتونه بايد د خلکو لپاره د منلو وړ وي؛ په دې معنا چې خدمتونه او اسانتياوې بايد د خلکو له فرهنګ او ذهنيت سره سم وي او په داسې ډول پلان شي چې د خلکو لپاره د منلو وړ وي.

په اسلامي قانون کې فريضه هغه عمل ته ويل کيږي چې سر ته نه رسول يې له ځان سره جزا لري. پر ښوونځيو او روغتونونو د حملو په اړه د تشخيص اصل چې پورته ذکر شو د تطبيق وړ دی. ښوونځي او روغتونونه له ملکي ځايونو څخه شمېرل کيږي او له هر ډول بريدونو خوندي دي. د ښوونځيو او روغتونونو تخريبول په ځمکه کې له فساد څخه شمېرل کيږي او سخته سزا لري. د ښوونځيو ارزښت او وضعيت د جوماتونو په څېر دی؛ لکه څرنګه چې له پخوانيو پېړيو راهيسې له جوماتونو د عبادت تر څنګ د ماشومانو (هلکان او نجونې) د تعليم لپاره هم ګټه اخيستل کيږي. له همدې امله د هر ډول زده کړو پر مرکز بريد کول د اسلامي شريعت له مخې منعه دي او لکه څرنګه چې ښوونځي د علم او معرفت مرکزونه دي، نو د اسلام له نظره يې ويجاړول هم حرام دي.

د افغانستان د جزا قانون په ۳۶۹مه ماده کې راغلي دي:

۱- که څوک عمداً د زهرناکو ميکروبي يا نورو مضرو موادو چې د عامو خلکو روغتيا ته ضرر رسوي، په څاه، د ابو په مخزن، عمومي ذخيره خانې يا نورو شيانو کې واچول شي او د عامو خلکو د استعمالولو په منظور تيار شوي وي، د خلکو ژوند يا مال له خطر سره مخ کړي، پر دوام حبس محکوميږي.

۲- که د پورتنۍ فقرې د درج شوو جرمونو ارتکاب د انسان پر مرګ منجر شي، ارتکاب کوونکي پر اعدام محکوميږي.

د ياد قانون په ۳۷۰مه ماده کې راغلي: "که څوک څاه، عمومي مخزن يا بل هر شي چې له دې نوعې څخه وي، فاسد کړي، په داسې ډول چې د هغې په اثر يې مطلوبه ګټه کمه شي، پر لنډ حبس يا نغدي جريمه چې له دوولس زرو افغانيو څخه زياته نه وي محکوميږي."

د دغه قانون په ۳۷۱مه ماده کې راغلي دي:

۱- که څوک الې، د اوبو نل، د اوبو، برېښنا او ګازو د مرفقونو مخصوصې الې يا نور عمومي مرفقونه عمدأ مات يا تلف کړي چې د هغو پر اساس عمومي مرفقونه معطل شي، پر منځني حبس او نغدي جزا چې له پنځه ويشتو زرو افغانيو څخه زياته نه وي، له دې دواړو جزاګانو څخه پر يوې محکوميږي.

۲- که څوک عمداً صحي ثابت یا د انتقال وړ تاسیسات یا په هغو کې موجود وسایل خراب، تلف یا متضرر کړي یا د هغو یو شی له کاره واچوي یا یې له استفادې وباسي، پر منځني حبس چې له دوو کلونو څخه کم نه وي محکومیږي.

۳- که څوک په تېروتنې سره د دې مادې د (۱) فقرې د یوه درج جرم ارتکاب کوونکی شي، پر لنډ بند او نغدي جریمه چې له پنځو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي، محکومیږي.

د زده کړې حق د افغانستان په اساسي قانون او دغه راز د سیاسي او مدني حقونو په نړیوال میثاق کې تضمین شوی دی؛ د دغه میثاق ۱۳مه ماده تصریح کوي چې دولت مکلف دی چې لومړنۍ زده کړې وړیا، اجباري او په پراخه کچه برابرې کړي. دغه راز د اساسي قانون ۴۳مه ماده تر لیسانس درجې پورې په وړیا توګه تحصیل او تعلیم تضمینوي او سربېره پر دې له دولت څخه غواړي چې دغو هدفونو ته د رسېدو لپاره نړیوال پروګرامونه تطبیق کړي. دغه راز اساسي قانون تعلیم او تحصیل ته د ښځو او کوچیانو د مساوي لاسرسي پر وړاندې مثبت تبعیض هم تصریح کوي.

د افغانستان د اساسي قانون د ۵۲مې مادې پر بنسټ، د افغانستان حکومت ژمنه ورکړې چې وړیا روغتیایي خدمات به ټولو هېوادوالو ته برابر وي. د افغانستان د حکومت له لوري د کوچنیانو د حقونو د کنوانسیون له تصویب سره پر دې موضوع لا زیات ټینګار شوی چې د هغې پر بنسټ حکومت د دې ژمنه ورکړې چې د میندو او ماشومانو د مړینې د مخنیوي په منظور یې لازم تدابیر نیولي او د دې ډاډ یې ورکړی چې له زېږېدو څخه مخکې او وروسته به میندو ته روغتیایي اسانتیاوې برابروي. (د ۲۴مې مادې ۲مه فقره)

د بشري حقونو دغه مسوولیتونه او مکلفیتونه په هر وخت کې (د جګړې د حالت په ګډون) د پلي کېدو وړ دي.

پر ښوونځیو یا روغتونو یرغل د بشري حقونو د نړیوال قانون د بنسټیزو اصولو خلاف کار دی چې کېدای شي د بشر پر ضد جرم او جګړه ییز جرایم وګڼل شي. د بشري حقونو نړیوال قانون تر سیوري لاندې، د ملکي ځایونو په څېر د ښوونځیو او روغتونونو ساتنه باید وشي.

د ژنیو څلورم کنوانسیون د ملکي تاسیساتو هدف ګرځول منعه کوي او د ملکیانو لپاره په تېره بیا کوچنیانو ته د ښوونځیو او روغتونو پر اهمیت ټینګار کوي.

په قصدي ډول د ښوونځیو او روغتونونو هدف ګرځول چېرې چې نظامي ځواک ته اړتیا نه وي، د عمومي حقوقي اصولو پر بنسټ منعه دي؛ په دغو اصولو کې په ډاکه شوې ده چې د ملکي او د مشروع نظامي شیانو تر منځ باید توپیر وشي او د نظامي عملیاتو په ترڅ کې ترې باید ساتنه وشي چې دا د نړیوال قانون عرفي اصل دی چې د وسله والې جګړې په ټولو حالتونو کې د پلي کېدو وړ دي.

د نړیوال عرفي او ټولنیز قانون پر بنسټ، په جګړه کې ښکېلې ډلې باید ښوونځي او روغتونونه هدف ونه ګرځوي، بلکې ساتنه یې وکړي.

## ۳۴- له بشري خدمتونو د خلکو منعه کول

بې وزلو، اړو، يتيمانو او بنديانو ته د خوړو ورکول، په ځانګړي ډول په داسې يوه حالت کې چې شخص په خپله هم ورته ډېره اړتيا او له هغه سره مينه ولري، په اسلام کې يو ستر عمل ګڼل کېږي. سربېره پر دې د بنسټيزو او لومړنيو خدمتونو لکه خوړو او روغتيا پالنې ته د لاسرسي مخنيوي په ګډون، له جنګي اغېزو څخه د ماشومانو نه ملاتړ له قران او د پيغمبر عليه السلام له سنتو سره په ټکر کې دي.

اسلامي قانون د ملکي او نظامي ځايونو د تشخيص او تفکيک اصل تاييدوي او همدارنګه د ماشومانو پر سترو او عليا ګټو ټينګار کوي. دا په ښکاره او څرګند ډول درک شوې ده چې ماشومان د وسله والې جګړې د ښکېلو خواوو طرف او نبغ په نبغه په شخړو کې ښکېل نه دي، نو پر دې اساس له ماشومانو بايد په هر حالت کې ساتنه وشي. بشردوستانه مرستو ته د لاسرسي مخنيوی د ماشومانو د سترو او عليا ګټو له اصل څخه سرغړونه ده او همدارنګه يوه اړتيا ده چې له ماشومانو څخه د جنګي اغېزو پر وړاندې ساتنه وشي.

له اسلامي لارښوونو سره سم د هغو بشردوستانه مرستو غلا يا تصاحب چې د بېوزلو او اغېزمن شوو لپاره په پام کې نيول شوي، قطاع الطريقي ته ورته جرم دی او د درنې سزا لامل کېږي. په اسلام کې د ژوندانه حق هم خورا مهم دی؛ پر دغه بنسټ د ناوړه حالاتو، د ژوند خونديتوب په موخه روغتيا ته د پاملرنې، خوړو، اوبو او روغتيا پالنې په ګډون بشردوستانه مرستې د ژوندانه د حق يوه برخه ګڼل کېږي. نو له دې مخې، د هغو اغېزو په پام کې نيولو سره چې د جګړې له ډګر څخه د راپورته شوو اغېزمنو وګړو پر وړاندې يې لري، په ځانګړي ډول د ماشومانو، بشردوستانه مرستو ته د لاسرسي مخنيوی له شرعي قانون څخه يوه ښکاره سرغړونه بلل کېږي.

د جزا قانون په ۴۴۷مه ماده کې راغلي:

۱- که څوک په مغالبې سره د مال اخيستلو په قصد په عمومي لار کې يا په بل هر محجور ځای کې له وسلې يا له داسې الې سره چې له وسلې سره مشابه وي، ځای ونيسي او د لاروي وېرولو؛ د ګواښ يا زور له لارې د غير مال اخيستلو؛ د انسان قتلولو او د انسان قتل او يا د غير مال اخيستلو؛ فعل ارتکاب کوونکی شي، لار وهونکی شمېرل کېږي.

۲- که د لار وهلو په جرم کې د حد د اقامه کېدو شرطونه پوره نه شي يا په يو ډول د ډولونو د حد محکوم بها جزا ساقط شي ارتکاب کوونکی د دغه فصل له درج شوو حکمونو سره سم په تعزيزي توګه مجازات کېږي.

د جينوا د څلورم کنوانسيون او تړلو پروتوکولونو پر بنسټ، بشري مرستو ته د ماشومانو د لاسرسي مخه نيول او پر بشري کارکوونکو چې له ماشومانو سره مرسته کوي، تېری کول منعه دي.

د نړيوال عرفي قانون اصل دی چې په جګړه کې ښکېلې ډلې بايد د خپل مسووليت تر سيوري لاندې اړمنو ملکي وګړو ته، بشري مرستو ته اجازه ورکړي او زمينه سازي دې ورته وکړي. د دغو بشري مرستو برابرول بايد بې طرفانه وي او هېڅ ډول تبعيض په کې ونه شي، لکه د نژاد، عمر او يا قوم پر بنسټ.

بشري مرستو ته د ماشومانو د لاسرسي مخنيوی ښايي د بشر پر بېلابېلو اساسي حقونو باندې تېری وګڼل شي. د مرستندويه کارکوونکو په ګډون د ټولو وګړو ګرځېدو د ازادۍ حق ته په بېلابېلو بشري حقونو، نړيوالو او سيمه ييزو سندونو کې درناوی شوی. سربېره پر دې بشري مرستو ته د اړمنو ماشومانو د لاسرسي مخنيوی، ښايي چې د ژغورنې او له لوږې خلاصېدو حقونو په ګډون چې اساسي حقونه دي، تر پښنو لاندې شي.

د بشري مرستو په ترڅ کې ماشومانو ته بايد ځانګړې پاملرنه وشي او هر ډول مرسته او خونديتوب ته چې اړ وي، ورته برابر شي. د جينوا د کنوانسيونونو او په هغو پورې د تړلو پروتوکولونو يا هغو شيانو چې د بشري کارونو لپاره ترې کار اخيستل کېږي، بايد ځانګړې ساتنه يې وشي. په جګړه کې ښکېلې ډلې له د نظامي اړتيا څخه پرته بايد هر وخت د مجازي بشري مرستندويه پرسونل خپلواکي تضمين کړي. روغتيايي نقليه وسايط او تاسيسات په خاص ډول زياتې ساتنې ته اړتيا لري. دغه خونديتوبونه د نړيوال عرفي قانون په څېر پر رسميت پېژندل کېږي.

# ۳۵- د عبادت او یا دیني مقاصدو لپاره غلامي

د نړۍ د نورو هېوادونو په څېر په افغانستان کې هم ځیني کسان شته دي چې د عبادت او دیني مقاصدو لپاره د ځینو کسانو په غاړو کې د مریدۍ او یا هم غلامۍ حلقې اچوي. دغه مریدان بیا د ژوند په بېلابېلو اړخونو کې د دغو کسانو؛ یعنې خپلو پیرانو ته دومره احترام او عزت ورکوي چې غلو او خرافات بلل کېږي او بالمقابل دغه پیران بیا خپل مریدان دومره تر فشار لاندې نیسي چې انساني قاچاق بلل کېدای شي؛ د بېلګې په ډول، سید نادر شاه کیاني الحسیني چې اوس مهال له هېواده بهر ژوند کوي، په افغانستان کې د اسماعلیه مذهب اووم پیر او مذهبي لارښود دی. د نوموړي پیروان ادعا کوي نادرشاه کیاني چې په سید الحاج شاه ناصر رهنمود هم مشهور دی، مذهبي چارې خپل ورور سید منصور نادري چې پر سید کیان مشور دی، سپارلې، سید نادرشاه کیاني ته په افغانستان کې د اسماعلیه مذهب، مذهبي لارښونو چارې د سید کریم اغا خان له لوري چې د اسماعلیه مذهب ۴۹ امام ګڼل کېږي، سپارل شوې دي.

دوی د بغلان ولایت د دوشي ولسوالۍ غرب لور ته د پرتې غرنۍ سیمې د کیان په نوم درې اصلي اوسېدونکي دي. نوموړي ته یې د مذهب پیرویان نه یواځې سیاسي وکیل، بلکې د یو مذهبي رهبر په سترګه هم ګوري، دوی وایي له پلار وروسته، پیر دی چې موږ ته هر څه ښیي.

د سید کیان پلویان نوموړی د حضرت علي کرم الله وجه له کورنۍ؛ یعنې اولادونو څخه ګڼي. دوی وایي د حضرت علي کورنۍ غړي ځکه تر نورو غوره دي چې الله جل جلاله ته نږدې دي او هر هغه څوک چې الله ج ته نږدېوالی ولري، غوره دي او باید چې قدر یې وشي. د کیان پیروان پر خپل پیر دومره عقیده لري چې که په کور یې غم راځي نو له پیر پرته بل څوک نه ویني چې ورته د مرستې لاس اوږد کړي. دوی د ژوند ټولې ښې او بدې له پیر سره تړلې ګڼي، که په کورنیو کې خپل منځي لانجې وي، پیر به یې د حل لارې ورته ښیي، حتی ویل کېږي چې د نکاح پر مهال هم دواړه کورنۍ د واده مراسمو او د نکاح وخت ټاکلو اجازه هم له پیر څخه اخلي. د کیان پیروان د ژوند ترخې خاطرې هم په ټاکلي وخت له خپل پیر سره شریکوي او هغه ورته د راتلونکي ژوند په اړه توصیه او نصیحت کوي.


د کیان له مریدانو سره نږدې اوسېدونکي وایي، سید منصور ته مریدان د عقیدې او مذهب له پلوه دومره عقیده لري چې کله هم د دوی پیر سیمې ته راشي، ښځینه او نارینه یې غواړي لیدو ته ورشي او د تبرک لپاره یې لاسونه ښکل کړي، هغه چې د لاسونو له ښکلولو پاتې وي، هغه ته بدبخت او ګناهګار ویلای شي. دوی دغه کار پیر ته د نږدېوالي تر څنګ خپل خدای ته هم د نږدېوالي په نیت کوي؛ ځکه وایي زموږ پیر ستر پیر ته نږدې دی او هغه به ځکه خدای ته نږدې وي چې د حضرت علي له اولادونو څخه دی. د سید کیان پیروان چې اسماعلیه مذهبي دي، پر دې باور دي چې پیر یې ورته لارې ښودلې او که د پیر ونه مني او یا یې هم له مذهبي امورو سرغړونه وکړي، د ژوند چارې یې له خطر سره مخ کېږي، نو باید د خپل پیر چې د ژوند لارښود یې دی، په هر حالت کې درناوی وکړي، څو د ژوند ترخې پرې را نه شي.

د عبادت او دیني مقاصدو د غلامۍ بله مهمه بېلګه د مرچ اغا دربار دی؛ مرچ اغا چې اصلي نوم یې سید نورمحمد شاه اغا دی، د سید میراحمدشاه اغا زوی او د سید محمد عظیم شاه اغا لمسی دی. په ۱۲۹۵ لمریز کال کې د کندهار ښار د ۶مې ناحیې په نوي ښار کې زېږېدلی دی. مرچ اغا درې ودونه کړي چې یوه مېرمن یې شنډه وه او له دوو نورو مېرمنو ۸ زامن او ۱۰ لوڼې لري. زامن یې یو په بل پسې سید مسلم شاه اغا، سید ځوان اغا، سید تور اغا، سید ګران اغا، سید ګلاب شاه اغا، سید تاجدار اغا، سید ابراهیم شاه اغا او سید شېر شاه اغا نومېږي.


پیر سید مرچ اغا د خپل ژوند زیاته برخه د کندهار په زاړه ښار کې تېره کړې ده، خو تر څنګ یې په کارېز بازار، قاضي دهنه او ارغنداب ولسوالۍ کې هم استوګنه درلودلې ده. نوموړي په کندهار او شاوخوا ولایتونو کې په زرګونو مریدان لرل او هغه ته په احترام او درنښت قایل وو، تل به یې قومي او سیمه ییزې شخړې د خبرو له لارې هوارولې او د وخت واکمنو یې هم احترام کاوه. ډېری ناروغان د ده دربار ته ورتلل چې ده به دم او چوف پرې کاوه، له همدې امله یې په افغانستان او پاکستان کې په زیاته کچه مینه وال لرل. مرچ اغا له شاوخوا ۱۵ کلونو راهیسې د شکرې پر ناروغۍ اخته و، وروسته د زړه ناروغي هم ورته پیدا شوه چې د درملنې لپاره څو ځلې هند ته ولاړ او بالاخره د ۱۳۹۰لمریز کال د غویي میاشتې په۱۱مه نېټه د هند په نوي ډېلي ښار کې ومړ. ویل کېږي چې مرچ اغا خپلو ټولو زامنو ته اجازه ورکړې چې د ده په څېر د دم او چوف چارې مخې ته یوسي خو په ځانګړي ډول یې کوم زوی خپل ځای ناستی نه دی ټاکلی.

د کندهار یو شمېر محلي سندر غاړو د مرچ اغا په اړه ځیني سندرې هم ویلې دي. د هغه په اړه دا هم ویل کېږي چې چرس یې څکول او ډېری مریدان یې هم چرسیان وو. د مرچ اغا په اړه د خلکو او د هغه تر منځ ډېرې کیسې مشهورې دي چې د منلو نه دي؛ د بېلګې په توګه ویل کېږي چې پیر سید مرچ اغا چې کله کمونیستانو ونیو، نو تور مار شو او له بندیخانې ووت او دې ته ورته په لسګونو نورې کیسې. له دغو کیسو څرګندېږي چې پیر او خانقا لا هم په افغاني ټولنه کې رول لري چې تر ډېره یې د ټولنې د جامد تفکر د خوځېدلو امکان په ټپه درولی دی.

د دیني عالمانو پر باور پیري او مریدي یو بدعتي عمل دی او په اسلام کې ځای نه لري.



بچه بازي د دې تر څنګ چې اسلام حرام او ناوړه
عمل بللی، په قانون کې هم جرم پېژندل شوی او
مرتکبینو ته یې باید د قانون له مخې سزا ورکړل شي.


د مالي ګټې اخيستنې په موخه له يو چا په زور د بدن
د غړو ايستل هم يو ډول انساني قاچاق بلل کېږي.

# اخځلیکونه


۱- د افغانستان اساسي قانون، رسمي جریده: کابل، ۱۳۸۲ ل

۲- د انسان له قاچاق او کډوالو له قاچاق سره د مبارزې قانون، رسمي جریده، ګڼه ۱۲۴۴: کابل، ۱۳۹۵ل

۳- د جزا کوډ، رسمي جریده، ګڼه ۱۲۶۰: کابل، ۱۳۹۶ ل

۴- د جزا قانون، رسمي جریده، ګڼه ۳۴۷: کابل، ۱۳۵۵ل

۵- د جزایي اجرااتو قانون، رسمي جریده، ګڼه ۱۱۳۲: کابل، ۱۳۹۳ل

۶- د ماشومانو سرغړونو ته د رسېدنې قانون، رسمي جریده، ګڼه ۸۴۶: کابل، ۱۳۸۴ ل

۷- د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منعې قانون، رسمي جریده، ګڼه ۹۸۹: کابل، ۱۳۸۸ ل

۸- مدني قانون تمهیدي باب لومړی توک، رسمي جریده، ګڼه ۳۵۳: کابل، ۱۳۵۵ ل

۹- هادي معرفت، د ځان ساتنه، په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز، ۲۰۱۶ ز

۱۰- د ټولیزو رسنیو قانون، رسمي جریده، ګڼه ۹۸۶: کابل، ۱۳۸۸ ل

۱۱- د ښځو او ماشومانو د ځورونې او اذیت د مخنیوي قانون، رسمي جریده، ګڼه ۱۲۸۰: کابل، ۱۳۹۶ ل

۱۲- د انځور اخیستلو لپاره د یونیسېف لارښوونې: د جنسي ناوړه ګټه اخیستنې غندنه:

http://photos.unicef.org/guidelines-childrights-denounce-exploitation

۱۳- د انځور اخیستلو لپاره د یونیسېف لارښوونې: په خطر کې پراته ماشومان وژغورئ:

http://photos.unicef.org/guidelines-childrights-protect-children

۱۴- د ۲۰۱۵ زېږدیز کال د روغتیا نړیوال سازمان د انځورونو، ویډیوګانو او مرکو لپاره د رضایت ترلاسه کولو په اړه لارښوونې. جینوا، سویزرلېنډ

۱۵- پخوانی دود، نوې لړی: په افغانستان کې معاصر مریيتوب- له ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۱۲ ز کال پورې د انساني قاچاق په اړه څېړنه © Samuel Hall 2013 and IOM

۱۶- په وسله والو شخړو کې د افغان ماشومانو ساتنه، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندوی پلاوی، ۲۰۱۴ ز

۱۷- محمد رضا باهر، د عودت دري میاشتنۍ مجله، اوړی ۱۳۹۶ لمریز کال

۱۸- د ماشومانو په اړه راپور ورکولو لپاره د یونیسېف اصول:http://www.unicef.org/ceecis/media_1482.html

۱۹- په مخکې پرته اوږده لار: د افغانستان د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منعې قانون د تطبیق په اړه د یوناما او (OHCHR) راپور، کابل، ۲۰۱۱ ز

۲۰- د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په نړۍ کې د انساني قاچاق په اړه د ۲۰۱۶ زېږدیز کال راپور

۲۱- د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په نړۍ کې د انساني قاچاق په اړه د ۲۰۱۷ زېږدیز کال راپور

۲۲- د امریکا متحده ایالتو د انساني قاچاق د زیانمن شوو د ساتنې قانون (TVPA's)، ۲۰۰۰ ز

۲۳- نړیوال مریيتوب د انډکس یا شاخص (Global Slavery Index)

۲۴- د انساني قاچاق نړیواله درجه بندي: http://www.state.gov/j/tip/rls/tiprpt/2016/index.htm

## د دانش کړوخېل لنډه پېژندنه

دانش کړوخېل د **۱۳۵۵** لمریز کال د غويي میاشتې په **۲۷**مه نېټه د کابل ولایت د خاکجبار ولسوالۍ په چنار کلي کې زېږېدلی دی. نوموړي د ښوونځي له لوستو وروسته لوړې زده کړې په ۱۳۸۱ لمریز کال کې په کابل پوهنتون کې بشپړې کړې دي.

دندې:

- له ۱۹۹۷ څخه تر ۲۰۰۱ ز کال پورې د اېن بي سي ټلوېزیون، هیرالډ، ډان او وحدت ورځپاڼو خبریال.
- له ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۰۴ ز کال پورې د سولې او جګړې د راپور ورکولو انسټیټیوټ (IWPR) ایډېټر او ټرینر.
- له ۲۰۰۴ ز کال څخه تر اوسه پورې د پژواک خبري اژانس رییس.
- له ۲۰۱۲ څخه تر ۲۰۱۸ ز کال پورې اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسیون غړی.

ترلاسه کړې نړیوالې جایزې:

- په ۲۰۰۸ ز کال کې د ژورنالېستانو د دفاع کمېټې (CPJ) له خوا د رسنیو د ازادۍ نړاله جایزه.
- په ۲۰۱۲ ز کال کې د کاناډا سفارت او سفما له خوا د لسیزې تکړه خبریال اېوارډ.
- په ۲۰۱۴ ز کال کې د ژورنالېستانو نړیوالې ټولنې (RSF) له خوا په نړۍ کې د اطلاعاتو رسونې د سلو اتلانو په لړلیک کې راتلل.

د لیکوال چاپ شوي اثار:

- مسلکي خبریالي
- اطلاعاتو ته د لاسرسي لارې چارې
- رهنمای ژورنالیستان
- انساني قاچاق (همدغه اثر)